د عُلماوو، طُلباوو، مُقررينو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوعاتو

د تقريرونو يوه مُفصله، مُعتمده، علمي او تحقيقي ذخيره

# اِصلاحي
# مُدلّل تقريرونه

دولسم جلد

تاليف


اَبُو الشّمس مولانا نور الهُدىٰ عفي عنه

مُدرِّس دار العلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی، مردان



زير اهتمام
کفايت الله ارماني
0344-9995990

مکتبه اعزازيه محله جنگي پشاور

جاده ميوند پخته فروشی کابل: 0764857797

📚 کفایت دینی کتب خانه 📚
په دی چینل کی دټلیګرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کړی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالیٰ د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

د جهاد په مختلفو موضوع گانو باندې د تقريرونو يوه مُفصّله ،
مُعتَمَده ، عِلمي ، او تحقيقي ذَخيره :

# اِصلاحي مُدَلّل تقريرونه

جلد ۱۲

تاليف


آبوالشّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنهُ

فاضلِ جامعه امدادُالعلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

بی اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

حالًا : مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی ، مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د کتاب نوم : اِصۡلَاحِيۡ مُدَلَّلۡ تَقۡرِيۡرُوۡنه جلد ۱۲

مؤلف : اَبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی مردان
فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر : مؤلِف پخپله

د چاپ کال : ۱٤۳۹هـ ق ، ۱۳۹٦هـ ش، مطابق ۲۰۱۹ ء

مکتبه اعزازيه
محله جنګي پشاور

زير اهتمام : کفايت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

نوټ : د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازيه سره محفوظ دي

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# سریزه ( د دولسم جلد )

نَحۡمَدُهٗ وَنُصَلِّيۡ عَلٰى رَسُوۡلِهِ الۡكَرِيۡمِ ، اَمَّابَعۡدُ!

د اسلام د نورو اَحکامو په شان جهاد هم د اسلام اَهم او فرضي حُکم دی (اګر چې جهاد په بعضې صورتونو کې فرضِ عَین وي ، او په بعضې صورتونو کې فرضِ کفایه وي ) ، جهاد د اسلام رُوح دی ، جهاد د اسلامي احکامو د نافذولو او ساتلو ذریعه ده ، او د جهاد نه مُنکِر کافر دی.

دغه وجه ده چې د قرآن کریم په بې شمېره آیتونو او بې شمیره احادیثو کې د جهاد اَهمیت ، فضیلت او احکام بیان شوي ، او د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعیدونه ذکر شوي ، بلکه د قرآن کریم مستقل سورتونه د جهاد په باره کې نازل شوي ، نبي علیه السلام لس (۱۰) کاله مدَني دَور اکثره په جهاد کې تېر کړی ، په خپله یې هم په اُووه ویشت ( ۲۷ ) غزاګانو کې شِرکت کړی ، پنځه پنځوس ( ۵۵ ) جهادونو ته یې صحابه کرامؓ لیږلي ، او د نبي علیه السلام د وفات نه پس صحابه کرامو رضي الله عنهم په سوُونو جهادونه کړي دي.

خو افسوس چې کافرانو جهاد د دهشت ګردۍ په نوم باندې داسې بدنام کړو چې اوس څوک د یَرې نه د جهاد نوم هم نشي اخیستی ، کافران د مسلمانانو په ملکونو باندې قبضې کوي ، بَمبارياني کوي ، معصوم ماشومان او بې ګناه خلق شهیدانوي ، خو چې کله مسلمانان مجاهدین په خپله دِفاع کې جهاد کوي نو بیا دوی ته دهشت ګرد وایي ، او ډیر اسلامي ملکونه هم د خپلو شخصي مَفاداتو په خاطر د کافرانو سره ملګري شوي.

حالانکه چې کله کافران په یو اسلامي مُلک باندې حمله اوکړي او د هماغه ځای مسلمانان د کافرانو د مقابلې قدرت لري نو صرف د هماغه ځای په مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین دی ، خو که هغوی د کافرانو د مقابلې طاقت نه لرلو یا طاقت یې لرلو خو د سستۍ د وجې یې جهاد نه کولو نو بیا ورسره څنګ کې په

نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین دی ، تر دې چې که دشمن قوي ؤ او د هاغه ځای مسلمانانو یې د مقابلې طاقت نه شو لرلی یا یې د سستی د وجې جهاد نه کولو نو درجه په درجه تر د مشرق او مغرب پورې په ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین ګرځي .

خو د جهاد فرضِ عین کیدو باوجود بیا هم ډیر قدرت لرونکي مسلمان جهاد نه کوي ( نه جهاد بِالنّفس کوي ، نه جهاد بِالمال کوي ، او نه جهاد بِاللِسان کوي ) .

بلکه بعضې کم عِلمه او د دِین نه ناخبره خلق داسې هم شته چې په قرآن کریم کې کوم آیتونه خاص د جهاد په باره کې نازل شوي ، یا په کومو احادیثو کې د جهاد تذکره او ثواب ذکر شوی دوی دا آیتونه او احادیث په خپل خاص عمل باندې چَسپانوي ، بیا دوی غټ ظلم دا کوي چې د جهاد متعلق آیت یا حدیث یا واقعه ذکر کړي او بیا یې په خپل خاص مستحب عمل باندې تطبیق کړي ، د دِین د نورو شُعبو هیڅ ذکر په کې نه کوي ، بلکه په خپل خاص مستحب عمل کې ددې آیتونو او احادیثو تخصیص کوي چې دا په حقیقت کې د آیتونو او احادیثو تحریفِ معنوي دی او د دِین د پاره ډیر نقصاني دی . دوی د جهاد نه داسې کرکه لري چې د جهاد تقریر آوریدل هم نه برداشت کوي ، حتّی چې په خپلو محافلو کې یې د جهاد په تقریر کولو باندې پابندي هم لږولی .

همدارنګې بعضې علماء او د جُماتونو امامان داسې هم شته چې هغوی د یَرې نه یا د اِمامت ختمیدو خطرې د وجې نه د جهاد تقریر نه کوي ، او کوم خلق چې د دوی د وړاندې د جهاد په آیتونو او احادیثو کې تحریفِ معنوي کوي په هغوی باندې رَد هم نشي کولی . وَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكَىٰ

خو ددې ټولو خبرو باوجود اَلْحَمْدُلِلّٰه اوس هم ډیر داسې حق پَرسته علماء شته چې هغوی په هر میدان کې د حق آواز پورته کړی ، نه یې د خپل سَر پرواه کړی ، نه یې د اِمامت ختمیدو پرواه کړی ، بلکه ښه په زَره یې په هر ځای کې خلقو ته د جهاد دا آهم حُکم بیان کړی .

د ډیر وخت نه زما ( ابوالشمس ) دا اراده وه چې د جهاد په موضوع باندې مستقل کتاب اولیکم چې په هغې کې د جهاد متعلق مختلف تقریرونه وي ، ددې د پاره چې مسلمانان ددې اهمې فریضې نه هم خبر شي ، نو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثُمَّ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ربِّ کائنات زما دا آرزو هم پوره کړه ، د شب و روز د محنت نه پس اوس کتاب ستاسو په لاس کې دی ، په دې کې مې دا اهمې موضوع ګانې راجمع کړي :

**په اسلام کې د جهاد اهمیت او مقام ، د جهاد فضائل فوائد او حکمتونه ، د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات ، د مجاهدینو مقام او فضائل ، د شهادت فضائل او د شهید مقام .**

په هره موضوع کې مې د قرآن کریم آیتونه ، صحیح احادیث او معتمد واقعات د عربي عبارتونو سره رانقل کړي ، کوشش مې دا کړی چې هره خبره مُدَلَّله او ډیرو حوالو سره مُزَیَّنه وي ددې د پاره چې د اهلِ علمو پوره تسلي وریاندې اوشي .

په آخر کې زه علماؤ او خاصکر د جُماتونو اِمامانو ته دا درخواست کوم چې په هره موقع اعتماد خاص په الله ﷻ باندې کوئ ، د هیچا او هیڅ شي پَرواه مه کوئ ، همیشه حق وینا کوئ ، عام مسلمانان د جهاد ددې اهم حُکم نه خبر کړئ نو الله تعالی به په هر میدان کې ستاسو مرسته اوکړي .

بل دا چې کوم علماء حق پَټ کړي نو په احادیثو مبارکه وُ کې چې د حق پټوونکو علماؤ د پاره کوم سخت وعیدونه ذکر شوي د هغې مستحق به جوړ شي ، او د قیامت په ورځ به د الله ﷻ د وړاندې ضرور ددې جواب ورکړي .

که د جهاد موضوع بالکل خلقو ته بیان نشي ، او د جهاد آیتونه او احادیث همداسې په نورو مستحبو اعمالو باندې چَسپانولې شي نو کیدې شي چې آئنده نسل د جهاد نه مکمل اِنکار اوکړي ( لکه اوس هم چې بعضې خلق ورنه په پټه او بعضې ورنه په ښکاره باندې اِنکار کوي ) چې دا بیا ډیر خطرناک دی ، ځکه د جهاد نه اِنکار کول کُفر دی .

لهذا مُقرّرین حضرات دې د جهاد موضوع هم د نورو موضوع ګانو په شان عوامو ته بیان کړي ، ددې د پاره چې شرعي ذِمه داري یې هم پوره شي او ورسره ورسره خلق د دِین ددې اَهمې شُعبې نه هم خبر شي ، او که چیرته کافرانو سره د جهاد کولو موقع راشي چې بیا بنه په جُرات سره میدان ته را اُووځي .

الله ﷻ دې زمونږ په زړونو کې د جهاد اَهمیت پیدا کړي . آمِین

**خوشخبري** : چونکه تر اوسه هم ډیرې اَهمې موضوع ګانې د لیکلو نه پاتې دي نو اِن شَاءَ الله دا سلسله به همداسې جاري وي ، او **دیارلسم (۱۳) جلد به هم د الله ﷻ په توفیق سره ډیر زر را اُووځي** .

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او په صحیح طریقې سره دې دا د قیامته پورې انسانانو د پاره د اِصلاح سبب اُوګرځوي .

پَروَردِګار عالَم دې دا کتابونه زما، زما د والدینو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذریعه اوګرځوي .

آمِین یَارَبَّ العَالَمِین .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ العَلِیْمُ

**ابوالشمس نورُالهدٰی عفی عنه**

**نوټ**

که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو په دې ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه کولې شئ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اجمالي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | **۱. په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام** | ۲ |
| | په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام | ۲ |
| | د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُم د جهاد سره مِينه | ۴۱ |
| | د زَنانهؤ د جهاد سره مِينه | ۵۶ |
| ۲ | **۲. د جهاد فضائل، فوائد او حِکمتونه** | ۸۸ |
| | د جهاد فضائل، فوائد او حِکمتونه | ۸۸ |
| | د اسلامي سرحداتو د حفاظت او پهره دارۍ فضائل | ۱۲۳ |
| | په جهاد کې د روژې نيولو فضائل | ۱۴۱ |
| | په جهاد کې د زخمي کيدو اَجرونه | ۱۴۶ |
| ۳ | **۳. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات** | ۱۵۱ |
| | د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات | ۱۵۱ |
| | د جهاد متعلق څنې اعتراضات او د هغې مُدَلَّل جوابات | ۱۷۵ |
| | جهاد ته د نه تلونکو خلقو مختلف بهانې او د هغې مُدَلَّل جوابات | ۲۰۰ |

| صفحه | موضوع | شمار |
|---|---|---|


## ٤. د مجاهدینو مقام او فضائل ٢١٢

د مجاهدینو مقام او فضائل ٢١٢
مجاهدینو سره د مدد کولو فضائل ٢٣٧

## ٥. د شهادت فضائل او د شهید مقام ٢٤٦

د شهادت فضائل او د شهید مقام ٢٤٦
شهید د مرګ دَرد نه محسوسوي ٢٦٨
د شهادت په وخت شهید ته حُورې راتلل ٢٧٨
د شهادت په وجه د جنت مستحق کیدل ٢٩٤

---

## ددې کتاب په تېرو جلدونو کې د کتابَتي غلطیانو اِصلاح ٣٢٨

د دیارلسم جلد خوشخبري
ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه ) ټول کتاب اِجمالي فهرست

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه ( د دولسم جلد ) | ت |
| | **۱. په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام** | ۱ |
| ۲. | نوټ | ۲ |
| ۳. | په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام | ۳ |
| ۴. | جهاد د اِسلام اَهم حُکم دی | ۴ |
| ۵. | د جهاد لغوي او اصطلاحي معنٰی | ٦ |
| ٦. | د جهاد دوه اقسام ( فرضِ کفايه او فرضِ عين ) ، او د هر قِسم حُکم | ۷ |
| ۷. | د فرضِ کفايي جهاد تشريح | ۷ |
| ۸. | د فرضِ عين جهاد تشريح | ۸ |
| ۹. | په نن وخت کې د جهاد حُکم | ۱۱ |
| ۱۰. | د جهاد درې قِسمونه ( جهاد بِالمال ، جهاد بِالنّفس ، جهاد بِاللّسان ) | ۱۲ |
| ۱۱. | په قرآن کريم کې مسلمانانو ته د جهاد حُکم | ۱۳ |
| ۱۲. | کافرانو سره د جهاد کولو حِکمت او وجه | ۱۷ |
| ۱۳. | نبي عليه السلام ته د جهاد اَمر | ۱۸ |
| ۱۴. | د اِيمان نه روستو جهاد اَفضل ترين عمل دی | ۱۹ |
| ۱۵. | حاجيانو ته د اُوبو ورکولو او مسجدِ حرام جوړولو نه بهترين عمل جهاد دی | ۲۰ |
| ۱٦. | د نفلي حجونو نه جهاد زيات افضل دی | ۲۱ |
| ۱۷. | جهاد د پنځوس ( ۵۰ ) نفلي حجونو نه بهتر دی | ۲۲ |
| ۱۸. | حضرت ضِرار بن عَمرو نفلي حج پريخود او په جهاد کې واپس مشغول شو | ۲۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹. | حضرت بلال ﷺ د جهاد د پاره آذان پریخود | ۲۴ |
| ۲۱. | نبي علیه السلام جهاد ته په بل څیز فضیلت ورنکړو | ۲۶ |
| ۲۲. | د جهاد سره هیڅ عمل برابر ندی | ۲٦ |
| ۲۳. | چې کله صحابه کرامو د جهاد برابر عمل طاقت نه شو لرلی نو مونږ به یې څه اولرو ؟ | ۲۹ |
| ۲۴. | سهَر یا مابنام وخت په جهاد کې تېرول د دُنیا او مَافِیها نه بهتر دی | ۳۱ |
| ۲۵. | په جهاد کې لږ وخت تېرول په کور کې د اَویا کاله عبادت نه ډیر بهتر دی | ۳۲ |
| ۲٦. | جهاد ته په اِسلام کې اُوچت مقام حاصل دی | ۳۴ |
| ۲۷. | نبي علیه السلام په مَرضُ الوفات کې هم اسلامي لښکر جهاد ته اُولیږل | ۳۵ |
| ۲۸. | د جهاد په صَف کې اُودریدل الله ﷻ ته محبوب عمَل دی | ۳۵ |
| ۲۹. | د جهاد په صَف کې اُودریدل الله ﷻ ته د شپیتو کالو د عبادت نه ډیر بهتر دي | ۳۷ |
| ۳۰. | د جهاد په صَف کې د اُودریدونکي کس دُعا قبلیږي | ۳۸ |
| ۳۱. | جهاد به تر قیامته پورې جاري وي | ۳۹ |
| ۳۲. | **د صحابه کرامو د جهاد سره مِینه** | ۴۱ |
| ۳۳. | د حضرت خالد بن ولید ﷺ د جهاد سره مِینه | ۴۱ |
| ۳۴. | جهاد ته تللو د پاره د پلار او ځوي قُرعه اَندازي | ۴۱ |
| ۳۵. | د حضرت خَیثمه ﷺ د جهاد او شهادت سره مِینه | ۴۲ |
| ۳٦. | په غزوه اُحد کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم جَذبه | ۴۳ |
| ۳۷. | د حضرت حنظله ﷺ د جهاد جَذبه | ۴۳ |
| ۳۸. | د ګډ والي باوجود په جهاد کې د شِرکت جذبه | ۴۴ |
| ۳۹. | د سختې بیمارۍ باوجود جهاد ته تلل | ۴٦ |
| ۴۰. | **د بوډاوالي باوجود د جهاد او شهادت جذبه** | ۴۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۱. | ۱ . حضرت مِقداد بن اَسود ﷛ د ډیر بوډا والي باوجود په جهاد کې شرکت اوکړو | ۴۷ |
| ۴۲. | ۲ . د بوډا والي باوجود د جهاد او شهادت جذبه | ۴۸ |
| ۴۳. | ۳ . حضرت ابوطلحة ﷛ د ډیر بوډا والي باوجود په جهاد کې شرکت اوکړو | ۴۹ |
| ۴۴. | د نابینا کیدو باوجود په جهاد کې د شرکت کولو جذبه | ۵۰ |
| ۴۵. | د حضرت ثابت بن قیس ﷛ د جهاد او شهادت سره مینه | ۵۱ |
| ۴۶. | جهاد ته تللو په وخت د الله ﷻ مینې ته ترجیح ورکول | ۵۲ |
| ۴۷. | **د کشرانو صحابه کرامو د جهاد سره مینه** | ۵۳ |
| ۴۸. | د عُمیر بن ابي وقاص ﷛ د جهاد سره مینه | ۵۳ |
| ۴۹. | په غزوه اُحد کې د کشرانو صحابه کرامو د شِرکت جذبه | ۵۴ |
| ۵۰. | **د زَنانه ؤ د جهاد سره مینه** | ۵٦ |
| ۵۱. | حضرت خَنساء ﷞ څلور ځامن جهاد ته اولیږل او څلور واړه شهیدان شو | ۵٦ |
| ۵۲. | د ځوي او خاوند په شهادت باندې مبارکي اخیستل | ۵۷ |
| ۵۳. | د یوې زَنانه حیرانوونکې جهادي جذبه ( خاوند ، زامن او ټول خاندان یې په جهاد کې شهیدان شو ، خپل ټول مال یې په جهاد کې ورکړو ، تر دې چې د خپل سَر ویښتان یې هم په چانده کې ورکړل ) | ۵۹ |
| ۵۴. | د اُمِّ ابراهیم هاشمیه د جهاد سره مِینه (خپل نیازبین ځوي جهاد ته لیږل ) | ۷۰ |
| ۵۵. | **په میدان جنگ کې د زَنانه ؤ بهادري** | ۷۵ |
| ۵٦. | په غزوه اُحد کې د نبي ﷺ په دِفاع کې د اُمِّ عمارة ﷞ په بدن باندې دیارلس زخمونه جوړ شو | ۷۵ |
| ۵۷. | د غزوه خَندق په موقع حضرت صفیه ﷞ یو کافر د خېمې په لرګي باندې اُووژل | ۷٦ |
| ۵۷. | حضرت خَوله بنت اَزور د نورو زَنانه ؤ سره یو ځای دیرش کافران اُووژل | ۷٦ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۸. | حضرت خوله رضي الله عنها د کافرانو په صفونو کې ورننوته او ډېر کافران يې اُووژل | ۷۷ |
| ۵۹. | اُمِ اَبان رضي الله عنها د شام په جنګونو کې ډېر کافران په خپل لاس اُووژل | ۸۱ |
| ۶۰. | مسلمانانو ته د جهاد ترغيب ورکولو او رابرَانګېخته کولو فضيلت | ۸۲ |
| ۶۱. | **ترغيب ورکوونکي ته د مجاهد هومره ثواب** | ۸۳ |
| ۶۲. | **د جهاد اسباب** | ۸۳ |
| ۶۳. | خلاصه | ۸۶ |
| ۶۴. | دُعا | ۸۷ |

## ۲. د جهاد فضائل ، فوائد او حِکمتونه — ۸۸

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۵. | نوټ | ۸۹ |
| ۶۶. | د جهاد فضائِل، فوائِد او حِکمتونه | ۹۰ |
| ۶۷. | تمهيدي خبره | ۹۱ |
| ۶۸. | **په جهاد کولو سره د جنت مستحِق کيدل** | ۹۱ |
| ۶۹. | د آيت تشريح | ۹۱ |
| ۷۰. | د جان و مال په عِوض کې جنت ورکول د الله جل جلاله مهرباني ده | ۹۲ |
| ۷۱. | د دې آيت په اَوريدو د يو اَعرابي خبره | ۹۳ |
| ۷۲. | د سَوداء قيمتي کيدو پته د درې شيانو نه معلوميږي | ۹۴ |
| ۷۳. | الله جل جلاله سره د جان و مال بَيعه | ۹۵ |
| ۷۴. | په جان و مال سره تجارت کول بهترين عبادت دی | ۹۷ |
| ۷۵. | لږ وخت جهاد کولو سره د جنت مستحق کيدل | ۹۸ |
| ۷۵. | د جهاد په وجه په جنت کې سل (۱۰۰) درجې اُوچتيدل | ۹۸ |
| ۷۶. | جنت د تورو د سيوري لاندې دی | ۱۰۰ |
| ۷۷. | د حديث تشريح | ۱۰۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۷۸. | ددې حديث په اَوريدو سره سمدستي جهاد ته تلل ، او د آخري سلګۍ پورې جنګيدل | ۱۰۰ |
| ۷۹. | جهاد د جنت لنډه لار ده | ۱۰۱ |
| ۸۰. | د جنت د يوې دروازې نوم "بَابُ الجهاد" دی | ۱۰۱ |
| ۸۱. | جهاد د جنت دروازه ده ، په دې سره د غَم او خفګان نه نجات ملاويږي | ۱۰۲ |
| ۸۲. | د جهاد په وجه جنت او مغفرت | ۱۰۳ |
| ۸۳. | په ميدانِ جنګ کې د جنت خُوشبوئي محسوسول | ۱۰۳ |
| ۸۴. | د جنت په شوق کې قجورې غورځول او ميدانِ جنګ ته ورتلل | ۱۰۵ |
| ۸۵. | عَمرو بن جَموح ﷺ د جنت په شوق کې په ګډه خپه ميدانِ جنګ ته ورغی او ترآخري سَلګۍ پورې اُوجنګيد | ۱۰۷ |
| ۸۶. | تور رَنګي کس ته نبي عليه السلام د جهاد او شهادت جَذبې په وجه د جنت خوشخبري وارولَه | ۱۰۹ |
| ۸۷. | جهاد کې په قدمونو باندې دُوړه پريوتلو سره د جهنم په اُور حراميدل | ۱۱۰ |
| ۸۸. | د جهاد دُوړه او د جهنم لوګي نه جمع کيږي | ۱۱۱ |
| ۸۹. | په روژه کې د جهاد دُوړه تللو په وجه مغفرت | ۱۱۲ |
| ۹۰. | په لږ جهاد کولو سره ډير اَجر حاصلول | ۱۱۲ |
| ۹۱. | واقعه : | ۱۱۴ |
| ۹۲. | عبدالله بن مُبارک رحمه الله فُضَيل بن عِيَاض رحمه الله ته بهترين خط اوليږل | ۱۱۶ |
| ۹۳. | **د جهاد نور فوائد او حکمتونه** | ۱۱۸ |
| ۹۴. | په جهاد کې هر قسمه مرګ باندې مَړ کيدونکې مسلمان شهيد دی | ۱۱۹ |
| ۹۵. | د شهيدانو تعداد | ۱۲۰ |
| ۹۶. | **د اسلامي سَرحداتو د حفاظت او پهره دارۍ فضائل** | ۱۲۳ |
| ۹۷. | د "رِباط" او "مُرابِط" معنی | ۱۲۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۸ | يوه ورځ د اسلامي سرحدونو حفاظت او پهره کول د دُنيا او مَافِيهَا نه بهتر ده | ۱۲۴ |
| ۹۹ | جهاد کې پهره کوونکي ته د مرګ نه پس اَجر ملاويدل، او د عذابِ قبر نه حفاظت | ۱۲۶ |
| ۱۰۰ | په جهاد کې يوه ورځ پهره کول د نورو زرو ورځو د عبادت نه بهتر ده | ۱۲۸ |
| ۱۰۱ | په جهاد کې يوه شپه پهره کوونکي ته د زرو (۱۰۰۰) ورځو نفلي روژو او او زرو (۱۰۰۰) شپو د عبادت ثواب ملاويږي | ۱۲۹ |
| ۱۰۲ | يو شوا روز پهره کول د يو مياشت نفلي روژو او ټوله شپه عبادت نه بهتر ده | ۱۳۰ |
| ۱۰۳ | د يَرې په ځاى کې پهره کولو واله شپه د ليلة القدر نه غوره ده | ۱۳۰ |
| ۱۰۴ | په جهاد کې پهره کوونکي ته د ټولو حاجيانو د حجونو او عُمرو ثواب ملاويږي | ۱۳۱ |
| ۱۰۵ | په جهاد کې پهره کوونکي ته د نورو مسلمانانو د مونځونو او روژو ثواب ملاويږي | ۱۳۲ |
| ۱۰۶ | يوه شپه پهره کولو سره د جنت مستحق کيدل | ۱۳۲ |
| ۱۰۷ | پهره دارۍ ته غاړه ايخودو په وجه نبي ﷺ د جنت زيرې ورکړو | ۱۳۵ |
| ۱۰۸ | کومه سترګه چې د پهره دارۍ په وجه وِيخه پاتې شي په هغې باندې د جهنم اُور حرام دى | ۱۳۶ |
| ۱۰۹ | په پهره کې وفات کيدونکې کس شهيد دى | ۱۳۷ |
| ۱۱۰ | د علماؤ اِجماع | ۱۳۸ |
| ۱۱۱ | د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه | ۱۳۹ |
| ۱۱۲ | د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه | ۱۳۹ |
| ۱۱۳ | ډېر صحابه کرام او تابِعين د مکې معظمې او مدينې منوّرې نه بهَر د جهاد او سرحداتو د حفاظت د پاره تللي | ۱۴۰ |
| ۱۱۴ | **په جهاد کې د روژې نيولو فضائِل** | ۱۴۱ |
| ۱۱۵ | د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ روژه نيولو سره د جهنم نه د اَويا (۷۰) کالو په فاصله لرې کيدل | ۱۴۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۶ | د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ روژه نيولو سره د سلو (۱۰۰) کالو په مقدار د جهنم نه لرې کيدل | ۱۴۱ |
| ۱۱۷ | د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ روژه نيولو سره دده او جهنم په مينځ کې يو خندَق فاصله پيدا کيدل | ۱۴۲ |
| ۱۱۸ | روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورې وينا چې " نن د مونږ سره روژه ماته کړه " | ۱۴۳ |
| ۱۱۹ | **په جهاد کې د زَخمي کيدو اَجرونه** | ۱۴٦ |
| ۱۲۰ | د قيامت په ورځ به د زخمي د وِينې نه د مشکو په شان خوشبوئي ځي | ۱۴۷ |
| ۱۲۱ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۴۸ |
| ۱۲۲ | دُعا | ۱۵۰ |
| | **۲. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاگانې او نقصانات** | ۱۵۱ |
| ۱۲۳ | نوټ : | ۱۵۲ |
| ۱۲۴ | د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاگانې او نقصانات | ۱۵۳ |
| ۱۲۵ | تمهيدي خبره | ۱۵۳ |
| ۱۲٦ | په قرآن کريم کې د جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيد | ۱۵۴ |
| ۱۲۷ | بغير عُذره د جهاد نه پاتې شوي خلقو د پاره سخته زُورَنه | ۱۵۵ |
| ۱۲۸ | د مذکوره آيتونو حُکم عام دی | ۱۵۷ |
| ۱۲۹ | څوک چې نه جهاد اوکړي ، او نه يې په زړه کې د جهاد اِراده وي نو داسې کس منافِق مړ کيږي | ۱۵۹ |
| ۱۳۰ | د حديث تشريح | ۱۵۹ |
| ۱۳۱ | د قدرت باوجود بغير عُذره جهاد نه کوونکي به د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې دِين به يې ناقِص وي | ۱٦۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۲ | د قدرت باوجود بغیر عُذره جهاد نه کوونکې به په سخت مصیبت کې گرفتاریږي | ۱٦۱ |
| ۱۳۳ | په جهاد پریخودو سره مسلمانان ذلیله کیږي | ۱٦۲ |
| ۱۳۴ | د تعداد او وَسائلو زیاتیدو باوجود بیا هم مسلمانان د بې اِتفاقۍ او جهاد پریخودو په وجه ذلیل دي | ۱٦۳ |
| ۱۳۵ | مولانا شکیب اَرسلانؒ ته په خوب کې د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ وینا | ۱٦۵ |
| ۱۳٦ | اولنۍ صفت: | ۱٦٦ |
| ۱۳۷ | دویم صفت | ۱٦۷ |
| ۱۳۸ | دریم صفت | ۱٦۸ |
| ۱۳۹ | مسلمانان په خپل مینځ کې سره وروڼه دي | ۱٦۹ |
| ۱۴۰ | مختلف قومونه او مختلفې قبیلې جوړیدل صرف د تعارُف ذریعه ده | ۱٦۹ |
| ۱۴۱ | د ژبو او رَنګونو اختلاف د الله ﷻ د معرفت ذریعه ده | ۱۷۰ |
| ۱۴۲ | نبي علیه السلام د قیامته پورې هرې ژبې واله خلقو د پاره پیغمبر دی | ۱۷۱ |
| ۱۴۳ | **د قدرت باوجود جهاد نه کولو نور نقصانات** | ۱۷۲ |
| ۱۴۴ | جهاد ته تللو کې تاخیر کولو سره د ډیر ثواب نه محروم کیدل | ۱۷۳ |
| ۱۴۵ | **دجهاد متعلق ځنې اعتراضات او د هغې مُدلّل جوابات** | ۱۷۵ |
| ۱۴٦ | نبي علیه السلام د دَعوت سره سره جهاد هم کړی | ۱۷۵ |
| ۱۴۷ | بعضې خلق د جهاد آیتونه او احادیث په خپل خاص عمل باندې چَسپانوي | ۱۷٦ |
| ۱۴۸ | د بې دِینه خلقو اعتراض چې "په اسلام کې اِکْرَاه (زُور زَبردستي) نشته" | ۱۷۷ |
| ۱۴۹ | صرف په اعمالو کولو او خبرو کولو سره کافران نه ختمیږي، بلکه د دوی سره جهاد هم ضروري دی | ۱۸۰ |
| ۱۵۰ | که کافر په وژلو سره د جهنم مستحق ګرځي نو مسلمانان یې ذِمه وارندی | ۱۸۲ |
| ۱۵۱ | الله ﷻ په جهاد کې د کافرانو د وژلو حُکم کړی | ۱۸۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۵۲ | نبي ﷺ په خپل لاس مبارک باندې کافر ( اُبيّ بن خلف ) وژلې دی | ۱۴۸ |
| ۱۵۳ | کافر او ده لره قتلوونکې مسلمان به هيڅ کله په جهنم کې يو ځاى نشي | ۱۸۸ |
| ۱۵۴ | مؤمنان به د کافرانو په مقابله کې ډېر سخت وي | ۱۸۸ |
| ۱۵۵ | په اسلام کې اِقدامي جهاد هم شته | ۱۹۰ |
| ۱۵٦ | د اِقدامي جهاد او دِفاعي جهاد تعريف | ۱۹۰ |
| ۱۵۷ | د بې دِينه خلقو اعتراض او د هغې جواب | ۱۹۱ |
| ۱۵۸ | په قرآن کريم کې د اِقدامي جهاد متعلق آيتونه | ۱۹۱ |
| ۱۵۹ | نبي عليه السلام اکثر اِقدامي جهادونه کړي | ۱۹۳ |
| ۱٦۰ | د اِقدامي جهاد د پاره نور دلائل | ۱۹۴ |
| ۱٦۱ | د ځان دِفاع خو هر حيوان کوي | ۱۹۵ |
| ۱٦۲ | يو اعتراض او د هغې جواب | ۱۹٦ |
| ۱٦۳ | د جهاد حُکم په ترتيب سره نازل شوی | ۱۹۷ |
| ۱٦۴ | که هيڅوک اِقدامي جهاد اونکړي نو د ټولې دُنيا مسلمانان به د فرض په پرېخودلو سره ګناهګار وي | ۱۹۷ |
| ۱٦۵ | د فِيْ سَبِيْلِ الله لفظ چې کله مطلقا ذکر شي نو د دې اوّلنې مِصداق به جهاد وي | ۱۹۸ |
| ۱٦٦ | **جهاد ته د نه تلونکو خلقو مختلف بهانې او د هغې مُدَلل جوابات** | ۲۰۰ |
| ۱٦۷ | د مرګ د وېرې جهاد ته نه تلل | ۲۰۰ |
| ۱٦۸ | د مال او بچو د محبت په وجه جهاد ته نه تلل | ۲۰۱ |
| ۱٦۹ | د مور پلار ، بچو او خپلوانو جدائي نه برداشت کولو په وجه جهاد ته نه تلل | ۲۰۳ |
| ۱۷۰ | د خپلې بي بي د محبت په وجه جهاد ته نه تلل | ۲۰۴ |
| ۱۷۱ | د دُنيا د بَنګلو او عېش و عِشرت په وجه جهاد ته نه تلل | ۲۰۵ |
| ۱۷۲ | جهاد ته نه تللو د پاره دا بهَانه جوړول چې " آمير نشته " | ۲۰۷ |
| ۱۷۳ | **بعضې خلق د جهاد نه مُستَثنٰى دي** | ۲۰۹ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷۴ | کوم خلق چې د عُذر په وجه د جهاد نه پاتې شي نو هغوی ته هم د جهاد ثواب ملاویږي | ۲۱۰ |
| ۱۷۵ | د غونډ تقریر خلاصه | ۲۱۱ |
| ۱۷۶ | دعا | ۲۱۱ |
| | **٤. د مجاهدینو مقام او فضائل** | ۲۱۲ |
| ۱۷۷ | تمهیدي خبره | ۲۱۴ |
| ۱۷۸ | مجاهدینو ته الله ﷻ په نورو خلقو باندې اوچته مرتبه ورکړې | ۲۱۴ |
| ۱۷۹ | د آیت تشریح | ۲۱۵ |
| ۱۸۰ | د مجاهدینو د پاره د جنت اوچتې درجې | ۲۱۶ |
| ۱۸۱ | مجاهدینو د پاره د رحمت او مغفرت زېرې | ۲۱۶ |
| ۱۸۲ | مجاهدینو ته الله ﷻ رینښتوني مؤمنان ویلي، او د دوی سره یې د مغفرت او بهترین رِزق وعده کړې | ۲۱۷ |
| ۱۸۳ | مجاهد ته په هر حالت کې اَجر | ۲۱۷ |
| ۱۸۴ | مجاهد په ټولو خلقو کې بهترین کس دی | ۲۱۸ |
| ۱۸۵ | په جنت کې د مجاهدینو د پاره سل (۱۰۰) درجې | ۲۱۹ |
| ۱۸۶ | مجاهد ته د جنت ضمانت | ۲۲۱ |
| ۱۸۷ | مجاهدین به د عامو خلقو نه څلویښت کاله مخکې په اوله ډَله کې جنت ته داخلیږي | ۲۲۳ |
| ۱۸۸ | مجاهدین د الله ﷻ مېلمانه دي، د دوی دُعاګانې قبلیږي | ۲۲۴ |
| ۱۸۹ | د مجاهد په دُعا باندې مَړ شوې خَر دوباره راژوندې کېدل | ۲۲۵ |
| ۱۹۰ | د مجاهد په دُعا باندې د آس بچې راژوندې کېدل | ۲۲۶ |
| ۱۹۲ | مجاهدینو د پاره الله ﷻ ضامن دی | ۲۲۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۹۳ | په الله ﷻ باندې د مجاهد مدد کول حق دی | ۲۲۸ |
| ۱۹۴ | درې سوه مجاهدينو د پاره الله ﷻ د سمندر نه غټ ماهي را اُوويست چې تر ديوې مياشت پورې يې اُوخوړ | ۲۲۹ |
| ۱۹۵ | کور ته واپس راتلو پورې مجاهد ته مسلسل د مونځ، روژو او تلاوت ثواب ملاويږي | ۲۳۲ |
| ۱۹۶ | مجاهد خپل کور ته واپس راتلو باندې هم د جهاد ثواب مومي | ۲۳۳ |
| ۱۹۷ | د مجاهد خوب د نورو خلقو د نفلي روژو او ټوله شپه عبادت په شان دی | ۲۳۴ |
| ۱۹۸ | د مجاهد يوه ورځ د نورو خلقو د ټولې شپې عبادت او د ورځې د نفلي روژې نه بهتر ده | ۲۳۵ |
| ۱۹۹ | **مجاهدينو سره د مدد کولو فضائل** | ۲۳۷ |
| ۲۰۰ | مجاهد او دده کورنۍ سره مدد کوونکي ته د جهاد ثواب ملاويږي | ۲۳۷ |
| ۲۰۱ | مجاهد سره مدد کوونکي ته دوچند اَجر ملاويږي | ۲۳۸ |
| ۲۰۲ | مجاهد سره مدد کوونکې به د قيامت په ورځ د عرش د سيورې لاندې وي | ۲۳۹ |
| ۲۰۳ | مجاهد سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دی | ۲۳۹ |
| ۲۰۴ | د مجاهدينو رُخصتولو د پاره ورسره تر يو ځايه تلل | ۲۴۰ |
| ۲۰۵ | د مجاهدينو د بيبيانو اِحترام د خپلې مور په شان لازم دی | ۲۴۲ |
| ۲۰۶ | د حديث تشريح | ۲۴۳ |
| ۲۰۷ | د عبرت مقام | ۲۴۴ |
| ۲۰۸ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۴۴ |
| ۲۰۹ | دُعا | ۲۴۵ |
| | **۵. د شهادت فضائل او د شهيد مقام** | ۲۴۶ |
| ۲۱۰ | نوټ | ۲۴۷ |
| ۲۱۱ | د شهادت فضائِل او د شهيد مقام | ۲۴۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۱۲ | تمهيدي خبره | ۲۴۹ |
| ۲۱۳ | د شهيد اَقسام : دُنيوي شهيد ، او اُخروي شهيد | ۲۵۰ |
| ۲۱۴ | د دُنيوي شهيد تعريف | ۲۵۰ |
| ۲۱۵ | د اُخروي شهيد تعريف | ۲۵۲ |
| ۲۱۶ | شهيد ته د " شهيد " ويلو وجهٔ تسميه | ۲۵۳ |
| ۲۱۷ | شهيدانو ته مړه مه وايئ ، بلکه دوی ژوندي دي | ۲۵۵ |
| ۲۱۸ | شهيدان ژوندي دي ، دوی ته رِزق ورکولې شي | ۲۵۶ |
| ۲۱۹ | نبي عليه السلام هم د شهادت آرزو کړی | ۲۵۷ |
| ۲۲۰ | شهيد به د خپل خاندان د اَويا (۷۰) کسانو شفاعت کوي | ۲۵۹ |
| ۲۲۱ | د شهادت په وجه ګناهونه معاف کيږي | ۲۵۹ |
| ۲۲۲ | د کوم قرض په وجه شهيد د جنت نه منع وي ؟ د امامِ قرطبي رَحِمَهُ اللهُ تحقيق | ۲۶۲ |
| ۲۲۳ | د شهيد د وِينې څاڅکې الله جَلَّ جَلَالُهُ ته ډير محبوب دی | ۲۶۴ |
| ۲۲۳ | په تندي باندې قصدًا تور داغ جوړول سخت منع دي | ۲۶۵ |
| ۲۲۴ | **شهيد د مرګ سخت دَرد نه محسوسوي** | ۲۶۸ |
| ۲۲۵ | د شهادت په وخت د جنت خُوشبو محسوسول | ۲۶۹ |
| ۲۲۶ | د جهاد په دَوران کې د يو اَندام په غوځيدو نه پوهيدل | ۲۷۱ |
| ۲۲۷ | ۱. د خپې په کټ کيدو باندې نه پوهيدل | ۲۷۱ |
| ۲۲۸ | ۲. د لاس غوځيدو نه پس تر آخره پورې جنګيدل | ۲۷۱ |
| ۲۳۰ | ۳. د خپې ماتيدو باوجود تر آخري سَلګۍ پورې جنګيدل | ۲۷۲ |
| ۲۳۱ | ۴. د دواړو لاسونو کټ کيدو نه پس جَنډه په سينه پورې نيول | ۲۷۳ |
| ۲۳۲ | ۵. د دواړو لاسونو او دواړو خپو کټ کيدو باوجود کافرانو ته په لغړيدو د وَرمخکې کيدو کوشش کول | ۲۷۴ |
| ۲۳۳ | ۶. د سخت زخمي کيدو باوجود دُشمن طرف ته د وَرمخکې کيدو کوشش کول | ۲۷۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۴ | ۷. د سخت زخمي کېدو باوجود ميدان ته تلل او تر آخري سلګۍ پورې جنګېدل | ۲۷۵ |
| ۲۳۵ | ۸. د شهادت نه پس د حضرت جعفر رضي الله عنه په بدن باندې څه د پاسه نوي (۹۰) زخمونه وو | ۲۷۷ |
| ۲۳۶ | **د شهادت په وخت شهيد ته دوه حُورې راتلل** | ۲۷۸ |
| ۲۳۷ | زخمي مجاهد ته په څُله کې حُورې اُوبه واچولې | ۲۷۹ |
| ۲۳۸ | د زَخمي مجاهد په لاس باندې د حُورې د لاس نخه | ۲۸۰ |
| ۲۳۹ | د شهادت نه مخکې په خوب کې د حُورو "مرحبا" ويل | ۲۸۳ |
| ۲۴۰ | د شهادت نه مخکې روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورې وينا چې: " نن د مونږ سره روژه ماتې اوکړه " | ۲۸۶ |
| ۲۴۱ | په شهيد باندې فرښتې سُيورې کوي | ۲۸۶ |
| ۲۴۲ | شهيد به د عذابِ قبر نه محفوظ وي | ۲۸۷ |
| ۲۴۳ | زمکه د شهيد جسَد نه خرابوي | ۲۸۸ |
| ۲۴۴ | شپږ څلويښت (۴۶) کاله پس حضرت عَمرو بن جَموح رضي الله عنه او عبد الله انصاري رضي الله عنه په قبرونو کې هماغه شان صحيح سالِم پراته وو | ۲۸۹ |
| ۲۴۵ | ډېره زَمانه پس د شهيد قبر کنستلو په وخت چې د شهيد خپه په ګودالي زخمي شوه نو تازه وِينه ورنه روانه شوه | ۲۹۰ |
| ۲۴۶ | د حضرت طلحة رضي الله عنه بدن ډېره موده پس هماغه شان صحيح سالِم وُ | ۲۹۱ |
| ۲۴۷ | د عبد الله بن تامر رَحِمَهُ اللّٰهُ جسَد ډېره مُوده پس هماغه شان صحيح وُ | ۲۹۱ |
| ۲۴۸ | اُووه (۷) شهيدان ډېره زمانه پس هماغه شان په قبر کې تازه پراته وو | ۲۹۳ |
| ۲۴۹ | **د شهادت په وجه د جنت مستحق کېدل** | ۲۹۴ |
| ۲۵۰ | شهيد به يقيني جنت ته داخليږي | ۲۹۶ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۵۱ | شهيد به بې حِسابه جنت ته ځي، او فرښتې به ورته د هرې دروازې نه سلام كوي | ۲۹۸ |
| ۲۵۲ | شهيد به په اَوّلني درې (۳) كسانو كې جنت ته داخليږي | ۲۹۹ |
| ۲۵۳ | شهيد به په جَنّتُ الفِردَوس (اعلیٰ جنت) كې وي | ۳۰۰ |
| ۲۵۴ | د شهيد د پاره بهترين محل | ۳۰۱ |
| ۲۵۵ | د شهيد د پاره لوي اَجر | ۳۰۲ |
| ۲۵۶ | د شهادت په وجه تور رَنګې كس هم جنت ته داخل شو | ۳۰۲ |
| ۲۵۷ | د شهادت په وجه د ګډه والي باوجود جنت ته داخليدل | ۳۰۳ |
| ۲۵۸ | د شهادت نه مخكې د جنت خوشبوئي محسوسول | ۳۰۵ |
| ۲۵۹ | **د شهيدانو د رُوحُونو ځاى** | ۳۰۷ |
| ۲۶۰ | د شهيدانو رُوحونه به د جنّتي شنو مرغانو په قالب (يا جَجُورو) كې وي، او جنت كې به مزې (او سېل) كوي | ۳۰۷ |
| ۲۶۱ | عِلمي تحقيق | ۳۱۰ |
| ۲۶۲ | شهيد به د قيامت په ورځ د بيهوشۍ نه په اَمن وي | ۳۱۱ |
| ۲۶۳ | په جنت كې د شهيد تمنّا " چې دُنيا ته دوباره لاړ شم او هلته بار بار شهيد شم " | ۳۱۴ |
| ۲۶۴ | د شهيد د پاره شپږ (۶) خصلتونه او اِنعامونه | ۳۱۵ |
| ۲۶۵ | د شهيد د پاره پنځه (۵) ځانګړي كرامتونه | ۳۱۷ |
| ۲۶۶ | **د شهادت سوال كولو فضيلت** | ۳۱۸ |
| ۲۶۷ | صحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُم به هم د شهادت سوال كولو | ۳۲۰ |
| ۲۶۸ | ټوله شپه د شهادت د پاره دُعا غوښتل | ۳۲۱ |
| ۲۶۹ | صحابه كرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُم به د شهادت په نيت جنګ ته وَر وړاندې كيدل | ۳۲۱ |
| ۲۷۰ | د شهادت نه ملاويدلو په وجه افسوس كول | ۳۲۳ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۱ | الله ﷻ شهادت نېکانو بندګانو ته ورکوي | ۳۲۴ |
| ۲۷۲ | د غونډې تقرير خلاصه | ۳۲۵ |
| ۲۷۳ | دعا | ۳۲۷ |
| ۲۷۴ | **ددې کتاب په تېرو جلدونو کې د کتابتي غلطيانو اصلاح** | ۳۲۸ |
| ۲۷۵ | د ديارلسم (۱۳) جلد خوشخبري | ۳ |
| ۲۷۶ | **ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه ) ټول کتاب اِجمالي فهرست** | ۳ |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَقَاتِلُوا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾. البقرة آية ۲۴۴

# په اِسلام کې د جهاد اَهمیت او مقام

تالیف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

# نوټ

دا موضوع مې په درې (۳) غټو عُنواناتو باندې تقسيم کړې :

**په اسلام کې د جهاد اَهميت او مقام** صفحه ۲

**د صحابه کرامو** رضي الله عنهم **د جهاد سره مينه** صفحه ۴۱

**د زَنانهٔ د جهاد سره مينه** صفحه ۵٦

که په هره جُمعه دا ځانله ځانله عُنوان بيان شي نو هم صحيح ده ، او که مقرّر سره وخت زيات وي نو ټوله موضوع په يوه جُمعه هم بيانولې شي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په اسلام کې د جهاد اهميت او مقام

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّابَعْدُ فَأَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾ .(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَقَاتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾ .(۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا : لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. فَمَنْ قَالَ : لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ . فَقَدْ عَصَمَ مِنِّيْ نَفْسَهٗ وَمَالَهٗ إِلَّا بِحَقِّهٖ وَحِسَابُهٗ عَلَى اللّٰهِ. (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ . (۴)

---

(۱) البقرة آية ۲۱۶

(۲) البقرة آية ۲۴۴ .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلَى الْإِسْلَامِ وَالنُّبُوَّةِ... رقم ۲۹۴۶ ، و رقم ۲۶۰۶ ، و رقم ۱۳۹۹ ، و رقم ۶۹۲۴ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ الْأَمْرِ بِقِتَالِ النَّاسِ حَتّٰى يَقُوْلُوْا: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ رقم ۳۳ (۲۱) . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ عَلٰى مَا يُقَاتَلُ الْمُشْرِكُوْنَ رقم ۲۶۴۰ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ مَا جَاءَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رقم ۲۶۰۶، و رقم ۳۳۴۱.

(۴) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۴ ، قال الالباني : صحيح. سنن النسائي رقم الحديث ۳۰۹۶ باب وجوب الجهاد ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۲۱ (۳۵)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۲۴۲۷ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۵۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۲۲۴۶ ، و رقم ۱۳۶۳۸ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۴۰۹.

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم .

# جهاد د اسلام اهم حُکم دی

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو وروڼو ! د اسلام په اهمو احکاماتو کې يو حُکم جهاد هم دی ، دا د اسلام رُوح او اَهمه شعبه ده ، لکه څرنګې چې مونځ ، روژه ، زکوة ، او حج فرض دي نو همدغه شان جهاد هم فرض دی ( اګر چې په بعضې صورتونو کې فرضِ عَين دی او بعضې صورتونو کې فرضِ کفايه دی(۱) ) . ددينه مُنکِر کافر دی .

بلکه جهاد د اسلام د باقي فرائضو د حفاظت او نافذولو ذريعه ده ، په جهاد کې د اسلام قوّت او باقي والې پروت دی .

قرآن کريم د جهاد په باره کې ډير زُوَر بحث کړی ، په مدينه منوّره کې چې د قرآن کريم کومه حصه نازله شوی په هغې کې په لوي مقدار سره د جهاد فضائلِ ، مسائِل ، احکامات او اعلانات موجود دي .

بلکه د جهاد اَهميت تاسو ددينه هم معلومولې شی چې د قرآن کريم مستقل سورتونه ( لکه سورة الانفال ، او سورة التوبة ) او مستقلې رکوع ګانې د جهاد په باره کې نازلې شوي . همدارنګې په سورة البقرة ، سورة النساء او سورة المائدة کې هم په تفصيل سره د جهاد بيان دی . په سورة العاديات کې خو الله ﷻ د مجاهدينو په اَسونو باندې قسَمونه خوړلي . دغه وجه ده چې کافران کوشش کوي چې مسلمانان د قرآن کريم نه لرې او ساتي ، ځکه کوم مسلمان چې صحيح طريقې سره په قرآن کريم پوهه شي نو د هغه زړه د جهاد جذبې نه ډکيږي .

په احاديثو مبارکهؤ کې هم د جهاد موضوع ډيره په تفصيل سره بيان شوی ، د احاديثو هيڅ کتاب د جهاد موضوع نه خالي ندی ، بلکه په هر کتاب کې د نورو موضوع ګانو په نسبت د جهاد په موضوع کې ډير احاديث ذکر شوي ، صرف په صِحاحِ سته ؛ کې : کِتَابُ الجِهَاد د عنوان لاندې په سوونو بابونه او احاديث ذکر شوي .

(۱) وفي الهندية . عَامَّةُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى قَالُوا : اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلٰى كُلِّ حَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفِيْرِ فَرْضُ كِفَايَةٍ وَبَعْدَ النَّفِيْرِ فَرْضُ عَيْنٍ وَهُوَ الصَّحِيْحُ . الفتاوى الهندية ۳ /۱۸۸ كِتَابُ السِّيَرِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ

علماؤ د جهاد په موضوع باندې په زرهاؤ صفحو باندې مشتمل مستقل کتابونه ليکلي دي ، د اتياؤ ( ۸۰ ) نه زيات صرف د احاديثو کتابونه د جهاد په فضائلو او مسائلو ليکل شوي .

بيا فقهاء کرامو هم په خپلو کتابونو کې د كِتَابُ الْجِهَاد او كِتَابُ السِّيَرِ د عنوان لاندې د جهاد پوره تفصيلي بحث کړی . په فتاوُو کې هم د جهاد مسائل په تفصيل سره ذکر دي .

همدا رنګې د تاريخ او سِيرت په کتابونو کې هم د جهاد متعلق بحثونه او واقعات شته .

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مديني منوّرې اکثره ژوند په جهاد کې تېر کړی ، په اُووه ويشت ( ۲۷ ) غزاګانو کې يې په خپله شرکت کړی ، او پنځه پنځوس ( ۵۵ ) جهادونو ته يې صحابه کرام ليږلي دي ، نو په لس (۱۰) کاله مدَني دوَر کې نبي عليه السلام بالواسطه او بِلاواسطه دوه اَتيا ( ۸۲ ) جهادونه کړي ، ګويا په هر کال کې اته ( ۸ ) جهادونه راغلل .

پيغمبر عليه السلام په خپله په جهاد کې زخمي شوی ، په خپل لاس مبارک باندې يې کافر (اُبيّ بن خلف ) په نېزه وهلی او هغه يې مردار کړی .

تر دې چې نبي عليه السلام په مرضُ الوفات کې هم د جهاد عمل جاري ساتلی ، يعنی د وفات کيدو نه يو څو ورځې مخکې يې لښکر د جهاد د پاره تيار کړو ،او په خپل لاس مبارک باندې يې جَنډه حضرت اُسامه بن زيد رضي الله عنه ته ورکړه او دا يې د غونډ لښکر امير مقرر کړو .

همدا رنګې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضي الله عنهم داسې تربيت کړې وُ چې د دوی د وفات نه پس صحابه کرامو عمَلي طريقې سره په سوونو جهادونه اوکړل ، او د اسلام جَنډه يې په ټوله دُنيا باندې اُوچته کړه ، داسې مُلک نشته چې هغته د دِين د سَربُلندی د پاره وِينه نه وي توَی شوي .

بهر حال ، جهاد د اسلام اَهم حُکم دی . نو په همدې خاطر نن به اِنْ شَاءَ الله زه تاسو ته د قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ په رَنړا کې د جهاد اَهميت بيانوم .

خو اول درته د جهاد لغوي او اِصطلاحي معنٰی او ورسره د جهاد اَقسام ذکر کوم ، بيا به خپل مقصد ته راځم ، ددې د پاره چې ددې موضوع په هر اَړخ باندې پوره پوهه شي .

# د جهاد لغوي او اصطلاحي معنیٰ

جهاد په لغت کې " مشقت " ته وايي . يعنی مشقت اوچتول ، او د طاقت نه زيات بُوج اوچتول .

د جهاد اصطلاحي تعريف امام راغب رحمه الله داسې کړی :

اِسْتِفْرَاغُ الْوُسْعِ فِيْ مُدَافَعَةِ الْعَدُوِّ . (۱)

د حمله کوونکي دښمن په مقابله کې خپل پوره طاقت خرچ کول .

په فتح الباري ، مرقاة ، او دُرمختار کې هم د جهاد لغوي او اصطلاحي تعريفونه په ډير بهترين انداز کې ذکر شوي . (۲)

علماؤ چې د جهاد څومره تعريفونه ذکر کړي دي په هغې ټولو کې د کافرانو سره په مقابله کې د جنګيدو ذکر دی .

همدا رنګې د نبي عليه الصلاة والسلام نه چې کله ( د جهاد متعلق ) پوښتنه اوشوه :

---

(۱) نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ۴ / ۱۴۸۲ جهاد الاعداء .

(۲) علامه ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې د جهاد لغوي او اصطلاحي تعريف داسې کړی : وَالْجِهَادُ بِكَسْرِ الْجِيْمِ أَصْلُهُ لُغَةً : اَلْمَشَقَّةُ . يُقَالُ جَهِدْتُ جِهَادًا بَلَغْتُ الْمَشَقَّةَ . وَشَرْعًا : بَذْلُ الْجُهْدِ فِيْ قِتَالِ الْكُفَّارِ . فتح الباري شرح صحيح البخاري ۶/۳ قَوْلُهُ كِتَابُ الْجِهَادِ .

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د جهاد لغوي او اصطلاحي تعريف داسې کړی : اَلْجِهَادُ : بِكَسْرِ أَوَّلِهِ . وَهُوَ لُغَةً اَلْمَشَقَّةُ . وَشَرْعًا : بَذْلُ الْمَجْهُوْدِ فِيْ قِتَالِ الْكُفَّارِ مُبَاشَرَةً . أَوْ مُعَاوَنَةً بِالْمَالِ . أَوْ بِالرَّأْيِ . أَوْ بِتَكْثِيْرِ السَّوَادِ . أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ . وَفِي الْمُغْرِبِ : جَهَدَهُ حَمَّلَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ . وَالْجِهَادُ مَصْدَرُ جَاهَدْتُ الْعَدُوَّ إِذَا قَابَلْتَهُ فِيْ تَحَمُّلِ الْجَهْدِ . أَوْ بَذَلَ كُلٌّ مِنْكُمَا جُهْدَهُ ، أَيْ طَاقَتَهُ فِيْ دَفْعِ صَاحِبِهِ . ثُمَّ غَلَبَ فِي الْإِسْلَامِ عَلَى قِتَالِ الْكُفَّارِ . قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ : وَهُوَ دَعْوَتُهُمْ إِلَى الدِّيْنِ الْحَقِّ وَقِتَالُهُمْ إِنْ لَمْ يَقْبَلُوْا . مرقاة المفاتيح ۶/۲۴۵۲ كِتَابُ الْجِهَادِ

علامه حصکفي رحمه الله په دُرمختار کې د جهاد لغوي او اصطلاحي تعريف داسې کړی . وَهُوَ لُغَةً : مَصْدَرُ جَاهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَشَرْعًا : اَلدُّعَاءُ إِلَى الدِّيْنِ الْحَقِّ وَقِتَالُ مَنْ لَمْ يَقْبَلْهُ . شُمُنِّيْ . وَعَرَّفَهُ ابْنُ الْكَمَالِ بِأَنَّهُ بَذْلُ الْوُسْعِ فِي الْقِتَالِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مُبَاشَرَةً أَوْ مُعَاوَنَةً بِمَالٍ . أَوْ رَأْيٍ أَوْ تَكْثِيْرِ سَوَادٍ أَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ . الدر المختار ۴/۱۲۱ كِتَابُ الْجِهَادِ .

وَمَا الْجِهَادُ؟ جهاد څه شی دی؟

نو نبي علیه السلام ورته او فرمایل : أَنْ تُقَاتِلَ الْكُفَّارَ إِذَا لَقِيْتَهُمْ .

جهاد دیته وایي چې ته د مقابلې په وخت د کافرانو سره او جنګیږې. (۱)

دغه وجه ده چې پیغمبر علیه السلام او صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په خپله د جهاد میدان ته اووتل، او د کافرانو سره یې مقابله اوکړه.

لهذا د شرعي جهاد نه صرف مشقت مراد کول صحیح ندی.

## د جهاد دوه اقسام (فرضِ کفایه او فرضِ عَین). او د هر قسم حُکم

د جهاد دوه قِسمونه دي : ۱. فرضِ کفایه . ددې بل نوم " اِقدامي جهاد " هم دی.

۲. فرضِ عَین. ددې دویم نوم " دِفاعي جهاد " هم دی.

**د فرضِ کفایي جهاد تشریح** کله چې مسلمانانو ته غلبه حاصله وي او کافرانو د مسلمانانو په کوم ملک باندې حَمله نه وي کړې نو په دې وخت کې جهاد فرضِ کفایه دی، یعنی یوه ډَله داسې ضروري ده چې هغه د کافرانو سره په جهاد کې مصروفه وي، نو په دې سره به د ټولو مسلمانانو غاړه خلاصه وي، او که ټولو مسلمانانو جهاد پریخود نو بیا د فرض په پریخودلو سره به ټول ګناهګار وي.

په هدایه کې ذکر دي : فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ. (۲)

---

(۱) عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ..... وَمَا الْجِهَادُ؟ قَالَ : أَنْ تُقَاتِلَ الْكُفَّارَ إِذَا لَقِيْتَهُمْ. مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۲۷ حديث عمرو بن عبسة، كنزالعمال الكتاب الاول فى الايمان والاسلام رقم ۱۷، و رقم ۳۰۵، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۹۹ باب ايّ العمل افضل، و رقم ۵۲۶۲ باب فضل الحج والعمرة.

(۲) په هدایه کې ذکر دي : قَالَ (اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيْقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ) أَمَّا الْفَرْضِيَّةُ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ}. وَلِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ «اَلْجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» وَأَرَادَ بِهِ فَرْضًا بَاقِيًا. وَهُوَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ، لِأَنَّهُ مَا فُرِضَ لِعَيْنِهِ إِذْ هُوَ إِفْسَادٌ فِي نَفْسِهِ. وَإِنَّمَا فُرِضَ لِإِعْزَازِ دِيْنِ اللهِ وَدَفْعِ الشَّرِّ عَنِ الْعِبَادِ. فَإِذَا حَصَلَ الْمَقْصُوْدُ بِالْبَعْضِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ كَصَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَرَدِّ السَّلَامِ (فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ) لِأَنَّ الْوُجُوْبَ عَلَى الْكُلِّ. الهداية كِتَابُ السِّيَرِ ۳۷۸/۲

که فرضِ کفایي جهاد هیچا اونکړو نو ټول مسلمانان به ګناهګار وي .

همداسې خبره په درمختار کې هم ذکر ده . (۱)

د فرضِ کفائي جهاد د پاره ځېنې شرائط دي ( فقهاوٌ په تفصيل سره ذکر کړي ) ، په دې کې به ځوي د والدينو د اِجازت نه بغير نه ځي ، همدارنګې قرض دارې به د قرض اداء کولو نه مخکې نه ځي . (۲)

**د فرضِ عين جهاد تشريح** کله چې کافران په يو اسلامي مُلک باندې حمله اوکړي او د هماغه ځای مسلمانان د کافرانو د مقابلې قدرت لري نو صرف د هماغه ځای په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عين دی ، خو که هغوی د کافرانو د مقابلې طاقت نه لرلو يا يې طاقت لرلو خو د سستۍ د وجې يې جهاد نه کولو نو ورسره څنګ کې په نورو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عين دی ، تر دې چې که دشمن قوي وُ او د هاغه ځای مسلمانانو يې د مقابلې طاقت نه شو لرلی يا يې د سستۍ د وجې جهاد نه کولو نو درجه په درجه تر د مشرق او مغرب پورې په ټولو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عين ګرځي .

---

(۱) قال الحصكفي رَحِمَهُ اللهُ : ( هُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ ) كُلُّ مَا فُرِضَ لِغَيْرِهِ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ إِذَا حَصَلَ الْمَقْصُوْدُ بِالْبَعْضِ . وَإِلَّا فَفَرْضُ عَيْنٍ .... (إِنْ قَامَ بِهِ الْبَعْضُ ) ـ هٰذِهِ الْجُمْلَةُ وَقَعَتْ مَوْقِعَ التَّفْسِيْرِ لِفَرْضِ الْكِفَايَةِ ـ وَلَوْ عَبِيْدًا أَوْ نِسَاءً (سَقَطَ عَنِ الْكُلِّ وَإِلَّا ) يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ فِيْ زَمَنٍ مَا (أَثِمُوْا بِتَرْكِهِ ) أَيْ أَثِمَ الْكُلُّ مِنَ الْمُكَلَّفِيْنَ . الدر المختار ۱۲۲/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ

قال العلامة الكاساني رَحِمَهُ اللهُ : فَإِنْ لَمْ يَكُنِ النَّفِيْرُ عَامًّا فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ . وَمَعْنَاهُ : أَنْ يُفْتَرَضَ عَلٰى جَمِيْعِ مَنْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ . لٰكِنْ إِذَا قَامَ بِهِ الْبَعْضُ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ ؛ لِقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ { فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى } [النساء: ۹۵] وَعَدَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمُجَاهِدِيْنَ وَالْقَاعِدِيْنَ الْحُسْنٰى وَلَوْ كَانَ الْجِهَادُ فَرْضَ عَيْنٍ فِي الْأَحْوَالِ كُلِّهَا لَمَا وَعَدَ الْقَاعِدِيْنَ الْحُسْنٰى ؛ لِأَنَّ الْقُعُوْدَ يَكُوْنُ حَرَامًا . وَقَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى { وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ لِيَنْفِرُوْا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ } [التوبة: ۱۲۲] .... بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۸/۷ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِيْ بَيَانِ كَيْفِيَّةِ فَرْضِيَّةِ الْجِهَادِ . هكذا في فتح القدير ج ۵ ص ۱۸۹ كتاب السير .

(۲) په شامي کې دا شرائط په تفصيل سره ذکر دي . رد المحتار على الدر المختار ۱۲۵/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ

چې کله جهاد فرضِ عين شي نو بيا په دې کې د هيڅ شرط او د هيچا نه د اجازت اخيستلو ضرورت نشته، بلکه دا په هر قدرت لرونکي باندې فرض دی، په دې کې ځوي د والدينو د اجازې نه بغير او قرض داري د قرض اداء کولو نه بغير هم شرکت کولې شي. (۱)

خو شرط دا دی چې دوی د جهاد کولو قدرت لري. (۲)

---

(۱) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللَّهُ: ( وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَيَخْرُجُ الْكُلُّ وَلَوْ بِلَا إِذْنٍ ) وَيَأْثَمُ الزَّوْجُ وَنَحْوُهُ بِالْمَنْعِ. الدرالمختار، قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللَّهُ: (قَوْلُهُ: وَفَرْضُ عَيْنٍ) أَيْ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ. فَإِنْ عَجَزُوا أَوْ تَكَاسَلُوا فَعَلَى مَنْ يَلِيهِمْ حَتَّى يُفْتَرَضَ عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِينَ شَرْقًا وَغَرْبًا. رد المحتار على الدر المختار ۱۲۶/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ.

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللَّهُ: وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمُوا عَلَى ثَغْرٍ مِنْ ثُغُورِ الْإِسْلَامِ. فَيَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ قَرُبَ مِنْهُمْ. وَهُمْ يَقْدِرُونَ عَلَى الْجِهَادِ. وَنَقَلَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ عَنِ الذَّخِيرَةِ: أَنَّ الْجِهَادَ إِذَا جَاءَ النَّفِيرُ إِنَّمَا يَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ. فَأَمَّا مَنْ وَرَاءَهُمْ بِبُعْدٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ عَلَيْهِمْ. حَتَّى يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ إِذَا لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِمْ. فَإِنْ احْتِيجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ لَمْ يَعْجِزُوا عَنْهَا لَكِنَّهُمْ تَكَاسَلُوا وَلَمْ يُجَاهِدُوا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ. لَا يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَى جَمِيعِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ وَنَظِيرُهُ الصَّلَاةُ عَلَى الْمَيِّتِ. فَإِنَّ مَنْ مَاتَ فِي نَاحِيَةٍ مِنْ نَوَاحِي الْبَلَدِ فَعَلَى جِيرَانِهِ وَأَهْلِ مَحَلَّتِهِ أَنْ يَقُومُوا بِأَسْبَابِهِ. وَلَيْسَ عَلَى مَنْ كَانَ بِبُعْدٍ مِنَ الْمَيِّتِ أَنْ يَقُومَ بِذٰلِكَ، وَإِنْ كَانَ الَّذِي بِبُعْدٍ مِنَ الْمَيِّتِ يَعْلَمُ أَنَّ أَهْلَ مَحَلَّتِهِ يُضَيِّعُونَ حُقُوقَهُ أَوْ يَعْجِزُونَ عَنْهُ كَانَ عَلَيْهِ أَنْ يَقُومَ بِحُقُوقِهِ كَذَا هُنَا. رد المحتار على الدر المختار ۱۲۴/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ مَطْلَبٌ فِي الْفَرْقِ بَيْنَ فَرْضِ الْعَيْنِ وَفَرْضِ الْكِفَايَةِ

(۲) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللَّهُ: (وَلَا بُدَّ) لِفَرْضِيَّتِهِ (مِنْ) قَيْدٍ آخَرَ وَهُوَ (الْإِسْتِطَاعَةُ). الدر المختار ۱۲۷/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ.

قَالَ العلامة الكاساني رَحِمَهُ اللَّهُ: وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ فَنَقُولُ إِنَّهُ لَا يُفْتَرَضُ إِلَّا عَلَى الْقَادِرِ عَلَيْهِ، فَمَنْ لَا قُدْرَةَ لَهُ لَا جِهَادَ عَلَيْهِ، لِأَنَّ الْجِهَادَ بَذْلُ الْجُهْدِ، وَهُوَ الْوُسْعُ وَالطَّاقَةُ بِالْقِتَالِ. أَوِ الْمُبَالَغَةُ فِي عَمَلِ الْقِتَالِ، وَمَنْ لَا وُسْعَ لَهُ كَيْفَ يَبْذُلُ الْوُسْعَ وَالْعَمَلَ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۷ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ الْجِهَادُ.

همداسې تفصيل په بدائع الصنائع کې هم ذکر دی. (۱)

خلاصه دا چې د نفيرِ عام په صورت کې ( يعنی کله چې دشمن د مسلمانانو په علاقه حمله اوکړي ، يا مسلمانانو ته د حملې کولو خبر راشي نو په دې صورت کې ) په ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين ګرځي . البته چې څوک قدرت نه لري نو په هغوی باندې جهاد فرض نه دی خو د خپل وَس مطابق به د مجاهدينو سره مدد کوي . (۲)

---

(۱) قال العلامة الكاساني رَحِمَهُ اللّٰهُ : فَأَمَّا إِذَا عَمَّ النَّفِيرُ بِأَنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ عَلَى بَلَدٍ فَهُوَ فَرْضُ عَيْنٍ يُفْتَرَضُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ آحَادِ الْمُسْلِمِينَ مِمَّنْ هُوَ قَادِرٌ عَلَيْهِ ؛ لِقَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى { اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَثِقَالًا } [التوبة: ۴۱] قِيلَ : نَزَلَتْ فِي النَّفِيرِ . وَقَوْلِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى { مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهِ } [التوبة: ۱۲۰] . وَلِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْكُلِّ قَبْلَ عُمُومِ النَّفِيرِ ثَابِتٌ ؛ لِأَنَّ السُّقُوطَ عَنِ الْبَاقِينَ بِقِيَامِ الْبَعْضِ بِهِ ، فَإِذَا عَمَّ النَّفِيرُ لَا يَتَحَقَّقُ الْقِيَامُ بِهِ إِلَّا بِالْكُلِّ . فَبَقِيَ فَرْضًا عَلَى الْكُلِّ عَيْنًا بِمَنْزِلَةِ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ . فَيَخْرُجُ الْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ ، وَالْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا ؛ لِأَنَّ مَنَافِعَ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ فِي حَقِّ الْعِبَادَاتِ الْمَفْرُوضَةِ عَيْنًا مُسْتَثْنَاةٌ عَنْ مِلْكِ الْمَوْلَى وَالزَّوْجِ شَرْعًا . كَمَا فِي الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ . وَكَذَا يُبَاحُ لِلْوَلَدِ أَنْ يَخْرُجَ بِغَيْرِ إِذْنِ وَالِدَيْهِ ؛ لِأَنَّ حَقَّ الْوَالِدَيْنِ لَا يَظْهَرُ فِي فُرُوضِ الْأَعْيَانِ كَالصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ . وَاللّٰهُ تَعَالَى أَعْلَمُ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۸/۷ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ كَيْفِيَّةِ فَرْضِيَّةِ الْجِهَادِ

(۲) قال ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : (قَوْلُهُ : إِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ) أَيْ دَخَلَ بَلْدَةً بَغْتَةً . وَهٰذِهِ الْحَالَةُ تُسَمَّى النَّفِيرُ الْعَامُّ . قَالَ فِي الْاِخْتِيَارِ : وَالنَّفِيرُ الْعَامُّ أَنْ يُحْتَاجَ إِلَى جَمِيعِ الْمُسْلِمِينَ (قَوْلُهُ : فَيَخْرُجُ الْكُلُّ) أَيْ كُلُّ مَنْ ذُكِرَ مِنَ الْمَرْأَةِ وَالْعَبْدِ وَالْمَدْيُونِ وَغَيْرِهِمْ . قَالَ السَّرَخْسِيُّ : وَكَذٰلِكَ الْغِلْمَانُ الَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا إِذَا أَطَاقُوا الْقِتَالَ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَخْرُجُوا وَيُقَاتِلُوا فِي النَّفِيرِ الْعَامِّ وَإِنْ كَرِهَ ذٰلِكَ الْآبَاءُ وَالْأُمَّهَاتُ . رد المحتار على الدر المختار ۱۲۷/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ .

وفي الهندية : وَمَعْنَى النَّفِيرِ أَنْ يُخْبَرَ أَهْلُ مَدِينَةٍ أَنَّ الْعَدُوَّ قَدْ جَاءَ يُرِيدُ أَنْفُسَكُمْ وَذَرَارِيَّكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ فَإِذَا أُخْبِرُوا عَلَى هٰذَا الْوَجْهِ افْتُرِضَ عَلَى كُلِّ مَنْ قَدَرَ عَلَى الْجِهَادِ مِنْ أَهْلِ تِلْكَ الْبَلْدَةِ أَنْ يَخْرُجَ لِلْجِهَادِ .... وَإِنَّمَا يُفْرَضُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ ، وَهُمْ يَقْدِرُونَ عَلَى الْجِهَادِ . أَمَّا عَلَى مَنْ وَرَاءَهُمْ مِمَّنْ يَبْعُدُ مِنَ الْعَدُوِّ ، فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ فَرْضَ كِفَايَةٍ لَا فَرْضَ عَيْنٍ ، حَتَّى يَسَعَهُمْ تَرْكُهُ . فَإِذَا احْتِيجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ تَكَاسَلُوا وَلَمْ يُجَاهِدُوا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يُفْرَضَ عَلَى جَمِيعِ أَهْلِ الْأَرْضِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّرْتِيبِ . الفتاوى الهندية ۱۸۸/۳ كِتَابُ السِّيَرِ الْبَابُ الْأَوَّلُ .

# په نن وخت کې د جهاد حُکم

په نن وخت کې کافرانو ( امریکایانو وغیره ) د مسلمانانو په بعضې ملکونو باندې حمله کړې ( لکه په افغانستان ، بوسنیا ، چیچنیا ، فلسیطین وغیره ) نو ددې حُکم دادی چې که د هماغه ځای مسلمانانو د دوی د مقابلې طاقت لرلو نو صرف د هماغه ځای په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین دی ، په نورو مسلمانانو باندې فرضِ عین ندی ، البته فرضِ کفایه دی .

خو که د هاغه ځای مسلمانانو د کافرانو د مقابلې طاقت نه لرلو ، یا یې طاقت لرلو لیکن د سستۍ په وجه یې جهاد نه کولو نو بیا ورسره په څنګ کې نژدې نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین دی .

که دشمن ډیر قوي وُ نو ورسره په څنګ کې نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین دی، همدغه شان چې دشمن څومره زیات قوي وي نو په دومره ډیرو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین ګرځي . تر دې چې درجه په درجه دا سلسله د مشرق او مغرب مسلمانانو پورې رسیږي (یعنی که کافران ډیر مضبوط وُ او د څو ملکونو مسلمانانو د هغوی طاقت نه شو لرلی ، یا یې ورسره د سستۍ په وجه جهاد نه کولو نو تر د مشرق او مغرب پورې ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین دی) . (۱)

( **نوټ** : د اِقدامي جهاد (یعنی فرضِ کفایي جهاد ) تفصیلي بحث روستو راروان دی) .

---

(۱) قَال ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمُوْا عَلَى ثَغْرٍ مِنْ ثُغُوْرِ الْإِسْلَامِ، فَيَصِيْرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ قَرُبَ مِنْهُمْ. وَهُمْ يَقْدِرُوْنَ عَلَى الْجِهَادِ . وَنَقَلَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ عَنِ الذَّخِيْرَةِ : أَنَّ الْجِهَادَ إِذَا جَاءَ النَّفِيْرُ إِنَّمَا يَصِيْرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ ، فَأَمَّا مَنْ وَرَاءَهُمْ بِبُعْدٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ عَلَيْهِمْ. حَتّٰى يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ إِذَا لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِمْ . فَإِنْ أُحْتِيْجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ لَمْ يَعْجِزُوْا عَنْهَا لٰكِنَّهُمْ تَكَاسَلُوْا وَلَمْ يُجَاهِدُوْا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيْهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ، لَا يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَى جَمِيْعِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّدْرِيْجِ . رد المحتار على الدر المختار ۱۲۲/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ مَطْلَبٌ فِي الْفَرْقِ بَيْنَ فَرْضِ الْعَيْنِ وَفَرْضِ الْكِفَايَةِ

وفي الهندية : وَمَعْنَى النَّفِيْرِ ..... ( په تېره صفحه د فتاوی هندیه عبارت تېر شو هغه او ګوره ) .

## د جهاد درې قسمونه (جهاد بالمال. جهاد بالنفس. جهاد باللسان)

د ابوداؤ، نسائي او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ. (۱)

تاسو د مشرکينو سره په خپلو مالونو، نفسونو، او ژبو سره جهاد اوکړئ.

**تشريح** په دې حديث کې د جهاد درې (۳) اَقسام ذکر شو:

۱. جهاد بِالمَال ۲. جهاد بِالنَّفس ۳. جهاد بِاللِّسان

جهاد بِالمال ديته وايي چې انسان خپل مال په جهاد کې خرچ کړي، مجاهدينو ته پرې اَسلحه يا نور جَنګي سامان واخلي.

جهاد بالنّفس ديته وايي چې انسان په خپله په جهاد کې شريک شي، او د کافرانو خلاف اُوجنګيږي.

جهاد بِاللّسان ديته وايي چې انسان په ژبې سره خلقو ته د جهاد متعلق ترغيب ورکړي، د کافرانو د عقائدو او نظرياتو مذمّت بيان کړي، کافرانو ته دَهمکي ورکړي، جهادي نَظمونه اووايي، او مجاهدينو ته د کاميابۍ دُعاګانې اوکړي.

يعنی په ژبې سره داسې خبرې اوکړي چې په هغې سره په مسلمانانو کې د جهاد جَذبه راپيدا شي او يا پرې د کافرانو سپکاوې اوشي. (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۴، قال الالباني: صحيح. سنن النسائي رقم الحديث ۳۰۹۶ باب وجوب الجهاد، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۲۱ (۳۵)، المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم ۲۴۲۷. وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۵۳، مسند احمد رقم الحديث ۱۲۲۴۶، ورقم ۱۳۶۳۸، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۳۴۰۹.

(۲) په يو حديث کې ذکر دي ...... أَفْضَلُ الجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ. افضل جهاد دادی چې انسان د ظالم بادشاه په مخکې حقه خبره اوکړي (ځکه په دې کې هم د ظالم بادشاه د طرفه دده و ژلو خطره شته). المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۰۸۱، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۳۰۵ (۴) كتاب الحدود الترغيب في الامر بالمعروف والنهي عن المنكر، سنن ابن ماجه رقم ۴۰۱۲، سنن النسائي رقم ۴۲۰۴، مسند احمد رقم ۱۸۸۲۸، ورقم ۱۸۸۳۰، شعب الايمان رقم ۷۱۷۴. ←←←←←←←←

# په قرآن کریم کې مسلمانانو ته دجهاد حُکم

جهاد فرض دی ځکه د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کې الله ربّ العزت مسلمانانو ته په واضحې طریقې سره د جهاد حُکم کړی ، بلکه په ډیرو آیتونو کې د جهاد حُکم د اَمر په صیغو سره شوی ، او دا قاعده ده چې مطلقِ اَمر د فرضیت د پاره وي.

یو څو آیتونه درته ذکر کوم ، الله تعالی فرمایي :

۱ . ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : په تاسو باندې جهاد فرض کړې شوې دی ، او هغه تاسو ته ناخوښه (ګران) دی ، او دا مُمکنه ده چې کله به تاسو یو څیز ناخوښه ګڼئ خو هغه به (په واقع کې) ستاسو د پاره غوره وي ، او (دا هم) مُمکنه ده چې کله به تاسو یو څیز خوښوئ خو هغه به (په واقع کې) ستاسو د پاره بَد وي ، او الله ﷻ (د هر څیز په حقیقتِ حال باندې) ښه پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ.

۲ . ﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ .(۲)

او (اې مسلمانانو !) تاسو د الله ﷻ په لار کې جهاد وکړئ ، او پوهه شئ چې الله ﷻ آوریدونکې پوهه دی.

۳ . ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ﴾ .(۳)

---

←←← وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ .
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُد وَابْنُ مَاجَه . مشكوة المصابيح رقم الحديث ۳۷۰۵ ( ۴۵ ) كتاب الإمارة والقضاء الفصل الثاني.
شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۴۷۳ باب ثواب من تكلم بحق عند سلطان جائر.

(۱) البقرة آية ۲۱۶ .

(۲) البقرة آية ۲۴۴ .

(۳) سورة محمد آية ۴ .

ترجمه : بيا کله چې ستاسو د کافرانو سره مقابله راشي نو د هغوی څټونه اووهئ .

٤ . ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَّيَكُونَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ﴾ . (۱)

ترجمه : او تاسو د کافرانو سره اوجنګيږئ تر دې چې فِتنه پاتې نشي ، او ټول دين يواځې الله ﷻ ( قائم ) شي .

٥ . ﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ يَّشَاءُ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( اې مؤمنانو ! ) تاسو د دوی (يعنی کافرانو ) سره اوجنګيږئ الله تعالی به ستاسو په لاس باندې دوی ته عذاب ورکړي ، رَسواء به يې کړي ، د دوی په مقابله کې به ستاسو مدد اوکړي ، او ( دوی ته په سزا ورکولو سره ) د مؤمنانو سِينې به يخې کړي ، د دوی د زړونو غصه به لرې کړي ، الله ﷻ چې د چا په باره کې اوغواړي د هغه توبه قبلوي ، او الله تعالی پوهه (او) حِکمت خاوند دی .

٦ . ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ . (۳)

ترجمه : اې مؤمنانو تاسو د هغه کافرانو سره جنګ اوکړئ چې هغوی د تاسو سره نزدې دي ، او په کار ده چې دوی په تاسو کې سختي اومومي ( يعنی د جهاد کولو په وخت ځانونه مضبوط کړئ ، نرمي ورسره مه کوئ ) او پوهه شئ چې د الله تعالی مدد د مُتقيانو سره دی .

---

(۱) الانفال آية ۳۹ .
همدا سې آيت په سورة البقره کې هم دی ، الله تعالی فرمايي :
﴿ وَقٰتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَّيَكُونَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ﴾ البقرة آية ۱۹۳ .
(۲) التوبة آية ۱۴ ، ۱۵ .
(۳) التوبة آية ۱۲۳ .

۷ . ﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ﴾. (۱)

ترجمه: او چيرته چې تاسو کافران اُومومۍ قتل يې کړئ ، او د کومو ځايونو نه چې هغوی تاسو اِيستلي يَۍ د هغه ځايونو نه يې اُوباسئ ، او (د کفر) فتنه د قتل نه زياته سخته ده.

۸ . ﴿ اِنْفِرُوا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ ﴾. (۲)

ترجمه: تاسو جهاد ته سپک او درانه (يعنی د لږ سامان او ډير سامان سره) اُووځئ ، او په خپلو مالونو او نفسونو سره د الله ﷻ په لاره کې جهاد اوکړئ ، دا ستاسو د پاره ډيره بهتره ده که تاسو پوهيږئ.

۹ . ﴿ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطٰنِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴾. (۳)

ترجمه: پس تاسو د شيطان ملګرو (يعنی کافرانو) سره جنګ اوکړئ ، بيشکه د شيطان مکر کمزوری دی.

۱۰ . ﴿ وَإِنْ نَّكَثُوا أَيْمَانَهُمْ مِّنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ ﴾. (۴)

ترجمه: او که چيرته دوی د وَعدو کولو نه پس خپل قسَمونه مات کړي او ستاسو په دِين کې عيبونه رااُوباسي نو د کفر سردارانو سره جنګ اوکړئ ، بيشکه د دوی قسَمونه (هيڅ مُعتبر) ندي ، کيدې شي دوی (د خپلو شرارتونو نه) منع شي.

همدارنګې الله ﷻ خاصکر د مشرکينو سره هم د جهاد حُکم کړی:

---

(۱) البقرة آية ۱۹۱ .
(۲) التوبة آية ۴۱ .
(۳) النساء آية ۷۶ .
(۴) التوبة آية ۱۲ .

۱۱. ﴿ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ (۱)

ترجمه : او تاسو مشرکانو سره ټول په يو ځای او جنګيږئ لکه څرنګې چې هغوی د تاسو سره ټول په يو ځای جنګيږي ، او پوهه شئ چې الله تعالى د مُتّقيانو سره (ملګري) دی.

همدارنګې الله ﷻ د منافقانو سره هم د جهاد حُکم کړی :

۱۲ . ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د کافرانو او منافقينو سره جهاد اوکړه ، او په دوی باندې سختي اوکړه ، د دوی ځای جهنم دی ، او هغه ډير بَد ځای د واپس ورتللو دی .

همدارنګې الله ﷻ د باغيانو په مقابله کې هم د قتال حُکم کړی . (۳)

دا خو ما درته يو څو آيتونه ذکر کړل ، ددينه علاوه د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کې هم مسلمانانو ته د کافرانو سره د جهاد کولو حُکم شوی . (۴)

په دې ټولو آيتونو کې مسلمانانو ته په واضحې طريقې سره د جهاد حُکم او فرضيت بيان شوی .

---

(۱) التوبة آية ۳٦ .

همداسې آيت د سورة التوبة په ابتدائي آيتونو کې هم ذکر دی : ﴿ فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾ . التوبة آية ۵ .

ترجمه : بيا کله چې د اِحترام مياشتې تيرې شي نو مشرکين چې چيرته مومئ قتل يې کړئ ، وې نيسئ ، راګير يې کړئ ، او په هره موقع کې ورته (پټ) کينئ .

(۲) التوبة آية ۷۳ ، التحريم آية ۹ .

(۳) ﴿ وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾ . الحجرات آية ۹ .

(۴) ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴾ . التوبة آية ۲۹ .

﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾ . البقرة آية ۱۹۰ .

# کافرانو سره د جهاد کولو حکمت او وجه

الله تعالی انسان اَشرفُ المخلوقات پيدا کړی (۱) او دا هر څه يې دده د فائدې د پاره پيدا کړي (۲) خو انسان يې د خپل عبادت د پاره پيدا کړی. (۳)

په عبادت کولو سره انسان د بندګانو د غلامۍ نه آزاد شي او خاص د الله تعالی غلام او بنده جوړ شي، نو بيا الله ﷻ د داسې مسلمان د جان و مال د حفاظت حُکم کړی.

اوس چې کافر په خپل کُفر سره بغاوت اوکړي، د الله ﷻ د غلامۍ په ځای د بندګانو غلامي کوي نو الله تعالی مسلمانانو ته حُکم اوکړو چې د داسې خلقو سره جهاد اوکړئ، دوی اُووژنئ، قيد يې کړئ (۴) ځکه د دوی مرتبه اوس د اَشرفُ المخلوقات نه رانښکته شوی او اَرزلُ المخلوقات ګرځيدلي، دوی اوس د اِنسانيت د درجې نه اُووتل د حيوانيت درجې ته راغلل، بلکه د حيواناتو نه هم بَدتَر دي (۵) ځکه حيوان خو مابنام د خپل مالِک کورته واپس راځي ليکن کافر اسلام نه قبلوي.

دغه وجه ده چې په جنګ کې د کافرانو نيولو نه پس اوس دوی غلامان دي، دوی په بازار کې د حيواناتو په شان خرڅول او په کور کې د خدمت د پاره ساتل هم جائز دي.

---

(۱) الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ ﴾. بني اسرائيل (الاسراء) آية ۷۰.

ترجمه: او بيشکه مونږ عزت ورکړي دی اَولاد دآدم (عليه السلام) ته.

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴾. التين آية ۴.

ترجمه: بيشکه مونږ انسان په ډير ښائسته (مُعتدِل شکل او) صورت پيدا کړو.

(۲) الله تعالی فرمايي: ﴿ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ﴾. البقرة آية ۲۹.

ترجمه: الله تعالی هغه ذات دی چې په زمکه کې دا ټول هر څه يې ستاسو د فائدې د پاره پيدا کړل.

﴿ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ﴾. لقمان آية ۲۰.

(۳) الله تعالی فرمايي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾. الذاريات آية ۵۶.

ترجمه: او ما نه دي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي.

(۴) ﴿ فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ﴾. محمد آية ۴.

﴿ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ﴾. البقرة آية ۱۹۱.

(۵) ﴿ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ﴾. الاعراف آية ۱۷۹.

دا حُکه چې کله دوی د الله ﷻ غلامي قبوله نکړه نو اوس به دوی د الله تعالی د غلامانو (مجاهدينو) غلامان وي.

الله ﷻ ددې کُفر ختمولو او اسلام غالب کيدو پورې مسلمانانو ته د جهاد حُکم کړی (۱)

بل دا چې د کافر وجود په دُنيا کې د خطرناکې بيمارۍ په شان دی، پس لکه څرنګې چې د انسان په يو اَندام باندې خطرناکه بيماري اُولږي چې د هغې په وجه ټول وجود ته ضرر رسي نو ډاکټران د اَپريشن په ذريعه دغه حصه کټ کوي ددې د پاره چې نور وجود ددې بيمارۍ نه محفوظ شي، همدغه شان کافر چې ايمان نه راوړي او جِزيه هم نه ورکوي نو مسلمانان د جهاد په ذريعه دوی ختموي، يا يې خپل غلامان جوړوي.

همدې مضمون ته په دې راروان حديث کې هم اِشاره شوی:

## نبي عليه السلام ته د جهاد اَمر

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوا أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ ، وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ . فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ . (۲)

ما ته دا حُکم شوی چې زه د خلقو (کافرانو) سره تر هغه وخته پورې اُوجنګيږم تر دې پورې چې دوی د " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ " ګواهي (اِقرار) اوکړي، مونځ قائم کړي، او زکوة ورکړي، پس کله چې دوی دا کارونه اوکړي نو دوی د ما نه خپلې وينې او خپل مالونه محفوظ کړل مګر د اِسلام حق به ورباندې وي (يعنی که بې ګناه قتل اوکړي يا شادي شُده کس زِنا اوکړي نو بيا به وژلې شي) او د دوی (پټ) حساب الله ﷻ ته حواله دی

(۱) ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَّيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّٰهِ ﴾ . الانفال آية ۳۹ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابٌ: { فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ } رقم الحديث ۲۵ ، ورقم ۳۹۲۰ ، ورقم ۱۳۹۹ ، ورقم ۶۹۲۳ ، ورقم ۷۲۸۴ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ الأَمْرِ بِقِتَالِ النَّاسِ حَتّٰى يَقُولُوا: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ رقم الحديث ۳۳ (۲۱) .

# د ايمان نه روستو جهاد افضل ترين عمل دی

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلی الله نه پوښتنه اوشوه : أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ کوم عمل افضل دی ؟
نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :
إِيْمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ . په الله ﷻ او د هغه په رسول باندې ايمان راوړل .
د نبي عليه السلام نه بيا پوښتنه اوشوه : ثُمَّ مَاذَا ؟ بيا کوم عمل ډير افضل دی ؟
پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :
اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول .
بيا ورنه پوښتنه اوشوه چې د دې پسې کوم عمل ډير بهتر دی ؟
رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل : حَجٌّ مَبْرُوْرٌ . مقبول حج . (۱)
۲ . په يو حديث کې راځي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه :
أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ کوم عمل ډير بهتر دی ؟
نبي ﷺ ورته اوفرمايل : إِيْمَانٌ لَا شَكَّ فِيْهِ ، وَجِهَادٌ لَا غُلُوْلَ فِيْهِ ، وَحَجَّةٌ مَبْرُوْرَةٌ . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ : أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ : « إِيْمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ » . قِيْلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : « اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ » . قِيْلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : « حَجٌّ مَبْرُوْرٌ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ مَنْ قَالَ إِنَّ الْإِيْمَانَ هُوَ الْعَمَلُ رقم الحديث ۲٦ .
وفي رواية : عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ . قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : « إِيْمَانٌ بِاللّٰهِ وَجِهَادٌ فِيْ سَبِيْلِهِ » .... صحيح البخاري كِتَابُ الْعِتْقِ بَابٌ : أَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ رقم الحديث ۲۵۱۸ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الْإِيْمَانِ بِاللّٰهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ رقم الحديث ۱۳٦ (۸۴) .
(۲) سنن النسائي كِتَابُ الْإِيْمَانِ وَشَرَائِعِهِ ذِكْرُ أَفْضَلِ الْأَعْمَالِ رقم الحديث ۴۹۸٦ ، و رقم الحديث ۲۵۲٦ كِتَابُ الزَّكَاةِ جُهْدُ الْمُقِلِّ . قال الالباني : صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۳۸۳۳(۴٦) ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۵۹۷ ذكر البيان بانّ الجهاد هو من افضل الاعمال ، مسند احمد رقم الحديث ۸۵۸۰ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲٦۲۰ .

داسې ايمان چې هيڅ شک په کې نه وي ، بيا داسې جهاد چې په هغې کې په مالِ غنيمت کې خيانت نه وي ، او بيا مقبول حج.

## حاجيانو ته د اوبو ورکولو او مسجدِ حرام جوړولو نه بهترين عمل جهاد دی

د مسلم شريف حديث دی ، حضرت نُعمان بن بَشير رضي الله عنه فرمايي چې زه د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ممبر سره ناست ووم نو يو کس ووېل :

مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أُسْقِيَ الْحَاجَّ .

زما هيڅ پَرواه نشته چې زه د اسلام قبلولو نه پس حاجيانو ته د اوبو ورکولو نه علاوه بل هيڅ کار اونکړم . ( يعنی زه د اسلام نه پس بهترين عمل حاجيانو ته اوبه ورکول گڼم ) .

بل کس ووېل :

مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ .

زما هيڅ پرواه نشته چې زه د اسلام نه پس د مسجد حرام جوړولو نه علاوه بل هيڅ کار اونکړم . (يعنی زما په نزد مسجدِ حرام جوړول بهترين عبادت دی ) .

بل کس ووېل : اَلْجِهَادُ فِي سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ .

د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول د هغه کارونو نه ډير بهتر دی کوم چې تاسو ذکر کړل .

حضرت عُمر رضي الله عنه دا خلق اُورَټل او ورته وې ووېل : تاسو د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ممبر سره آوازونه مه اُوچتوئ ( شور مه کوئ ) ، نن د جُمعې ورځ ده ، کله چې زه د جُمعې مونځ اوکړم نو په خپله به رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته ورشم او ستاسو چې په دې کومه خبره کې اختلاف دی ددې متعلق به ورنه پوښتنه اوکړم ( چې بهترين عمل کوم دی ؟ ) .

نو الله تعالی ( ددې خبرې د فيصلې د پاره ) دا آيتونه نازل کړل :

﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ ۚ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللهِ ۗ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ .(۱)

---

(۱) التوبة آية ۱۹.

ترجمه : آيا تاسو حاجيانو ته اُوبه ورکول او مسجدِ حرام جوړول د هغه چا د عمل برابر کړځولی کوم چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ايمان راوړی او د الله ﷻ په لار کې يې جهاد کړی ؟ (حالانکه) دا کارونه د الله ﷻ په نزد ( د ايمان او جهاد ) برابر ندي ، او الله تعالی ظالمانو خلقو (يعنی مشرکانو) ته (د دوی د عِناد په وجه) هدايت نه کوي . (۱)

**فائده** : ددې آيت نه معلومه شوه چې جهاد کول حاجيانو ته د اُوبو ورکولو او مسجدِ حرام جوړولو نه هم بهترين عمل دی .

## د نفلي حجونو نه جهاد زيات افضل دی

کله چې جهاد فرضِ کفايه وي (يعنی دُشمن د مسلمانانو په مُلک حمله نه وي کړې) نو بيا فرضي حج د فرضِ کفايه جهاد نه بهتر دی ، اول به فرضي حج کوي ، بيا به جهاد کوي .

خو چې کله جهاد فرضِ عين شي (يعنی دشمن د مسلمانانو په مُلک باندې حمله اوکړي) نو بيا به فرضِ عين حج هم روستو کولې شي ، ځکه په حج کې د تاخير ګنجائش شته خو چې جهاد فرضِ عين شي نو بيا په دې کې د تاخير ګنجائش نشته .

البته د نفلي حجونو نه جهاد ډير بهتر دی ، او په دې کې د هيچا اختلاف نشته .

د بخاري شريف په حديث کې هم جهاد په حج باندې مقدم شوی (دا حديث په صفحه ۱۹ باندې ذکر شو ) .

همدا رنګې د ډيرو صحابه کرامو نه هم نقل دي چې د نفلي حجونو او نفلي عُمرو په نسبت جهاد ډير بهتر دی .

---

(۱) عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ ﷺ ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ رَجُلٌ : مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أُسْقِيَ الْحَاجَّ . وَقَالَ آخَرُ : مَا أُبَالِي أَنْ لَا أَعْمَلَ عَمَلًا بَعْدَ الْإِسْلَامِ إِلَّا أَنْ أَعْمُرَ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ . وَقَالَ آخَرُ : الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِمَّا قُلْتُمْ . فَزَجَرَهُمْ عُمَرُ ﷺ ، وَقَالَ : لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ عِنْدَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ، وَلَكِنْ إِذَا صَلَّيْتُ الْجُمُعَةَ دَخَلْتُ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فِيمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ . فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : { أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ } [التوبة: ۱۹] الْآيَةَ إِلَى آخِرِهَا . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۱۱ (۱۸۷۹) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۸۳۶۷ .

حضرت عُمر رضي الله عنه فرمايي :

عَلَيْكُمْ بِالْحَجِّ فَإِنَّهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أَمَرَ اللهُ بِهِ . وَالْجِهَادُ أَفْضَلُ مِنْهُ . (۱)

په تاسو باندې حج لازم دی ځکه دا ښه عمل دی ، الله تعالی ددې امر کړی ، خو جهاد ددینه ډیر افضل دی .

## جهاد د پنځوس ( ۵۰ ) نفلي حجونو نه بهتر دی

۱ . حضرت عبد الله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي :

لَسَفْرَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَفْضَلُ مِنْ خَمْسِينَ حَجَّةً . (۲)

د الله جل جلاله په لارکې د جهاد يو سفر د پنځوسو (۵۰) حجونو نه ډير بهتر دی .

۲ . په يو روايت کې ذکر دي چې جهاد د اَتيا (۸۰) نفلي حجونو نه ډير بهتر دی :

حضرت عبد الرحمن بن غنم اشعري رضي الله عنه فرمايي :

حَجَّةٌ قَبْلَ غَزْوَةٍ خَيْرٌ مِنْ عَشْرِ غَزَوَاتٍ ، وَغَزْوَةٌ بَعْدَ حَجَّةٍ خَيْرٌ مِنْ ثَمَانِينَ حَجَّةً . (۳)

د غزا نه مخکې حج کول د لسو (۱۰) غزاګانو نه ډير بهتر دی ، او د حج نه روستو غزا کول د اَتيا (۸۰ نفلي ) حجونو نه ډيره بهتره ده .

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۹۲ ، كنز العمال كتاب الجهاد باب في فضله والحث عليه رقم الحديث ۱۱۳۲۵ .

(۲) الجهاد لابن المبارک ۱۶۸/۱ رقم الحديث ۲۲۵ ، سَنَدُهُ صحيحٌ على شرط البخاري . مصنف عبد الرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۵۳۶ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۶۱۴ .

وفي رواية : حَجَّةٌ قَبْلَ غَزْوَةٍ أَفْضَلُ مِنْ خَمْسِينَ غَزْوَةٍ ، وَغَزْوَةٌ بَعْدَ حَجَّةٍ أَفْضَلُ مِنْ خَمْسِينَ حَجَّةً .

كنز العمال كتاب الجهاد الباب الاول رقم الحديث ۱۰۶۰۱ .

وفي رواية : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه . قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ : غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ عَشْرِ حِجَجٍ لِمَنْ قَدْ حَجَّ .

مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۵۸ ، سنن سعيد بن منصور كتاب الجهاد باب ماجاء في الغزو بعد الحج .

(۳) سَنَدُهُ صحيحٌ ورجاله ثقاتٌ . الجهاد لابن المبارک ۱۷۰/۱ .

په بعضې رواياتو کې جهاد ددينه هم بهتر ذکر شوی .(۱)

## حضرت ضِرار بن عَمرو نفلي حج پرېښود او په جهاد کې واپس مشغول شو

حضرت ضِرار بن عَمرو فرمايي چې په جهاد کې زما ډير وخت تېر شو نو ناڅاپه مې حج کولو ته شوق راپيدا شو ، او اِراده مې اوکړه چې د بيتُ الله سره څنګ کې وخت تېر کړم ، پس ما د حج د پاره سامان تيار کړو ، بيا د خپلو ملګرو نه رُخصت ( خدای په اَماني ) اخيستلو د پاره راغلم ، د ټولو نه اول اسحاق بن فروه ته راغلم چې رُخصت ورنه واخلم .

هغه راته ووېل : اَيْنَ تُرِيْدُ يَا ضِرَارُ ! اې ضِرار ! چيرته د تللو اِراده لرې ؟

ما ورته ووېل : ( نفلي ) حج ته د تللو اِراده مې کړې . هغه راته ووېل :

وَمَا نَقَصَ رَأْيُکَ عَنِ الْجِهَادِ ؟ د جهاد سره دې څنګه جَذبه کمه شوه .

ما ورته ووېل : داسې نده بلکه په جهاد کې مې ډير وخت تېر شو اوس مې حج ته د تللو شوق راپيدا شوی ، او اِراده مې داده چې همَلته د بيتُ الله سره څنګ کې اُووسيږم .

هغه راته ووېل :

لَا تَنْظُرْ فِيْمَا تُحِبُّ يَا ضِرَارُ ، وَلٰکِنِ انْظُرْ فِيْمَا يُحِبُّ اللهُ . يَا ضِرَار بن عَمرٍو ! اَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَحُجَّ ذٰلِکَ الْبَيْتَ قَطُّ إِلَّا وَاحِدَةً ثُمَّ لَمْ يَزَلْ مغزيًا فِي الْجِهَادِ حَتّٰى لَحِقَ اللهَ .

اې ضرار بن عمرو ! ته خپلې خوښې ته مه ګوره ، بلکه ديته اوګوره چې الله تعالی څه خوښوي ؟ آيا تاته پته نشته چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم صرف يو ځل حج کړی بيا د ژوند تر آخري سَلګۍ پورې په جهاد کې مصروف وُ .

اې ضرار بن عَمرو ! که چيرته ته حج اوکړې نو دا ستا د پاره صرف د يو حج او يوې عُمرې ثواب دی ، خو که چيرته ته د اسلامي سرحداتو حفاظت کوې ، يا جهاد کوې ، يا پهره کوې نو تاته به د لکونو ( بې شميره ) خلقو د حجونو او عُمرو ثواب ملاويږي ، او

---

(۱) عن کعب : قَالَ غَزْوَةٌ بَعْدَ حَجَّةِ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ حَجَّةٍ . ذکره في شفاء الصدور ، مشارع الاشواق ج ۱ ص ۲۰۷ .

تاته به د حضرت آدم علیه السلام نه نیولی تر د قیامته پورې راتلونکو مسلمانانو سړو او ښځو د شمار موافق اجر درکولې شي.

لِأَنَّ مَنْ نَصَرَ آخِرَ الْمُؤْمِنِيْنَ كَانَ لَهُ كَأَجْرِ مَنْ نَصَرَ أَوَّلَهُمْ وَآخِرَهُمْ.

ځکه چا چې د آخري مؤمنانو مدد اوکړو نو ده ته به د اَوّلني او آخِرني ټولو مؤمنانو د مدد کولو اَجر ملاویږي.

او تاته به د حضرت آدم علیه السلام نه نیولی تر د قیامت قائمیدو پورې د هر مشرک سړي او مشرکې ښځې د شمار په اَندازه اَجر درکولې شي:

لِأَنَّ مَنْ جَاهَدَ آخِرَ الْمُشْرِكِيْنَ كَانَ كَمَنْ جَاهَدَ أَوَّلَهُمْ وَآخِرَهُمْ.

ځکه چا چې د آخري مشرکینو سره جهاد اوکړو نو دا داسې دی لکه چې ده د اَوّلو او آخري ټولو مشرکینو سره جهاد کړې وي.

او تاته به د توراة ، اِنجیل ، زبور او قرآن کریم د هر هر حرف په عوض کې نیکي درکولې شي ، ځکه ته جهاد ددې د پاره کوی چې د الله ﷻ نور یعنی د دِین رڼا څوک مړه نه کړي.

يَا ضِرَارُ بْنَ عَمْرٍو ! أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ أَقْرَبَ إِلَى دَرَجَةِ النُّبُوَّةِ مِنْ دَرَجَةِ الْعُلَمَاءِ وَالْمُجَاهِدِيْنَ ؟

اې ضرار بن عَمرو ! آیا تاته پته نشته چې د نبوّت درجې ته د علماؤ او مجاهِدینو نه علاوه د بل هیچا نزدې درجه نشته؟

ضرار بن عمرو وایي چې ما ورته پوښتنه اوکړه : دا څنګه ؟ نو هغه وویل : دا ځکه چې علماء کرام د الله تعالی هغه اَحکام په مخ د زمکه نافذوي کوم چې انبیاء کرامو راوړي دي ، او خلقو ته د دِین حقه لاره ښایي ، او مجاهدین د توحید هغه عقیده قائمه ساتي کومه چې انبیاء کرامو د الله ﷻ د طرفه راوړی ، دا ختمیدو ته نه پریږدي ، او ددې د پاره جهاد کوي چې د الله ﷻ دِین سَرلوړې شي او نور کفري باطل دِینونه ښکته شي.

حضرت ضرار بن عمرو فرمایي :

فَتَرَكْتُ مَا كُنْتُ فِيْهِ مِنْ قَصْدِ الْحَجِّ وَأَقَمْتُ بِبَلَدِ الْجِهَادِ.

پس ما چې د (نفلي) حج کوم اِراده کړې وه هغه ما پریخوده ، او په کومو ښارونو کې

چې جهاد شروع وُ هملته په جهاد کې مصروف شوم .

حضرت ضرار بن عَمرو تر آخري عُمره پورې په جهاد کې مصروفه وُ تر دې چې هملته په جهاد کې د الله ﷻ سره يو ځای شو . (۱)

## حضرت بلال رضي الله عنه د جهاد د پاره آذان پريخود

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله په خپل کتاب " اَلْاِسْتِيْعَابُ فِيْ مَعْرِفَةِ الْأَصْحَاب " کې دا واقعه رانقل کړی چې حضرت بلال رضي الله عنه د نبي عليه السلام په ژوند مبارک کې ( په مسجد نبوي کې ) آذان کول ، بيا يې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ژوند کې هم آذان کول ، خو د حضرت عُمر رضي الله عنه په دَورِ خلافت کې يې آذان پريخود .

حضرت عُمر رضي الله عنه ورته پوښتنه اوکړه : مَا مَنَعَكَ أَنْ تُؤَذِّنَ ؟

ته څه شي د آذان کولو نه منع کړی ؟ (يعنی ولې دې آذان پريخود ؟ )

حضرت بلال رضي الله عنه ورته ووېل : ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ژوند مبارک کې آذان اوکړو تر دې چې هغه وفات شو ، بيا مې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په ژوند کې هم آذان کولو ځکه د هغه رابانده احسانات وو ، (اوس حقيقت دادی چې) ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې ماته يې فرمايل :

يَا بِلَالُ ! لَيْسَ عَمَلٌ أَفْضَلَ مِنَ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

اې بلال ! د الله ﷻ په لاره کې د جهاد کولو نه بهترين عمل بل نشته .

بيا حضرت بلال رضي الله عنه جهاد ته لاړو . (۲)

---

(۱) ذکره صاحب شفاء الصدور عن ضرار بن عمرو ، مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۱ ص ۲۰۸ الباب الثالث فيما جاء في فضل الجهاد في سبيل الله عز وجل على الحج .

(۲) أَذَّنَ بِلَالٌ حَيَاةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ثُمَّ أَذَّنَ لِأَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه حَيَاتَهُ . وَلَمْ يُؤَذِّنْ فِيْ زَمَنِ عُمَرَ رضي الله عنه . فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : مَا مَنَعَكَ أَنْ تُؤَذِّنَ ؟ قَالَ : إِنِّيْ أَذَّنْتُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى قُبِضَ ، وَأَذَّنْتُ لِأَبِي بَكْرٍ حَتّٰى قُبِضَ لِأَنَّهُ كَانَ وَلِيَّ نِعْمَتِيْ ، وَقَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : يَا بِلَالُ ! لَيْسَ عَمَلٌ أَفْضَلَ مِنَ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَخَرَجَ مُجَاهِدًا . الاستيعاب في معرفة الأصحاب ۱/ ۱۸۰ بلال بن رباح المؤذن .

په بعضې رواياتو كې راځي چې حضرت بلال ﷺ د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په زمانه كې آذان پرېښود ، شام ته د جهاد كولو د پاره لاړ ، هملته ؤ ، بيا په هماغه ځاى كې وفات شو . (۱)

## نبي عليه السلام جهاد ته په بل څيز فضيلت ورنكړو

حضرت ابو قتادة رضي الله عنه فرمايي :

خَطَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْجِهَادَ فَلَمْ يُفَضِّلْ عَلَيْهِ شَيْئًا إِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ . (۲)

رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه وويله ، په هغې كې يې د جهاد تذكره اوكړه ، نو په جهاد باندې يې د فرضي مونځ نه علاوه بل هيڅ شي ته فضيلت ورنكړو .

حضرت عبد الله بن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به هم د فرضي مانځه نه پس جهاد بهترين عمل ګڼړل . (۳)

## د جهاد سره هيڅ عمل برابر ندى

جهاد په اسلام كې داسې بهترين عمل دى چې ددې سره بل هيڅ عمل برابر ندى ، دا خبره په صحيح احاديثو كې ذكر ده ، يو څو احاديث درته ذكر كوم :

---

(۱) .... كَانَ يُؤَذِّنُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَلَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الشَّامِ ، فَقَالَ لَهُ أَبُوْ بَكْرٍ ﷺ : بَلْ تَكُوْنُ عِنْدِيْ . فَقَالَ إِنْ كُنْتَ أَعْتَقْتَنِيْ لِنَفْسِكَ فَاحْبِسْنِيْ ، وَإِنْ كُنْتَ أَعْتَقْتَنِيْ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فَذَرْنِيْ أَذْهَبْ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . فَقَالَ : اِذْهَبْ . فَذَهَبَ إِلَى الشَّامِ فَكَانَ بِهَا حَتّٰى مَاتَ . الاستيعاب في معرفة الأصحاب ۱/ ۱۸۱ بلال بن رباح المؤذن .

وفي رواية : عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ رَحِمَهُ اللهُ ، قَالَ : لَمَّا كَانَتْ خِلَافَةُ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ تَجَهَّزَ بِلَالٌ لِيَخْرُجَ إِلَى الشَّامِ ، فَقَالَ لَهُ أَبُوْ بَكْرٍ ﷺ : مَا كُنْتُ أَرَاكَ يَا بِلَالُ تَدَعُنَا عَلٰى هٰذَا الْحَالِ ، لَوْ أَقَمْتَ مَعَنَا فَأَعَنْتَنَا . قَالَ : « إِنْ كُنْتَ إِنَّمَا أَعْتَقْتَنِيْ لِلّٰهِ تَعَالٰى فَدَعْنِيْ أَذْهَبْ إِلَيْهِ ، وَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا أَعْتَقْتَنِيْ لِنَفْسِكَ فَاحْبِسْنِيْ عِنْدَكَ » . فَأَذِنَ لَهُ ، فَخَرَجَ إِلَى الشَّامِ فَمَاتَ بِهَا . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۱/ ۱۵۰ بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ

(۲) مسند أبي داود الطيالسي رقم الحديث ۶۲۷ أَحَادِيْثُ أَبِيْ قَتَادَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . واخرجه البيهقي في السنن الكبرى ۹/ ۴۸ ، والدارمي في سننه ۲/ ۲۰۷ ، والحديث صحيح . كتاب الجهاد لابن مبارك ۱/ ۱۱۹ .

(۳) .... إِنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا كَانَ .... وَيَرَى الْجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ بَعْدَ الصَّلَاةِ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۴۵ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ النَّفِيْرِ وَمَا يُسْتَدَلُّ بِهٖ عَلٰى أَنَّ الْجِهَادَ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ

وي د قرآن کريم تلاوت کوي ، او په دې سره نه ستړې کيږي نو مسلسل داسې کارونه خو بل څوک نشي کولی ، ليکن الله تعالی مجاهد ته د دې ثواب ورکوي .

**. چې کله صحابه کرامو د جهاد برابر عمل طاقت نه شو لرلی نو مونږ به يې څه اولرو ؟**

د بخاري شريف او مسلم شريف مذکوره دواړو احاديثو نه دا خبره معلومه شوه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل چې تاسو د جهاد برابر عمل کولو طاقت نه شئ لرلی .

قدرمنو مسلمانانو ! اوس مونږ ته سوچ په کار دی : باوجود د دينه چې صحابه کرام رضي الله عنهم د لوي هِمت خاوندان وو ، د هر نيک عمل کولو کوشش يې کولو ، د نبي عليه السلام صُحبت ورته نصيب شوې وُ خو د دې باوجود نبي اکرم صلی الله عليه وسلم هغوی ته فرمايي چې " تاسو د جهاد برابر عمل کولو طاقت نه شئ لرلی " نو اوس به مونږ گناهگار او رِياکار څنگه داسې عمل اوکړې شو چې هغه د جهاد برابر وي ؟
پس معلومه شوه شوه چې جهاد داسې بهترين عمل دی چې د دې سره برابر هيڅ عمل نشته

۳ . سعيد بن منصور رحمه الله په خپل کتاب " سنن سعيد بن منصور " کې دا روايت رانقل کړی چې د نبي عليه السلام په زمانه کې يو کس وُ ، ډير زيات مال و دولت ورسره وُ ، دا رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورته وې ويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهِ عَمَلَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

اې د الله رسوله ! ماته داسې يو عمل اُوښايه چې زه ورباندې د الله ﷻ په لار کې د مجاهد د عمل برابر ثواب حاصل کړم .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : كَمْ مَالُكَ ؟ ستا څومره مال دی ؟
هغه ورته وويل : شپږ زره (۶۰۰۰) دِيناره .
پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

لَوْ أَنْفَقْتَهَا فِيْ طَاعَةِ اللهِ لَمْ تَبْلُغْ غُبَارَ شِرَاكِ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

که چيرته ته دا ټول مال د الله ﷻ په اِطاعت کې خرچ کړی خو بيا به هم ته د الله ﷻ د لارې

مجاهِد د څپلو (د تَسمې) گرد ته او نه رسی.

يو بل کس راغی او هغه هم همدا پوښتنه اوکړه:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهِ عَمَلَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

اې د الله رسوله ! ماته داسې يو عمل اُوښايه چې زه ورباندې د الله د لارې مجاهِد د عمل هومره ثواب حاصل کړم.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل:

لَوْ قُمْتَ اللَّيْلَ وَصُمْتَ النَّهَارَ لَمْ تَبْلُغْ نَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

که چيرته ته ټوله شپه عبادت اوکړې او ټوله ورځ روژه اونيسې خو بيا به هم د مُجاهِد فِي سبيلِ الله خوب ته او نه رَسی.(۱)

٤. په " مُصَنَّف ابن ابي شيبه " کې دا روايت نقل دی، مکحول رحمه الله فرمايي چې يو کس نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او وې ويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ النَّاسَ قَدْ غَزَوْا وَحَبَسَنِيْ شَيْءٌ فَدُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ يُلْحِقُنِيْ بِهِمْ.

اې د الله رسوله ! بيشکه خلق غزا ته لاړل او زه څه عُذر د غزا نه پاتې کړې يم، پس ته اوس ماته داسې يو عمل اُوښايه چې هغه ما په ثواب کې هغوی ته وَرَاُورسوي.

پيغمبر عليه الصلاة والسلام ورته اوفرمايل:

هَلْ تَسْتَطِيْعُ قِيَامَ اللَّيْلِ ؟ آيا ته ټوله شپه د مونځ کولو طاقت لرې؟

هغه ورته وويل: په کوشش سره به دا اوکړم.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

---

(۱) عَنِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، أَنَّ رَجُلًا كَانَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ مَالٌ كَثِيْرٌ فَأَتٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهِ عَمَلَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. فَقَالَ: «كَمْ مَالُكَ؟» قَالَ: سِتَّةُ آلَافِ دِيْنَارٍ. فَقَالَ: «لَوْ أَنْفَقْتَهَا فِيْ طَاعَةِ اللهِ لَمْ تَبْلُغْ غُبَارَ شِرَاكِ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ». وَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهِ عَمَلَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. فَقَالَ: «لَوْ قُمْتَ اللَّيْلَ وَصُمْتَ النَّهَارَ لَمْ تَبْلُغْ نَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ». سنن سعيد بن منصور ۲/ ۱۵۰ رقم الحديث ۲۳۰۵ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ.

هَلْ تَسْتَطِيْعُ صِيَامَ النَّهَارِ؟ آيا ته ټوله ورځ روژه نيولې شې ؟

هغه ورته ووېل : آو . پيغمبر عليه السلام ورته او فرمايل :

فَإِنَّ إِحْيَاءَكَ لَيْلَتَكَ وَصِيَامَكَ نَهَارَكَ كَنَوْمَةِ أَحَدِهِمْ .

بيشکه ستا ټوله شپه عبادت کول او ټوله ورځ روژه نيول د مجاهد د خوب په شان دي . (۱)

## سهَر يا ماښام وخت په جهاد کښې تېرول د دُنيا او مَافِيها نه بهتر دی

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَغَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا . (۲)

سهر وخت يا ماښام وخت په جهاد کښې تلل د دُنيا او د دُنيا د ټولو څيزونو نه بهتر دی .

**د حديث تشريح** : يعنی يو کس چې سهَر وخت يا ماښام وخت په جهاد کښې تېر کړي نو ددې په عِوض کښې چې ده ته کوم آجر حاصليږي دا د دُنيا د ټولو نعمتونو نه بهتر دی ، ځکه د دُنيا ټول نِعمتونه فناء کيدونکي دي او د آخرت نعمتونه باقي دي .

---

(۱) عَنْ مَكْحُولٍ رَحِمَهُ اللهُ ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ النَّاسَ قَدْ غَزَوْا وَحَبَسَنِيْ شَيْءٌ فَدُلَّنِيْ عَلَى عَمَلٍ يُلْحِقُنِيْ بِهِمْ . قَالَ : هَلْ تَسْتَطِيْعُ قِيَامَ اللَّيْلِ ؟ قَالَ : أَتَكَلَّفُ ذٰلِكَ . قَالَ : هَلْ تَسْتَطِيْعُ صِيَامَ النَّهَارِ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَإِنَّ إِحْيَاءَكَ لَيْلَتَكَ وَصِيَامَكَ نَهَارَكَ كَنَوْمَةِ أَحَدِهِمْ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الجِهَادِ وَالحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۳۷ .

**نوټ** : دا حديث اګر چې مُرسَل دی ، خو د ثِقه وُ مُرسَل مقبول وي ، او د آحنافو په نزد باندې حُجت وي .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۹۲ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ الله رقم الحديث ۱۱۲ ( ۱۸۸۰ ) ، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل الغدوّ والرّواح في سبيل الله رقم الحديث ۱۶۵۱ ، صحيح ابن حبان رقم ۴۶۰۲ ، شعب الايمان رقم ۳۹۵۱ ، مسند احمد رقم ۱۲۳۵۰ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۲ (۶) .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : غَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۱۵ ( ۱۸۸۳ ) ، مسند احمد رقم الحديث ۲۳۵۸۶ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۰۷۸ ، و رقم ۴۰۷۹ .

يا دا مطلب چې که يو انسان د ټوله دُنيا د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړي خو ددې ټولو د ثواب نه په جهاد کې د سهر يا ماښام لږ وخت شريکيدلو ثواب زيات دی. (۱)

## په جهاد کې لږ وخت تېرول په کور کې د اويا (۷۰) کاله عبادت نه ډير بهتر دی

۱ . د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په صحابه کرامو کې يو کس (د سفر په دَوران کې) د يو غَر په دَره باندې تېر شو، په هغې دَرّه کې د خوږو اُوبو يوه چينه وه، دا صحابي ددې اُوبو د ښه والي په وجه هغې چينې ته په تعجّب کې شو (ډيره يې خوښه شوه)، نو وې ويل: کاش چې زه د خلقو نه جدا شوې وی او په دې دَرّه کې مُقيم شوې وی، خو زه به دا کار تر هغه وخته پورې اُونکړم تر دې چې زه د رسولُ الله ﷺ نه اجازت را واخلم.

نو ده ددې خبرې ذکر رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته اوکړو، نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

لَا تَفْعَلْ . فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلٰوتِهِ فِيْ بَيْتِهِ سَبْعِيْنَ عَامًا. أَلَا تُحِبُّوْنَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ. أُغْزُوْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. مَنْ قَاتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.

دا کار مه کوه ځکه په تاسو کې د يو کس د الله ﷻ په لار (جهاد) کې قِيام کول د هاغه اَويا (۷۰) کالو مونځونو کولو نه ډير بهتر دی کوم چې هغه په کور کې اوکړي، آيا تاسو دا نه خوښوی چې الله تعالی تاسو (په کاملې طريقې سره) اُوبخي او (د اِبتداء نه) جنت

---

(۱) (لَغَدْوَةٌ) أَيْ ذَهَابٌ فِي النِّصْفِ الْأَوَّلِ مِنَ النَّهَارِ (فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ) أَيْ ذَهَابٌ فِي النِّصْفِ الْأَخِيْرِ مِنْهُ. (خَيْرٌ) أَيْ: كُلٌّ مِنْهُمَا (مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا) وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّامَ لِلْإِبْتِدَاءِ، أَوِ الْقَسَمِ. وَالْمَعْنٰى فَضْلُ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ نِعَمِ الدُّنْيَا كُلِّهَا، لِأَنَّهَا زَائِلَةٌ فَانِيَةٌ وَنِعَمُ الْآخِرَةِ كَامِلَةٌ بَاقِيَةٌ. وَمُحْتَمَلٌ أَنَّ الْمُرَادَ أَنَّ هٰذَا الْقَدْرَ مِنَ الثَّوَابِ خَيْرٌ مِنَ الثَّوَابِ الَّذِيْ يَحْصُلُ لِمَنْ لَوْ حَصَلَتْ لَهُ الدُّنْيَا وَأَنْفَقَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۵۷/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح حديث ۳۷۹۲ .

ته مو داخل کړي ؟ تاسو د الله ﷻ په لاره کې جهاد کوئ ، ځکه څوک چې د الله ﷻ په لار کې د اُوښې لوَشلو په مينځ کې د وَقفې په مقدار ( يعنى لږ وخت ) جهاد اوکړي نو د هغه د پاره جنت واجب شو . (۱)

همدا واقعه په نورو احاديثو کې هم ذکر ده . (۲)

**عبرت** : محترمو مسلمانانو ! تاسو سوچ اوکړئ چې دې صحابي اګر چې په ځانله ځای کې د عبادت حق اَداء کولې شو خو بيا هم رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اجازه ورنکړه ، بلکه د جهاد کولو تاکيد يې ورته اوکړو ، نو آيا زمونږ عبادت به د جهاد نه څنګه بهتر شي ؟ اوس که مونږ جهاد پرېږدو نو يقيني چې ډير تاوان به اوکړو .

۴ . په يو بل حديث کې ذکر دي ، حضرت عثمان بن عفّان رضي الله عنه فرمايي :

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: يَوْمٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيْمَا سِوَاهُ .

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ : مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِعْبٍ فِيْهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ لِطِيْبِهَا ، فَقَالَ : لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ ، فَأَقَمْتُ فِيْ هٰذَا الشِّعْبِ ، وَلَنْ أَفْعَلَ حَتّٰى أَسْتَأْذِنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : لَا تَفْعَلْ ، فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِيْ بَيْتِهِ سَبْعِيْنَ عَامًا ، أَلَا تُحِبُّوْنَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ ، اُغْزُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، مَنْ قَاتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۵۰ ، وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۰ (۴۳) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الجهاد رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي .

(۲) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَرِيَّةٍ ، فَمَرَّ رَجُلٌ بِغَارٍ فِيْهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ وَبَقْلٍ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِأَنْ يُقِيْمَ فِيْهِ وَيَتَخَلّٰى مِنَ الدُّنْيَا ، فَاسْتَأْذَنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ ذٰلِكَ ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنِّيْ لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُوْدِيَّةِ وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ وَلٰكِنِّيْ بُعِثْتُ بِالْحَنِيْفِيَّةِ السَّمْحَةِ ، وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَغَدْوَةٌ أَوْ رَوْحَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا ، وَلَمَقَامُ أَحَدِكُمْ فِي الصَّفِّ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِهِ سِتِّيْنَ سَنَةً . مسند احمد رقم الحديث ۲۲۲۹۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۴۹ (۶۲)

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې فرمایل یې : د الله ﷻ په لار (جهاد) کې یوه ورځ تیرول د نورو زرو (۱۰۰۰) ورځو د عبادت نه بهتر ده. (۱)

## جهاد ته په اسلام کې اوچت مقام حاصل دی

جهاد ته د اسلام په نورو احکاماتو باندې اُوچت مقام حاصل دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: .... وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ. (۲)

د دِین د قُب اوچتوالې (یعنی د دِین شان و شوکت او اُوچته څوکه) جهاد دی.

**د حدیث تشریح** : په دې حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د جهاد تَشبیه د اُوښ د قُب سره ورکړی ، ددې یو څو وجوهات دي : لکه څرنګې چې قُب په اُوښ کې اُوچت ځای دی او ددې سره په اوچتوالي کې برابر بل ځای نشته نو همدغه شان جهاد هم په اسلام کې اُوچت عمل دی.

بل دا چې کله انسان په اُوښ باندې سور شي نو منزلِ مقصود ته رسیږي نو همدغه شان په جهاد کولو سره هم انسان جنت ته رسیږي.

بل دا چې کله انسان د اُوښ قب ته ور اُوخیجي نو په ټول اُوښ باندې ورته کنټرول حاصل وي همدغه شان کوم کس چې جهاد کوي نو هغه ته هم د اسلام د نورو اعمالو آجر وثواب هم ملاویږي، ځکه مجاهد ته په هر عمل باندې آجر ورکولې شي. (۳)

---

(۱) سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ فَضْلُ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۳۱۷۰ ، قال الالباني: حَسَنٌ . الجهاد لابن المبارک رقم الحديث ۷۲ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الجهاد رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۲۸ .

(۲) ..... ثُمَّ قَالَ (رسول الله صلى الله عليه وسلم) : أَلَا أُخْبِرُكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ كُلِّهِ وَعَمُودِهِ، وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ؟ قُلْتُ : بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ . قَالَ : رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ ، وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ ، وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ ..... سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۶۱۶ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. مشكوة المصابيح كتاب الإيمان الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۲۹ (۲۸) ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۰۶۸ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۳۹۷۳ كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ كَفِّ اللِّسَانِ فِي الْفِتْنَةِ .

(۳) مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۱ ص ۱۷۲ فصل في أنّ ذروة سنام الاسلام الجهاد في سبيل الله.

## نبي عليه السلام په مرضُ الوفات کې هم اسلامي لښکر جهاد ته اُوليږل

محترمو مسلمانانو ! د جهاد اَهميت اندازه تاسو ددينه هم معلومولې شئ. چې په يوولسم (۱۱) هجري محرم مياشت کې نبي عليه السلام بيمار شو ، بيماري يې همداسې زياتيده ، کله چې د صفر مياشت په شپږ ويشتم (۲۶) تاريخ د پيغمبر عليه السلام په بيمارۍ کې څه تَخفيف راغی نو د شام او فلسطين د سرحدونو خبرونه يې واوريدل چې هلته مُفسدِينو سرونه را اُوچت کړي دي ، نو نبي عليه السلام حُکم اوکړو چې د شام رُوميانو سره د جهاد د پاره تياري اوکړئ.

په اته ويشتم (۲۸) تاريخ د صفر مياشت د نبي عليه السلام بيماري سخته شوه خو په همدې بيمارۍ حالت کې يې حضرت اُسامه رضي الله عنه ته جَنډه ورکړه ، د غونډ لښکر اَميريې جوړ کړو او د جهاد د پاره يې اُوليږل.

دې لښکر په "جرف" کې قيام اوکړو ځکه د نبي عليه السلام بيماري همداسې زياتيده ، نبي عليه السلام هم لښکرته هملته د مُقيم کيدو اجازت ورکړو .

د پيغمبر عليه السلام د وفات نه پس کله چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خليفه شو نو هغه بيا دا لښکر د رُوميانو خلاف شام ته د جهاد د پاره اُوليږل ، دوی د رُوميانو سره جهاد اوکړو ، روميانو شکست اُوخوړ او مسلمانان د ډير مالِ غنيمت سره واپس مدينې منوّرې ته راغلل .

فائده : ددې واقعې نه معلومه شوه چې جهاد دومره اَهمه فريضه ده چې نبي عليه السلام په مرضُ الوفات کې هم جهادي عمل جاري اوساتل .

## د جهاد په صَف کې اُودريدل الله جل جلاله ته محبوب عمَل دی

کله چې يو مُجاهد د الله جل جلاله د رَضا د پاره د کافرانو خلاف په ميدانِ جنګ کې په صَف کې ولاړ وي نو دا الله ربّ العزت ته محبوب عمَل دی ، او ددې ډير فضائل بيان شوي :

۱. حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم څو صحابه کرام په يو ځای کې ناست وو ، په خپل مينځ کې مو خبرې کولې ، پس مونږ ووېل :

لَوْ نَعْلَمُ أَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَمِلْنَا.

که چیرته مونږ پوهه شو چې الله ﷻ ته کوم عمَل ډیر محبوب دی نو مونږ به خامخا هغه عمل اوکړو.

نو الله ربّ العزت دا آیتونه تر آخر د سورة پورې رانازل کړل:

﴿ سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ﴾. (۱)

ترجمه: پاکي بیانوي د الله ﷻ د پاره څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي، او هم هغه غالب (او) حکمت خاوند دی، اې مؤمنانو! تاسو ولې داسې خبرې کوئ چې هغه تاسو نه (پوره) کوئ، دا د الله ﷻ په نزد ډیره ناخوښه (د ناراضګۍ) خبره ده چې تاسو داسې څه وایئ چې هغه تاسو نه (پوره) کوئ، بیشکه الله ﷻ هغه کسان خوښوي چې د الله په لاره کې داسې صَف تړلي جنګ کوي ګویا دوی په قلعې سره ټینګ کړي شوي دیوال دی.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا آیتونه اُولوستل. (۲)

ددې آیت نه معلومه شوه چې الله ﷻ ته محبوب عمل په اِستقامت سره جهاد کول دي.

---

(۱) الصف آية ۱ تا ۴.

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَعَدْنَا نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْنَا: لَوْ نَعْلَمُ أَيُّ الأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَمِلْنَا. فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: {سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ} إِلَى آخِرِ السُّورَةِ. وَقَرَأَهَا عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ رقم الحديث ۲۸۹۹، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي، و رقم ۲۳۸۴، سنن الترمذي باب: و من سورة الصف رقم الحديث ۳۳۰۹، السنن الكبرى للبيهقي ۹/ ۱۶۰.

( همداسې حديث په نورو کتابونو کې هم ذکر دی . (۱) )

۲. په يو روايت کې ذکر دي چې دا مذکوره آيتونه د اَنصارو د يو جماعت په باره کې نازل شوي دي ، په هغوی کې حضرت عبدالله بن رواحة رضي الله عنه هم وُ ، دوی په مجلس کې ويلي وو : لَوْ نَعْلَمُ أَيَّ الْأَعْمَالِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ لَعَمِلْنَا بِهِ حَتّٰى نَمُوْتَ .

که چيرته مونږ ته دا معلومه شي چې " الله ﷻ ته کوم عمل ډير محبوب دی ؟ " نو مونږ به دا تر مرګه پورې اوکړو .

بيا چې کله دا مذکوره آيت نازل شو ( په هغې کې ذکر شو چې الله ﷻ ته محبوب عمل د جهاد په صَف کې اُودريدل دي ) نو حضرت ابن رواحة ﷺ اوفرمايل :

لَا أَزَالُ حَبِيْسًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى أَمُوْتَ .

زه به اوس د ژوند تر آخري سَلګۍ پورې د الله ﷻ په لاره کې جهاد کوم .

بيا هغه همداسې اوکړل ، او د کافرانو په مقابله کې په جهاد کې شهيد شو . (۲)

## د جهاد په صَف کې اُودريدل الله ﷻ ته د شپيتو کالو د عبادت نه ډير بهتر دي

د جهاد په صَف کې اُودريدل الله ﷻ ته د شپيتو (۶۰) کالو د عبادت نه ډير بهتر دي ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

(۱) عَنْ أَبِيْ صَالِحٍ قَالَ : قَالُوْا : لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَيَّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلَ أَوْ أَحَبَّ إِلَى اللهِ ، فَنَزَلَتْ : { يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ } [الصف آية ۱۰-۱۱] فَكَرِهُوْهَا ، فَنَزَلَتْ : { يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ } [الصف آية ۲-۴] . الجهاد لابن المبارک ۲۸/۱ رقم الحديث ۲ .

(۲) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : نَزَلَ قَوْلُهُ : { لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ... } إِلَى قَوْلِهِ { صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ } [الصف آية ۲-۴] فِيْ نَفَرٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ مِنْهُمْ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ ﷺ ، قَالُوْا فِيْ مَجْلِسٍ : لَوْ نَعْلَمُ أَيَّ الْأَعْمَالِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ لَعَمِلْنَا بِهِ حَتّٰى نَمُوْتَ . فَلَمَّا نَزَلَ فِيْهِمْ ، فَقَالَ ابْنُ رَوَاحَةَ ﷺ : لَا أَزَالُ حَبِيْسًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى أَمُوْتَ . فَقُتِلَ شَهِيْدًا . الجهاد لابن المبارک ۲۹/۱ رقم الحديث ۳ .

مَقَامُ الرَّجُلِ فِي الصَّفِّ فِي سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ عِنْدَ اللهِ مِنْ عِبَادَةِ رَجُلٍ سِتِّيْنَ سَنَةً .(١)

د يو سړي د جهاد په صَف کې (د دُښمن په مقابله کې) اُودريدل د الله ﷻ په نزد د بل کس د شپيتو (٦٠) کالو د عبادت نه ډير بهتر دي.

## د جهاد په صَف کې د اُودريدونکي کس دُعا قبليږي

١. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

سَاعَتَانِ تُفْتَحُ فِيْهِمَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَقَلَّ دَاعٍ تُرَدُّ عَلَيْهِ دَعْوَتُهُ بِحَضْرَةِ النِّدَاءِ إِلَى الصَّلٰوةِ، وَالصَّفِّ فِي سَبِيْلِ اللهِ .(٢)

دوه وختونه داسې دي چې په هغې کې د آسمان دروازې کلاوُولې شي، ډيرکم د دُعاکوونکي دُعا رَد کولې شي (يعنى په دې وخت کې دُعا يقيني قبليږي) يو د آذان په وخت، او دويم د جهاد په صَف کې.

٢. په يو بل حديث کې داسې الفاظ ذکر دي، رسولُ الله ﷺ فرمايي:

سَاعَتَانِ تُفْتَحُ فِيْهِمَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ: عِنْدَ حُضُوْرِ الصَّلٰوةِ، وَعِنْدَ الصَّفِّ فِي سَبِيْلِ اللهِ. (٣)

دوه وختونه داسې دي چې په دې کې د آسمان دروازې کلاوُولې شي: (يو) مانځه ته د حاضريدو (صَف جوړولو) په وخت کې، او (دويم) د الله ﷻ په لاره (جهاد) کې صَف جوړولو په وخت کې.

---

(١) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ٢٣٨٣ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٧٧، شعب الايمان رقم ٣٩٢٦، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ٩٦٧١، كنزالعمال رقم الحديث ١٠٦٢٨، و رقم ١٠٦٨٧، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٣٠٣ (٩)، الاربعون في الحث على الجهاد الحديث الثالث عشر.

(٢) صحيح الترغيب والترهيب ٦٥/١ رقم الحديث ٢٦٦ كتاب الصلاة الترغيب في الدعاء بين الأذان والإقامة، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ١٩١٠ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الدُّعَاءِ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ.

(٣) صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ١٧٢٠ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ ذِكْرُ فَتْحِ أَبْوَابِ السَّمَاءِ عِنْدَ دُخُوْلِ أَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ الْمَفْرُوْضَاتِ.

..................

(همداسې حدیث په ابوداؤد شریف او نورو ډیرو د احادیثو په کتابونو کې هم ذکر دی. (۱))

## جهاد به تر قیامته پورې جاري وي

**۱.** د مسلم شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا ، يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ . (۲)

همیشه به دا دین قائم وي، د مسلمانانو یوه ډله به د قیامت قائمیدو پورې ددې دین (د حفاظت) د پاره جنګیږي.

**۲.** په یو بل حدیث کې دا مضمون په دې الفاظو ذکر دی، رسول الله ﷺ فرمایي:

لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ أُمَّتِيْ يُقَاتِلُوْنَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِيْنَ عَلٰى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتّٰى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيْحَ الدَّجَّالَ . (۳)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ أَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ : عِنْدَ النِّدَاءِ، وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الدُّعَاءِ عِنْدَ اللِّقَاءِ رقم الحديث ۲۵۴۰ ، قال الالباني: صحيحٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۷۵۶ ، مشكاة المصابيح كتاب الصَّلَاة بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ وَإِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۶۷۲ (۱۰) كنز العمال رقم الحديث ۳۲۳۷ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِيْنَ عَلَى الْحَقِّ رقم الحديث ۱۷۲ (۱۹۲۲) ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰۱ (۱۵) ، مسند احمد رقم الحديث ۲۰۹۸۵ ، و رقم ۲۱۰۱۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۹۳۱ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۰۱۲ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي دَوَامِ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۸۴ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۹۲ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي، و رقم ۸۳۹۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني ۳۸۱۹ (۳۳) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۲۸ ، و رقم ۲۵۴ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۹۲۰ .

وفي رواية: رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُوْنَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِيْنَ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِيْنَ عَلَى الْحَقِّ رقم الحديث ۱۷۳ (۱۹۲۳) .

زما د اُمت يوه ډله به هميشه په حق باندې جنګيږي ، ځوک چې د دوی سره دشمني کوي په هغوی باندې به غالب کيږي تر دې چې ددې اُمت آخري خلق به هم د مسيح دجّال سره جنګ کوي .

۳ . نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اَلْجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . (۱)

جهاد به تر قيامته پورې جاري وي .

**فائده** : ددې مذکوره احاديثو نه ثابته شوه چې ددې اُمت يوه ډله به خامخا د دين د حفاظت د پاره جهاد کوي ، که دا په يو ځای کې نه وي نو په بل ځای کې به راپيدا کيږي خو د دين د دشمنانو سره به جنګ کوي ، او الله ربّ العزت به آخر هم دوی ته فتح ورکوي . (۲)

بلکه د اسلام بَقاء او سَربُلندي هم په جهاد کې ده ، چې تر ځو پورې مسلمانان جهاد کوي نو اسلام به په مخ د زمکه باقي او غالب وي .

(۱) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۵۳/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح حديث ۳۷۸۷ . البحر الرائق ج۵ ص ۷۶ كتاب السِّير ، مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر ج۱ ص ۶۳۲ كتاب السِّير احكام الجهاد ، الهداية كتاب السِّير ج۲ ص ۳۷۸ .

(۲) (لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا ، يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ) وَالْمَعْنٰى لَا يَخْلُوْ وَجْهُ الْأَرْضِ مِنَ الْجِهَادِ إِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْ نَاحِيَةٍ يَكُوْنُ فِيْ نَاحِيَةٍ أُخْرٰى ....

قَالَ النَّوَوِيُّ رحمه الله : وَفِيْهِ مُعْجِزَةٌ ظَاهِرَةٌ فَإِنَّ هٰذَا الْوَصْفَ لَمْ يَزَلْ بِحَمْدِ اللهِ تَعَالٰى مِنْ زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْآنَ ، وَلَا يَزَالُ حَتّٰى أَمْرِ اللهِ تَعَالٰى . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۶۲/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح حديث ۳۸۰۱ .

# د صحابه کرامو د جهاد سره مينه

د صحابه کرامو د جهاد سره مِينه ډيره زياته وه ، د جهاد د مِينې په وجه يې د دُنيا سهولتونه پرېښي وو ، بلکه د هر کس دا تَمنّا وه چې د دِين د سَربُلندۍ د پاره د الله ﷻ په لار کې جهاد اوکړي او د شهادت دا اُوچته مرتبه حاصله کړي .

د يو څو صحابه کرامو واقعات درته بيانوم :

## د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د جهاد سره مِينه

حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه به فرمايل چې د جهاد هغه سخته يَخه شپه چې زه يې د دُشمن په مقابله کې تېره کړم او سهر په دشمن حمله اوکړم دا ماته د هغې شپې نه ډيره خوَښه ده چې زه يې د خپلې محبوبې ناوې سره تېره کړم ، يا د هغې شپې نه ماته ډيره خوَښه ده چې په هغې کې څوک ماته د ځوي زېرې راکړي . (۱)

## جهاد ته تللو د پاره د پلار او ځوي قُرعه اَندازي

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې چې کله رسولُ الله صلى الله عليه وسلم جنګِ بدر طرف ته روان شو نو حضرت سعد رضي الله عنه او دده پلار " حضرت خَيثمه رضي الله عنه " دواړو جهاد ته د تللو اِراده اوکړه ، صحابه کرامو رضي الله عنهم ددې تذکره نبي عليه السلام ته اوکړه ، پيغمبر عليه السلام دې دواړو ته حُکم اوکړو چې په تاسو دواړو کې يو کس لاړ شئ ( او بل پاتې شئ ، چونکه دواړو تلل غوښتل ) نو دوی دواړو قُرعه اَندازي اوکړه ( يعنی خپل مينځ کې يې خَسنړې واچول ) په دې خَسنړي کې د حضرت سعد رضي الله عنه نوم را اُوخَت ، پلار ورته وويل :

آثِرْنِي بِهَا يَا بُنَيَّ .

---

(۱) قَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ رضي الله عنه : مَا مِنْ لَيْلَةٍ يُهْدٰى إِلَيَّ فِيْهَا عَرُوْسٌ أَنَا لَهَا مُحِبٌّ ، أَوْ أُبَشَّرُ فِيْهَا بِغُلَامٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ لَيْلَةٍ شَدِيْدَةِ الْبَرْدِ كَثِيْرَةِ الْجَلِيْدِ فِيْ سَرِيَّةٍ أُصَبِّحُ فِيْهَا الْعَدُوَّ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۹۱ رقم ۱۰۷.

اې بچيه ! ته ماته په خپل ځان باندې ترجيح راکړه ( يعنی ما تللو ته پرېږده ) .

حضرت سعد ﷺ ورته اوفرمايل :

يَا أَبَتِ ! إِنَّهَا الْجَنَّةُ لَوْ كَانَ غَيْرَهَا آثَرْتُكَ بِهِ .

اې پلاره ! دا ( جهاد ته تلل ) د جنت معامله ده ، که بل څه معامله وی نو ما به تاته ترجيح درکړې وی ( خوزه اوس په خپله ځم ) .

نو حضرت سعد ﷺ د نبي عليه السلام سره جهاد ته لاړ ، هلته په جنګ کې شهيد شو .

بيا راتلونکي کال په غزوه أحد کې دده پلار " حضرت خَيثمه ﷺ " هم شهيد شو . (۱)

د حضرت خَيثمه ﷺ د جهاد او شهادت جذبه تاسو ددې راتلونکي واقعې نه معلومولې شئ .

## د حضرت خَيثمه ﷺ د جهاد او شهادت سره مينه

د غزوه أحد په وخت حضرت خَيثمه رضي الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل : اې د الله رسوله ! په جنګِ بدر کې په قُرعه أندازۍ کې زما د ځوي نوم راأوتې ؤ ، هغه په جهاد کې شرکت اوکړو او شهيد شو ، زما هم د شهادت شوق دی ، ما بېګاه شپه خپل ځوي

(۱) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ أَبِيْ هِلَالٍ، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبَانَ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَرَجَ إِلى بَدْرٍ أَرَادَ سَعْدُ بْنُ خَيْثَمَةَ ﷺ وَأَبُوْهُ أَنْ يَخْرُجَا جَمِيْعًا . فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَأَمَرَهُمَا أَنْ يَخْرُجَ أَحَدُهُمَا . فَاسْتَهَمَا . فَخَرَجَ سَهْمُ سَعْدٍ ﷺ . فَقَالَ أَبُوْهُ : آثِرْنِيْ بِهَا يَا بُنَيَّ . فَقَالَ : يَا أَبَتِ ! إِنَّهَا الْجَنَّةُ . لَوْ كَانَ غَيْرَهَا آثَرْتُكَ بِهِ . فَخَرَجَ سَعْدٌ ﷺ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ . ثُمَّ قُتِلَ خَيْثَمَةُ ﷺ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ يَوْمَ أُحُدٍ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۷۰ رقم ۷۹ .

دا واقعه علامه ذهبي رحمه الله په " سير أعلام النبلاء " کې داسې ذکر کړی : وَلَمَّا نَدَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِيْنَ يَوْمَ بَدْرٍ . فَأَسْرَعُوْا . قَالَ خَيْثَمَةُ ﷺ لِابْنِهِ سَعْدٍ ﷺ : آثِرْنِيْ بِالْخُرُوْجِ . وَأَقِمْ مَعَ نِسَائِكَ . فَأَبٰى . وَقَالَ : لَوْ كَانَ غَيْرَ الْجَنَّةِ آثَرْتُكَ بِهِ . فَاقْتَرَعَا . فَخَرَجَ سَهْمُ سَعْدٍ ﷺ . فَخَرَجَ . وَاسْتُشْهِدَ بِبَدْرٍ . وَاسْتُشْهِدَ أَبُوْهُ خَيْثَمَةُ ﷺ يَوْمَ أُحُدٍ . سير اعلام النبلاء ۱ /۲۶۶ سَعْدُ بنُ خَيْثَمَةَ بنِ الحَارِثِ الأَنْصَارِيُّ الأَوْسِيُّ . الإصابة ۴ /۱۴۱ ، الاستيعاب ۴ /۱۴۳ .

په خوب کې اُوليد چې په ډير ښائسته شکل و صورت کې د جنت په باغونو او نهرونو کې يې سېل کول، او ماته يې داوويل:

اې پلاره! راځه چې په جنت کې يو ځای سېل اوکړو.

نو اې د الله رسوله! زما د خپل ځوي سره د ملاقات ډير شوق دی، زما عُمر زيات شوی او بدن مې سست شوی، زه اوس د خپل رب سره ملاقات خوښوم، تاسو ماته دُعا اوکړئ چې الله ﷻ ماته په جنت کې د خپل ځوي سره ملاقات رانصيب کړي.

نبي عليه السلام ورته دُعا اوکړه، حضرت خيثمه ﷺ په غزوه اُحد کې شريک شو، او په همدې جنګ کې شهيد هم شو. (۱)

## په غزوه اُحد کې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ جَذبه

په غزوه اُحد کې د عامو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د جهاد جذبه ډيره زياته وه، نبي عليه السلام د صحابه کرامو سره مشوره اوکړه نو حضرت حمزه ﷺ اوفرمايل: په الله ﷻ قسَم زه به تر هاغې وخته پورې خوراک اونکړم تر څو پورې چې د مدينې منوّرې نه بهَر لاړ نه شم او په خپله توره د دښمنانو سره مقابله اونکړم.

حضرت نعمان بن مالک ﷺ اوفرمايل: اې د الله رسوله! مونږ د جنت نه مه محرومه کوه، په الله ﷻ قسَم زه به ضرور په جنت کې داخليږم، ځکه زه د الله ﷻ او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت ساتم او د جنګ په دَوران کې د جنګ د ميدان نه نه تختم.

نورو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم د جذباتو نه ډکې خبرې اوکړې او ټولو په جهاد کې د شرکت جذبه لرله. (۲)

## د حضرت حنظله ﷺ د جهاد جَذبه

حضرت حنظله ﷺ چې کله د اُحد د غزا په ورځ د سهر مونځ اوکړو او کور ته لاړ، ده چونکه نوې واده کړې وُ، خپلې بي بي " حضرت جميله رَضِيَ اللهُ عَنْهَا " سره د ملاويدو په وجه

---

(۱) دعوت جهاد ص ۱۵۶.

(۲) دعوت جهاد ص ۱۵۵.

ورباندې غُسل واجب شو ، ناڅاپه د جهاد اعلان اوشو ، دده په زړه کې د نبي علیه السلام د حُکم منلو او جهاد دومره جَذبه وه چې سمدستي د اُحد غزا ته روان شو ، د غُسل کولو موقع ورته ملاؤ نه شوه ، د بهادرانو په شان د کافرانو سره اُوجنګید ، آخر شهید شو .

نبي علیه السلام اوفرمایل :

إِنَّ صَاحِبَكُمْ تُغَسِّلُهُ الْمَلَائِكَةُ .

بیشکه ستاسو ملګري " حنظلهﷺ " ته فرښتې غُسل ورکوي ( دا څه وجه ده ؟ )

کله چې صحابه کرامو رضي الله عنهم دده د بي بي نه پوښتنه اوکړه نو هغې ورته ووېل :

هغه چې کله جهاد ته د وتلو اعلان واورید نو سمدستي اُووت حالانکه هغه جُنُب ؤ ( یعنی غُسل ورباندې اَوریدلې ؤ ) . نبي علیه السلام اوفرمایل :

لِذٰلِكَ غَسَّلَتْهُ الْمَلَائِكَةُ .

د همدې د وجې فرښتو هغه ته غُسل ورکړو . (۱)

## د ګډ والي باوجود په جهاد کې د شِرکت جذبه

د احادیثو په معتمدو کتابونو کې دا واقعه ذکر ده :

حضرت عَمرو بن جَموح رضي الله عنه د اَنصارو بوډا شیخ ؤ ، په خپه باندې ګډ ؤ ، کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم جنګِ بدر ته روان شو نو ده خپلو زامنو ته ووېل :

اَخْرِجُوْنِيْ . ما هم اُوباسئ ( یعنی د ځان سره مې جهاد ته بوځئ ) .

ځامن یې پیغمبر علیه السلام ته راغلل او د پلار د ګډ والي تذکره یې ورته اوکړه ، نبي علیه السلام هغه ته په کور کې د پاتې کیدو او په جهاد کې د نه شریکیدو اجازت ورکړو .

کله چې د غزوه اُحد ورځ راغله او خلق جهاد ته اُووتل نو ده خپلو ځامنو ته ووېل :

---

(۱) .... فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ صَاحِبَكُمْ تُغَسِّلُهُ الْمَلَائِكَةُ » فَسَأَلُوْا صَاحِبَتَهُ . فَقَالَتْ : إِنَّهُ خَرَجَ لَمَّا سَمِعَ الْهَائِعَةَ وَهُوَ جُنُبٌ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لِذٰلِكَ غَسَّلَتْهُ الْمَلَائِكَةُ » .

المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۴۹۱۷ . وقال الحاکم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ .

صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۷۰۲۵ ذکر حنظلة بن ابي عامر غسیل الملائکة ، السنن الکبری للبیهقي رقم الحدیث ۶۸۱۴ ، ورقم ۶۸۱۵ . سیرة ابن هشام ۲ / ۷۵ حَنْظَلَةُ غَسِيْلُ الْمَلَائِكَةِ .

أَخْرِجُوْنِيْ .

ما هم اُوباسئ ( يعنى د ځان سره مې جهاد ته بوځئ ) .

ځامنو ورته وويل : رسولُ الله صلى الله عليه وسلم تاته رُخصت درکړی او په کور کې يې د پاتې کيدو اجازت درکړی .

ده ځامنو ته وويل :

هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُوْنِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُوْنِيْهَا بِأُحُدٍ .

افسوس ، تاسو زه په غزوه بدر کې د جنت نه منع کړم او اوس مې په غزوه اُحد کې هم د جنت حاصلولو نه منع کوئ .

پس دا هم غزوه اُحد ته لاړ ، کله چې په ميدانِ جنګ کې دواړه ډلې سره يو ځای شوی او جنګ ګرم شو نو ده رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته اوفرمايل :

أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرَجَتِيْ هٰذِهِ الْجَنَّةَ ؟

(اې د الله رسوله ! ) دا راته اووايه که چيرته زه نن شهيد شم نو آيا په دې ګډه خپه به جنت ته لاړ شم ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : آو . نو ده وويل :

فَوَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللهُ .

زما دې قَسَم وي په هغه ذات باندې چې ته يې بَرحق رسول راليږلې يې زه به نن اِن شاء الله خامخا په دې ګډه خپه باندې په جنت کې ګرځم .

عَمرو بن جَموح رضي الله عنه سره چې کوم خپل غلام راغلې ؤ د هغه نوم " سُليم " ؤ ، ده هغه ته وويل : ته واپس خپل کور ته لاړ شه . هغه ورته وويل :

که زه د تاسره يو ځای خير (شهادت) حاصل کړم نو ستا به څه تاوان اوشي ؟

ده ورته وويل : نو بيا خو ميدان ته رامخکې شه .

غلام ميدانِ جنګ ته ور وړاندې شو ، د کافرانو سره تر هاغې وخته پورې جنګيدو چې آخر شهيد شو .

بيا حضرت عَمرو بن جَموح رضي الله عنه هم ميدان ته ورغی او تر هاغه وخته پورې اوجنګيد

چې آخر شهيد شو . (۱)

په رواياتو کې راځي : دده د شهادت نه روستو کله چې نبي عليه السلام په ده باندې تېر شو نو ورته وې ويل :

كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْكَ تَمْشِي بِرِجْلِكَ هٰذِهِ صَحِيحَةً فِي الْجَنَّةِ . (۲)

زه تا گورم چې ته په دې خپله خپه باندې په جنت کې گرځې او دا خپه صحيح شوې ده .

## د سختې بيمارۍ باوجود جهاد ته تلل

علامه ابن عساکر رحمه الله په خپل کتاب " تاريخ دمشق " کې دا واقعه رانقل کړې

---

(۱) عَنْ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ عَمْرُو بْنُ الْجَمُوحِ شَيْخٌ مِنَ الْأَنْصَارِ أَعْرَجَ . فَلَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَدْرٍ قَالَ لِبَنِيهِ : أَخْرِجُونِي . فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَجُهُ ، وَحَالُهُ . فَأَذِنَ لَهُ فِي الْمُقَامِ . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ خَرَجَ النَّاسُ . فَقَالَ لِبَنِيهِ : أَخْرِجُونِي . فَقَالُوا : قَدْ رَخَّصَ لَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَأَذِنَ . قَالَ : هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُونِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُونِيهَا بِأُحُدٍ . فَخَرَجَ . فَلَمَّا الْتَقَى النَّاسُ . قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ : أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرْجَتِي هٰذِهِ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَوَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ . فَقَالَ لِغُلَامٍ لَهُ كَانَ مَعَهُ يُقَالُ لَهُ سُلَيْمٌ : اِرْجِعْ إِلَى أَهْلِكَ . قَالَ : وَمَا عَلَيْكَ أَنْ أُصِيبَ الْيَوْمَ خَيْرًا مَعَكَ ؟ قَالَ : فَتَقَدَّمْ إِذًا . قَالَ : فَتَقَدَّمَ الْعَبْدُ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ ، ثُمَّ تَقَدَّمَ وَقَاتَلَ هُوَ حَتَّى قُتِلَ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۶۹ رقم ۷۸ .

وفي رواية : كَانَ عَمْرُو بْنُ الْجَمُوحِ أَعْرَجَ شَدِيدَ الْعَرَجِ ، وَكَانَ لَهُ أَرْبَعَةُ بَنِينَ شَبَابٌ يَغْزُونَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا . فَلَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَجَّهُ إِلَى أُحُدٍ . قَالَ لَهُ بَنُوهُ : إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ جَعَلَ لَكَ رُخْصَةً فَلَوْ قَعَدْتَ فَنَحْنُ نَكْفِيكَ فَقَدْ وَضَعَ اللّٰهُ عَنْكَ الْجِهَادَ . فَأَتَى عَمْرُو بْنُ الْجَمُوحِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! إِنَّ بَنِيَّ هٰؤُلَاءِ يَمْنَعُونَ أَنْ أَخْرُجَ مَعَكَ وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أُسْتَشْهَدَ فَأَطَأَ بِعَرْجَتِي هٰذِهِ فِي الْجَنَّةِ . فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَمَّا أَنْتَ فَقَدْ وَضَعَ اللّٰهُ عَنْكَ الْجِهَادَ . وَقَالَ لِبَنِيهِ : وَمَا عَلَيْكُمْ أَنْ تَدَعُوهُ لَعَلَّ اللّٰهَ يَرْزُقُهُ الشَّهَادَةَ . فَخَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ شَهِيدًا . السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۲۱ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ مَنِ اعْتَذَرَ بِالضَّعْفِ وَالْمَرَضِ وَالزَّمَانَةِ وَالْعُذْرِ فِي تَرْكِ الْجِهَادِ .

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۲۲۵۵۳ حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ .

چې حضرت مُحَيرِيز جُمَحِي رضي الله عنه د دمشق د مجاهدينو يوې ډلې سره د جهاد د پاره رُوم ته روان شو ، په لاره کې سخت بيمار شو ، ده خپل ځوي "عبدالله" ته وويل :

يَا بُنَيَّ ! احْمِلْنِيْ فَسِرْ بِيْ إِلىٰ أَرْضِ الرُّوْمِ.

اې زما ځويه ! ما په سورلۍ باندې سور کړه ، او د رُوم زمکې ته مې بوځه ( کوم ځاى ته چې مونږ د جهاد د پاره روان يو ) .

دا ځوي يې وايي چې ما خپل پلار په سورلۍ باندې سور کړو ( ځکه د سختې بيمارۍ په وجه پياده نه شو تللى ) ، هغه به ما ته مسلسل همدا خبره کوله :

يَا بُنَيَّ أَسْرِعْ فِي السَّيْرِ. اې بچيه ! په تللو کې جَلتي کوه ( ما زر زر بوځه ) .

ما ورته وويل : اې پلاره ! ته بيمار يې ( ځکه دې تېز نه بوځم ) ، هغه را ته وويل :

يا بنيَّ ! إِنِّيْ أُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ أَجَلِيْ بِأَرْضِ الرُّوْمِ .

اې بچيه ! زما دا خوښه ده چې زه د رُوم په زمکه کې وفات شم ( ځکه هلته مونږ د جهاد د پاره روان يو ) .

دا ځوي يې وايي چې مونږ هغه روان کړې وُ تر دې چې هغه په حمص کې وفات شو .(۱)

## د بوډا والي باوجود د جهاد او شهادت جذبه

اګر چې په کمزوري بوډا باندې جهاد فرض نه دى ، ليکن د صحابه کرامو په زړونو کې د جهاد دومره جذبه وه چې د بوډا والي باوجود يې بيا هم په جهاد کې شرکت کولو ، ددې متعلق درته د يو څو صحابه کرامو واقعات ذکر کوم :

### ۱ . حضرت مِقداد بن اَسود رضي الله عنه د ډير بوډا والي باوجود په جهاد کې شرکت اوکړو :

د نبي عليه السلام مشهور شاه سوار " حضرت مِقداد بن اَسود رضي الله عنه په زړه کې د جهاد

(۱) عن عبد الرحمن بن عبد الله بن محيريز عن أبيه أنّه كان في بعث الصائفة ، فمرض مرضًا شديدًا ، فقال : يَا بُنَيَّ ! احْمِلْنِيْ فَسِرْ بِيْ إِلىٰ أَرْضِ الرُّوْمِ ، قَالَ فَحملتُهُ فَلَمْ أزل أسير به وهو يقول : يَا بُنَيَّ أَسْرِعْ فِي السَّيْرِ. قلتُ يا أبة ! إنّك شاك . قال : يا بنيَّ ! إنّي أحبّ أنْ يكونَ أجلي بأرضِ الروم . فما زلتُ أسيرُ به حتّى هلك بأرض حمص . تاريخ دمشق لابن عساكر ۶۰/۳۶ رقم ۳۸۵۹ .

دومره جذبه وه چې د سخت بوډا والي په حالت کې يې هم جهاد کولو . (۱)

**۲ . د بوډا والي باوجود د جهاد او شهادت جذبه :** کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم غزوه اُحد ته ( د صحابه کرامو سره ) روان شو نو حُسَيل بن جابر يماني ( دا د حضرت حُذَيفه رضي الله عنه پلار وُ ) ، او حضرت ثابت بن وَقش رضي الله عنه دواړه د خپلو بيبيانو او ماشومانو سره د کوټو په سرونو ( چَت ) باندې ناست وو ، دواړه ډير بوډاګان وو ، دواړو يو بل ته وويل : دا په مونږ څه شوي ؟ مونږ د څه شي انتظار کوو ؟ قسَم په الله ، زمونږ عُمر خو ډير لږ پاتې دی ، مونږ خو په دې قوم کې بوډاګان يو ، نن يا صبا مړه کيدونکي يو

أَفَلَا نَأْخُذُ أَسْيَافَنَا ، ثُمَّ نَلْحَقُ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنَا شَهَادَةً مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟

آيا مونږ تورې نه راخلو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو ځای شو ؟ کيدې شي چې الله تعالی مونږ ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره شهادت رانصيبه کړي .

پس دوی دواړو تورې راواخيستې او جهاد ته روان شو ، تر دې چې دوی دواړه د جنګ ډګر ته داخل شو او د کافرانو سره يې جنګ شروع کړو ، مسلمانان ددې دواړو په راتلو باندې پوهه نه شو ، ثابت بن وَقش رضي الله عنه خو کافرانو شهيد کړو ، او حُسَيل بن جابر رضي الله عنه د مسلمانانو د تورو لاندې راغی او د دوی د لاسه په غلطۍ کې شهيد شو ، ځکه مسلمانانو دا نه وُ پيژندلی . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي رَاشِدٍ الْحُبْرَانِيِّ. قَالَ : وَافَيْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَارِسَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا عَلَى تَابُوْتٍ مِنْ تَوَابِيْتِ الصَّيَارِفَةِ . وَفَصَلَ عَنْهَا عِظَمًا وَهُوَ يُرِيْدُ الْغَزْوَ . فَقُلْتُ: لَقَدْ أَعْذَرَ اللهُ إِلَيْكَ . فَقَالَ : اِئْتِ عَلَى سُوْرَةِ الْبُحُوْثِ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ { اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَثِقَالًا } [التوبة: ۴۱] يَعْنِيْ سُوْرَةَ التَّوْبَةِ .
المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۲۵۵۱ كِتَابُ الْجِهَادِ . وقال الحاكم : هٰذَا صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي.

(۲) لَمَّا خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُحُدٍ . رُفِعَ حُسَيْلُ بْنُ جَابِرٍ رضي الله عنه وَهُوَ الْيَمَانُ أَبُوْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ ، وَثَابِتُ بْنُ وَقْشٍ رضي الله عنه فِي الْآطَامِ مَعَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ . فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ. وَهُمَا شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ : مَا أَبَالَكَ. مَا تَنْتَظِرُ؟ فَوَاللهِ لَا بَقِيَ لِوَاحِدٍ مِنَّا مِنْ عُمْرِهِ إِلَّا ظِمْءُ حِمَارٍ . إِنَّمَا نَحْنُ هَامَةٌ ←←←←←←←←

بهرحال، دواړو ته الله ﷻ شهادت ورکړو.

## ۳. حضرت ابوطلحة رضي الله عنه د ډېر بوډاوالي باوجود په جهاد کې شرکت اوکړو

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې حضرت ابوطلحة رضي الله عنه دا آيت تلاوت کړو:

﴿ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا ﴾. (۱)

ترجمه: تاسو جهاد ته سپک او درانه (يعنی د لږ سامان او ډير سامان سره) اُووځئ.

بيا حضرت ابوطلحة رضي الله عنه (ددې آيت تلاوت کولو نه پس) اوفرمايل:

الله ﷻ مونږ ټولو بوډاګانو او ځوانانو ته جهاد ته د وتلو حُکم کړی، لهذا تاسو ماله د جهاد سامان برابر کړئ. ځامنو ورته وويل:

يَرْحَمُكَ اللّٰهُ، قَدْ غَزَوْتَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِيْ بَكْرٍ رضي الله عنه، وَعُمَرَ رضي الله عنه، فَنَحْنُ نَغْزُوْ عَنْكَ الْاٰنَ.

الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي تا د رسول الله صلى الله عليه وسلم، حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه او حضرت عُمر رضي الله عنه په زمانه کې جهاد کړې دی، پس اوس مونږ ستا په ځای جهاد کوو (ته معذوريې، تاته د تللو ضرورت نشته، خو ده د ځامنو خبره او نه منله او جهاد ته

←←←← الْيَوْمِ أَوْ غَدٍ، أَفَلَا نَأْخُذُ أَسْيَافَنَا، ثُمَّ نَلْحَقُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَعَلَّ اللّٰهَ يَرْزُقُنَا شَهَادَةً مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَأَخَذَا أَسْيَافَهُمَا ثُمَّ خَرَجَا، حَتّٰى دَخَلَا فِي النَّاسِ، وَلَمْ يُعْلَمْ بِهِمَا، فَأَمَّا ثَابِتُ بْنُ وَقْشٍ رضي الله عنه فَقَتَلَهُ الْمُشْرِكُوْنَ، وَأَمَّا حُسَيْلُ بْنُ جَابِرٍ رضي الله عنه، فَاخْتَلَفَتْ عَلَيْهِ أَسْيَافُ الْمُسْلِمِيْنَ، فَقَتَلُوْهُ وَلَا يَعْرِفُوْنَهُ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه: أَبِيْ، فَقَالُوْا: وَاللّٰهِ إِنْ عَرَفْنَاهُ، وَصَدَقُوْا، قَالَ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه: يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ، فَأَرَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَدِيَهُ، فَتَصَدَّقَ حُذَيْفَةُ رضي الله عنه بِدِيَتِهِ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ، فَزَادَهُ ذٰلِكَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرًا. سيرة ابن هشام ج۲ ص ۸۷ غَزْوَةُ أُحُدٍ مَقْتَلُ الْيَمَانِ وَابْنِ وَقْشٍ، المستدرک على الصحيحين للحاكم ج۳ ص ۲۲۲ رقم الحديث ۴۹۰۹ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۷۰۰۹ حسيل ابوحذيفة رضي الله عنه، الاصابة لابن حجر ۲/۲۴۷ وقال: رجاله ثقات.

(۱) التوبة آية ۴۱.

اُووت ) پس ده په سمندري جهاد کې برخه واخيسته ، په لاره کې په کشتۍ کې په خپل مرګ باندې وفات شو ، دده ملګرو يوه جزيره (اُوچه علاقه) لټوله چې دا په کې دفن کړي ليکن پيدا يې نکړه ،اُووه (۷) ورځې پس يې جزيره پيدا کړه (اُووه ورځې تېرېدو باوجود) دده په بدن کې هيڅ فرق نه ؤ راغلی ( هماغه شان تازه پروت ؤ ) ، بيا يې دفن کړو . (۱)

## د نابينا کيدو باوجود په جهاد کې د شرکت کولو جذبه

په معذورو خلقو باندې د جهاد فرضيت نشته . (۲)

خو د حضرت عبدالله بن مکتوم رضي الله عنه په زړه کې د جهاد دومره جذبه وه چې اګر چې دا په دواړو سترګو باندې نابينا ؤ خو بيا يې هم په جهاد کې شرکت کړی .

۱ . د عطيه رحمه الله نه نقل دي چې ما په کوفه کې يوه ورځ حضرت عبدالله بن مکتوم ﷺ اوليد چې اُوږده زغره يې اچولې وه او په ميدانِ جنګ کې يې د صفونو په مينځ کې رانسکوده ، ګرځيدو . (۳)

۲ . مؤرّخينو ليکلي چې حضرت عبدالله بن مکتوم ﷺ د قادسيې په مشهور جنګ

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ ﷺ قَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ : { اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا } [التوبة: ۴۱] فَقَالَ : أَمَرَنَا اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى وَاسْتَنْفَرَنَا شُيُوْخًا وَشَبَابًا، جَهِّزُوْنِي . فَقَالَ بَنُوْهُ : يَرْحَمُكَ اللهُ ، قَدْ غَزَوْتَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ ﷺ، وَعُمَرَ ﷺ ، فَنَحْنُ نَغْزُوْ عَنْكَ الْآنَ . فَغَزَا الْبَحْرَ ، فَمَاتَ ، فَطَلَبُوْا جَزِيْرَةً يَدْفُنُوْنَهُ، فَلَمْ يَقْدِرُوْا عَلَيْهَا إِلَّا بَعْدَ سَبْعَةِ أَيَّامٍ وَمَا تَغَيَّرَ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۸۹ رقم ۱۰۴ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۵۰۳ كِتَابُ الْجِهَادِ ، وقال الحاکم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، و وافقه الذهبي ، صحيح ابن حبان محققا رقم ۷۱۸۴ ذکر الموضع الذي مات فيه ابوطلحة الانصاري ، مسند ابي يعلى رقم ۳۴۱۳ ، اسد الغابة ۶/ ۱۸۲ ، مجمع الزوائد ۹/ ۳۱۲ .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ﴾ . الفتح آية ۱۷ . ﴿ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . التوبة آية ۹۱ .

(۳) عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، أَنَّ عَطِيَّةَ بْنَ أَبِي عَطِيَّةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى ابْنَ أُمِّ مَكْتُوْمٍ ﷺ يَوْمًا مِنْ أَيَّامِ الْكُوْفَةِ ، عَلَيْهِ دِرْعٌ سَابِغَةٌ يَجُرُّهَا فِي الصَّفِّ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۹۲ رقم ۱۱۰ .

کې شريک شوې ؤ ، جَنډه د همده سره وه ، او په همدې جنګ کې شهيد هم شو . (۱)

۳. په تفسير قرطبي کې ذکر دي چې د غزوه أحد په ورځ باندې ده مسلمانانو ته وويل : تاسو جَنډه ماله راکړئ ځکه چې کله جَنډه أوچتوونکې أوتختي نو بيا ټول لښکر شکست خوري ، او زه خو په سترګو ړوند يم ماته به معلومه نه وي چې څوک په ما باندې په توره حمله کوي ؟ لهذا زه به په خپل ځاى باندې کلک ولاړ يم . ( ده خپله جذبه ښکاره کړه ، اګر چې په دې ورځ بيا جَنډه حضرت مصعب بن عُمَير ﷺ سره وه ) . (۲)

## د حضرت ثابت بن قيس ﷺ د جهاد او شهادت سره مِينه

حضرت انس ﷺ فرمايي چې په جنګِ يمامه کې زه په ثابت بن قيس ﷺ باندې تېرېدم هغه ( د شهادت په تيارى کې ) په ځان باندې د حنوط خوشبوئي لړوله (۳) ما ورته وويل :

يَا عَمِّ ! أَلَا تَرَى مَا يَلْقَى الْمُسْلِمُوْنَ وَأَنْتَ هَاهُنَا .

اې تره ! آيا ته نه ګورى چې مسلمانان په څه مشکل کې ګېر دي او ته تر اوسه پورې دلته يې ؟

هغه مُسکې شو او وې ويل : اَلْآنَ يَا ابْنَ أَخِ . اې وراره ! اوس ځم .

پس ده خپله أسلحه واچوله ، په آس سور شو ( راروان شو ) تر دې چې ميدانِ جنګ ته راغى ، نو وې ويل :

افسوس دى په دې بعضو خلقو باندې چې په جهاد کې سستي کوي ، او دشمنانو ته يې وويل : افسوس دى په دې کافرانو باندې چې دوى د غيرُ الله عبادت کوي ، زما آس پرېږدئ تر دې چې زه د کافرانو مينځ ته ورشم او حمله ورباندې اوکړم .

پس ده په کافرانو باندې سخته حمله اوکړه ، تر هاغه وخته پورې جنګيدو چې آخر شهيد

---

(۱) مشارع الاشواق .

(۲) وَلَقَدْ قَالَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ واسمه عمرو ـ يوم أُحُدٍ: أَنَا رَجُلٌ أَعْمٰى فَسَلِّمُوْا لِي اللِّوَاءَ، فَإِنَّهُ إِذَا انْهَزَمَ حَامِلُ اللِّوَاءِ انْهَزَمَ الْجَيْشُ ، وَأَنَا مَا أَدْرِيْ مَنْ يَقْصِدُنِيْ بِسَيْفِهِ فَمَا أَبْرَحُ . فَأَخَذَ اللِّوَاءَ يَوْمَئِذٍ مصعب ابن عُمَيْرٍ ﷺ . تفسير قرطبي ( الجامع لاحكام القرآن ) ۱۵۱/۸ في تشريح سورة التوبة آية ۴۱ .

(۳) " حنوط " هغه خوشبوئي ده چې د مړي په کفن باندې لړولې شي .

شو . (۱)

## جهاد ته تللو په وخت د الله ﷻ مينې ته ترجيح ورکول

کله چې حضرت حارث بن هشام ﷺ د مکې معظمې نه د جهاد د پاره شام ته د خپلو بچو سره روان شو ( دا چونکه د خپل قوم شريف او مُعزّز کس وُ ) نو د مکې معظمې خلقو دده په فِراق او جدائي باندې ډير اُوژړل ، دده سره تر يو ځايه روان وو او ژړل يې ، دده زړه هم نرم شو ، وې ژړل او هغوی ته يې وويل :

أَمَا لَوْ كُنَّا دَارًا بِدَارٍ ، وَجَارًا بِجَارٍ مَا أَرَدْنَا بِكُمْ بَدَلًا ، وَلٰكِنَّهَا النَّقْلَةُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ .

که چيرته دا ( زما تلل ) د يو کور په ځای بل کور اِختيارول وی او د يو ګاونډي په ځای بل ګاونډي اِختيارول وی نو ما به ستاسو په مقابله کې بل چاته ترجيح نه وې ورکړی ليکن دا زما معامله الله ﷻ طرف ته د ورتللو ده (چې ددې هيڅ بدل نشته نو ځکه زه جهاد ته ځم )

دا او دده ملګري هميشه په شام کې په جهاد کې مشغول وو ، تر دې پورې چې هم هلته شهيد شو . (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : مَرَرْتُ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ ﷺ ، وَهُوَ يَتَحَنَّطُ ، فَقُلْتُ : يَا عَمِّ ! أَلَا تَرَى مَا يَلْقَى الْمُسْلِمُوْنَ وَأَنْتَ هَاهُنَا ، قَالَ : فَتَبَسَّمَ ، ثُمَّ قَالَ: اَلْآنَ يَا ابْنَ أَخِ ، فَلَبِسَ سِلَاحَهُ ، وَرَكِبَ فَرَسَهُ حَتّٰى أَتَى الصَّفَّ ، فَقَالَ: أُفٍّ لِهٰؤُلَاءِ وَمَا يَصْنَعُوْنَ ، وَقَالَ لِلْعَدُوِّ : أُفٍّ لِهٰؤُلَاءِ وَمَا يَعْبُدُوْنَ ، خَلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهِ يَعْنِيْ فَرَسَهُ حَتّٰى أُصَلِّيَ بِحَرِّهَا ، فَحَمَلَ ، فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۱۰۰ رقم ۱۲۱ . السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۱۹ ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم ۱۵۷۸۵ .

(۲) مشارع الاشواق ج۱ ص ۳۸۶ . / دا واقعه عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې هم رانقل کړی : خَرَجَ الْحَارِثُ بْنُ هِشَامٍ مِنْ مَكَّةَ ، فَجَزِعَ أَهْلُ مَكَّةَ جَزَعًا شَدِيْدًا ، فَلَمْ يَبْقَ أَحَدٌ يُطْعَمُ إِلَّا خَرَجَ يُشَيِّعُهُ ، حَتّٰى إِذَا كَانَ بِأَعْلَى الْبَطْحَاءِ أَوْ حَيْثُ شَاءَ اللهُ مِنْ ذٰلِكَ ، وَقَفَ وَوَقَفَ النَّاسُ حَوْلَهُ يَبْكُوْنَ ، فَلَمَّا رَأَى جَزَعَ النَّاسِ قَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنِّيْ وَاللهِ مَا خَرَجْتُ رَغْبَةً بِنَفْسِيْ عَنْ أَنْفُسِكُمْ ، وَلَا اخْتِيَارَ بَلَدٍ عَنْ بَلَدِكُمْ ، وَلٰكِنْ كَانَ هٰذَا الْأَمْرُ فَخَرَجَتْ فِيْهِ رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ ، وَاللهِ مَا كَانُوْا مِنْ ذَوِي أَسْنَانِهَا ، وَلَا فِيْ بُيُوْتَاتِهَا ، فَأَصْبَحْنَا وَاللهِ لَوْ أَنَّ جِبَالَ مَكَّةَ ذَهَبٌ فَأَنْفَقْنَاهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مَا أَدْرَكْنَا يَوْمًا مِنْ أَيَّامِهِمْ ، وَايْمُ اللهِ لَئِنْ فَاتُوْنَا بِهِ فِي الدُّنْيَا لَنَلْتَمِسَنَّ أَنْ نُشَارِكَهُمْ فِي الْآخِرَةِ ، فَاتَّقَى اللهَ امْرُؤٌ فَخَرَجَ غَازِيًا ، فَتَوَجَّهَ غَازِيًا إِلَى الشَّامِ ، وَأَتْبَعَهُ ثَقَلَهُ ، فَأُصِيْبَ شَهِيْدًا . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۸۶ رقم ۱۰۱ . سير اعلام النبلاء ۴۲۱/۲ الحَارِثُ بْنُ هِشَامٍ المَخْزُوْمِيُّ ، اورده ابن عبد البر في "الاستيعاب" ۱ / ۳۰۳، ۳۰۴، وابن عساکر ۴ / ۷۱ .

# د کشرانو صحابه کرامو د جهاد سره مينه

د جهاد جذبه لکه څرنګې چې په مشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم کې وه نو همدغه شان په کشرانو صحابه کرامو کې هم وه ، په ډيرو غزاګانو کې نبي عليه السلام د لښکر د معائنې په وخت کشران صحابه کرام واپس کړي خو هغوی به بيا هم د تللو خواهش کولو .او نبي عليه السلام ته به يې سفارش کولو چې مونږ ته د تللو اجازت راکړه .

ديو څو کشرانو صحابه کرامو واقعات درته ذکر کوم :

## د عُمير بن ابي وقاص رضي الله عنه د جهاد سره مينه

علامه ابن اَثير رحمه الله په خپل کتاب " أسد الغابة " کې دا واقعه رانقل کړی :

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې د جنګ بدر د تياری په وخت ( نبي عليه السلام د لښکر معائنه کوله نو ) ما خپل ورور " عُمير " اُوليد چې پټ پټ ګرځيدو ، په دې وخت کې دده عُمر شپاړس (١٦) کاله ؤ ، ما ورته وويل :

مَالَكَ يَاأَخِيْ ؟ اې وروره ! دا په تا څه شوي چې پټ پټ ګرځی ؟

هغه راته ووېل :

أَخَافُ أَنْ يَسْتَصْغِرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ فَيَرُدَّنِيْ . وَأَنَا أُحِبُّ الْخُرُوْجَ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَرْزُقَنِيَ الشَّهَادَةَ .

زه ويريږم چې کله د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مخامخ شم نو هغه به ما وړوکې اُوګڼي او واپس به مې کور ته اوليږي ، حالانکه زه جهاد ته وتل خوښوم ، اُميد دی چې الله تعالى ما ته شهادت رانصيبه کړي .

کله چې نبي عليه السلام دا اُوليد ، نو ورته وې ويل چې ته وړوکې يې ، و اپس کور ته لاړ شه . دا په ژړا شو . نبي عليه السلام چې دده شوق ته اوکتل نو د تللو اجازت يې ورته ورکړو ، دده قد چونکه وړوکې ؤ او توره يې اُوږده وه لاندې په زمکه لږېده نو حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دده د تورې پټې ته غوټه ورکړه چې لاندې په زمکه نه لږي ، ده په

جنګ بدر کې شرکت اوکړو او همدلته شهيد شو. (١)
دا په جنګ بدر کې د ټولو نه کم عُمره شهيد ؤ.

## په غزوه اُحد کې د کشرانو صحابه کرامو د شرکت جذبه

١. غزوه اُحد ته د تللو نه مخکې چې کله په مقام سيخين کې نبي عليه السلام د لښکر معائنه اوکړه ، د چا عُمرونه چې کم وو هغوی يې جهاد ته د تللو نه منع کړل. په دې کې يې حضرت عبدالله بن عُمر ، حضرت زيد بن ثابت ، حضرت أسامه بن زيد ، حضرت زيد بن ارقم ، حضرت ابو سعيد خدري ، حضرت سمرة بن جندب او حضرت رافع بن خديج رضي الله عنهم د کم عُمرۍ په وجه واپس کړل.

خو په دوی کې حضرت رافع بن خديج ﷺ دا هوښيارتيا اوکړه چې په خپلو خپو باندې اُوچت اُودريد او ګاړه يې اُوږده کړه ، ددې د پاره چې اُوږد معلوم شي ، او چا يې نبي عليه السلام ته سفارش هم اوکړو چې دا ماشوم ډير ښه غشي ويشتونکې دی نو پيغمبر عليه السلام ده ته جهاد ته د تللو اجازه ورکړه.

حضرت سمرة بن جندب ﷺ په ډيرې عاجزۍ سره خپل پلار ته درخواست اوکړو :

اې پلاره ! رافع بن خديج ﷺ ته د تللو اجازه ورکړې شوه حالانکه زه د هغه نه په قوّت کې زيات يم ، که هغه ماته په غېږ (ګشتۍ) راشي نو زه به يې راڅملوم ( نو ماته دې هم په جهاد کې د شِرکت اجازت راکړې شي ).

دده پلار نبي عليه السلام ته ورغی او هغوی ته يې دا خبره اوکړه ، نبي عليه السلام

---

(١) عمير بن أَبِي وَقاصٍ ﷺ : قَدِيمُ الإِسْلَامِ ، مهاجري. شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَقُتِلَ بِهَا شَهِيدًا. وَاسْتَصْغَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَرَادَ الْمَسِيرَ إِلَى بَدْرٍ ، فَبَكَى ، فَأَجَازَهُ . وَكَانَ سَيْفُهُ طَوِيلًا ، فعقد عَلَيْهِ حمائل سيفه ، وكان عُمْرُه حِينَ قُتِلَ ست عشرة سنةً .....
قَالَ سَعْدٌ ﷺ : رَأَيْتُ أَخِي عُمَيْرًا ﷺ قَبْلَ أَنْ يعرضَنَا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتوارى ، فَقُلْتُ : مَا لَكَ يَا أَخِي ؟ قَالَ : أَخَافُ أَنْ يَسْتَصْغِرَنِي رَسُولُ الله فَيَرُدَّنِي ، وَأَنَا أُحِبُّ الْخُرُوجَ لَعَلَّ اللهَ أَنْ يَرْزُقَنِي الشَّهَادَةَ . فَرُزِقَ مَا تَمَنَّى . اسد الغابة ج ٣ ص ٧٩٦ و ص ٧٩٧ عمير بن ابی وقاص .

اوفرمايل: دواړه سره په غېږ (کُشتی) وَر ولئ. کله چې دواړه په غېږ ورغلل نو حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه لره راځملول. بيا دواړو ته په جهاد کې د شرکت اجازت ورکړې شو. (۱)

۲. همدارنګې د حضرت معاذ او معوذ رضي الله عنهما د جهاد د جذبې واقعه مشهوره ده، دوی په جنګ بدر کې ابوجهل وژلې وُ ، دا واقعه په بخاري شريف او مسلم شريف کې په تفصيل سره ذکر ده. (۲)

- د دينه علاوه نور ډير داسې واقعات شته چې په هغې کې کشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم په جهاد کې د شرکت د پاره په مختلفو طريقو سره کوشش کړی خو چې کله ورته اجازه نده ملاؤ شي نو ډيرېې ژړلي دي.

---

(۱) دعوت جهاد.

دا واقعه علامه ابن اثير رحمه الله په "اسد الغابة" کې داسې رانقل کړې:

وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعرض غلمان الأنصار كل سنة ، فمرّ به غلام فأجازه في البعث، وعرض عليه سمرة بعده فردّه ، فقال سمرة: لقد أجزت هذا ورددتني، ولو صارعته لصرعته، قال: فدونكه فصارعه، فصرعه سمرة ، فأجازه في البعث، قبل أجازه يوم أحد. اسد الغابة ۳۰۲/۲ سمرة بن جندب .

(۲) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رضي الله عنه ، أَنَّهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ ، فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، فَإِذَا أَنَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا، تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا ، فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ: يَا عَمِّ ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، مَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي؟ قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ، لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الأَعْجَلُ مِنَّا، فَتَعَجَّبْتُ لِذٰلِكَ ، فَغَمَزَنِي الآخَرُ فَقَالَ لِي مِثْلَهَا ، فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي النَّاسِ ، قُلْتُ: أَلَا إِنَّ هٰذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي ، فَابْتَدَرَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا، فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ ... صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ مَنْ لَمْ يُخَمِّسِ الأَسْلَابَ، وَمَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ رقم الحديث ۳۱۴۱ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ اسْتِحْقَاقِ الْقَاتِلِ سَلَبَ الْقَتِيلِ رقم الحديث ۴۲ (۱۷۵۲).

# د زَنانهٔ د جهاد سره مينه

کله چې جهاد فرضِ کفايه وي نو بيا په عامو حالاتو کې په ښځو باندې جهاد نشته، خو که مونږ په اسلامي تاريخ باندې نظر واچوو نو دا به راته معلومه شي چې لکه څرنګې سړو د جهاد په ميدان کې د جان و مال قرباني ورکړې نو همدغه شان غېرتي بهادرو زَنانهٔ په خپله هم په جهاد کې شرکت کړې ، او خپل نيازبين بچي يې هم جهاد ته ليږلي . د بچو او خاوند په شهادت يې ژړا او خفګان ندې کړې بلکه د پوره حَوصلې او اِستقامت نه يې کار اخيستې دی .

همدارنګې زَنانهٔ د خپل وَس مطابق په جهاد کې مالي اِمداد هم کړې ، تر دې چې ډيرو زَنانهٔ د خپل سَر ويښتان غوڅ کړي او د جهاد په چانده کې يې ورکړي چې مجاهدين ورنه د آسونو د پاره واګې جوړې کړي .

د داسې بهادرو زَنانهٔ يو څو واقعات درته د عبرت د پاره را نقل کوم :

## حضرت خَنساء رضي الله عنها څلور ځامن جهاد ته اوليږل او څلور واړه شهيدان شو

علامه ابن اثير رحمه الله په " أسد الغابة " کې دا واقعه په تفصيل سره ليکلې ده چې حضرت خَنساء رضي الله عنها يوه صحابيه وه ، او بهترينه شاعره هم وه ، ددې څلور (۴) ځامن وو ، په جنګِ قادسيه کې دې څلور واړه ځامن را اُوغوښتل ، د شپې په اوله حصه کې يې ورته د جنت ښه ترغيب ورکړو ، د شجاعت نه ډکې خبرې يې ورته اوکړې ، په زړونو کې يې ورته د جهاد او شهادت جذبه وَر واچوله ، د جنت دائمي نعمتونو تذکره يې ورته اوکړه ، او ورته وې ويل : کله چې صبا شي ، تاسو د کافرانو مخې ته ورشئ ، مقابله شروع شي او جنګ ښه ګرم شي نو ښه په شجاعت سره اُوجنګيږئ ، چې د جنت دائمي خوشحالئ درته نصيب شي ، ځکه دا دُنيا فاني ده او اصل ژوند د آخرت دی .

هر کله چې صبا شو ، او ځامن يې ميدانِ جنګ ته ورغلل نو په ډيرې بهادرئ سره د کافرانو په صفونو کې ورننول ، سختې حملې يې ورباندې اوکړې ، او تر هاغې وخته پورې جنګيدل چې آخر ټول شهيدان شو .

کله چې ديته معلومه شوه چې زما ټول ځامن شهيدان شو نو وې ويل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ شَرَّفَنِيْ بِقَتْلِهِمْ ، وَأَرْجُوْ مِنْ رَبِّيْ أَنْ يَجْمَعَنِيْ بِهِمْ فِيْ مُسْتَقَرِّ رَحْمَتِهِ .

ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زه د خپلو ځامنو په شهادت سره مُشرّفه کړم ( يعنى زما ټول ځامن يې د شهادت د پاره قبول کړل ، او زه يې د څلورو شهيدانو مور اوګرځولم ) زما اُميد دی چې الله تعالى به ما د هغوی سره په جنت کې يو ځای کړي . (١)

## د ځوي او خاوند په شهادت باندې مبارکي اخيستل

په ډيرو معتمدو کتابونو کې دا واقعه ذکر ده :

مشهور تابعي حضرت صِله بن اَشيَم رَحِمَهُ الله په يو جهاد کې شريک وو ، دده سره خپل ځوي هم په دې جهاد کې ؤ ، کله چې مسلمانان د کافرانو سره په ميدانِ جنګ کې مخامخ شو نو کافران ډير زيات وو ، حضرت صِله رَحِمَهُ الله خپل ځوي ته وويل :

إِلٰى أُمِّكَ. اې بچيه ! ته واپس خپلې مور ته لاړ شه .

ځوي ورته وويل :

يَا أَبَتِ ! أَتُرِيْدُ الْخَيْرَ لِنَفْسِكَ ، وَتَأْمُرُنِيْ بِالرَّجْعَةِ ؟ أَنْتَ وَاللّٰهِ كُنْتَ خَيْرًا لِأُمِّيْ مِنِّيْ .

---

(١) عن أبي وجزة ، عن أبيه: أنّ الخنساء شهدت القادسية ومعها أربعة بنين لها. فقالتْ لهم أوّل الليل: يا بنيّ إنكم أسلمتم وهاجرتم مختارين، والله الذي لا إله غيره إنكم لبنو رجل واحد، كما أنكم بنو امرأة واحدة. ما خنت أباكم ولا فضحت خالكم، ولا هجنت حسبكم، ولا غيرت نسبكم. وقد تعلمون ما أعدّ الله للمسلمين من الثواب الجزيل في حرب الكافرين. واعلموا أن الدار الباقية خير من الدار الفانية. يقول الله عز وجل: ( يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ) [ آل عمران آية ٢٠٠ ] . فإذا أصبحتم غدا إن شاء الله سالمين فاغدوا إلى قتالِ عدوكم مستبصرين، وبالله على أعدائه مستنصرين. وإذا رأيتم الحرب قد شمرت عن ساقها، واضطرمت لظًى على سياقها، وجللت نارا على أرواقها ، فتيمموا وطيسها وجالدوا رئيسها عند احتدام خميسها ، تظفروا بالغنم والكرامة، في دار الخلد والمقامة. فخرج بنوها قابلين لنصحها، وتقدموا فقاتلوا وهم يرتجزون، وأبلوا بلاء حسنا، واستشهدوا رحمهم الله. فلما بلغها الخبر قالت: الحمد لله الذي شرفني بقتلهم، وأرجو من ربي أن يجمعني بهم في مستقر رحمته. اسد الغابة ٩٠/٦ خنساء بنت عمرو .

اې پلاره ! ته ځان ته د خير ( شهادت ) اراده لرې ، او ماته د واپس تللو حُکم کوې ؟ قَسَم په الله ته زما د مور د پاره د مانه ډير بهتر يې ( يعنې زما د مور د پاره ستا ژوندي پاتې کيدل ډير بهتر دي ، نو ته کورته لاړ شه ) .

پلار چې کله د ځوي دا د بهادرۍ خبرې واوريدې نو ورته وې ويل :

أَيْ بُنَيَّ تَقَدَّمْ فَقَاتِلْ حَتّٰى أَحْتَسِبَكَ .

اې بچيه ( چې کله ستا داسې جذبه ده نو ) ته اول ميدانِ جنگ ته ورمخکې شه ، که ته شهيد شې نو زه به ستا په شهادت باندې صبر اوکړم او د صبرا جر و ثواب به حاصل کړم .

ځوي يې ميدانِ جنگ ته ورغی ، په کافرانو باندې يې سخته حمله اوکړه او تر هاغه وخته پورې جنگيدو چې آخر شهيد شو .

پلار يې په کافرانو باندې غشي اُوويشتل او د ځوي د جسد نه يې لرې کړل ، په خپله ځوي ته ورغی ، دُعا يې ورته اوکړه ، بيا ده هم په دُشمنانو باندې سخته حمله اوکړه او تر هاغې وخته پورې د کافرانو سره اُوجنگيد چې آخر دا هم شهيد شو .

کله چې حضرت مُعَاذَة ته د خپل خاوند او خپل ځوي د شهادت خبر را اُورسيد نو ديته د غَم رازۍ د پاره نورې زَنانه راغلې ، دې ورته وويل :

إِنْ كُنْتُنَّ جِئْتُنَّ لِتُهَنِّئْنَ بِمَا أَكْرَمَنَا اللهُ بِهِ فَذٰلِكَ ، وَإِلَّا فَارْجِعْنَ.

که چيرته تاسو ددې د پاره راغلي يئ چې الله تعالى ماته ( د خاوند او ځوي د شهادت په وجه ) کوم اِعزاز راکړی ددې مبارکي راته راکوئ نو ډيره ښه ده ( ستاسو د پاره مَرحبا ده ) ، ليکن که تاسو ددې مبارکۍ د پاره نه يئ راغلي ( بلکه د غَم رازۍ او ژړا د پاره راغلي يئ ) نو بيا خپلو کورونو ته واپس شئ . (۱)

---

(۱) ..... فَقَالَ صِلَةُ لِابْنِهِ : يَا بُنَيَّ ! إِلَى أُمِّكَ . فَقَالَ : يَا أَبَتِ ، أَتُرِيدُ الْخَيْرَ لِنَفْسِكَ ، وَتَأْمُرُنِي بِالرَّجْعَةِ ؟ أَنْتَ وَاللهِ كُنْتَ خَيْرًا لِأُمِّي مِنِّي . قَالَ : أَمَا إِذَا قُلْتَ هٰذَا فَتَقَدَّمْ . قَالَ : فَتَقَدَّمَ ، فَقَاتَلَ حَتّٰى أُصِيبَ . فَرَمٰى صِلَةُ عَنْ جَسَدِهِ ، وَكَانَ رَجُلًا رَامِيًا ، حَتّٰى تَفَرَّقُوا عَنْهُ ، وَأَقْبَلَ يَمْشِي حَتّٰى قَامَ عَلَيْهِ ، فَدَعَا لَهُ ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ ... فَلَمَّا جَاءَهَا نَعْيُهُمَا ، جَاءَ النِّسَاءُ ، فَقَالَتْ : إِنْ كُنْتُنَّ جِئْتُنَّ لِتُهَنِّئْنَ بِمَا أَكْرَمَنَا اللهُ بِهِ فَذٰلِكَ ، وَإِلَّا فَارْجِعْنَ.
الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۱۲۶ رقم ۱۵۴ . ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

# د يوې زَنانه حيرانوونکې جهادي جذبه

**خاوند، زامن او ټول خاندان يې په جهاد کې شهيدان شو، خپل ټول مال يې په جهاد کې ورکړو، تر دې چې د خپل سَر ويښتان يې هم په چانده کې ورکړل**

( **نوټ**: دا واقعه اګرچې اُوږده ده خو د عبرت نه ډکه ده نو ځکه يې درته ذکر کوم )

علامه ابن جوزي دمشقي رحمه الله په خپل کتاب "سوق العروس وأنس النفوس" او علامه ابن نحاس رحمه الله په خپل کتاب "مشارع الاشواق" کې دا واقعه رانقل کړې:

چې په مدينه منوره کې يو کس وُ، نوم يې ابوقدامه شاميؒ وُ، ( د هغه په زړه کې الله ﷻ د رُوميانو خلاف د جهاد کولو جذبه اچولې وه، او په ډيرو جهادونو کې يې شرکت کړې وُ ) هغه يو ځل په مسجدِ نبوي کې ناست وُ او د خپلو ملګرو سره يې د جهاد په باره کې خبرې کولې، ملګرو ورته وويل:

يَا أَبَا قُدَامَةَ ! حَدِّثْنَا بِأَعْجَبِ مَا رَأَيْتَهُ فِي الْجِهَادِ .

اې ابو قدامه ! تا چې په جهاد کې کومه عجيبه واقعه ليدلې وي هغه مونږ ته بيان کړه.

ده ورته دا واقعه بيان کړه چې زه يو ځل د فرات نهر سره نزدې "رُقه" نومې ځای ته لاړم، ددې د پاره چې يو اُوښ واخلم او اَسلحه ورباندې ويسم، زه په رُقه کې ووم چې ماته يوه زَنانه راغله، او راته وې ويل:

اې ابن قدامه ! ما اَوريدلي دي چې ته خلقو ته د جهاد ترغيب ورکوی، زه داسې يوه زَنانه يم چې الله تعالى ماته ډير اُوږده ويښتان راکړي دي، ما دا ويښتان قينچي

←←←← وَكَانَ صِلَةُ رَحِمَهُ اللّٰهُ فِي غَزَاةٍ ، وَمَعَهُ ابْنُهُ . فَقَالَ لَهُ: أَيْ بُنَيَّ ! تَقَدَّمْ فَقَاتِلْ حَتَّى أَحْتَسِبَكَ، فَحَمَلَ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ، ثُمَّ تَقَدَّمَ صِلَةُ فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ . فَاجْتَمَعَ النِّسَاءُ عِنْدَ امْرَأَتِهِ مُعَاذَةَ الْعَدَوِيَّةِ فَقَالَتْ: إِنْ كُنْتُنَّ جِئْتُنَّ لِتُهَنِّئْنَنِي فَمَرْحَبًا بِكُنَّ ، وَإِنْ كُنْتُنَّ جِئْتُنَّ لِتُعَزِّينَنِي فَارْجِعْنَ . البداية والنهاية ۹ /۲۲ ، تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام ۵ /۱۲۸ حرف الصاد ، طبقات ابن سعد ۷/ ۱۳۷ ، حلية الأولياء ۲/ ۲۳۹. صفة الصفوة ۴/ ۲۳. سير اعلام النبلاء ۳/ ۴۹۸ . المنتظم في تاريخ الأمم والملوک ۶ /۱۷۱ صلة بن اشيم ، و ۶/۲۵۴ معاذة بنت عبد الله العدوية ، المحن ۱ /۲۵۸ ذِكْرُ مَقْتَلِ صِلَةَ بْنِ أَشْيَمَ .

کړي، ددينه مې د آس د پاره يوه رَسی جوړه کړې ده ، بيا مې دا رَسی په خاورو باندې خړه کړې ده ددې د پاره چې د ويښتانو بې پَردګي رانشي ، زما دا خوښه ده چې ته دا رَسی واخلی ، کله چې ته د کافرانو مُلک ته لاړ شی ، په ميدانِ جنګ کې د هغوی سره مخامخ شی او جنګ ښه ګرم شي نو دا رَسی د خپل آس په غاړه کې واچوه او په کار يې راوله ، او که ستا ورته ضرورت نهٔ وُ نو بيا يې بل مجاهد ته ورکړه هغه به يې په کار راولي ، دا ددې د پاره چې زما ويښتان په ميدانِ جنګ کې موجود شي او په دې باندې د ميدانِ جنګ دُوړه اُولږي . بيا دې زَنانه وويل :

أَنَا امْرَأَةٌ أَرْمِلَةٌ كَانَ لِيْ زَوْجٌ وَعَصَبَةٌ كُلُّهُمْ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَلَوْ كَانَ عَلَيَّ جِهَادٌ لَجَاهَدْتُ .

زه يوه کُنده ښځه يم ، زما خاوند او ټول خاندان په جهاد کې شهيدان شوي ، که چيرته په ما باندې جهاد فرض وی نو زه به په خپله هم جهاد ته تللې وی .

ابوقدامه ؒ فرمايي چې بيا دې زَنانه ماته د خپل سَر د ويښتانو نه جوړه شوې رَسی راکړه ، او راته وې ويل :

اې ابوقدامه ! کله چې زما خاوند شهيد شو نو د هغه نه زما ډير ښائسته ځوې دی ، د قرآن کريم حافظ دی ، د آس سورلي او غشي ويشتلو چَل يې زده کړې دی ، ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کوي او د ورځې روژه نيسي ، پنځلس ( ۱۵ ) کاله عُمر يې دی ، هغه اوس خپلې زمکې له تللی ، کار په کې کوي :

فلعله يقدمُ قبلَ مَسِيْرِکَ فَأُوجهه معک هدية الی الله عزّوجل . و أَنَا اَسْأَلُکَ بِحُرْمَةِ الْإِسْلَامِ لَا تُحْرِمْنِيْ مَا طلبت مِنَ الثَّوَابِ .

کيدې شي ستاسو د تللو مخکې راشي ، نو زه به هغه د تا سره د الله ﷻ د رَضا د پاره جهاد ته اوليږم ، زه هغه د الله ﷻ د پاره هديه کوم ، او تا ته د اِسلام عظمت دَرواسطه کوم چې ته ما ددې ثواب نه مه محرومه کوه .

ابوقدامهؒ فرمايي چې ما د هغه ښځې نه رَسی واخيسته چې اُومې کتله نو يقيني د سَر د ويښتانو نه جوړه شوې وه .

هغې زَنانه راته وويل : دا رَسی زما د وړاندې په جهادي سامان کې کيږده ددې د پاره

چې زما زړه مطمئِن شي .

ابو قدامه وايي چې ما دا رَسۍ په خپل جهادي سامان کې محفوظ کيښوده ، بيا مونږ لږ انتظار اوکړو خو ددې زَنانه هغه ځوي را اُو نه رسيد ، پس زه د رُقه مقام نه د خپلو ملګرو سره را اُووتم ، راروان ووم ، کله چې مونږ سلمه بن عبدالملک قلعه ته را اُورسيدو نو د شا طرف نه مې د آس شاه سوار دا آواز واوريد :

يَا اَبَا قُدَامَةَ ! قِفْ عَلَيَّ قَلِيْلًا يَرْحَمُكَ اللهُ .

اې ابو قدامه ! الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي لږ ماته اُودرېږه .

زه اُوېرېدم ، او ملګرو ته مې ووېل : راځئ دا اوګورو چې دا څوک دی ؟

کله چې هغه شاه سوار را اُورسيد نو راتلو سره ماته راغاړې وَت ، او وې وېل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَحْرِمْنِيْ صُحْبَتَکَ وَلَمْ يَرُدَّنِيْ خَائِبًا .

ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زه ستا د ملګرتيا نه محروم نکړم ، او زه يې نامراده واپس نکړم .

ما ورته ووېل : بچيه ! ته خپل مخ راښکاره کړه چې تا اُوګورم ، ددې د پاره چې که چيرته په تا باندې جهاد فرض وي نو د تللو اجازه به درته اوکړم ، او که جهاد درباندې فرض نه وي نو واپس به دې کړم .

کله چې هغه خپل مخ راښکاره کړو نو د څوارلسمې شپې سپوږمۍ په شان ښائسته ځلمې وُ ، د نِعمت آثار ورباندې ښکاره کيدل .

ما ورته ووېل : بچيه ! پلار دې ژوندې دی ؟

راته وې وېل : هغه په جهاد کې شهيد شوی ، او زه هم د هغه په نقشِ قدم باندې تلل غواړم ، لکه څرنګې مې چې پلار شهيد شوې وُ نو اُميد دی چې الله تعالی ماته هم د هغه په شان شهادت رانصيبه کړي .

ما ورته ووېل : بچيه ! ستا مور ژوندۍ ده ؟ هغه ووېل : آو ( ژوندۍ ده ) .

ما ورته ووېل : ته لاړ شه او د هغې نه اجازت راواخله ، که هغې درته اجازت درکړو نو بيا صحيح ده ، او که اجازت يې درنکړو نو بيا د همغې سره پاتې شه ، د هغې خدمت اوکړه ، ځکه ستا د پاره د مور خدمت د جهاد نه افضل دی :

لِأَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ وَتَحْتَ أَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ.

ځکه جنت د تورو د سُيوري لاندې او د مور د قدمونو لاندې دی.

دې ځوان راته وويل: آيا ته ما نه پيژنې؟ زه خو د هاغې ښځې ځوي يم چې هغې تاته رَسی درکړه، آيا تا دومره زر د هغې وصيت هېر کړو؟ زه به هم اِن شاء الله شهيد ابن شهيد جوړيږم (يعنې د پلار په شان به زه هم د شهادت درجه حاصلوم)، زه تاته د الله ﷻ واسطه درکوم چې ته ما د ځان سره جهاد ته تللو نه مه منع کوه، ځکه زه د قرآن کريم حافظ يم، د نبي عليه السلام د سُنتو عالِم يم، په شاه سوارۍ او غشي ويشتلو کې داسې مهارت لرم چې زمونږ په علاقه کې د مانه ښه شاه سوار او ښه غشي ويشتونکې نشته، ما د کم عُمرۍ په وجه کمزورې مه ګڼړه، بيشکه ماته خپلې مور قَسَم راکړی چې زه واپس ژوندې رانشم، ماته خپلې مور دا هم ويلي دي:

اې بچيه! کله چې ته د کافرانو سره مخامخ شې نو په شا مه راتَخته، الله ﷻ ته خپل ځان هِبه کړه، او په جنت کې د الله ﷻ ګاونډيتوب او د خپل شهيد پلار او شهيدو ماماګانو ګاونډيتوب دُعا کوه، بيا کله چې تاته الله ﷻ شهادت درنصيبه کړي نو زما شفاعت هم اوکړه، ځکه ماته دا خبره رارسيدلې ده چې شهيد د خپل خاندان د آويا (۷۰) کسانو او د خپل ګاونډ د آويا کسانو شفاعت کوي.

ددې خبرو نه پس زه خپلې مور راغاړې ويستم، آسمان طرف ته يې اوکتل، او دا دُعا يې اوکړه:

إِلٰهِيْ وَسَيِّدِيْ وَمَوْلَايَ! هٰذَا وَلَدِيْ، وَرَيْحَانَةُ قَلْبِيْ، وَثَمَرَةُ فُؤَادِيْ سَلَّمْتُهُ إِلَيْكَ فَقَرِّبْهُ مِنْ أَبِيْهِ.

اې زما اِله، زما مالکه او زما مَولا! دا زما ځوی دی، زما د زړه ګل او زما د زړه ميوه ده، دا ما تاته دَر اُوسپارل، ته دا مَنَخته قبول کړه، او د خپل پلار سره يې نزدې کړه.

ابو قدامهؒ فرمايي: چې کله ما ددې هلک دا خبرې واوريدې نو ډير زيات مې اُوژړل، بيا خاصکر په دې مې هم ډير اُوژړل چې دومره ښائسته ځوان دی، دده د مور په زړه به څه تيريږي؟ او دده د مور په صبر مې هم ډير تعجّب اوکړو.

دې ځوان وویل: اې تره! ته ولې ژاړې؟ که ته زما د کم عُمرۍ په وجه ژاړې نو دا یاد لره که د مانه وړوکې کس د الله ﷻ نافرماني اوکړي نو الله ﷻ به هغه ته هم عذاب ورکړي ما ورته وویل: زه ستا د کم عُمرۍ په وجه نه ژاړم بلکه ستا د مور په وجه ژاړم چې د هغې په زړه به څه تیریږي؟ او د تا نه پس به هغه څه کوي؟

بهر حال، مونږ مخکې روان شو، ډیر مزَل مو اوکړو، شپې مونږه په یو ځای کې قیام اوکړو، کله چې سهَر شو نو دوباره مو سفر شروع کړو، دې هلک به مسلسل د الله ﷻ ذِکر کولو، کله چې ما په غوَر سره ده ته اوکتل نو دا هلک په ټولو خلقو کې ښه شاه سوار وُ، او د ټولو نه زیات خِدمتي وُ، څومره به چې مونږ دُشمن طرف ته ورنزدې کیدو نو ددې هلک اِراده به نوره هم مضبوطیده، نور به هم چُست کیدو او په مخ باندې به یې د خوشحالۍ علامات ښکاره کیدل.

په دویمه ورځ مونږ ټوله ورځ سفر اوکړو، د نمَر پریوتلو په وخت مونږ د کافرانو علاقې ته اُورسیدو، هلته مونږ پَړاوُ واچول، زمونږ د ټولو روژه وه، دې هلک زمونږ د پاره خوراک تیار کړو، په دې وخت کې په ده باندې پَرکالي راغلهٔ (یعنی خوب وربانده غلبه اوکړه) اُوده شو، مونږ اُولیدل چې هغه په خوب کې خاندل، ما خپلو ملګرو ته وویل: آیا تاسو ګورۍ چې دا هلک په خوب کې خاندي؟

کله چې د خوب نه راپیدار شو نو ما ورته وویل: بچیه! تا اوس په خوب کې ولې خندل؟ هغه راته وویل:

ما یو عجیبه خوب اُولید هغې زه په تعجّب کې واچولم نو ځکه مې اُوخندل.

ما ورته وویل: څه خوب دې اُولید؟ هغه وویل:

زه په خوب کې په یوه ښائسته شنه باغیچه کې ووم، په هغې کې ګرځیدم، ناڅاپه مې یو لوي مَحل اولید چې د سپینو زرو، قیمتي کانړو او ملغلرو نه جوړ شوي وُ، دَروازې یې د سرو زرو وې، قیمتي پَردې وربانديې زوړَندې وې، ناڅاپه یو څو جینکو هغه پَردې د دَروازو نه لرې کړې، ددې جینکو مخونه د څوارلسمې شپې سپوږمۍ په شان ښائسته وو، هغوی چې زه اُولیدم نو مَرحَبا یې راته ویله، ما اِراده اوکړه چې یوې جینۍ ته لاس وَروړاندې کړم نو هغې راته وویل: تلوار مه کوه تر اوسه ستا وخت ندی راغلی.

بيا ما واوريدل چې يوې جينۍ بلې ته وويل :

هٰذَا زَوْجُ الْمَرْضِيَّةِ . دا د مَرضيه خاوند دى.

بيا دې جينۍ ماته وويل : الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي لږ مخکې لاړ شه. زه مخکې لاړم نو ناڅاپه مې پاس محل کې يوه کمره اُوليده چې خالص د سروزرو نه جوړه شوې وه ، د شنو زَبرجدو نه جوړ شوي کټ په کې پروت وُ ، ددې کټ پَخې د پړَقيدونکو سپينو زرو نه جوړې شوې وى ، په هغې باندې داسې جينۍ ناسته وه چې د نمَر په شان ښائسته پړقيدونکې مخ يې وُ ، که چيرته الله ﷻ زما د نظر حفاظت نه وې کړى نو ددې کمرې او جينۍ د ښائست په وجه به زما نظر ختم شوې وُ او عقل به مې تللې وُ ، پس هر کله چې هغې جينۍ زه اُوليدم نو راته وې ويل :

مَرْحَبًا وَأَهْلًا وَسَهْلًا يَاوَلِيَّ اللهِ وَحَبِيْبَهٗ أَنْتَ لِيْ وَأَنَا لَكَ.

مرحبا ، هر کله راشه ، په خير راشه ، اې د الله دوست او محبوبه ! ته اوس زما يې ، او زه ستا يم.

ما اِراده اوکړه چې زه هغه خپلې سينې ته رانزدې کړم ، خو هغې وويل : صبر اوکړه ، تادي مه کوه ، اوس لا وخت ندې راغلى :

إِنَّ الْمِيْعَادَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ غَدًا عِنْدَ صَلٰوةِ الظُّهْرِ ، فَأَبْشِرْ .

بيشکه زما او ستا په مينځ کې وعده صبا د ماسپخين مونځ وخت دى ، پس ته زيرې قبول کړه.

( دې هلک وويل نو زه ځکه د خوشحالۍ په وجه په خوب کې په خندا شوم ).

ابو قدامه رَحِمَهُ الله فرمايي چې ما دې هلک ته وويل : تا ډير ښائسته خوب ليدلى . بيا مونږ شپه تېره کړه خو ټوله شپه مو ددې هلک په خوب باندې تعجّب کولو . کله چې صبا شو نو مونږ ټول په آسونو باندې سواره شو ، ناڅاپه آواز کوونکي آواز اوکړو :

يَا خَيْلَ اللهِ ارْكَبِيْ ، وَبِالْجَنَّةِ اَبْشِرِيْ ، اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا .

اې د الله شاه سوارانو ( د دِين مدد ګارانو ) په آسونو سواره شئ ، د جنت زيرې قبول کړئ ، سپَک او درانه جهاد ته اُووځئ.

چې ځنګه دا آواز ختم شو نو لږ وخت پس د کافرانو لښکر رابښکاره شو ، د ملخانو په شان ځلور واړه طرف ته خور شوې لښکرې ، په مونږ کې د ټولو نه مخکې په دوی باندې دې هلک داسې سخته حمله اوکړه چې د کافرانو په لښکر کې ورننوت ، ټول لښکر یې تَس نَس کړو ، ډیر بهادران او لښکر واله یې ورله قتل کړل .

ابو قدامهؒ وايي کله چې ما دا په دې حالت کې اُولید ( چې مسلسل حملې کوي ) نو زه ورغلم د هغه د آس واګې مې اُونیوې ، او ورته مې وویل :

اې بچیه ! راشاته شه ، ته تر اوسه کم عُمره یې ، د جنګ د چلونو نه خبر نه یې .

هغه راته وویل :

يَا عَمِّ ! أَلَمْ تَسْمَعْ قَوْلَ اللهِ تَعَالَى : ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ﴾ أَتُرِيْدُ أَنْ أَدْخُلَ النَّارَ ؟

اې تره ! آیا تا د الله تعالی دا قول ندې آوریدلی ( چې الله ﷻ فرمايي ) :

اې مؤمنانو ! کله چې تاسو د کافرانو سره په جنګ کې مخامخ شئ نو دوی ته شاګانې مه ورګرځوئ ( یعنې په شا ورنه مه راتختئ ) .

اې تره ! آیا ته اِراده لرې چې زه په شا راتګ سره جهنم ته داخل شم ؟

ابو قدامهؒ وايي : مونږ دا خبرې کولې چې کافرانو ناڅاپه په مونږ باندې سخته حمله اوکړه ، زما او ددې هلک په مینځ کې یې جدائي راوَسته ، دا دومره سخته حمله وه چې هر کس په خپل فِکر کې مشغول شو ، په دې حمله کې ډیر مسلمانان شهیدان شو .

کله چې جنګ ختم شو او دواړه ډلې جدا شوې نو زخمیان او شهیدان بې حسابه وو ( کافران هم بې حسابه مردار شوي وو ، په جنګ کې آخري فتح مسلمانانو ته ملاؤ شوه ) ، زه په خپل آس باندې سور ووم ، د شهیدانو جسدونو په مینځ کې ګرځیدم ، هر طرف ته د سېلاب په شان وینې بهیدې ، د شهیدانو مخونه د وِینو او دُورو په وجه نه شو پیژندل . زه ګرځیدم هغه هلک مې تلاش کولو ، ناڅاپه مې په یو ځای کې اُولید چې پروت دی ، سخت زخمي دی ، د آسونو خپو په وجه یې بدن چَخنري شوې ؤ ، په وِینو کې آوړیدو راوړیدو ، او دا آواز یې کول :

يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! بِاللّٰهِ اِبْعَثُوْا لِيْ عَمِّيْ اَبَاقُدَامَةَ .

اې د مسلمانانو ډلې ! د الله ﷻ د پاره ماته زما تره ابوقدامه راولئ.

ابوقدامهؒ وايي : کله چې ما د هغه آواز واوريد نو ورغلم، خو ما هغه د ډيرو وِينو ، گردونو ، او د آسونو ځخنري کولو په وجه او نه پيژندو ، ما ورته وويل :

زه ابوقدامه يم ، راغلم . راته وې ويل :

اې تره ! په رَب د کعبې مې دې قسَم وي چې زما خوب رښتيا شو .

ابوقدامهؒ وايي چې زه ورتيټ شوم ، په تَندي مې ښکل ( چَپ ) کړو ، د مخ نه مې ورله خاورې او وِينې په خپل څادر سره صفا کولې ، او ورته مې وويل :

يَا حَبِيْبِيْ ! لَا تَنْسَ عَمَّکَ اَبَاقُدَامَةَ . اِجْعَلْهُ فِيْ شَفَاعَتِکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .

اې زما دوسته ! ته خپل تره ابوقدامه مه هېروه ، د قيامت په ورځ زما شفاعت هم اوکړه .

راته وې ويل : ستا په شان مهربان کس به زه هيڅ کله هېر نکړم .

چونکه ما ورله په خپل څادر باندې مخ صفا کول ، نو هغه راته وويل : ته ولې په خپل څادر باندې زما مخ صفا کوې ، زما څپلې جامې ددې د پاره زياتې مناسبې دي ، دا وِينه مه صفا کوه ددې د پاره چې زه خپل رَب سره په همدې حالت کې ملاقات اوکړم .

بيا يې راته وويل :

يَا عَمِّ ! هٰذِهِ الْحُوْرُ الَّتِيْ وَصَفْتُهَا لَکَ قَائِمَةٌ عَلٰى رَأْسِيْ تَنْتَظِرُ خُرُوْجَ رُوْحِيْ . وَتَقُوْلُ لِيْ : عَجِّلْ فَأَنَا مُشْتَاقَةٌ إِلَيْکَ .

اې تره ! کومه حُوره چې ما په خوب کې ليدلې وه او تا ته يې ما صفت کړې وُ هغه داده زما سَر ته ولاړه ده زما د رُوح وتلو اِنتظار کوي ، او ماته وايي : جَلتي اوکړه ( زَر زما خواته راشه ) زه ستا د ديدار ډيره شَوقي يم .

بيا راته دې هلک وويل : اې زما تره ! زه تاته د الله ﷻ واسطه درکوم چې کله ته صحيح سالِم واپس لاړ شې نو زما دا د وِينو ډکې جامې زما مسکينې کونډې غَمجَنې مور ته وَر وړه ددې د پاره چې هغې ته معلومه شي چې ما دهغې وصيت ندې ضائع کړې او د

..............................................................................

مشرکينو په مقابله کې مې د بُزدلئ نه کار ندې اخيستى ، زما سلام ورته اُووايه ، او دا ورته اووايه چې الله تعالى ستا هديه قبوله کړه .

بيا دې هلک راته وويل : اې تره ! زما په کور کې وَړه خور ده ، عُمريې لس (۱۰) کاله دى ، کله به چې زه کور ته راغلم نو د ټولو نه اول به هغه ماته راغله ، سلام به يې راته اوکړو ، او کله به چې د کور نه بهَرتللم نو په آخِر کې به هغې رُخصتولم ، دا ځل چې زه کله د تاسو سره راتلم نو هغې ماته د رُخصت کولو په وخت دا وويل :

بِاللهِ يَا أَخِيْ لَا تُبْطِئ عَنَّا . اې وروره ! د الله د پاره ډير مه روستو کيږه ، زر واپس راشه .

اې تره ! پس کله چې ته د هغې سره ملاقات اوکړې نو زما سلام ورته اووايه ، او دا ورته اووايه چې ستا ورور تاته دا وايي :

اَللّٰهُ خَلِيْفَتِيْ عَلَيْکِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ .

الله تعالى دې زما د طرفه ستا مددګار شي ، د خداى په اَمان ، په قيامت کې به سره يو ځاى کيږو .

ابو قدامهؒ وايي چې بيا دا هلک مُسکې شو ، کليمه شهادت يې وويله ، رُوح يې اُووت ، او د شهادت اُوچته مرتبه يې تَر لاسه کړه . مونږ هغه دفن کړو .

کله چې مونږ ددې جهاد نه راواپس شو ، رُقه مقام ته رااُورسيدو ، او ددې شهيد د مور کور مخې ته تيريدو نو ددې کور په دروازه کې يوه وړه معصومه ماشومه ولاړه وه ، چې په ښائست کې د هغه شهيد هلک په شان وه .

د جهاد نه چې کوم خلق راواپس شوي وو او ځوک په دې لاره باندې تيريدل نو دې معصومې ماشومې به ورنه په وَړه خُله دا پوښتنه کوله :

يَا عَمِّ ! مِنْ أَيْنَ جِئْتَ ؟ اې تره ! د کوم ځاى نه راغلى ؟

ده به ورته وويل : د جهاد نه واپس راغلم . هغې به ورته وويل :

أَمَا يَرْجِعُ مَعَکُمْ أَخِيْ ؟ آيا تاسو سره زما ورور رانغى ؟

دوى به ورته وويل : مونږ هغه نه پيژنو .

ابو قدامهؒ وايي چې کله ما ددې وړې معصومې ماشومې خبرې واوريدى نو زه وَرورانديې

شوم ، هغې د مانه هم پوښتنه اوکړه :

يَا عَمِّ ! مِنْ أَيْنَ جِئْتَ ؟ اې تره ! ته د کوم ځای نه راغلی ؟

ما ورته وويل : د جهاد نه واپس راغلم . راته وې ويل :

أَمَا يَرْجِعُ مَعَكُمْ أَخِيْ ؟ آيا تاسو سره زما ورور رانغی ؟

دې ويلو سره هغې چغې کړی ، په ژړا شوه ، او وې ويل :

مَا بَالِيْ أَرَى النَّاسَ يَرْجِعُوْنَ وَأَخِيْ لَمْ يَرْجِعْ .

دا ولی ؟ ټول خلق واپس راغلل او زما ورور واپس رانغی .

ابوقدامهؒ وايي : ماته هم سخته ژړا راغله خو خپل ځان مې کنټرول کړو ، ددې د پاره چې ما شومه نوره هم غمجَنه نشي . ما ورته وويل :

لاړه شه مور ته دې اُووايه چې بهَر دروازې ته ابوقدامه راغلې دی .

دې مور يې زما خبرې واوريدی ، زر بهر را اُووته ، د مخ رنګ يې زير شوې وُ ، ما ورباندې سلام واچول ، هغې د سلام جواب راکړو ، او راته وې ويل :

أَمُبَشِّرًا أَتَيْتَ يَا أَبَاقُدَامَةَ أَمْ مُعَزِّيًا ؟

اې ابوقدامه ! آيا ته زيرې ورکوونکې راغلې يې او که تعزيت کوونکې ؟ ( يعنی زيرې دې راوړې دی او که د تعزيت خبر دې راوړې دی ؟ )

ما ورته وويل : د زيري او تعزيت وضاحت اوکړه ( چې په دې دواړو کې څه فرق دی ؟ )

هغې وويل : که چيرته زما ځوي ژوندې راغلې وي نو بيا ته تعزيت کوونکې يې ، او که هغه د الله ﷻ په لارکې شهيد شوې وي نو بيا ته زيرې راوړونکې يې . ما ورته وويل :

أَبْشِرِيْ فَقَدْ قَبِلَ اللهُ هَدِيَّتَكِ .

زيرې قبول کړه ( مبارک شه ) الله تعالی ستا هديه قبوله کړه ( او ستا ځوي د الله ﷻ په لارکې د شهادت لويه مرتبه حاصله کړه ) .

هغه په ژړا شوه ، او وې ويل : قَبِلَهَا ؟ آيا الله تعالی هغه هديه قبول کړه ؟

ما ورته وويل : آو . هغې وويل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَهُ ذَخِيْرَةً لِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

ټول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چې هغه زما ځوي زما د پاره د قيامت د ورځې ذخيره جوړه کړه.

ما ورته وويل: د هغه هلک خور څيرته ده؟ هغې راته وويل: کومې ماشومې چې د تا سره اوس خبرې کولی دا د هغه خور ده.

زه هغې ته وَر وړاندې شوم، او ورته مې وويل: ستا ورور په تا باندې سلام ويلی، او دا يې درته ويلي:

اَللّٰهُ خَلِيْفَتِيْ عَلَيْکِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

الله تعالى دې زما د طرفه ستا مددګار شي، د خدای په اَمان، په قيامت کې به سره يو ځای کيږو.

ماشومې چې دا خبره واوريده نو يوه تېزه چَغه يې اووهله، مخامخ راپريوته، بې هوشه شوه، لږ ساعت پس چې ما اُوخوَزوله نو هغه وفات شوې وه، زه په دې سره ډير په تعجب کې شوم. بيا ما د هغه هلک د وِينو لړلې جامې دده مورته ورکړی.

د کورنه په داسې حالت کې را اُووتم چې د هغه هلک او جينۍ په وجه مې زړه زَخمي وُ، خو د مور په صبر باندې مې يې ډير تعجّب کولو. (۱)

**عبرت** سُبْحَانَ الله، په اُمتِ مسلمه کې داسې بهادرې او صبرناکې زَنانه تيرې شوي چې زړونه يې د جهاد د جذبې نه ډک وو، په خپله يې خپلو ځامنو ته د جهاد ترغيب ورکول، جهاد ته يې ليږل، او په شهيد کيدو سره به يې هيڅ جَذعه فَزعه نه کوله، بلکه د صبر او اِستقامت نه به يې کار اخيست، او دا به يې په ځان باندې د الله ﷻ اِحسان ګڼړل چې د شهادت عظيمه مرتبه يې زما بچي ته نصيبه کړه.

(۱) سوق العروس وانس النفوس لاحمد بن الجوزي الدمشقي، مشارع الاشواق الى مصارع العشاق لابي زكريا احمد بن ابراهيم بن محمد الدمشقي الدمياطي المشهور بابن النحاس ج ۱ ص ۲۸۵ تا ص ۲۹۰ الباب التاسع في فضل النفقة في سبيل الله تعالى. و هكذا في ج ۲ ص ۲۹۰ تا ص ۲۹۱ الباب الثامن والعشرون في الترغيب في سؤال الشهادة والحرص عليها وذكر بعض من تعرض لها فنالها.

تر دې پورې چې که په جهاد کې به د يوې زَنانه خپل پلار، خپل خاوند، او خپل ټول ځامن شهيدان شو، او د کور ټول مال به يې په جهاد کې مَصرَف شو خو بيا به يې هم د صبر او اِستقامت نه کار اخيستو.

## د اُمِّ ابراهيم هاشميه د جهاد سره مينه:

## خپل نيازبين ځوي جهاد ته ليږل

علامه ابو جعفر احمد رحمه الله په خپل کتاب "تَنْبِيْهُ ذَوِي الْأَقْدَار عَلٰی مَسَالِكِ الْأَبْرَار" کې او علامه ابن نحاس رحمه الله په "مَشَارِعُ الْأَشْوَاق" کې دا واقعه رانقل کړې چې د بَصرې په ښار کې يو ځو عبادت گُزارې زَنانه وې، په هغې کې يوه اُمِّ ابراهيم هاشميه هم وه، په دغه ورځو کې کافرانو د مسلمانانو په يو سَرحد باندې حمله اوکړه، خلقو د جهاد د پاره تيارې شروع کړو، علماء کرامو هم خلقو ته د جهاد په باره کې تقريرونه کول، شيخ عبدالواحد بن زيد بصري رحمه الله په يو مَجمع کې خلقو ته د جهاد په باره کې زبردست تقرير اوکړو، په دې تقرير کې ده د قرآن کريم، احاديثو او بهترينو قصيدو په ذريعه خلقو ته د جهاد ترغيب ورکړو، د مجاهدينو او شهيدانو د پاره يې د جنت د نِعمتونو او حُورو تذکره اوکړه، ورسره يې د حُورو په حُسن و جمال او ښائست باندې بهترينه قصيده هم وويله، په دې اشعارو کې د جنّتي حُورو ډير ښه صفتونه بيان شوي وو. (۱) په دې سره د مجلس په خلقو کې د جهاد او شهادت سخته جَذبه راپيدا شوه.

په دې مجلس کې اُمِّ ابراهيم هم ناسته وه، دې چې د حُورِعِين ښائسته صفت واوريد نو سمدستي راپاځيده، شيخ عبدالواحد ته راغله، او ورته وې ويل:

اې ابوعبيد (عبدالواحد)! آيا ته زما ځوي پيژنې؟ د بصرې لوي لوي سردارانو هغه ته د خپلو لورانو د نکاح پيغام راليږلې خو ما د هيچا پيغام ندې قبول کړې:

فَقَدْ وَاللّٰهِ أَعْجَبَتْنِيْ هٰذِهِ الْجَارِيَةُ، وَأَنَا أَرْضَاهَا عِرْسًا لِوَلَدِيْ. فَكَرِّرْ مَاذَكَرْتَ مِنْ حُسْنِهَا وَجَمَالِهَا.

---

(۱) هغه اشعار په مشارع الاشواق ج۱ ص ۲۱۶ کې ذکر دي.

قسَم په الله ، تا چې ددې جينۍ ( حُورې ) کوم صفت اوکړو دې خو زه حيرانه کړم ، زما خوښه ده چې دا زه خپل ځوي ته په نکاح کړم ، خو تا چې ددې حُورې کوم حُسن و جمال ذکر کړو ( مهرباني اوکړه ) هغه بيا ذکر کړه .

شيخ عبدالواحد په نورو أشعارو کې ددې حورې صفت په ډير بهترين أنداز کې ذکر کړو ، خلقو چې د حُورې دا صفتونه واوريدل نو جذبه يې نوره هم زياته شوه ، اُمِ ابراهيم راوړاندې شوه او عبدالواحد ته يې ووېل :

قسَم په الله ، زه خو دې حُورې ډيره حيرانه کړم ، زما خوښه ده چې ددې واده د خپل ځوي سره اوکړم ، آيا ته دا کولې شې چې ددې حُورې نکاح زما د ځوي سره اوکړې او ددې په عِوض کې د مانه لس زره (۱۰۰۰۰) دِيناره واخلې ؟ ( او دا په جهاد کې خرچ کړې ) :

وَيَخْرُجُ مَعَكَ فِيْ هٰذِهِ الغَزْوَةِ فَلَعَلَّ اللهُ يَرْزُقُهُ الشَّهَادَةَ ، فَيَكُوْن شَفِيْعًا لِيْ وَ لِأَبِيْهِ فِي الْقِيَامَةِ .

او زما ځوي ( ابراهيم ) به د تاسره دې غزا ته لاړ شي ، کيدې شي چې الله تعالى ورته د شهادت اُوچته مرتبه ورکړي ، او دا به د قيامت په ورځ زما او د خپل پلار د پاره شفاعت کوونکې اوګرځي .

شيخ عبدالواحد ورته ووېل : که چيرته تا دا کار اوکړو نو يقينًا چې ته ، ستا ځوي ، او دده پلار به کامياب شي .

بيا دې ښځې خپل ځوي ته آواز اوکړو : يَاإِبْرَاهِيْمُ ! اې ابراهيم !

دې آواز آوريدو سره د خلقو د مينځ نه يو ښائسته ځوان راپاڅيد ، او وې وېل :

لَبَّيْكَ يَا أُمَّاهُ . اې مورې ! زه حاضر يم .

مور ورته ووېل :

أيْ بُنَيَّ ! أَرَضِيْتَ بِهٰذِهِ الجَارِيَةِ زَوْجَةً بِبَذْلِ مُهْجَتِكَ فِيْ سَبِيْلِهِ وَتَرْكِ العَوْدِ فِي الذُّنُوْبِ ؟

اې بچيه ! آيا ته په دې جينۍ ( حُوره ) باندې راضي يې چې دا ستا بي بي شي په دې شرط چې ته به د الله ﷻ په لار کې خپل ځان قرباني کوې او ګناهونو ته به نه راواپس کيږې ؟

ځوي ورته ووېل : اې مورې قسَم په الله ، زه په دې باندې پوره راضي يم . مور يې ووېل :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُشْهِدُكَ أَنِّيْ زَوَّجْتُ وَلَدِيْ هٰذَا مِنْ هٰذِهِ الْجَارِيَةِ بِبَذْلِ مُهْجَتِهِ فِيْ سَبِيْلِكَ وَتَرْكِ الْعَوْدِ فِي الذُّنُوْبِ فَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

اې الله ! زه تا ګواه کوم چې ما ددې خپل ځوي نکاح ددې ځورې سره په دې شرط اوکړه چې دا به ستا په لار " جهاد " کې خپل ځان قربانوي ، او ګناهونو ته به نه راواپس کيږي ، پس اې اَرحمُ الرّاحمين ذات ! ته دا د مانه قبول کړه .

شيخ عبدالواحد وايي چې ددينه پس اُمّ ابراهيم لاړه ، لس زره ( ۱۰۰۰۰ ) دِيناره يې راوړل ، ماته يې راکړل ، او راته وې ويل چې دا د هغه ځورې مهَر دی په دې باندې د مجاهدينو د پاره اَسلحه وغيره واخله .

اُمّ ابراهيم واپس لاړه ، خپل ځوي له يې بهترين اَس او ښه اَسلحه واخيسته ، ورله وَريې کړه . شيخ عبدالواحد د جهاد د پاره لښکر سره روان شو ، ابراهيم هم په مَنډه راغی ، د دوی سره شريک شو ، د قرآن کريم قاريانو به ګېر چاپيره دا آيت په خوش آوازی سره لوستلو :

﴿ إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه الله تعالى د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي .

اُمّ ابراهيم هم د لښکر رُخصتولو د پاره راأووته ، کله چې د ځوي ( ابراهيم ) نه جدا کيده نو په دې وخت کې يې ځوي ته يو کفن او خوشبوئي ورکړه ، او ورته وې ويل :

اې بچيه ! چې کله ته په ميدانِ جنګ کې د دشمن سره د مخامخ کيدو اِراده اوکړې نو دا کفن واغونده ، دا خوشبوئي په ځان اُولږوه ، او ياد لره چې الله تعالى تا په جهاد کې سستي کوونکې او نه ګوري ( يعنې ښه په بهادری سره اُوجنګيږه ) ، بيا يې خپل ځوي سِينې ته رانزدې کړو ، په تَندي يې ښکل کړو ، او وې ويل :

يَا بُنَيَّ ! لَا جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ إِلَّا بَيْنَ يَدَيْهِ فِيْ عَرَصَاتِ الْمَيْدَانِ .

(۱) التوبة آية ۱۱۱ .

اې بچیه ! الله تعالی دې ما او تا په دُنیا کې بیا نه یو ځای کوي بلکه د قیامت په میدان کې دې مونږ خپلې مخې ته یو ځای کړي.

شیخ عبدالواحدؒ وایي چې مونږ جهاد ته روان شو ، کله چې د دُښمن علاقې ته اُورسیدو او د جنګ اعلان اوشو ، خلق میدان ته را اُووتل ، نو په دې مخکیني کسانو کې ابراهیم هم وُ ، ده په دُشمن باندې داسې سخته حَمله اوکړه او دومره په بهادرۍ سره اُوجنګیدو چې ډیر کافران یې اُووژل ، آخر کافران ده ته ګېر چاپیره شو او دا یې هم شهید کړو.

کله چې د جنګ ختمیدو نه پس مسلمانانو ته فتح حاصله شوه او مونږ واپس بصرې ته د تللو اِراده اوکړه نو ما خپلو ملګرو ته وویل : تاسو اُمّ ابراهیم ته د ځوي د شهادت خبر مه ورکوئ بلکه زه به ورته په ښه طریقې سره تسلّي ورکړم ، هسې نه چې د بې صبرۍ په وجه د هغې اَجر ختم شي.

پس کله چې مونږ بصرې ته فاتحانه طریقې سره را اُورسیدو نو خلق زمونږ اِستقبال د پاره راوتلي وو ، په دې کې اُمّ ابراهیم هم راوتلې وه ، کله چې هغې زه اُولیدم نو راته وې ویل :

يَا أَبَا عُبَيْدٍ! هَلْ قُبِلَتْ مِنِّيْ هَدِيَّتِيْ فَأُهَنَّأَ أَمْ رُدَّتْ عَلَيَّ فَأُعَزّٰى؟

اې ابوعبید ( عبدالواحد ) ! که چیرته زما هدیه قبوله شوې وي چې زه خوشحاله شم ( د خلقو نه مبارکي واخلم ) ، او که راواپس شوې وي چې بیا زه غمخواري اوکړم ( او د خلقو نه تعزیت وصول کړم ) .

ما ورته وویل :

قَدْ قُبِلَتْ وَاللهِ هَدِيَّتُكِ ، إِنَّ إِبْرَاهِيْمَ حَيٌّ مَعَ الْأَحْيَاءِ يُرْزَقُ.

قسَم په الله ، ستا هدیه قبوله شوې ، بیشکه ابراهیم حقیقي ژوندې دی ، د شهیدانو سره په جنت کې یو ځای خوراک څکاک کوي . (۱)

اُمّ ابراهیم فورًا د شکریې اَداء کولو د پاره په سجده پریوته ، او وې ویل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يُخَيِّبْ ظَنِّيْ وَتَقَبَّلَ نُسُكِيْ مِنِّيْ.

---

(۱) د شهیدانو په باره کې الله تعالی فرمایي :

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴾ . آل عمران آیة ۱۶۹ .

تول تعريفونه هغه الله ﷻ لره دي چاچې زه نا اُميده نکړم ، او د مانه يې زما قرباني قبوله کړه .

د دينه پس دا خپل کور ته لاړه . صبا سهَر د شيخ عبدالواحد جُمات ته راغله ، د ه ته يې آواز اوکړو :

اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَا اَبَا عُبَيْدٍ بُشْرَاکَ.

اې ابوعبيد (عبدالواحد) ! په تا باندې دې سلام وي ، زه تاته د زيري د پاره راغلې يم .

عبدالواحد وايي ما ورته ووېل : الله تعالى دې تا هميشه خوشحاله کړي ، څه زيري دى ؟ راته وې وېل : بيګاه شپه مې خپل ځوي " ابراهيم " په خوب کې اُوليد چې په يو ښائسته باغ کې وُ ، شنه چپَن يې اغوستې وه ، د ملغلرو په تخت باندې ناست وُ ، په سَر باندې يې قيمتي تاج وُ ، او ماته يې ووېل :

يَا اُمَّاهُ اَبْشِرِيْ فَقَدْ قبلَ المَهْر ، وَزفتِ العَرُوْسُ.

اې مورې زيرې قبول کړه هغه مهر قبول کړې شو ، او د ناوې رُخصتي اوشوه ( يعنى زه ورسره ملاوُ شوم ) . (۱)

(۱) تنبيه ذوى الاقدار على مسالک الابرار ، ومشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج۱ ص ۲۱۵ الباب الرابع فيما جاء في فضل التحريض على الجهاد في سبيل الله تعالى .

# په میدانِ جنګ کې د زَنانه وُ بهادري

ډیرې صحابیاتې او مسلمانې بهادرې زَنانه داسې تېرې شوي چې هغوی په خپله په میدانِ جنګ کې د کافرانو خلاف جهاد کړی، او ډیر کافران یې په خپل لاس باندې مردار کړي دي، اګرچې په زَنانه وُ باندې په عامو حالاتو کې جهاد نشته خو بیا هم دوی په خپلو وِینو سره د اِسلام دِفاع کړی، او د دِین د سَربُلندی د پاره یې خپل سرونه قربان کړي.

د عبرت د پاره د یو څو بهادرو زَنانه وُ تذکره درته کوم:

## په غزوه اُحد کې د نبي ﷺ په دِفاع کې د اُمِ عمارة رضي الله عنها په بدن باندې دیارلس زخمونه جوړ شو

ام عمارة رضي الله عنها په ډیرو جهادونو کې حصه اخیستې وه، په غزوه اُحد کې چې کله کافرانو په نبي علیه السلام باندې حَمله اوکړه نو ام عمارة رضي الله عنها د نبي علیه السلام د دِفاع د پاره کلکه اُودریده، د کافرانو حملې به یې دفع کولې.

کله چې یو کافر په نبي علیه السلام باندې سخته حمله اوکړه نو دا ورمخې ته شوه هغه یې په شا کړو خو ددې په اُوګه باندې د تورې ژوَر زخم جوړ شو، په غزوه اُحد کې دې د کافرانو سخته مقابله اوکړه، په دې جنګ کې ددې په بدن باندې دولس (۱۲)، یا دیارلس (۱۳) زخمونه جوړ شوي وو. (۱)

---

(۱) علامه ذهبي رحمه الله په " سیر اعلام النبلاء " کې ددې تذکره داسې کړی: شَهِدَتْ أُمُّ عُمَارَةَ لَيْلَةَ العَقَبَةِ، وَشَهِدَتْ أُحُدًا، وَالحُدَيْبِيَةَ، وَيَوْمَ حُنَيْنٍ، وَيَوْمَ اليَمَامَةِ، وَجَاهَدَتْ وَفَعَلَتِ الأَفَاعِيْلَ .....
وَقَالَ الوَاقِدِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : شَهِدَتْ أُحُدًا مَعَ زَوْجِهَا غَزِيَّةَ بنِ عَمْرٍو وَمَعَ وَلَدَيْهَا. خَرَجَتْ تَسْقِي وَمَعَهَا شَنٌّ وَقَاتَلَتْ وَأَبْلَتْ بَلاَءً حَسَنًا، وَجُرِحَتِ اثْنَيْ عَشَرَ جُرْحًا .....
وَكَانَتْ تَرَاهَا يَوْمَئِذٍ تُقَاتِلُ أَشَدَّ القِتَالِ وَإِنَّهَا لَحَاجِزَةٌ ثَوْبَهَا عَلَى وَسَطِهَا حَتَّى جُرِحَتْ ثَلاَثَةَ عَشَرَ جُرْحًا. وَكَانَتْ تَقُوْلُ: إِنِّي لأَنْظُرُ إِلَى ابْنِ قَمِئَةَ وَهُوَ يَضْرِبُهَا عَلَى عَاتِقِهَا. وَكَانَ أَعْظَمَ جِرَاحِهَا فَدَاوَتْهُ سَنَةً. سیر اعلام النبلاء ۵۱۵/۳ ام عمارة

## د غزوه خَندق په موقع حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنهَا يو کافر د خېمې په لرګي باندې اووژل

د غزوه خندق په موقع نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم زَنانه د حفاظت د پاره د حضرت حسان رضي الله عنه په قلعه کې راجمع کړې وې ، کله چې يهوديانو غداري اوکړه ، او په دې قلعه يې د حملې کولو اِراده اوکړه ، نو يو يهودي دې قلعې ته راغی حضرت صفيه رضي الله عنها چې د نبي عليه السلام ترور وه دې د خيمې لرګې ( مَوګې ) راواخيست او دا کافر يې ورباندې سخت اووهل ، او وې وَژل. په دې سره يهوديانو دا ګمان اوکړو چې ګنې په دې قلعه کې ډير مسلمانان سړي دي نو ځکه واپس شول. نو د يهوديانو غټه حمله ددې بهادرې زَنانه په وجه ناکامه شوه. (۱)

## حضرت خَوله بنت اَزور د نورو زَنانهٔ سره يو ځای ډيرش کافران اُووژل

حضرت خوله بنت اَزور د اسلام په بهادرو زَنانهٔ کې شمارلې شي ، دې هم په ډيرو جنګونو کې حصه اخيستې وه ، او ډير کافران يې په خپل لاس مردار کړي.

يو ځل په جنګِ شحوراء کې دا د نورو زَنانهٔ سره يو ځای د کافرانو سره قيديانې شوې ، کافرانو د درې زره ( ۳۰۰۰ ) لښکر په حفاظت کې دا زَنانه دمشق طرف ته رواني کړې ، د کافرانو دې لښکر په لاره کې په يو ځای کې آرام د پاره پړاوْ واچول ، او دا زَنانه يې په يوه خېمه کې بندې کړې.

---

(۱) علامه ذهبي رحمه الله په سير اعلام النبلاء کې د حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنهَا تذکره داسې کړې: وَقَدْ كَانَتْ يَوْمَ الْخَنْدَقِ فِيْ حِصْنِ حَسَّانِ بْنِ ثَابِتٍ ، قَالَتْ وَكَانَ حَسَّانٌ مَعَنَا فِي الذُّرِّيَّةِ . فَمَرَّ بِالْحِصْنِ يَهُوْدِيٌّ فَجَعَلَ يُطِيْفُ بِالْحِصْنِ وَالْمُسْلِمُوْنَ فِيْ نُحُوْرِ عَدُوِّهِمْ. ثُمَّ سَاقَتِ الْحَدِيْثَ وَأَنَّهَا نَزَلَتْ وَقَتَلَتِ الْيَهُوْدِيَّ بِعَمُوْدٍ.
فَرَوٰى هِشَامٌ عَنْ أَبِيْهِ عَنْهَا قَالَتْ: أَنَا أَوَّلُ امْرَأَةٍ قَتَلَتْ رَجُلًا : كَانَ حَسَّانٌ مَعَنَا فَمَرَّ بِنَا يَهُوْدِيٌّ فَجَعَلَ يُطِيْفُ بِالْحِصْنِ فَقُلْتُ لِحَسَّانٍ: إِنَّ هٰذَا لَا آمَنُهُ أَنْ يَدُلَّ عَلٰى عَوْرَتِنَا فَقُمْ فَاقْتُلْهُ . قَالَ : يَغْفِرُ اللهُ لَكِ لَقَدْ عَرَفْتِ مَا أَنَا بِصَاحِبِ هٰذَا. فاحتجزت وَأَخَذْتُ عَمُوْدًا وَنَزَلْتُ فَضَرَبْتُهُ حَتّٰى قَتَلْتُهُ. سير اعلام النبلاء ۳ / ۵۱۰ صفية عَمَّةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حضرت خوله رضي الله عنها په دې خيمه کې نورو زَنانه وُ ته د غيرت نه ډکې خبرې اوکړې ، او دا تقرير يې ورته اوکړو :

اې د حمير لورانو ، اې د قبيله تبع يادګارانو ! آيا دا ستاسو خوَښه ده چې دا رُومي کافران تاسو خپلې وينځې جوړې کړي ؟ ستاسو غيرت او بهادري څه شوه ؟ د عربو په مجلسونو کې خو به ستاسو د بهادرۍ تذکرې کيدې اوس هغه بهادري څه شوه ؟ افسوس چې زه تاسو د غيرت او بهادرۍ نه خالي ګورم ، ددې راتلونکي مصيبت نه خو ستاسو د پاره مرګ ډير بهتر دی .

دې خبرو اَوريدو سره حضرت عفيره رضي الله عنها ووېل : اې خوله ! ستا خبرې حَقې دي خو اوس مونږ څه کولې شو ؟ د مونږ سره خو تورې او بله هيڅ اسلحه نشته .

خوله رضي الله عنها ورته ووېل : که نور هيڅ نه وي نو دا د خيمې لرګي چې کوم موجود دي دا راواخلئ او په کافرانو باندې حمله اوکړئ ، بيا به الله ﷻ زمونږ مدد اوکړي .

نو هرې زَنانه يو يو لرګي راواخيست او ټولو د کافرانو په لښکر باندې حمله اوکړه ، د حضرت خوله رضي الله عنها په لاس کې غټ لرګي وُ ، دا د ټولو نه مخکې وه ، د ټولو مشري يې کوله ، دې په يو رومي کافر باندې د لرګي ګوذار اوکړو هغه يې قتل کړو . دې زَنانه وُ د زمريانو په شان حملې اوکړې ، د کافرانو لښکر حيران وُ چې دا څه اوشو ؟ څلور واړه طرف د دوی نه د رُوميانو درې زره (۳۰۰۰) لښکر تاوُ شو ، په مينځ کې دا يو څو زَنانه وې خو چې کوم کافر به راوړاندې کيدو دوی به په لرګو باندې هغه وژلو ، او د ځان به يې کلکه دِفاع کوله ، په داسې طريقې سره دوی ديرش (۳۰) رُوميان اُووژل .

د کافرانو لښکر مُنظّم شو او اِراده يې اوکړه په دوی باندې په يو ځل حمله اوکړي ، په دې دَوران کې د لرې نه د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه لښکر را اُورسيد ، دا ټول کافران يې اونيول ، ټول يې اُووژل ، او دا زَنانه يې ورنه راخلاصې کړې .

## حضرت خوله رضي الله عنها د کافرانو په صفونو کې ورننوته او ډير کافران يې اُووژل

علامه واقدي رحمه الله په خپل کتاب " فتوح الشام " کې دا واقعه په پوره تفصيل سره رانقل کړې :

حضرت خوله رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضرت ضرار رضي الله عنه خور وه، کافرانو حضرت ضرار رضي الله عنه په دمشق کې ميدانِ جنګ کې اونيو، حضرت خالد رضي الله عنه مسلمانانو ته د عمومي حَملې حُکم اوکړو، په خپله حضرت خالد رضي الله عنه د جوش نه ډک اشعار ويل، او کافرانو طرف ته ورمخکې کيدو، په دې دوران کې مسلمانانو په آس باندې سور يو شاه سوار اُوليد چې په لاس کې يې اُوږده نېزه وه، د زغرې د پاسه يې توري جامې اغوستې وې چې په دې سره يې ټول بدن پټ وُ، چا نه پيژندو، په شين پټکي سره يې خپله ملا تړلې وه، د فوج مخې ته دا د اُورد شُعلې په شان ګرځيدو، کله چې حضرت خالد رضي الله عنه دا اُوليد نو وې ويل:

لَيۡتَ شِعۡرِيۡ مَنۡ هٰذَا الۡفَارِسُ؟ وَاَيۡمُ اللهِ اِنَّهُ لَفَارِسٌ شُجَاعٌ.

کاش چې ماته دا پته وې چې دا شاه سوار څوک دی؟ قسَم په الله دا خو ډير زړوَر شاه سوار دی.

کله چې دا شاه سوار د کافرانو لښکر ته وراُورسيد نو په کافرانو باندې د سوَزوونکې لمبې په شان وَرچپه شو، داسې سخته حمله يې ورباندې اوکړه چې د کافرانو صفونه يې مات کړل، مينځ ته وَرداخل شو، د کافرانو ډير بهادران يې په نېزه باندې وهلو سره مردار کړل، او د کافرانو په لښکر کې د ننه غائب شو، څه وخت پس د لښکر نه ژوندې را اُووت، خو جامې او نېزه يې د کافرانو په وينو باندې لړلې وو، دوباره د کافرانو په لښکر کې ورننَوت، هر طرف ته يې کافران په نېزه وهل، او ډير يې ځاى په ځاى مردار کړل، د کافرانو نه يې هيڅ يَره نه کيده، بعضې مسلمانانو دا ګمان کولو چې ګنې دا حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه دی، ځکه دومره زړوَرې حملې صرف هغه کولې شي، په دې دوران کې بيا د دُشمن د صف نه رااُووت.

حضرت رافع رضي الله عنه د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه چې دا شاه سوار څوک دی چې دومره زړوَر دی؟ حضرت خالد رضي الله عنه ورته وويل:

وَاللهِ اِنِّيۡ اَشَدُّ اِنۡكَارًا مِنۡكُمۡ لَهُ وَلَقَدۡ اَعۡجَبَنِيۡ مَا ظَهَرَ مِنۡهُ وَمِنۡ شَمَائِلِهٖ.

قسَم په الله، زه خو د تاسو نه زيات حيران يم، ده خو زه په دې خپله بهادرۍ سره په تعجب کې واچولم.

حضرت رافع ﷺ ووېل : اې امير ! دا کس د رُوميانو په فوج کښې ور ننوځي ، خې طرف او گس طرف کافران په نېزه باندې وهي .

حضرت خالد ﷺ مسلمانانو ته حُکم اوکړو چې ټول په يو ځل په کافرانو حمله اوکړئ ، مسلمانانو سخته حمله اوکړه ، په دې دوران کښې هغه شاه سوار دوباره د رُوميانو د لښکر نه د اُور د شُعلې په شان را اُووت ، چې هر طرف ته يې په کافرانو د نېزې گوزارونه کول .

کله چې دا شاه سوار د مسلمانانو لښکر ته را اُورسيد ، مسلمانانو چې اُوليدلو نو په وينو باندې يې جامې مکمل لړلې وې ، حضرت خالد ﷺ او مسلمانانو ورنه پوښتنه اوکړه :

لِلّٰهِ دَرُّكَ مَنْ فَارِسٌ بَذَلَ مَهْجَتَهٗ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأَظْهَرَ عَلَى الْأَعْدَاءِ اكْشِفْ لَنَا عَنْ لِثَامِكَ .

اې شاه سواره ! الله ﷻ دې تا ته خېر درکړي ته څوک يې چې تا خپل ځان د قربانۍ د پاره د الله ﷻ په لار کښې پيش کړې دی او په دشمن باندې غالب شوې يې ؟ ته خو مونږ ته خپل نوم اُوښايه .

دې شاه سوار دوی ته هيڅ جواب ورنکړو ، ورنه روان شو ، او بيا د کافرانو په لښکر کښې ورننوت ، ډير رُوميان يې قتل کړل ، کله چې بيا راغی نو مسلمانانو ورته ووېل : اې مُعزز سريه ! دا ته څوک يې چې زمونږ اَمير "خالد بن وليد ﷺ " درسره خبرې کوي او ته ورنه اِعراض کوې ؟ خپل نوم ورته اُوښايه . ده ورته هيڅ جواب ورنکړو ، او ورنه روان شو .

حضرت خالد ﷺ په خپله ورغی او پوښتنه يې ورنه اوکړه :

وَيْحَكَ لَقَدْ شَغَلْتَ قُلُوْبَ النَّاسِ وَقَلْبِيْ بِفِعْلِكَ ، مَنْ أَنْتَ ؟

تعجب دی په تا باندې ، دا ته څوک يې ؟ تا په دې خپله بهادرۍ سره د مسلمانانو او زما زړه بې آرامه کړې دی .

کله چې حضرت خالد ﷺ ډير اِصرار اوکړو نو دې شاه سوار ورته د زَنانهٔ په لهجه کښې ووېل :

اِنَّنِيْ يَا أَمِيْرُ لَمْ أُعْرِضْ عَنْكَ إِلَّا حَيَاءً مِنْكَ لِأَنَّكَ أَمِيْرٌ جَلِيْلٌ وَأَنَا مِنْ ذَوَاتِ الْخُدُوْرِ وَبَنَاتِ السُّتُوْرِ ، وَإِنَّمَا حَمَلَنِيْ عَلٰى ذٰلِكَ انِّيْ مُحْرَقَةُ الْكَبِدِ زائدة الكمدِ .

اې اميره! ما د تا نه د نافرمانۍ د وجې اِعراض نه دې کړی، بلکه ماته د تا نه حَياء راځي، ځکه ته د مسلمانانو عظيم اَمير يې، او زه يوه زَنانه يم، زه دې ميدان ته د خپل زړه او ځيګر دَرد راوستې يم.

حضرت خالد ﷺ ورته ووېل: ته څوک يې؟ دې ورته ووېل:

أَنَا خَوْلَةُ بِنْتُ الْأَزْوَرِ اَلْمَأْسُوْرُ بِيَدِ الْمُشْرِكِيْنَ أَخِيْ، وَهُوَ ضِرَارٌ.

زه خوله بنت اَزوَر يم، مشرکينو زما ورور حضرت ضرار ﷺ نيولې دی.

ماته دا اطلاع را اُورسيده چې ضرار ﷺ کافرانو قيد کړی نو زه راغلم، او د دوی سره مې دغه کار اوکړو.

حضرت خالد ﷺ ورته ووېل: مونږ په يو ځل په دوی حمله کوو زمونږ د الله ﷻ نه دا اُميد دی چې ستا ورور راخلاص کړو.

بيا حضرت خالد ﷺ په کافرانو باندې په يو ځل حمله اوکړه، په دې حمله کې هم حضرت خوله رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د لښکر مخکې وه.

رُوميانو چې د حضرت خوله رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا سختې حملې اوليدې نو وې ووېل:

إِنْ كَانَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ مِثْلَ هٰذَا الْفَارِسِ فَمَا لَنَا بِهِمْ مِنْ طَاقَةٍ.

که چېرته مسلمانان ټول د دې شاه سوار په شان بهادران وي نو بيا خو زمونږ هيڅ کله د دوی سره د مقابلې طاقت نشته.

بهر حال، بيا مسلمانانو کافرانو ته شکست ورکړو او حضرت ضرار ﷺ يې هم د کافرانو د قيد نه راخلاص کړو.(۱)

---

(۱) .... فبينما خالد ﷺ يترنم بهذه الأبيات، إذ نظر إلى فارسٍ على فرس طويل وبيده رمح طويل وهو لا يبين منه إلا الحدق والفروسية تلوح من شمائله، وعليه ثياب سود وقد تظاهر بها من فوق لامته، وقد خرم وسطه بعمامة خضراء وسحبها على صدره ومن ورائه، وقد سبق أمام الناس كأنه نار. فلما نظره خالد قال: ليت شعري من هذا الفارس؟ وايم الله إنه لفارس شجاع. ثم اتبعه خالد والناس وكان هذا الفارس اسبق الناس المشاركين، قال: وكان رافع بن عميرة الطائي رضي الله عنه في قتال المشركين وقد صبر لهم هو ومن معه إذ نظر خالدا وقد أنجده هو ومن معه من المسلمين ونظر إلى الفارس الذي وصفناه وقد حمل على عساكر الروم كأنه النّار المحرقة ←←←←←←

# اُمِّ اَبان رَضِيَ اللهُ عَنهَا د شام په جنګونو کې ډېر کافران په خپل لاس اووژل

حضرت اُمِّ اَبان رَضِيَ اللهُ عَنهَا ډيره زړه ورَه او بهادره زَنانه وه ، دې د شام په ډيرو جنګونو کې حصه اخيستې وه او ډير کافران يې په خپل لاس وژلي . ددې د واده ډير لږ وخت شوې وُ د لاس نکريزې يې هم نه وې لرې شوی چې ددې خاوند په جهاد کې شهيد شو . دا خاوند ته راغله ، وې کتلو ، او د هغې نه روستو يې په کافرانو سختې حملې اوکړی او کومو کافرانو

←←← فزعزع كتائبهم وحطم مواكبهم، ثم غاب في وسطهم . فما كانت إلا جولة الجائل حتى خرج وسنانه ملطخ بالدماء من الروم وقد قتل رجالا وجندل أبطالا وقد عرض نفسه للهلاك ثم اخترق القوم غير مكترث بهم ولا خائف وعطف على كراديس الروم في الناس وكثر قلقهم عليه . فأما رافع بن عميرة ومن معه فما ظنوا إلا إنّه خالد وقالوا: ما هذه الحملات إلا لخالد . فهم على ذلك إذ أشرف عليهم رضي الله عنه وهو في كبكبة من الخيل . فقال رافع بن عميرة مَنِ الفارس الذي تقدم أمامك ؟ فلقد بذل نفسه ومهجته . فقال خالد: والله انني أشد إنكارا منكم له ولقد أعجبني ما ظهر منه ومن شمائله . فقال رافع : أيها الأمير إنّه منغمسٌ في عسكر الروم يطعن يمينا وشمالا . فقال خالد: معاشر المسلمين احملوا بأجمعكم وساعدوا المحامي عن دين الله . قال فأطلقوا الأعنة وقوموا الاسنة والتصق بعضهم ببعض وخالد أمامهم إذ نظر إلى الفارس وقد خرج من القلب كأنّه شعلة نار والخيل في أثره وكلما لحقت به الروم لوى عليهم وجندل فعند ذلك حمل خالد ومن معه ووصل الفارس المذكور إلى جيش المسلمين . قال فتأملوه فرأوه قد تخضب بالدماء . فصاح خالد والمسلمون : لله درّك من فارس بذل مهجته في سبيل الله وأظهر على الأعداء اكشف لنا عن لثامك . قال فمال عنهم ولم يخاطبهم وانغمس في الروم . فتصايحت به الروم من كل جانب وكذلك المسلمون وقالوا: أيها الرجل الكريم أميرك يخاطبك وأنت تعرض عنه اكشف عن اسمك وحسبك لتزداد تعظيما . فلم يرد عليهم جوابا . فلما بعد عن خالد رضي الله عنه سار إليه بنفسه وقال له: ويحك لقد شغلت قلوب النّاس وقلبي بفعلك من أنت؟ قال : فلما لج عليه خالد خاطبه الفارس من تحت لثامه بلسان التأنيث وقال: انني يا أمير لم أعرض عنك إلا حياء منك لانك أمير جليل وأنا من ذوات الخدور وبنات الستور وإنما حملني على ذلك إني محرقة الكبد زائدة الكمد . فقال لها: من أنتِ ؟ قالت : أنا خولة بنت الأزور المأسور بيد المشركين أخي وهو ضرار وإني كنت مع بنات العرب وقد أتاني الساعي بأنّ ضرار أسير فركبتُ وفعلتُ ما فعلتُ . قال خالد : نحمل بأجمعنا ونرجو من الله أن نصل إلى أخيك فنفكه . قال عامر بن الطفيل : كنتُ عن يمين خالد بن الوليد رضي الله عنه حين حملوا ، وحملتْ خولة أمامه ، وحمل المسلمون ، وعظم على الرّوم ما نزل بهم من خولة بنت الأزور ، وقالوا : إن كان القوم كلّهم مثل هذا الفارس فما لنا بهم من طاقة . فتوح الشام ج ۱ ص ۴۰ خولة بن الأزور طبع دار الكتب العلمية بيروت .

چې ددې خاوند شهید کړي وُ په هغې کې يې ډير په خپل لاس باندې مردار کړل.

سبحان الله ، په اُمتِ مسلمه کې داسې بهادرې زَنانه تېرې شوي چې د خپل سَر په قربانولو سره يې د اسلام دِفاع کړی ، او داسې په جُرأت سره په ميدانِ جنګ کې جنګيدلي چې تر اوسه ورته دُنيا حيرانه ده ، په دې کې د نن دوَر ځوانانو د پاره هم ډير لوي عبرت پروت دی ، چې زَنانه اګرچې د خِلقت په اعتبار سره کمزورې دي خو بيا يې هم په بهادرۍ سره جهاد کړی ، نو بيا د نن دوَر تکړه ځوانان ولې د جهاد نه شاته پاتې کيږي ؟

## مسلمانانو ته د جهاد ترغيب ورکولو او راپارَنګېخته کولو فضيلت

جهاد داسې بهترين عبادت دی چې کوم کس نورو مسلمانانو ته د جهاد ترغيب ورکوي، مسلمانان په جهاد باندې راتېزوي نو په اسلام کې ددې هم ډير فضيلت بيان شوی.

الله ربّ العزت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ﴾. (۱)

ترجمه : اې پېغمبره ! ته مؤمنان جنګ ته را اُوچت کړه ( يعنی مسلمانانو ته د جهاد ترغيب ورکړه ) .

په قرآن کې ځای په ځای په خپله الله ﷻ مسلمانانو ته دجهاد ترغيب ورکړی :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۞ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۞ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾. (۲)

ترجمه : اې مؤمنانو ! آيا زه تاسو ته داسې تجارت اُوښايم چې هغه تاسو ته د دَردناک عذاب نه نِجات درکړي ؟ ( هغه تجارت دادی چې ) تاسو په الله او د هغه په رسول باندې

(۱) الانفال آية ٦٥.

(۲) الصف آية ١٠-١٢.

ایمان راوړئ ، او د الله په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوکړئ ، همدا ستاسو د پاره ډیر بهتر دی که چیرته تاسو پوهیږی. الله ﷻ به ستاسو ګناهونه اُوبخي او تاسو به داسې (د جنت) باغونو ته داخل کړي چې د هغې لاندې به وَلې بَهیږي ، او داسې پاکیزه مَحلونو ته (به مو داخل کړي) چې هغه د همیشه پاتې کیدو باغونو کې آباد دي ، همدا لویه کامیابي ده.

## ترغیب ورکوونکي ته دمجاهد هومره ثواب

بل داچې څوک بل ته د جهاد ترغیب ورکړي او هغه جهاد ته لاړ شي نو هغه مجاهد ته چې الله ﷻ د جهاد څومره ثواب ورکوي همدومره به ده ته هم ورکوي او د هغه په ثواب کې به هیڅ کمي نه راځي.

د مسلم شریف او ابوداؤد شریف حدیث دی ، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ. (١)

څوک چې چاته د خیر لاره اُوښایي نو ده ته به هم د هغه کار کوونکي هومره اَجر ملاویږي.

## د جهاد اسباب

په آخِر کې درته د جهاد اَسباب ذکر کوم ، کله چې په دې اَسبابو کې یو سبب موجود شي نو بیا په مسلمانانو باندې جهاد فرض دی:

١. کله چې کافران د مسلمانانو په څه علاقه باندې حمله اوکړي یا قبضه اوکړي نو د ځان د دِفاع او د دوی واپس کولو د پاره جهاد فرضِ عَین دی. (٢)

---

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ إِعَانَةِ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ بِمَرْكُوبٍ وَغَيْرِهِ رقم الحديث ١٣٣ (١٨٩٣) ، سنن ابي داؤد بَابٌ فِي الدَّالِّ عَلَى الْخَيْرِ رقم الحديث ٥١٢٩ ، الادب المفرد للبخاري رقم الحديث ٢٤٢ باب الدار على الخير ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ٢٨٩ ، و رقم ١٦٦٧ ، مشكاة المصابيح كتاب العلم الفصل الاول رقم الحديث ٢٠٩ (١٢) ، مسند احمد رقم الحديث ١٧٠٨٤ ، و رقم ٢٢٣٣٩ ، و رقم ٢٢٣٥١.

(٢) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ۝ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ﴾. البقرة آية ١٩٠ ، ١٩١.

۲. تر څو پورې چې په مخ د زمکه باندې د کافرانو رُعب او دَبدبه وي او فتنې پيدا کوي نو تر هاغه وخته پورې به جهاد فرض وي تر دې چې اسلام په ټوله دُنيا غالب شي. (۱)

۳. تر څو پورې چې کافرانو اِيمان نه وي راوړی يا يې جِزيه نه وي قبوله کړې نو تر هاغې وخته پورې به ورسره جهاد کولې شي. (۲)

۴. کله چې په کمزورو مسلمانانو باندې د کافرانو د طرفه ظلم کيږي نو د دوی د مدد د پاره جهاد فرض دی. (۳)

۵. د کافرانو نه د شهيدانو بَدله اخيستلو د پاره جهاد فرض دی. (۴)

٦. کافران چې د مسلمانانو سره يوه مُعاهده اوکړي او بيا يې ماته کړي نو د دوی سره هم جهاد فرض دی. (۵)

نن صبا دا ټول اَسباب موجود دي: ځکه په ډيرو اِسلامي ملکونو باندې کافرانو حمله کړې، لکه په افغانستان، فلسطين، چيچنيا وغيره.

---

(۱) الله تعالى فرمايي: ﴿ وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ﴾. البقرة آية ۱۹۳.

(۲) الله تعالى فرمايي: ﴿ قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴾. التوبة آية ۲۹.

(۳) الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴾. النساء آية ۷۵.

(۴) په احاديثو کې ددې ډيرې نمونې موجود دي: ۱. نبي عليه السلام چې د عُمرې اداء کولو د پاره مکې ته روان شو، په لاره کې کافرانو منع کړو نو پيغمبر عليه السلام حضرت عثمان ﷺ مکې ته سفير اُوليږل چې هغوی ته اووايه: مونږ د جنګ د پاره نه يو راغلي بلکه د عُمرې اَداء کولو د پاره راغلي يو، هلته کافرانو حضرت عثمان ﷺ حِصار کړو، مسلمانانو ته اِطلاع راغله چې کافرانو حضرت عثمان ﷺ شهيد کړی (حالانکه شهيد کړې يې نه وُ صرف حِصار کړې يې وُ) نو نبي عليه السلام د حضرت عثمان ﷺ بَدله اخيستلو د پاره د څوارلس سوه (۱۴۰۰) صَحابه کرامو نه د جهاد او مرګ بيعت واخيست، کله چې د مکې کافران خبر شو نو حضرت عثمان ﷺ يې واپس راپريخود. ۲. غزوه موته ته چې نبي عليه السلام درې زره (۳۰۰۰) صحابه کرام د جهاد د پاره ليږلي وو نو دا ځکه چې هغوی يو صحابي شهيد کړې وُ (پوره واقعه د سِيرة او تاريخ کتابونو کې ذکر ده) پس معلومه شوه چې د کافرانو نه د شهيدانو بدله اخيستلو د پاره جهاد فرض دی.

(۵) الله تعالى فرمايي: ﴿ وَاِنْ نَّكَثُوْا اَيْمَانَهُمْ مِّنْ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ فَقَاتِلُوْا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ اِنَّهُمْ لَا اَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴾. التوبة آية ۱۲.

په مخ د زمکه د کافرانو زرر او قوّت دی ، په هر ځای کې یې فِتنې او فسادات جوړ کړي، په هر ځای په مسلمانانو باندې ظلم کوي.

بې گناه مسلمانان شهیدانوي . لکه په افغانستان ، بَرما ، چیچنیا ، فلسطین ، کشمیر او نورو ځایونو کې یې په لکونو بې گناه مسلمانان شهیدان کړل ، او کومې معاهدې چې د وی د مسلمانانو سره کړې وی هغه ټولې یې ماتې کړي .

نو لهذا په دې وخت کې ددې کافرانو ذلیله کولو ، د اسلامي ملکونو نه د ویستلو ، او د شهیدانو بدله اخیستلو د پاره جهاد فرضِ عَین دی.

په کومو ملکونو باندې چې کافرانو حمله کړې وي نو اول خو صرف د هماغه ځای په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین دی ، خو که د هاغه ځای مسلمانانو ددې کافرانود مقابلې طاقت نه شو لرلی یا یې د سستۍ په وجه جهاد نه کولو نو بیا ورسره په څنگ کې نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې هم جهاد فرضِ عَین دی ، تر دې پورې که دُشمن ډیر قوي وُ نو بیا ترتیب وار مشرق او مغرب پورې په ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین دی . (١)

---

(١) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللهُ : ( وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَيَخْرُجُ الْكُلُّ وَلَوْ بِلَا إِذْنٍ ) وَيَأْثَمُ الزَّوْجُ وَنَحْوُهُ بِالْمَنْعِ . الدرالمختار . قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ : ( قَوْلُهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ ) أَيْ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ . فَإِنْ عَجَزُوا أَوْ تَكَاسَلُوا فَعَلَى مَنْ يَلِيهِمْ حَتَّى يُفْتَرَضَ عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِينَ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار على الدر المختار ١٢٦/٤ كِتَابُ الجِهَادِ .

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمُوا عَلَى ثَغْرٍ مِنْ ثُغُورِ الْإِسْلَامِ ، فَيَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ قَرُبَ مِنْهُمْ ، وَهُمْ يَقْدِرُونَ عَلَى الجِهَادِ . وَنَقَلَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ عَنِ الذَّخِيرَةِ : أَنَّ الجِهَادَ إِذَا جَاءَ النَّفِيرُ إِنَّمَا يَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ ، فَأَمَّا مَنْ وَرَاءَهُمْ بِبُعْدٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ عَلَيْهِمْ ، حَتَّى يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ إِذَا لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِمْ . فَإِنْ اُحْتِيجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ لَمْ يَعْجِزُوا عَنْهَا لٰكِنَّهُمْ تَكَاسَلُوا وَلَمْ يُجَاهِدُوا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ ، لَا يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَى جَمِيعِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ . رد المحتار على الدر المختار ١٢٣/٤ كِتَابُ الجِهَادِ مَطْلَبٌ فِي الفَرْقِ بَيْنَ فَرْضِ العَيْنِ وَفَرْضِ الكِفَايَةِ

# خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې جهاد د اِسلام اَهم حُکم دی، د دينه مُنکر کافر دی، په جهاد کې د اِسلام قوّت او باقي والې پروت دی، دا د اسلامي احکاماتو نافذولو لويه ذريعه ده، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم لس (۱۰) کاله مدَني دوَر اکثره په جهاد کې تېر کړی، په خپله په ميدانِ جنګ کې جنګيدلی، په خپل لاس يې کافر مردار کړی، او په جهاد کې زخمي شوې هم دی.

د قرآن کريم مستقل سورتونه د جهاد په باره کې نازل شوي، په زَرهاوُ احاديث د جهاد په باره کې راغلي، علماوُ په دې باندې مستقل کتابونه ليکلي.

په قرآن کريم او احاديثو کې د جهاد ډېر اَهميت بيان شوی:

دا افضل ترين عبادت دی، دا حاجيانو ته د اُوبو ورکولو او مسجدِ حرام جوړولو نه هم ډېر بهتر دی، جهاد د نفلي حجونو نه ډېر افضل دی، ډېرو صحابه کرامو د جهاد د پاره نفلي عُمرې پريخي، حضرت بلال ﷺ د جهاد د پاره آذان پريخی، نبي عليه السلام جهاد ته په بل هيڅ ځيز باندې فضيلت ندې ورکړی او جهاد سره يې برابر بل هيڅ عمل ندې ګرځولی.

په جهاد کې سهر يا ماښام وخت تيرول د دُنيا او مَافِيها نه ډېر بهتر دی، په جهاد کې لږ وخت تيرول په کور کې د اَويا (۷۰) کاله عبادت نه ډېر بهتر دی، جهاد ته په اسلام کې اُوچت مقام حاصل دی، نبي عليه السلام په مرضُ الوفات کې هم اسلامي لښکر جهاد ته ليږلی، د جهاد په صَف کې اُودريدل الله ﷻ ته محبوب ترين عمل دی، د جهاد په صف کې اُودريدل الله ﷻ ته د شپيتو (۶۰) کالو عبادت نه ډېر بهتر دی او د داسې کس دُعاګانې هم قبليږي.

د صحابه کرامو د جهاد سره ډېره مِينه وه، هر کس جهاد ته د تللو کوشش کولو، تر دې چې بعضې صحابه کرام شرعي مَعذور (بيماران، ګډ، نابينا او بوډاګان) وو خو بيا يې هم په جهاد کې شرکت کړی او د شهادت لوي مقام يې حاصل کړی.

حتّى چې کشرانو صحابه کرامو هم جهاد ته د تللو کوشش کولو ، اګر چې نبي عليه السلام به دوی واپس کول خو دوی به بيا هم په مختلفو طريقو سره کوشش کولو چې په جهاد کې شريک شي .

همدارنګې ډيرو زنانه وُ هم په خپل سَر قربانولو سره په جهاد کې شرکت کړی ، خپل بچي يې جهاد ته ليږلي ، خپل مال يې په جهاد کې ورکړی ، تر دې چې د خپل سَر ويښتان يې هم د جهاد په چانده کې ورکړي ددې د پاره چې مجاهدين ورنه خپلو آسونو له رَسۍ (واګې) جوړې کړي .

ډيرې زَنانه په خپله په پوره بهادرۍ سره په ميدانِ جنګ کې جنګيدلي ، بې شميره د کافرانو لوي بهادران او شاه سواران يې په خپل لاس مردار کړي .

قرآن کريم هم مسلمانانو ته ځای په ځای د جهاد ترغيب ورکړی ، په احاديثو مبارکهٔ هم جهاد ته ترغيب ورکوونکي د پاره ډير اجرونه ذکر شوي ، تر دې جهاد ته ترغيب ورکوونکي ته به هم د مجاهد هومره ثواب ملاويږي .

## دُعا

الله ربّ العزت دې زمونږ په زړونو کې هم د جهاد جذبه واچوي چې په صحيح طريقې سره د کافرانو په مقابله کې اُوجنګيږو ، ربِّ کائنات دې بيا په مسلمانانو کې د جهاد ربښتيني مِينه راپيدا کړي چې د اسلام دا اَهمه فريضه دوباره راژوندۍ کړي ، او اسلامي نِظام په ټوله دُنيا باندې قائم کړي ، او بيا هم د مخکې په شان کافران ذليله او مغلوب کړي .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِين .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾

التوبة آية ١١١.

# د جهاد فضائلِ، فوائدِ او حکمتونه

**تالیف**


آبوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

# نوټ

دا موضوع مې په درې (۳) غټو عُنواناتو باندې تقسيم کړې :


۱ . د جهاد فضائل ، فوائد او حِکمتونه صفحه ۹۰

۲ . د اسلامي سرحداتو د حفاظت او پِهره دارۍ فضائل صفحه ۱۲۳

۳ په جهاد کې د روژې نيولو فضائل صفحه ۱۴۱

او ورسره په جهاد کې د زخمي کيدو اَجرونه صفحه ۱۴۶


که په هره جُمعه دا ځانله ځانله عُنوان بيان شي نو هم صحيح ده ، او که مقرِّرسره وخت زيات وي نو ټوله موضوع په يوه جُمعه هم بيانولې شي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جهاد فضائل ، فوائد او حكمتونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه ، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه ،

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ ﴾ .(١)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ .(٢)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَاعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ . (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

---

(١) التوبة آية ١١١ .

(٢) النساء آية ٧٤ .

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ : اَلْجَنَّةُ تَحْتَ بَارِقَةِ السُّيُوْفِ رقم الحديث ٢٨١٨ ، و رقم ٢٩٦٦ ، و رقم ٣٠٢٤ . صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ كَرَاهَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءِ الْعَدُوِّ ، وَالْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ اللِّقَاءِ رقم الحديث ١٧٤٢ . سنن ابي داود كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ كَرَاهِيَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءَ الْعَدُوِّ رقم الحديث ٢٦٣١ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا ذُكِرَ أَنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ رقم الحديث ١٦٥٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ وَدُعَائِهِمْ إِلَى الْإِسْلَامِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٣٩٣٠ (٥) .

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! جهاد د اسلام آهم حُکم او الله ﷻ ته محبوب ترين عمل دی ، په قرآن کريم او احاديثو کې د جهاد ډير فضائل ، فوائد او حِکمتونه بيان شوي ، هغه ټول په دې مختصر وخت کې بيانول ممکن ندي ، خو زه به درته صرف يو څو غټ فضائل او فوائد ذکر کړم :

## په جهاد کولو سره د جنت مستحق کيدل

په جهاد کولو سره انسان د جنت مستحق کيږي . الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي ، دوی د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې جنګيږي ، پس دوی کافران وژني ، او دوی هم وژلې شي ، دا ( په جهاد باندې د جنت وعده ) د الله په ذِمه رښتينې وعده ده چې په تورات ، اِنجيل او قرآن مجيد کې ذکر ده ، او د الله ﷻ نه زيات د خپلې وَعدې پوره کوونکې بل څوک دی ؟ پس تاسو په خپله هغه بيعَه ( سَوداء ) باندې خوشحاله اُوسئ کومه چې تاسو د الله سره اوکړه ، او همدا ( جنت ملاويدل ) لويه کاميابي ده .

## د آيت تشريح

په دې آيت کې مسلمانانو سره د جهاد کولو په عِوض کې د جنت وعده شوې ده ، او په دې باندې په دې آيت کې ډير تاکيدات هم ذکر شوي .

(۱) التوبة آية ۱۱۱ .

امام رازي رحمه الله په "تفسيرِ کبير" کې ذکر کړي چې په دې آيت کې په دې خبره باندې لس(۱۰) تاکيدات ذکر دي .(۱)

**د جان و مال په عِوض کې جنت ورکول د الله ﷻ مهرباني ده :** اګر چې په حقيقت کې د مسلمانانو ځانونه او مالونه هم د الله ﷻ دي ، خو دا د الله ﷻ لويه مهرباني ده چې بيا هم مونږ ته جان و مال سره جهاد کولو په عِوض کې جنت راکوي ، او ددينه يې تعبير په بَيعې سره اوکړو .

ګويا الله تعالی زمونږ د جان و مال اخيستونکې دی ، مونږ ورباندې خرڅوونکي يو ، او ددې قيمت مونږ ته جنت راکوي ، نو دا يقيني ګټه وَره بَيعه ده ، ځکه خو حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ اوفرمايل :

اِسْمَعُوْا وَاللهِ بَيْعَةٌ رَابِحَةٌ وَكَفَّةٌ رَاجِحَةٌ . بَايَعَ اللهُ بِهَا كُلَّ مُؤْمِنٍ . وَاللهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ إِلَّا وَقَدْ دَخَلَ فِيْ هٰذِهِ الْبَيْعَةِ . (۲)

---

(۱) وَاعْلَمْ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ مُشْتَمِلَةٌ عَلَى أَنْوَاعٍ مِنَ التَّأْكِيْدَاتِ : فَأَوَّلُهَا : قَوْلُهُ ﴿إِنَّ اللهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ﴾ فَيَكُوْنُ الْمُشْتَرِيْ هُوَ اللهُ الْمُقَدَّسُ عَنِ الْكَذِبِ وَالْخِيَانَةِ . وَ ذٰلِكَ مِنْ أَدَلِّ الدَّلَائِلِ عَلَى تَأْكِيْدِ هٰذَا الْعَهْدِ . وَالثَّانِيْ : أَنَّهُ عَبَّرَ عَنْ إِيْصَالِ هٰذَا الثَّوَابِ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ . وَ ذٰلِكَ حَقٌّ مُؤَكَّدٌ . وَثَالِثُهَا : قَوْلُهُ : ﴿وَعْدًا﴾ وَوَعْدُ اللهِ حَقٌّ . وَرَابِعُهَا : قَوْلُهُ : ﴿عَلَيْهِ﴾ وَكَلِمَةُ "عَلَى" لِلْوُجُوْبِ . وَخَامِسُهَا : قَوْلُهُ : ﴿حَقًّا﴾ وَهُوَ التَّأْكِيْدُ لِلتَّحْقِيْقِ . وَسَادِسُهَا : قَوْلُهُ : ﴿فِي التَّوْرٰىةِ وَالْإِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ﴾ وَذٰلِكَ يَجْرِيْ مَجْرَى إِشْهَادِ جَمِيْعِ الْكُتُبِ الْإِلٰهِيَّةِ وَجَمِيْعِ الْأَنْبِيَاءِ وَالرُّسُلِ عَلَى هٰذِهِ الْمُبَايَعَةِ . وَسَابِعُهَا : قَوْلُهُ ﴿وَمَنْ أَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللهِ﴾ وَهُوَ غَايَةٌ فِي التَّأْكِيْدِ . وَثَامِنُهَا : قَوْلُهُ ﴿فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ﴾ وَهُوَ أَيْضًا مُبَالَغَةٌ فِي التَّأْكِيْدِ . وَتَاسِعُهَا : قَوْلُهُ ﴿وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ﴾ وَعَاشِرُهَا : قَوْلُهُ ﴿الْعَظِيْمُ﴾ فَثَبَتَ اشْتِمَالُ هٰذِهِ الْآيَةِ عَلَى هٰذِهِ الْوُجُوْهِ الْعَشَرَةِ فِي التَّأْكِيْدِ وَالتَّقْرِيْرِ وَالتَّحْقِيْقِ . التفسير الكبير ۱۶/ ۱۵۲ سورة التوبة آية ۱۱۱ .

(۲) امام رازي رحمه الله ددې آيت په تشريح کې ذکر کړي ، اَلْمَسْأَلَةُ الثَّانِيَةُ : قَالَ أَهْلُ الْمَعَانِيْ : لَا يَجُوْزُ أَنْ يَشْتَرِيَ اللهُ شَيْئًا فِي الْحَقِيْقَةِ لِأَنَّ الْمُشْتَرِيَ إِنَّمَا يَشْتَرِيْ مَا لَا يَمْلِكُ . ←←←←←←←←←

واورئ ، قسَم په الله دا خو ډيره ګټه وَره او فائده مَنده بَيعه ده ، الله تعالی هر مؤمن سره ددې بَيعه کړې ، قسَم په الله په مخ د زمکه هر مؤمن په دې بَيعه کې داخل دی .

**ددې آيت په اوريدو د يو أعرابي خبره :** يو أعرابي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره څنګ کې تېرشو ، پيغمبر عليه السلام همدا آيت تلاوت کولو :

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ..... ﴾

اعرابي پوښتنه اوکړه : كَلَامُ مَنْ هٰذَا ؟ دا د چا کلام دی ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : كَلَامُ اللّٰهِ . دا د الله ﷻ کلام دی .

اعرابي وويل : بَيْعٌ وَاللّٰهِ مُرْبِحٌ لَا نُقِيْلُهُ وَلَا نَسْتَقِيْلُهُ . فَخَرَجَ إِلَى الْغَزْوِ وَاسْتُشْهِدَ .

قسَم په الله ، دا خو ډيره د ګټې سَوداء ده ، نه به مونږ په خپله دا بَيعه فسخه (ماته) کړو ،

---

←←←← وَلِهٰذَا قَالَ الْحَسَنُ رَحِمَهُ اللّٰهُ : إِشْتَرٰى أَنْفُسًا هُوَ خَلَقَهَا ، وَأَمْوَالًا هُوَ رَزَقَهَا . لٰكِنْ هٰذَا ذَكَرَهُ تَعَالٰى لِحُسْنِ التَّلَطُّفِ فِي الدُّعَاءِ إِلَى الطَّاعَةِ ، وَحَقِيْقَةُ هٰذَا ، أَنَّ الْمُؤْمِنَ مَتٰى قَاتَلَ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يُقْتَلَ . فَتَذْهَبَ رُوْحُهُ ، وَيُنْفِقَ مَالَهُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ ، أَخَذَ مِنَ اللّٰهِ فِي الْآخِرَةِ الْجَنَّةَ جَزَاءً لِمَا فَعَلَ . فَجَعَلَ هٰذَا اسْتِبْدَالًا وَشِرَاءً . هٰذَا مَعْنٰى قَوْلِهِ : إِشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ أَيْ بِالْجَنَّةِ . وَكَذَا قِرَاءَةُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَالْأَعْمَشِ . قَالَ الْحَسَنُ رَحِمَهُ اللّٰهُ : إِسْمَعُوْا وَاللّٰهِ بَيْعَةٌ رَابِحَةٌ وَكَفَّةٌ رَاجِحَةٌ . بَايَعَ اللّٰهُ بِهَا كُلَّ مُؤْمِنٍ ، وَاللّٰهِ مَا عَلَى الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ إِلَّا وَقَدْ دَخَلَ فِي هٰذِهِ الْبَيْعَةِ . وَقَالَ الصَّادِقُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « لَيْسَ لِأَبْدَانِكُمْ ثَمَنٌ إِلَّا الْجَنَّةُ فَلَا تَبِيْعُوْهَا إِلَّا بِهَا » . وَقَوْلُهُ : وَأَمْوَالَهُمْ يُرِيْدُ الَّتِيْ يُنْفِقُوْنَهَا فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ وَعَلٰى أَنْفُسِهِمْ وَأَهْلِيْهِمْ وَعِيَالِهِمْ . التفسير الكبير ۱۶ / ۱۵۰ سورة التوبة آية ۱۱۱ .

امام قرطبي رحمه الله ذکر کړي : أَصْلُ الشِّرَاءِ بَيْنَ الْخَلْقِ أَنْ يُعَوِّضُوْا عَمَّا خَرَجَ مِنْ أَيْدِيْهِمْ مَا كَانَ أَنْفَعَ لَهُمْ أَوْ مِثْلَ مَا خَرَجَ عَنْهُمْ فِي النَّفْعِ . فَاشْتَرَى اللّٰهُ سُبْحَانَهُ مِنَ الْعِبَادِ إِتْلَافَ أَنْفُسِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ فِي طَاعَتِهِ ، وَإِهْلَاكَهَا فِي مَرْضَاتِهِ ، وَأَعْطَاهُمْ سُبْحَانَهُ الْجَنَّةَ عِوَضًا عَنْهَا إِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ . وَهُوَ عِوَضٌ عَظِيْمٌ لَا يُدَانِيْهِ الْمُعَوَّضُ وَلَا يُقَاسُ بِهِ . فَأَجْرٰى ذٰلِكَ عَلٰى مَجَازِ مَا يَتَعَارَفُوْنَهُ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ [ فَمِنَ الْعَبْدِ تَسْلِيْمُ النَّفْسِ وَالْمَالِ ، وَمِنَ اللّٰهِ الثَّوَابُ وَالنَّوَالُ ، فَسُمِّيَ هٰذَا شِرَاءً ] . وَرَوَى الْحَسَنُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ فَوْقَ كُلِّ بِرٍّ بِرٌّ حَتّٰى يَبْذُلَ الْعَبْدُ دَمَهُ فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ فَلَا بِرَّ فَوْقَ ذٰلِكَ . الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۸ / ۲۶۷ سورة التوبة آية ۱۱۱ .

او نه به یې د الله ﷻ نه د فسخ کولو غوښتنه اوکړو .

اعرابي دا خبره اوکړه او جهاد ته روان شو ، تر هاغې وخته پورې د کافرانو سره جنګیدو چې آخر شهید شو . (۱)

# د سَوداء قیمتي کیدو پته د درې شیانو نه معلومیږي

د سَوداء (بَیعې) قیمتي کیدو پته د درې شیانو نه معلومیږي :

۱ . د اخیستونکي د عظمت نه . یعنی چې کله اخیستونکې عظیم وي نو د دینه د دې بَیعې عظمت معلومیږي ، ځکه عظیم کس هیڅ کله بې کاره څیز نه اخلي .

۲ . د دَلال د عظمت نه . یعنی چې کله د اخیستونکي او خرڅوونکي په مینځ کې واسطې واله کس عظیم وي نو د دینه هم د دې بَیعې عظمت معلومیږي ، ځکه د اُوچتې مرتبې کس هیڅ کله د معمولي څیز په خرڅولو کې دَلال ( واسطه ) نه جوړیږي .

۳ . د قیمت د عظمت نه . یعنی کله چې د یو څیز قیمت عظیم وي نو په دې سره هم د دې بَیعې عظمت معلومیږي ، ځکه په کمزوري څیز باندې خلق غټ قیمت نه ورکوي .

د تېر شوي آیت نه معلومه شوه چې د مؤمنانو د جان و مال اخیستونکي په خپله الله ﷻ دی ، په دې مینځ کې واسطه رسولُ الله صلی الله علیه وسلم دی ، او د دې قیمت جنت دی . (۲)

---

(۱) قَالَ الحَسَنُ رَحِمَهُ اللَّهُ : وَمَرَّ أَعْرَابِيٌّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ هٰذِهِ الآيَةَ ﴿ إِنَّ اللهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ...﴾ فَقَالَ : كَلَامُ مَنْ هٰذَا ؟ قَالَ : كَلَامُ اللهِ . قَالَ : بَيْعٌ وَاللهِ مُرْبِحٌ لَا نُقِيلُهُ وَلَا نَسْتَقِيلُهُ . فَخَرَجَ إِلَى الْغَزْوِ وَاسْتُشْهِدَ . تفسير القرطبي ۸/۲۶۸ سورة التوبة آية ۱۱۱ .

(۲) نفاسة السلعة تعرف بثلاثة أشياء : بعظم المشتري . لأنّ العظيم القدر لا يباشر في العادة مشتري الأشياء الخسيسة بنفسه ، ولا ينسب إليه شراءها . وتعرف بجلالة الدلّال . لأنّ الدلّال الكبير لا يسمسر على الأشياء الحقيرة . وتعرف بعظم الثمن . لأنّ الشيء الحقير لا يدفع فيه الثمن الخطير . فانظر الى نفوس الشهداء والمجاهدين كيف اشتراها سبحانه بنفسه الشريفة وجعل السمسار عليها أشرف خلقه اجمعين ، و جعل ثمنها الجنة في جوار رب العالمين و ناهيك بهذا شرفًا لم ينله غيرهم ، و فضلًا لم يصل إليه سواهم . مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۲ ص ۸۴۲ الباب الثاني والثلاثون .

لهذا په جان و مال سره جهاد کول بهترين عبادت دی ، او ددې په عِوض کې انسان ته جنت ملاويږي .

## الله ﷻ سره د جان و مال بَيعه

کله چې الله تعالی مؤمنانو ته په مذکوره آيت کې خبر ورکړو چې :

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم ﴾ .

ترجمه : بيشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي .

نو ګويا دوی الله ﷻ ته عرض اوکړو : اې زمونږه ربه ! ددې قيمت به څه وي ؟ نو الله تعالی اوفرمايل : ﴿ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي .

ګويا مؤمنانو بيا عرض اوکړو : اې الله ! مونږ به تاته دا سَودا څنګه دَر اوسپارو ؟

الله تعالی اوفرمايل : ﴿ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ﴾ دوی به د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې جنګيږي ، پس دوی به کافران وَژني ، او دوی به هم وژلې شي .

(يعنی تاسو چې کله په جان و مال سره جهاد اوکړه نو تاسو ماته دا سَودا را اُوسپارله او ستاسو د پاره جنت واجب شو ) .

ګويا مؤمنانو بيا عرض اوکړو : اې الله ! ستا دا طريقه ده چې ته کله په خپلو بندګانو باندې څه نِعمت کوی نو خپلې فرښتې ورباندې ګواه جوړوی ، او تا په خپله هم په قرآن کريم کې د بَيعې په وخت د ګواهانو مقررولو او ددې د ليکلو حُکم کړی (۱) ، پس ستا د مونږ سره په دې خريد و فروخت باندې ګواهان څوک دي ؟ نو الله ﷻ اوفرمايل :

﴿ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ﴾ دا ( په جهاد باندې د جنت وعده ) د الله په ذِمه ريښتينې وعده ده چې په تورات ، اِنجيل او قرآن مجيد کې ذکر ده .

يعنی الله ﷻ اوفرمايل چې تاسو خو په يوه معامله کې يو ضمانت غواړی ، او په دوه ګواهانو باندې اعتماد کوی ، نو ما درته په دې ضمانت او وَثيقه باندې درې کتابونه

---

(۱) ﴿ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ﴾ . البقرة آية ۲۸۲ .

( تورات ، انجيل ، او قرآن مجيد ) پيش کړل ، او په دې باندې عمل کوونکي درې ( ٣ ) تومونه دي ، ددې درې وارو اُمتونو بې شميره خلق په دې باندې ګواهان دي .

ګويا مسلمانانو بيا عرض اوکړو : اې الله ! ته خو د اختيار مالک يې ، ته کله يو حُکم ختموې او کله يې په خپل حالت برقرار پرېږدې ، د تانه څوک تپوس کوونکي نشته ، هسې نه چې مونږ ددې د قيمت ( جنت ) نه محروم پاتې شو . نو الله تعالى اوفرمايل :

﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ﴾ . او د الله ﷻ نه زيات د خپلې وَعدې پوره کوونکې بل څوک دی ؟

يعنى الله ﷻ د خپلې وَعدې پوره کوونکې دی او تاسو ته به ضرور ددې په عِوض کې جنت درکوي .

بيا د بَيعې نه پس خرڅوونکې کله خفه وي ، او کله خوشحاله وي ، ګويا مسلمانانو عرض اوکړو چې آيا زمونږ دا بَيعه څنګه ده ؟ نو الله تعالى اوفرمايل :

﴿ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ﴾ . پس تاسو په خپله هغه بيعَه ( سَوداء ) باندې خوشحاله اُوسئ کومه چې تاسو د الله سره اوکړه .

ددې د زيات تاکيد د پاره الله ﷻ اوفرمايل :

﴿ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ . او همدا ( جنت ملاويدل ) لويه کاميابي ده . (١)

---

(١) لما أخبر سبحانه ( في هذه الآية : إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم ) بأنّه اشترى من المؤمنين أنفسهم و أموالهم فكأنّهم قالوا : ربّنا ما الثمن في هذا البيع ؟ قال الله تعالى : ﴿ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ . فكأنّهم قالوا : ربّنا كيف نسلم هذه السلعة التي وقع عليها البيع ؟ قال : ﴿ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ﴾ . فإذا فعلتم ذلک فقد سلمتم السلعة و وفيتم بما لزمكم في هذه الصفقة و وجبت لكم الجنّة . فكأنّهم قالوا : ربنا مضت سنّة فضلک بأن تشهد ملائكتک بما تنعم به على عبيدک ، و قلتَ في كتابک القديم : ﴿ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ﴾ . و أمرتَ بكتابة الوثائق بين المتبائعين ، فمَن أشهدتَ في هذا البيع ؟ فقال تعالى : ﴿ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ﴾ . فأنتم يا عبادي تثقون بوثيقة واحدة ، فهذه ثلاث وثائق ، و تثقون بشاهدين فقد أشهدتُ على من أنزلتها عليهم و هم ثلاث أمم . ←←←←←←

# په جان و مال سره تجارت کول بهترين عبادت دی

د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم په جان و مال سره د جهاد کولو نه تعبير په بهترين تجارت سره شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! آيا زه تاسو ته داسې تجارت اُوښايم چې هغه تاسو ته د دَردناک عذاب نه نجات درکړي ؟ ( هغه تجارت دادی چې ) تاسو په الله او د هغه په رسول باندې اِيمان راوړئ ، او د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوئ ، همدا ستاسو د پاره ډير بهتر دی که چيرته تاسو پوهيږئ . الله ﷻ به ستاسو ګناهونه اُوبخي او تاسو به داسې ( د جنت ) باغونو ته داخل کړي چې د هغې لاندې به وَلې بَهيږي ، او داسې پاکيزه محلونو ته ( به مو داخل کړي ) چې هغه د هميشه پاتې کيدو باغونو کې آباد دي ، همدا لويه کاميابي ده .

**فائده** : ددې آيت نه دا هم معلومه شوه چې د جهاد په وجه انسان ته د دَرد ناک عذاب نه نجات ملاويږي .

---

←←←← کلّ أمة لاتحصى. فکأنهم قالوا : ربنا أنت تمحو ما تشاء و تثبت و لا تسأل عما تفعل فربما تمحو هذا فنرجع من الثمن خائبين ، فقال سبحانه : ﴿وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ﴾ أي لا أحد أوفى بعهده مني . ثم لما كان من البيع ما يعقبه الندم إذا تبين صاحبه الخسران أو نقصًا في الثمن ، و منه ما يعقبه الفرح والسرور لما يظهر فيه من الربح والغبطة و حسن الوفاء ، قال سبحانه : ﴿فَٱسْتَبْشِرُواْ بِبَيْعِكُمُ ٱلَّذِى بَايَعْتُم بِهِۦ﴾ . و أكد ذلك بقوله تعالى : ﴿وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴾ . مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۲ ص ۸۴۲ الباب الثاني والثلاثون .

(۱) الصف آية ۱۰ تا ۱۲ .

## لږ وخت جهاد کول او سره د جنت مستحق کېدل

د ترمذي شريف او ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې د اوښې لوشلو په مينځ کې د وقفې په مقدار (يعنى لږ وخت) جهاد اوکړي نو دده د پاره جنت واجب شو.

**د فواق تشريح**: کله چې څوک اُوښه لوشي نو د لوشلو په مينځ کې اُوښه د لږ وخت د پاره پريږدي ددې د پاره چې شوده په کې سينو ته رابنکته شي، دې معمولي وقفې ته په عربۍ کې "فواق" وايي، دلته په دې حديث کې د فواق نه مراد لږ وخت دی. (۲)

## د جهاد په وجه په جنت کې سل (۱۰۰) درجې اوچتيدل

د مسلم شريف او مشکوة شريف حديث دی، حضرت ابوسعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (ماته) اوفرمايل:

يَا أَبَا سَعِيدٍ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۵۰ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيمَنْ سَأَلَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ رقم الحديث ۲۵۴۱، سنن النسائي ثواب من قاتل في سبيل الله فواق ناقة رقم الحديث ۳۱۴۱، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۵ (۳۸)، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۲۷۸ (۳) الترغيب في سؤال الشهادة في سبيل الله تعالى، مسند احمد رقم الحديث ۹۷۶۲، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۸.

(۲) (فَوَاقَ نَاقَةٍ): هُوَ بِالْفَتْحِ وَالضَّمِّ. مَا بَيْنَ الْحَلْبَتَيْنِ. فِي الْفَائِقِ: هُوَ فِي الْأَصْلِ رُجُوعُ اللَّبَنِ إِلَى الضَّرْعِ بَعْدَ الْحَلْبِ، وَسُمِّيَ فَوَاقًا، لِأَنَّهُ نَزَلَ مِنْ فَوْقٍ اه. وَهَذَا يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ مَا بَيْنَ الْغَدَاةِ إِلَى الْعَشَاءِ، لِأَنَّ النَّاقَةَ تُحْلَبُ فِيهِمَا. وَأَنْ يَكُونَ قَدْرَ مَا بَيْنَ الْحَلْبَتَيْنِ مِنَ الْوَقْتِ، لِأَنَّهَا تُحْلَبُ ثُمَّ تَتْرَكُ سُوَيْعَةً يَرْضَعُهَا الْفَصِيلُ لِتَدِرَّ، ثُمَّ تُحْلَبُ ثَانِيَةً. وَهَذِهِ الْأَخِيرَةُ أَلْيَقُ بِالتَّرْغِيبِ فِي الْجِهَادِ، أَيْ مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ لَحْظَةً. (فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ): أَيِ ابْتِدَاءً، أَوِ اسْتَحَقَّهَا. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۷۶/۶ كتاب الجهاد الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۳۸۲۵.

اې ابوسعيد ! څوک چې د الله ﷻ په رَب کيدو ، اسلام ( دده د پاره ) دِين کيدو ، او محمد ﷺ رسول کيدو باندې راضي شو ( يعنى په زړه سره يې دا ټول اُومنل ) نو دده د پاره جنت واجب شو .

ابوسعيد خُدري رضي الله عنه (چې دا واورېد نو ډېرې خوشحالۍ نه) ديته په تعجّب کې شو ، او وې ويل : أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ . اې د الله رسوله ! دا کلمات يو ځل بيا ماته اووايه .

نبي عليه السلام دا کلمات دوباره وويل ، او بيا يې اوفرمايل :

وَأُخْرٰى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ .

يو بل عمل دا سې دى چې د هغې په وجه د بنده په جنت کې سل (۱۰۰) درجې اُوچتېږي ، د هرې درجې په مېنځ کې دومره فاصله ده څومره چې د آسمان او زمکې په مېنځ کې ده .

ابوسعيد خدري رضي الله عنه عرض اوکړو :

وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله رسوله ! هغه څه عمل دى ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل : اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول ، د الله ﷻ په لاره کې جهاد کول . (۱)

په بعضې رواياتو کې راځي چې نبي عليه السلام دا آخري جمله (اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ) درې کرتې اوفرمايله .

---

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « يَا أَبَا سَعِيْدٍ ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ »، فَعَجِبَ لَهَا أَبُوْ سَعِيْدٍ رضي الله عنه ، فَقَالَ : أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ . فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: « وَأُخْرٰى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ». قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدَّهُ اللهُ تَعَالَى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الدَّرَجَاتِ رقم الحديث ۱۱۶ (۱۸۸۴) ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۱ (۶۴) ، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۳۱ درجة المجاهد في سبيل الله عز وجلّ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۲ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۶۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۴۹۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۵۳ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۱۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۸۱ .

# جنت د تورو د سيوري لاندې دی

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

وَاعْلَمُوْا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ. (۱)

پوهه شئ چې جنت د تورو د سيورو لاندې دی.

**د حديث تشريح**: دې حديث مطلب دادی چې کله مجاهد په ميدانِ جنګ کې په داسې حالت کې موجود وي چې دده د پاسه د کافرانو د تورو سيورې وي نو دا د جنت د داخليدو سبب دی، او دده په دې حالت کې د جنت دروازې کلاؤ وي. (۲)

## دې حديث په اورېدو سره سمدستي جهاد ته تلل، او د آخري سلګۍ پورې جنګيدل:

د مشکوة شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت ابوموسیٰ اَشعري رضي الله عنه په يو مجلس کې دا حديث بيان کړو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ.

بيشکه د جنت دروازې د تورو د سيورو لاندې دي.

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: اَلْجَنَّةُ تَحْتَ بَارِقَةِ السُّيُوْفِ رقم الحديث ۲۸۱۸، و رقم ۲۹٦٦، و رقم ۳۰۲۴. صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ كَرَاهَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءِ الْعَدُوِّ، وَالْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ اللِّقَاءِ رقم الحديث ۱۷۴۲. سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ كَرَاهِيَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءَ الْعَدُوِّ رقم الحديث ۲٦۳۱، سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا ذُكِرَ أَنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ رقم الحديث ۱٦۵۹، مشكوة المصابيح بَابُ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ وَدُعَائِهِمْ إِلَى الْإِسْلَامِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۳۹۲۰ (۵).

(۲) ملا علي قاري رحمه الله د مذکوره حديث تشريح داسې کړې: (إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ): يَعْنِيْ كَوْنَ الْمُجَاهِدِ فِي الْقِتَالِ بِحَيْثُ يَعْلُوْهُ سُيُوْفُ الْأَعْدَاءِ سَبَبُ الْجَنَّةِ، حَتّٰى كَأَنَّ أَبْوَابَهَا حَاضِرَةٌ مَعَهُ، أَوِ الْمُرَادُ بِالسُّيُوْفِ سُيُوْفُ الْمُجَاهِدِيْنَ، وَهٰذَا كِنَايَةٌ عَنِ الدُّنُوِّ مِنَ الْعَدُوِّ فِي الْحَرْبِ، لِأَنَّهَا أَكْثَرُ سِلَاحِ الْجِهَادِ ..... قَالَ النَّوَوِيُّ مَعْنَاهُ: أَنَّ الْجِهَادَ وَحُضُوْرَ مَعْرَكَةِ الْقِتَالِ طَرِيْقٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَسَبَبٌ لِدُخُوْلِهَا. أَقُوْلُ: هُوَ كَذٰلِكَ، وَهُوَ لَا يُنَافِي الْمُبَالَغَةَ أَنَّهُ فِيْ حَالِ جِهَادِهِ كَأَنَّهُ فِي الْجَنَّةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٦/۲۴۹۲ كتاب الجهاد الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ۳۸۵۲ (٦۵).

( دې خبرې اَوريدو سره ) په دې مجلس کې يو کس راپاڅيد چې د کمزوري هيئت واله وُ ( يعنى ظاهري شکل و شباهَت يې د فقيرانو وُ ) ، او د ابوموسى اَشعري رضی الله عنه نه يې پوښتنه وکړه : يَا أَبَا مُوسٰى ! أَأَنْتَ سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هٰذَا ؟

اې ابوموسى ! آيا تا يقيني طريقې سره دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اَوريدلي چې هغوى دا فرمايلي ؟

ده ورته وويل : آو ( ما يقيني دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اَوريدلي دي ) .

دا سړې خپلو ملګرو ته راغى او هغوى ته يې وويل : زه تاسو ته آخري سلام کوم . بيا يې د خپلې تورې تيکې مات کړو ، وې غورځول ، توره يې راواخيسته او دُشمنانو طرف ته ورغى ، تر هاغې وخته پورې جنګيدو چې آخِر شهيد شو . (۱)

## جهاد د جنت لنډه لار ده

علامه ابن قدامه رحمه الله په " اَلْمُغْنِيْ " کې دا حديث ذکر کړى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : اَلْجِهَادُ مُخْتَصَرُ طَرِيْقِ الْجَنَّةِ . (۲)

جهاد د جنت لنډه لار ده .

## د جنت د يوې دروازې نوم " بَابُ الجهاد " دى

د جنت اَته (۸) دروازې دي ، د يوې دروازې نوم " بَابُ الجهاد " دى (يعنى د جهاد

---

(۱) عَنْ أَبِي مُوسٰى رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ » فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ فَقَالَ : يَا أَبَا مُوسٰى ! أَأَنْتَ سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ هٰذَا ؟ قَالَ : نَعَمْ . فَرَجَعَ إِلٰى أَصْحَابِهِ فَقَالَ : أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ . ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ فَأَلْقَاهُ ثُمَّ مَشٰى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتّٰى قُتِلَ . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۲ (۶۵) ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۴۶ (۱۹۰۲) ، سنن الترمذي رقم الحديث ۱۶۵۹ باب ما ذُكر انّ الجنّة تحت ظلال السيوف ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۴۶۱۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۵۳۸ ، و رقم ۱۹۶۸۰ ، الجهاد لابن المبارك رقم الحديث ۲۹ .

(۲) المغني لابن قدامة ج ۱ ص ۵ مقدمة الكتاب .

دروازه) ، په دې باندې به مجاهدين جنت ته داخليږي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

... وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ. (۱)

چا چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کړې وي هغه به جنت ته " د جهاد د دَروازې " نه رابللې شي.

## جهاد د جنت دروازه ده ، په دې سره د غم او خفګان نه نجات ملاويږي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

جَاهِدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ؛ فَإِنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ بَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يُنَجِّي اللهُ بِهِ مِنَ الْهَمِّ وَالْغَمِّ. (۲)

تاسو د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ، ځکه د الله ﷻ په لار کې جهاد کول د جنت د دَروازو نه يوه دروازه ده، الله ﷻ په دې سره انسان ته د خفګان او غم نه نجات ورکوي.

---

(۱) پوره حديث په بخاري شريف او مسلم شريف کې داسې ذکر دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ، نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللهِ هٰذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلٰوةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلٰوةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا، قَالَ: « نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ۱۸۹۷ ، و رقم الحديث ۳٦٦٦ كتاب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا». صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ۵۸ (۱۰۲۷).

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۲۲٦۸۰ حَدِيثُ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. و رقم ۲۲٦۹۹ ، و رقم ۲۲۷۷٦ ، الجهاد لابن ابي عاصم ج۱ ص ۱۳۳ رقم الحديث ۱۳ ، و رواه الطبراني في الكبير والاوسط أطول من هذا ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد باب فضل الجهاد رقم الحديث ۹۳۰۹ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۹۹۲ ، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۸۹۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۲۱۹ .

## د جهاد په وجه جنت او مغفرت

نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه موقعه صحابه کرامو ته اوفرمايل :

.... اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ ؟ اُغْزُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .(۱)

آيا تاسو دا نه خوښوئ چې الله تعالی ستاسو مغفرت اوکړي او جنت ته مو داخل کړي؟ پس تاسو د الله ﷻ په لار کې جهاد اوکړئ.

## په ميدانِ جنګ کې د جنت خوشبوئي محسوسول

ډېر کرتې داسې هم شوي چې مجاهِد په ميدانِ جنګ کې د جنت خوشبوئي محسوسه کړې. د بخاري شريف حديث دی، حضرت انس ﷺ فرمايي چې په جنګِ بدر کې زما تره حضرت اَنس بن نَضر ﷺ نهٔ شريک شوی، هغه يو ځل نبي عليه السلام ته اوفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! غِبْتُ عَنْ اَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِيْنَ ، لَئِنِ اللهُ اَشْهَدَنِيْ قِتَالَ الْمُشْرِكِيْنَ لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا اَصْنَعُ .

اې د الله رسوله ! زه په هغه اولني جنګ کې نه ووم شريک شوی کوم چې تاسو د مشرکينو سره کړې وُ اوس که چيرته الله تعالی ماته مشرکينو سره د جنګ کولو موقع راکړه نو الله ﷻ به اوګوري چې زه څه کارنامه کوم ؟

بيا کله چې د جنګِ اُحد موقعه راغله او مسلمانانو ته په اول کې عارضي شکست ملاؤ شو ( بعضې مسلمانان په شا شول) نو ( زما تره ) اَنس بن نَضر ﷺ اوفرمايل :

اې الله ! دې زما ملګرو مسلمانانو چې ( د روسته کيدو ) کوم کار اوکړو نو زه تاته د هغې معذرت پيش کوم (بَخنه درنه غواړم ) ، او دې مشرکينو چې ( د مسلمانانو خلاف ) کوم کار اوکړو د دينه د بېزارۍ اعلان کوم ، بيا ( دې وينا نه پس) کافرانو ته وَر روان شو،

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۵۰ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۰ (۴۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۰۷۸۶ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۰۳ ، شعب الايمان رقم ۳۹۲۵.

په لاره کې ورسره حضرت سعد بن مُعاذ رضي الله عنه مخامخ شو ، هغه ته يې وويل :
يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ ! اَلْجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ إِنِّيْ أَجِدُ رِيْحَهَا مِنْ دُوْنِ أُحُدٍ .

اې سعد بن مُعاذ ! جنت زما مطلوب دی ، او د نَضر ( يعنی د خپل پلار ) په رَب مې دې قَسَم وي چې زه د اُحد غَر د طرفه د جنت خوشبوئي محسوسوم.

حضرت سعد رضي الله عنه ( نبي عليه السلام ته ) اوفرمايل : اې د الله رسوله ! هغه چې د کافرانو په مقابله کې کومه بهادري ښکاره کړه زه د هغې ( پوره ) بيان نه شم کولی.

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د هغه په بدن باندې تقريبًا اتيا (۸۰) د تورو ، نېزو او غشو زخمونه اوليدل ، او دې شهيد شوې وُ ، مشرکينو دده مُثله کړې وه ( يعنی د وجود اَندامونه يې ورنه غوڅ کړي وو ) ، په مونږ کې هيچا هغه او نه پېژندو ، صرف خپلې خورد گوتو د بَندونو نه اوپېژندو.

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : زمونږ دا گمان دی چې دا آيت ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا﴾ د هغه او د هغه په شان مؤمنانو په باره کې نازل شوې دی.

د آيت ترجمه داده : په مؤمنانو کې ډېر داسې سړي دي چې هغوی د الله جل جلاله سره کومه وعده کړې ده هغه يې په رېښتيا پوره کړه ، بيا په دوی کې ځنې کسانو خپل اِقرار ( او منَبته ) پوره کړو ، او څوک اِنتظار کوي ، او دوی په دې کې هيڅ تبديلي اونکړه ( يعنی په خپله پخه اِراده باندې ټينګ پاتې شو او هيڅ تبديلي په کې رانغله ) .(۱)

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: غَابَ عَمِّيْ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ، فَقَالَ: « يَارَسُوْلَ اللهِ ! غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِيْنَ ، لَئِنِ اللهُ أَشْهَدَنِيْ قِتَالَ الْمُشْرِكِيْنَ لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ » . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ، وَانْكَشَفَ الْمُسْلِمُوْنَ ، قَالَ : « اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ ـ يَعْنِيْ أَصْحَابَهُ ـ وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ ـ يَعْنِي الْمُشْرِكِيْنَ ـ ثُمَّ تَقَدَّمَ » ، فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رضي الله عنه ، فَقَالَ : « يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ، اَلْجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ إِنِّيْ أَجِدُ رِيْحَهَا مِنْ دُوْنِ أُحُدٍ » ، قَالَ سَعْدٌ رضي الله عنه : فَمَا اسْتَطَعْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا صَنَعَ . قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعًا وَثَمَانِيْنَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ ، أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ وَوَجَدْنَاهُ ←←←←←←←←←←

همداسې واقعه په مسلم شریف او نورو د احادیثو په کتابونو کې هم ذکر ده . (۱)

# د جنت په شوق کې قجورې غورځول او میدان جنګ ته ورتلل

۱ . د مسلم شریف حدیث دی ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې په غزوه اُحد کې یو کس د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه :

أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ ؟

اې د الله رسوله ! که چیرته زه شهید شم نو زه به چیرته یم ؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :

فِي الْجَنَّةِ . په جنت کې .

د هغه کس سره په لاس کې قجورې وې هغه یې اوغورځولې ، بیا ( میدانِ جنګ ته

---

←←← قَدْ قُتِلَ وَقَدْ مَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُوْنَ ، فَمَا عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلَّا أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ ، قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : كُنَّا نُرَى أَوْ نَظُنُّ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِيْهِ وَفِيْ أَشْبَاهِهِ : { مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ } [ الاحزاب آية ۲۳ ] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : { مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ رقم الحديث ۲۸۰۵ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۴۰۰ .

(۱) قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : عَمِّيَ الَّذِيْ سُمِّيْتُ بِهِ لَمْ يَشْهَدْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا ، قَالَ : فَشَقَّ عَلَيْهِ . قَالَ : أَوَّلُ مَشْهَدٍ شَهِدَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُيِّبْتُ عَنْهُ ، وَإِنْ أَرَانِيَ اللهُ مَشْهَدًا فِيْمَا بَعْدُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَرَانِي اللهُ مَا أَصْنَعُ . قَالَ : « فَهَابَ أَنْ يَقُوْلَ غَيْرَهَا » ، قَالَ : « فَشَهِدَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ » ، قَالَ : فَاسْتَقْبَلَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رضي الله عنه ، فَقَالَ لَهُ أَنَسٌ رضي الله عنه : يَا أَبَا عَمْرٍو ! أَيْنَ ؟ فَقَالَ : وَاهًا لِرِيْحِ الْجَنَّةِ أَجِدُهُ دُوْنَ أُحُدٍ ، قَالَ : فَقَاتَلَهُمْ حَتّٰى قُتِلَ ، قَالَ : فَوُجِدَ فِيْ جَسَدِهِ بِضْعٌ وَثَمَانُوْنَ مِنْ بَيْنِ ضَرْبَةٍ وَطَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ . قَالَ : فَقَالَتْ أُخْتُهُ _ عَمَّتِيَ الرُّبَيِّعُ بِنْتُ النَّضْرِ _ فَمَا عَرَفْتُ أَخِيْ إِلَّا بِبَنَانِهِ ، وَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ : { مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا } [ الاحزاب آية ۲۳ ] ، قَالَ : فَكَانُوْا يُرَوْنَ أَنَّهَا نَزَلَتْ فِيْهِ وَفِيْ أَصْحَابِهِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوْتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيْدِ رقم الحديث ۱۴۸ ( ۱۹۰۳ ) ، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۲۰۰ بابٌ و من سورة الاحزاب ، مسند احمد رقم الحديث ۱۳۰۱۵ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم ۲۱۵۷ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۷۰۲۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۱۷ ، كنز العمال رقم الحديث ۳۶۸۴۴ .

ورغی او ) د کافرانو په مقابله کې تر هاغې وخته پورې او جنګيدو چې آخر شهيد شو . (۱)

۲ . همدغه شان يوه بله واقعه هم په مشکوة شريف او مسلم شريف کې ذکر ده :

حضرت انس ﷺ فرمايي : چې ( د بدر غزا په موقع ) رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه صحابه کرام ( د مدينې منوّرې نه روان شو او ) د مشرکينو نه مخکې د بدر ميدان ته اُورسيدل ، بيا د مشرکينو لښکر راغی ( او د مقابلې تيارې شروع شو ) ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ( صحابه کرامو ته ) اوفرمايل :

قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ .

تاسو داسې جنت ته ورپاځئ چې د هغې پلنوالې د آسمانونو او زمکې برابر دی .

( يو صحابي ) عُمير بن حُمام ﷺ ( دې اُوريدو سره ) اوفرمايل :

بَخٍ بَخٍ . واه ، واه ( ډير ښه ، څومره غټه د خوشحالۍ خبره ده ) .

رسول الله ﷺ ورنه پوښتنه اوکړه :

مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ : بَخٍ بَخٍ ؟ تا دا بَخٍ بَخٍ ولې وويل ؟

هغه ورته وويل : اې د الله رسوله ! ما دا الفاظ صرف ددې د پاره وويل چې ما دا اُميد ( آرزو ) ښکاره کړه چې زه هم جنتي جوړ شم .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا . ( په دې کې څه شک نشته ) يقيناً ته هم جنتي يې .

راوي د حديث وايي چې ( دې خوشخبرې اُوريدو سره ) حضرت عُمير ﷺ د خپل تَرکش ( تيلۍ ) نه څه قجورې را اُوويستې او د هغې خوړل يې شروع کړل ، بيا يې وويل :

لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا الْحَيَاةُ طَوِيلَةٌ .

زه به ددې قجورو خوړلو پورې ژوندې يم ؟ دا خو ډير اُوږد ژوند دی .

---

(۱) عَنْ عَمْرٍو ، سَمِعَ جَابِرًا ﷺ ، يَقُولُ : قَالَ رَجُلٌ : أَيْنَ أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ ؟ قَالَ : فِي الْجَنَّةِ . فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۴۳ ( ۱۸۹۹ ) .

(يعنى ددې قجورو په خوړلو باندې ډير وخت لږي) نو کومې قجورې چې ورسره وې هغه يې اوغورځولې، بيا يې د کافرانو سره جنګ شروع کړو، او تر هاغې وخته پورې ورسره اوجنګيدو چې آخر شهيد شو. (۱)

## عمرو بن جَموح ﷺ د جنت په شوق کې په ګډه خپه ميدان جنګ ته ورغى او تر آخري سلګۍ پورې اوجنګيد

حضرت عَمرو بن جَموح رضي الله عنه د اَنصارو بوډا شيخ وُ، په خپه باندې ګډ وُ، کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم جنګِ بدر ته روان شو نو ده خپلو زامنو ته وويل:

أَخرِجُونِي. ما هم اُوباسئ (يعنى د ځان سره مې جهاد ته بوځئ).

ځامن يې پيغمبر عليه السلام ته راغلل او د پلار د ګډ والي تذکره يې ورته اوکړه، نبي عليه السلام هغه ته په کور کې د پاتې کيدو او په جهاد کې د نه شريکيدو اجازت ورکړو.

کله چې د غزوهٔ اُحد ورځ راغله او خلق جهاد ته اُووتل نو ده خپلو ځامنو ته وويل:

أَخرِجُونِي. ما هم اُوباسئ (يعنى د ځان سره مې جهاد ته بوځئ).

ځامنو ورته وويل: رسولُ الله ﷺ تا ته رُخصت درکړى او په کور کې يې د پاتې کيدو اجازت درکړى. ده ځامنو ته وويل: هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُونِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُونِيهَا بِأُحُدٍ.

افسوس، تاسو زه په غزوهٔ بدر کې د جنت نه منع کړم او اوس مې په غزوهٔ اُحد کې هم د جنت حاصلولو نه منع کوئ.

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: اِنْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ. وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ». قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ ﷺ: بَخٍ بَخٍ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ: بَخٍ بَخٍ؟ قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا رَجَاءَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا. قَالَ: «فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا» قَالَ: فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهِ فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ. ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا الْحَيَاةُ طَوِيلَةٌ. قَالَ: فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۱۰ (۲۲)، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۲۵ (۱۹۰۱)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۵۷۹۷، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۱۵، و رقم ۱۸۱۹۷، مسند احمد رقم الحديث ۱۲۳۹۸.

پس دا هم غزوه اُحد ته لاړ ، کله چې په ميدانِ جنګ کې دواړه ډلې سره يو ځای شوی ، او جنګ ګرم شو نو ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اوفرمايل :

أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرَجَتِيْ هٰذِهِ الْجَنَّةَ ؟

(اې د الله رسوله ! ) دا راته اووايه که چيرته زه نن شهيد شم نو آيا په دې ګډه خپه به جنت ته لاړ شم ؟

نبي ﷺ ورته اوفرمايل : آو . نو ده وويل :

فَوَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللهُ .

زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې چې ته يې بَرحق رسول رالېږلې يې زه به نن اِن شاء الله خامخا په دې ګډه خپه باندې په جنت کې ګرځم .

عَمرو بن جَموح رضی الله عنه سره چې کوم خپل غلام راغلې ؤ د هغه نوم " سُليم " ؤ ، ده هغه ته وويل : ته واپس خپل کور ته لاړ شه . هغه ورته وويل :

که زه د تاسره يو ځای خير (شهادت) حاصل کړم نو ستا به څه تاوان اوشي ؟

ده ورته وويل : نو بيا خو ميدان ته رامخکې شه .

غلام ميدانِ جنګ ته وَر وړاندې شو ، د کافرانو سره تر هاغې وخته پورې جنګيدو چې آخر شهيد شو . بيا حضرت عَمرو بن جَموح رضی الله عنه هم ميدان ته ورغی او تر هاغه وخته پورې اوجنګيدو ، چې آخِر شهيد شو .(۱)

---

(۱) عَنْ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ عَمْرُو بْنُ الْجَمُوْحِ شَيْخٌ مِنَ الْأَنْصَارِ أَعْرَجَ . فَلَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَدْرٍ قَالَ لِبَنِيْهِ : أَخْرِجُوْنِيْ . فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ عَرَجُهُ . وَحَالُهُ . فَأَذِنَ لَهُ فِي الْمُقَامِ . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ خَرَجَ النَّاسُ . فَقَالَ لِبَنِيْهِ : أَخْرِجُوْنِيْ . فَقَالُوْا : قَدْ رَخَّصَ لَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم . وَأَذِنَ . قَالَ : هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُوْنِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُوْنِيْهَا بِأُحُدٍ . فَخَرَجَ . فَلَمَّا الْتَقَى النَّاسُ . قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ : أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرَجَتِيْ هٰذِهِ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ : فَوَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللهُ . فَقَالَ لِغُلَامٍ لَهُ كَانَ مَعَهُ يُقَالُ لَهُ سُلَيْمٌ : اِرْجِعْ إِلَى أَهْلِكَ . قَالَ : وَمَا عَلَيْكَ أَنْ أُصِيْبَ الْيَوْمَ خَيْرًا مَعَكَ ؟ قَالَ : فَتَقَدَّمْ إِذًا . قَالَ : فَتَقَدَّمَ الْعَبْدُ فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ . ثُمَّ تَقَدَّمَ وَقَاتَلَ هُوَ حَتّٰى قُتِلَ . الجهاد لابن المبارک ۱/۶۹ رقم ۷۸ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۸۲۱ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ مَنِ اعْتَذَرَ بِالضَّعْفِ وَالْمَرَضِ وَالزَّمَانَةِ وَالْعُذْرِ فِي تَرْكِ الْجِهَادِ .

په رواياتو کې راځي چې دده د شهادت نه روستو کله چې نبي عليه السلام په ده باندې تېرشو نو ورته وې ويل: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْكَ تَمْشِي بِرِجْلِكَ هٰذِهِ صَحِيحَةً فِي الْجَنَّةِ .(۱)
زه تا ګورم چې ته په دې خپله خپه باندې په جنت کې ګرځې او دا خپه صحيح شوې ده .

# تور رَنګي کس ته نبي عليه السلام د جهاد او شهادت جذبې په وجه د جنت خوشخبري واروله

په " اَلْمُسْتَدْرَک عَلَى الصَّحِيْحَيْن " او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده :
حضرت انس ﷺ فرمايي چې يو تور رَنګې کس نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغی ، او وې ويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّي رَجُلٌ أَسْوَدُ مُنْتِنُ الرِّيْحِ ، قَبِيْحُ الْوَجْهِ ، لَا مَالَ لِي ، فَإِنْ أَنَا قَاتَلْتُ هٰؤُلَاءِ حَتّٰى أُقْتَلَ ، فَأَيْنَ أَنَا ؟

اې د الله رسوله ! زه يو تور رَنګې ، بَدبُويه ، او بَد رَنګ مخ واله سړې يم ، مال هم راسره نشته ، پس که چيرته زه ددې کافرانو سره اُوجنګيږم تر دې چې شهيد شم نو زه به چيرته يم ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : فِي الْجَنَّةِ . ته به په جنت کې يې .
دا سړې کافرانو سره اُوجنګيد ، تر دې چې شهيد شو ، پيغمبر عليه السلام ده ته راغی او ورته وې فرمايل :

قَدْ بَيَّضَ اللهُ وَجْهَكَ ، وَطَيَّبَ رِيْحَكَ ، وَأَكْثَرَ مَالَكَ .

بيشکه الله تعالى ستا مخ سپين ( ښائسته ) کړو ، ستا بُوئي يې ښائسته کړو ، او ستا مال يې ډير کړو .
بيا نبي عليه السلام اوفرمايل :

لَقَدْ رَأَيْتُ زَوْجَتَهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، نَازَعَتْهُ جُبَّةً لَهُ مِنْ صُوْفٍ ، تَدْخُلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ جُبَّتِهِ .

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۲۲۵۵۳ حديث أبي قتادة الأنصاري.

په تحقيق سره ما اوليده چې د حُور عِين نه دده بي بي دده د وَرِې چُوغه اُونيوه ، دده د بدن او دده د چُوغې په مينځ کې داخله شوه . (۱)

دا واقعه علامه ابن اثير رحمه الله په " أسد الغابة " کې هم ذکر کړې .

ابن اثير رَحِمَهُ اللهُ دا هم ذکر کړي چې ددې تور کس ( کوم چې نبي عليه السلام ته راغلی ؤ ، دده ) نوم " جُعال " ؤ . (۲)

# جهاد کې په قدمونو باندې دُوړه پريوتلو سره د جهنم په اُور حراميدل

د بخاري شريف او ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ . (۳)

د چا قدمونه چې د الله ﷻ په لاره کې گرد جَن ( گرد آلود ) شي نو الله تعالی په ده باندې د جهنم اُور حراموي .

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَجُلًا أَسْوَدَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي رَجُلٌ أَسْوَدُ مُنْتِنُ الرِّيحِ ، قَبِيحُ الْوَجْهِ ، لَا مَالَ لِي ، فَإِنْ أَنَا قَاتَلْتُ هَؤُلَاءِ حَتَّى أُقْتَلَ ، فَأَيْنَ أَنَا ؟ قَالَ : « فِي الْجَنَّةِ » . فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « قَدْ بَيَّضَ اللهُ وَجْهَكَ ، وَطَيَّبَ رِيحَكَ ، وَأَكْثَرَ مَالَكَ » . وَقَالَ لِهَذَا أَوْ لِغَيْرِهِ : « لَقَدْ رَأَيْتُ زَوْجَتَهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ ، نَازَعَتْهُ جُبَّةً لَهُ مِنْ صُوفٍ تَدْخُلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ جُبَّتِهِ » . المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي . ورواه البيهقي في الشعب .

(۲) عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قال : جاء رجلٌ إلى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال : يا رسول الله ! أرأيت إنْ قاتلتُ بين يديك حتى أُقتلَ ، يدخلني ربي عَزَّ وَجَلَّ الجنة ولا يحقرني ؟ قال نعم . قال فكيف وأنا منتن الريح ، أسود اللون ، خسيس في العشيرة ، ومضى ، فقاتل ، فاستشهد ، فمرّ به رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال : آلآن طيب الله ريحك ، يا جعال ، وبيض وجهك . اسد الغابة في معرفة الصحابة ج ۱ ص ۳۳۹ رقم ۷۴۹ باب الجيم جعال آخر .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الْجُمُعَةِ رقم الحديث ۹۰۷ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۳۲ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۸۷ ، سنن النسائي ثواب من اغبرت قدماه في سبيل الله رقم الحديث ۳۱۱۶ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۶۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۷۰۴ .

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر دی . (۱)

## د جهاد دوړه او د جهنم لوګي نه جمع کيږي

۱ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ فِيْ جَوْفِ عَبْدٍ أَبَدًا . (۲)

د الله ﷻ د لارې ګرد او د جهنم لوګي هيڅ کله د يو بنده په خېټه کې (يا مخ باندې (۳)) نه جمع کيږي . ( ځکه دا دواړه ضدين دي (۴) ) .

۲ . په يو روايت کې دا هم ذکر دي ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

لَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ فِيْ مَنْخَرَيْ مُسْلِمٍ ... (۵)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا يَجْمَعُ اللهُ فِيْ جَوْفِ رَجُلٍ غُبَارًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانَ جَهَنَّمَ ، وَمَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَرَّمَ اللهُ سَائِرَ جَسَدِهِ عَلَى النَّارِ . مسند احمد رقم الحديث ۲۷۵۰۳ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۵۵۳۳ ، مجمع الزوائد رقم ۹۴۷۴ باب فضل الغبار في سبيل الله ، كنز العمال رقم ۱۱۳۵۲ .

(۲) الادب المفرد بَابُ الشُّحِّ رقم الحديث ۲۸۱ ، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ فَضْلُ مَنْ عَمِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَلَى قَدَمِهِ رقم الحديث ۳۱۱۰ قال الالباني : صحيحٌ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْغُبَارِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۳۳ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . و رقم ۲۳۱۱ باب ما جاء في فضل البكاء من خشية الله ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۹۵ ، صحيح ابن حبان رقم ۳۲۵۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۵۰۸ ، شعب الايمان رقم ۳۹۵۲ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۱۹ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم ۱۹۴۸۲ ، مسند احمد رقم ۸۴۷۹ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۸ (۴۱) .

(۳) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ فِيْ وَجْهِ رَجُلٍ أَبَدًا . سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ فَضْلُ مَنْ عَمِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَلَى قَدَمِهِ رقم الحديث ۳۱۱۱ قال الالباني : صحيحٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۹۶ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۵۱۲ .

(۴) (وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ غُبَارٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ) : فَكَأَنَّهُمَا ضِدَّانِ لَا يَجْتَمِعَانِ كَمَا أَنَّ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ نَقِيْضَانِ . مرقاة المفاتيح ۲۴۷۸/۶ كِتَابُ الْجِهَادِ الْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح حديث ۲۳۲۸ .

(۵) سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ فَضْلُ مَنْ عَمِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَلَى قَدَمِهِ رقم الحديث ۳۱۱۴ قال الالباني : صحيحٌ . شعب الايمان رقم ۷۸۰ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۴۱۶۸ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۸ (۴۱) ، كنز العمال رقم ۵۸۸۷ ، و رقم ۱۰۵۶۵ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۶۴ ، و رقم الحديث ۳۴۷۰۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۷۴۸۰ ، و رقم ۱۰۵۶۰ .

د الله ﷻ د لارې ګرد (دُوړه) او د جهنم لوګې هیڅ کله د یو مسلمان د پوزې په سُورو کې نه جَمع کیږي .

## په پوزه کې د جهاد دُوړه تللو په وجه مغفرت

مشهور شیخُ الحدیث او عظیم مجاهد " حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله " د وفات نه پس چا په خوب کې اُولید نو پوښتنه یې ورنه اوکړه :

مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِکَ؟ الله ﷻ درسره څه معامله اوکړه ؟

هغه ورته وویل : غَفَرَ لِيْ. زما مغفرت یې اوکړو .

ده ورته وویل : الله ﷻ به درته مغفرت د هغه عِلم په وجه کړې وي کوم چې تا په خلقو کې خور کړې وُ ؟

هغه ورته وویل : لَا ، وَلٰكِنْ بِمَا دَخَلَ مَنْخَرِي مِنَ الْغُبَارِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى .

نه ، (ددې په وجه یې نه یم بَخلی) ، بلکه د الله ﷻ په لاره (جهاد) کې زما په پوزه کې چې کومه دُوړه ننوتې وه د هغې په وجه یې اُوبخلم . (۱)

## په لږ جهاد کولو سره ډېر اجر حاصلول

جهاد داسې بهترین عمل دی چې په لږ وخت جهاد کولو سره انسان ډېر اَجرونه حاصلولې شي ، بلکه ډېر داسې واقعات موجود دي چې د نبي علیه السلام د وړاندې یو کس اِیمان راوړی ، د اِیمان نه پس سمدستي په جهاد کې شریک شوی ، او شهید شوی ، نبي علیه السلام د هغه په باره کې فرمایلي چې ده د جهاد په دې معمولي عمل سره ډېر زیات اجرونه حاصل کړل ، اګر چې هغه مونځ یا نور نیک اعمال نه وو کړي .

ددې په باره کې درته یوه واقعه ذکر کوم :

---

(۱) روي أنّ السيّدَ الجليل عبدالله بن المبارک رحمه الله تعالى رُئي في المنام . فقيل له : مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ قال : غَفَرَ لِيْ . قال : بِعِلْمِكَ الَّذِيْ بَثَثْتَهُ فِي النَّاسِ . قال : لَا ، وَلٰكِنْ بِمَا دَخَلَ مَنْخَرِي مِنَ الْغُبَارِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى . مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۱ ص ۲۳۸ .

**واقعه** : ۱. په بخاري شريف کې دا واقعه ذکر ده : حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي : رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته يو کس راغی ، چې په اَسلحه کې مکمل پټ ؤ (يعنی جنګي اَسلحه يې اچولې وه ، او پوره پټ ؤ ، خو تر اوسه يې اسلام نهٔ ؤ قبول کړی) ، نبي عليه السلام ته يې وويل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أُقَاتِلُ أَوْ أُسْلِمُ ؟

اې د الله رسوله ! آيا زه اول د کافرانو سره اُوجنګيږم او که اول اسلام راوړم ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

أَسْلِمْ ، ثُمَّ قَاتِلْ . اول اسلام راوړه او بيا اُوجنګيږه .

پس ده اول اسلام قبول کړو ، بيا (ميدانِ جنګ ته ورغی) د کافرانو سره تر هاغه وخته پورې جنګيدو چې آخر شهيد شو .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

عَمِلَ قَلِيْلًا وَ أُجِرَ كَثِيْرًا . ده لږ عمل اوکړو خو ډير اَجر ورته ورکړې شو . (۱)

۲. همدغه شان واقعه په " سنن سعيد بن منصور " کې هم ذکر ده : حضرت براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو کس راغی (ايمان يې تر اوسه نهٔ ؤ راوړی) په دې وخت کې پيغمبر عليه السلام د کافرانو سره په جهاد کې مشغول ؤ ، ورته وې ويل : أَهُوَ خَيْرٌ لِّي أَنْ أُسْلِمَ ؟

آيا دا به زما د پاره بنه وي چې اسلام قبول کړم ؟ (او بيا جنګ اوکړم) .

---

(۱) عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ ، قَالَ : سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . يَقُوْلُ : أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ بِالْحَدِيْدِ ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أُقَاتِلُ أَوْ أُسْلِمُ ؟ قَالَ : « أَسْلِمْ ، ثُمَّ قَاتِلْ » ، فَأَسْلَمَ ، ثُمَّ قَاتَلَ ، فَقُتِلَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « عَمِلَ قَلِيْلًا وَ أُجِرَ كَثِيْرًا » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ عَمَلٌ صَالِحٌ قَبْلَ الْقِتَالِ رقم الحديث ۲۸۰۸ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۴۴ (۱۹۰۰) ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۰۱ ذكر البيان بأنّ الجهاد في الاسلام يهدم ما كان من الحوبات قبل الاسلام ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۵۴۲ ، شعب الايمان رقم ۴۰۰۶ ، مسند احمد رقم ۱۸۵۶۵ .

(رَجُلٌ) : هو الأصرم عمرو بن ثابت الأشهلي رضي الله عنه . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : آو (دا ستا د پاره بهتر ده) .

هغه کس أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ، وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ وويل ( او مسلمان شو ) .

بيا يې وويل : أَهُوَ خَيْرٌ لِيْ أَنْ أُقَاتِلَ حَتّٰى أُقْتَلَ ؟

آيا دا به زما د پاره بهتر وي چې زه د کافرانو سره أوجنګيږم تر دې چې زه شهيد شم ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : آو (دا ستا د پاره بهتر ده) .

هغه کس عرض اوکړو : وَإِنْ لَمْ أُصَلِّ صَلٰوةً ؟ اګر که ما تر اوسه يو مونځ هم ندې کړی ؟

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : نَعَمْ . آو .

دې آوريدو سره هغه آسلحه راواخيسته ، په کافرانو يې حمله اوکړه ، او سخت جنګ يې اوکړو ، بيا کافرانو په ده باندې سخته حمله اوکړه او دې شهيد شو .

رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

عَمِلَ قَلِيْلًا ، وَأُجِرَ كَثِيْرًا . ده لږ عمل اوکړو ، او ډير آجر ورته ورکړې شو . (۱)

## د ځان له عبادت کولو نه په جهاد کې شرکت کول ډير بهتر دی

چې کله جهاد فرضِ کفايه وي (يعنې دُشمن د مسلمانانو په څه علاقه باندې حمله نه وي کړي) نو بيا هم د ځان له عبادت کولو نه په جهاد کې شرکت کول ډير بهتر دی .

۱ . د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحابه کرامو کې يو کس ( د سفر په دَوران کې ) د يو غَر په دَره باندې تېر شو ، په هغې دَرّه کې د خوَږو اُوبو يوه چينه وه ، دا صحابي دې اُوبو د ښه والي په وجه هغې چينې ته په تعجّب کې شو (ډيره يې خوَښه شوه) ، نو وې ويل :

(۱) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ ، وَهُوَ يُقَاتِلُ : أَهُوَ خَيْرٌ لِيْ أَنْ أُسْلِمَ ؟ قَالَ : « نَعَمْ » ، قَالَ : أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ، وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ ، ثُمَّ قَالَ : أَهُوَ خَيْرٌ لِيْ أَنْ أُقَاتِلَ حَتّٰى أُقْتَلَ ؟ قَ... « نَعَمْ » ، قَالَ : وَإِنْ لَمْ أُصَلِّ صَلَاةً ؟ قَالَ : « نَعَمْ » ، قَالَ : فَحَمَلَ ، فَقَاتَلَ ، وَقُتِلَ ، ثُمَّ اعْتَوَرُوْا عَلَيْهِ ، فَقُتِلَ ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « عَمِلَ قَلِيْلًا ، وَأُجِرَ كَثِيْرًا » . سنن سعيد بن منصور ج ۲ ص ۲۵۴ رقم الحديث ۲۵۵۵ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ

کاش چې زه د خلقو نه جدا شوې وی او په دې دَرّه کې مُقيم شوې وی ، خو زه به دا کار تر هغه وخته پورې اُونکړم تر دې چې زه د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اجازت را واخلم.

نو ده ددې خبرې ذکر رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته اوکړو ، نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

لَا تَفْعَلْ ، فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا. أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ، اُغْزُوْ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.

دا کار مه کوه ځکه په تاسو کې د يو کس د الله ﷻ په لار (جهاد) کې قِيام کول د هاغه اَويا (۷۰) کالو مونځونو کولو نه ډير بهتر دی کوم چې هغه په کور کې اوکړي ، آيا تاسو دا نه خوَښوی چې الله تعالى تاسو (په کاملې طريقې سره) اُوبخي او (د اِبتداء نه) جنت ته مو داخل کړي ؟ تاسو د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ ، ځکه څوک چې د الله ﷻ په لاره کې د اُوښې لوَشلو په مينځ کې د وَقفې په مقدار (يعنی لږ وخت) جهاد اوکړي نو د هغه د پاره جنت واجب شو . (۱)

۲ . په يو بل حديث کې ذکر دي ، حضرت عثمان بن عفّان رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه آوريدلي دي چې فرمايل يې :

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ : مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِعْبٍ فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ لِطِيبِهَا ، فَقَالَ : لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ ، فَأَقَمْتُ فِي هٰذَا الشِّعْبِ ، وَلَنْ أَفْعَلَ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : لَا تَفْعَلْ ، فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا. أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ. اُغْزُوْ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۵۰ ، وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۰ (۴۳) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الجهاد رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي .

يَوْمٌ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ.

د الله ﷻ په لاره (جهاد) کې يوه ورځ تيرول د نورو زرو (۱۰۰۰) ورځو د عبادت نه بهتر ده.(۱)

## عبدالله بن مُبارک رحمه الله فُضَيل بن عِيَاض ؒ ته بهترين خط اوليږل

فُضَيل بن عِيَاض رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد ؤ ، ډيرلوي عابِد مُتّقِي او پرهيزګار ؤ ، اکثره به په حرمينو شريفينو کې په عبادت کې مشغول ؤ ، هارون الرشيد بادشاه او نورو ډيرو غټو غټو خلقو به دده د ليدلو تمنّا کوله.

بل طرف ته عبدالله بن مُبارک رحمه الله هم د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد ؤ ، ډيرلوي فقِيه ، مُحدّث ، شاعِر او اَديب ؤ ، د ژوند اکثره حصه يې په جهاد کې تېره کړې.

علامه ذهبي رحمه الله په خپل کتاب ''سير اعلام النّبلاء'' کې دا واقعه ذکر کړې: محمد بن ابراهيم بن ابي سُکينه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې مونږ په طرَسُوس ښار کې د عبدالله بن مُبارک رَحِمَهُ اللهُ سره يو ځاى د سرحدونو حفاظت کولو ، ما حج ته د تللو اِراده اوکړه ، نو عبدالله بن مُبارک رَحِمَهُ اللهُ ماته د فضَيل بن عِياض رَحِمَهُ اللهُ د پاره يو خط راکړو ( کوم چې په حرمينو کې په عبادت کې مشغول ؤ ) ، په هغه خط کې يې فضيل بن عياض رَحِمَهُ اللهُ ته دا اَشعار ليکلي وو:

يَا عَابِدَ الْحَرَمَيْنِ لَوْ أَبْصَرْتَنَا ✿ لَعَلِمْتَ أَنَّكَ فِي الْعِبَادَةِ تَلْعَبُ

اې په حرَمينو کې عبادت کوونکيه ! که چيرته ته مونږ ( د جهاد په حالت کې ) اوګورې نو ته به پوهه شې چې ته په عبادت کې هسې لوبې کوې.

مَنْ كَانَ يَخْضِبُ جِيدَهُ بِدُمُوعِهِ ✿ فَنُحُورُنَا بِدِمَائِنَا تَتَخَضَّبُ

څوک چې خپل اَننګي په خپلو اُوښکو سره لمدَوي ( نو دا دې هغه ته مبارک وي ) پس

---

(۱) سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ فَضْلُ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۳۱۷۰ . قال الالباني: حَسَنٌ . الجهاد لابن المبارک رقم الحديث ۷۲ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كتاب الجهاد رقم الحديث ۲۳۸۲ ، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۲۸ .

زمونږ مرى، زمونږ په وينو باندې رَنګ کيږي .

أَوْ كَانَ يُتْعِبُ خَيْلَهُ فِي بَاطِلٍ ✡ فَخُيُولُنَا يَوْمَ الصَّبِيحَةِ تَتْعَبُ

يا که د چا آس په باطلو ( عبثو ) کارونو کې ستړي کيږي نو زمونږ آسونه په دُشمن باندې د حملې په ورځ ( په ميدانِ جنګ کې ) ستړي کيږي .

رِيحُ الْعَبِيرِ لَكُمْ وَنَحْنُ عَبِيرُنَا ✡ رَهَجُ السَّنَابِكِ وَالْغُبَارُ الْأَطْيَبُ

د عَنبرو خوشبوئي دې ستاسو د پاره مبارک وي ، او زمونږ خوشبوئي د آسونو د خپو پورته کيدونکې دُوړې او د جهاد پاکه خاوره ده .

وَلَقَدْ أَتَانَا مِنْ مَقَالِ نَبِيِّنَا ✡ قَوْلٌ صَحِيحٌ صَادِقٌ لَا يُكْذَبُ :

يقينًا مونږ ته د خپل پيغمبر ( محمّدُ رّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) دا قول رارسيدلى کوم چې رښتينې دى ، او دروغ په کې نشته :

لَا يَسْتَوِي وَغُبَارُ خَيْلِ اللهِ فِي ✡ أَنْفِ امْرِئٍ وَدُخَانُ نَارٍ تَلْهَبُ

( د نبي عليه السلام هغه قول دادى چې : ) د يو سړي په پُوزه کې د جهاد د آسونو د خپو ګرد او د جهنم بليدونکې اُور لوګې هيڅ کله نه جَمع کيږي .

هٰذَا كِتَابُ اللهِ يَنْطِقُ بَيْنَنَا ✡ لَيْسَ الشَّهِيدُ بِمَيِّتٍ لَا يُكْذَبُ

دا د الله جَلَّ جَلَالُهُ کتاب دى زمونږ په مينځ کې دا اعلان کوي چې " شهيد مَړ ندى " دا خبره دروغ نده .

محمد ابن ابراهيم وايي چې زه د فضيل بن عياض رحمه الله سره په حَرَم شريف کې ملاؤ شوم ، هغه ته مې دا خط ورکړو ، هغه دا اُولوست ، په ژړا شو ، او بيا يې وويل :

صَدَقَ أَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَنَصَحَ . (۱)

(۱) عَنْ مُحَمَّدِ بنِ إِبْرَاهِيمَ بنِ أَبِي سُكَيْنَةَ رَحِمَهُ اللهُ ، قَالَ : أَمْلَى عَلَيَّ ابْنُ الْمُبَارَكِ سَنَةَ سَبْعٍ وَسَبْعِيْنَ وَمِائَةٍ وَأَنْفَذَهَا مَعِيَ إِلَى الْفُضَيْلِ بْنِ عِيَاضٍ رَحِمَهُ اللهُ مِنْ طَرَسُوْسَ : يَا عَابِدَ الْحَرَمَيْنِ ........ (الى آخره) فَلَقِيْتُ الْفُضَيْلَ بِكِتَابِهِ فِي الْحَرَمِ . فَقَرَأَهُ ، وَبَكَى ، ثُمَّ قَالَ : صَدَقَ أَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَنَصَحَ . سير اعلام النبلاء ج ۸ ص ۴۱۲ اَلطَّبَقَةُ الثَّامِنَةُ عَبْدُ اللهِ بنُ الْمُبَارَكِ بنِ وَاضِحِ الْحَنْظَلِيُّ

ابوعبدالرحمن ( عبدالله بن مُبارک رَحِمَهُ اللهُ ) ربښتيا ويلي ، او ماته يې نصيحت کړی .

# د جهاد نور فوائد او حکمتونه

۱ . په جهاد سره په مخ د زمکه اسلامي نِظام قائميږي ، اسلام غالبه کيږي ، او د کافرانو فِتنه ختميږي . (۱)

۲ . په جهاد سره کافران ذليله کيږي ، او د مسلمانانو سِينې پرې يَخيږي . (۲)

۳ . په جهاد سره د زمکې نه فساد ختميږي ، او د دِيني عبادت ګاهو ( جُماتونو وغيره ) حفاظت کيږي . (۳)

---

(۱) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾ . الانفال آية ۳۹

ترجمه : او تاسو د کافرانو سره اُوجنګيږئ تر دې چې فِتنه پاتې نشي ، او ټول دِين يواځې د الله ﷻ ( قائم ) شي .

قال ابن تيمية رَحِمَهُ اللهُ : وَالجِهَادُ مَقْصُودُهُ أَنْ تَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ العُلْيَا ، وَأَنْ يَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ؛ فَمَقْصُودُهُ إِقَامَةُ دِينِ اللهِ . مجموع الفتاوى لابن تيمية ۱۵/۱۷۰ سورة يوسف مقصود الجهاد .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ . التوبة آية ۱۴ ، ۱۵ .

ترجمه : ( اې مؤمنانو ! ) تاسو د دوی ( يعنی کافرانو ) سره اُوجنګيږئ الله تعالى به ستاسو په لاس باندې دوی ته عذاب ورکړي ، رَسواء به يې کړي ، د دوی په مقابله کې به ستاسو مدد اوکړي ، او ( دوی ته په سزا ورکولو سره ) د مؤمنانو سِينې به يَخې کړي ، د دوی د زړونو غصه به لرې کړي ، او الله ﷻ چې د چا په باره کې اوغواړي د هغه توبه قبلوي ، او الله تعالى پوهه او حِکمت خاوند دی .

**فائده** : په دې آيت کې الله ﷻ د جهاد شپږ (۶) فوائد ذکر کړل : ۱ . د مؤمنانو په لاس کافرانو ته عذاب ورکول . ۲ . د کافرانو رَسوا ( او شرمنده ) کول . ۳ . مسلمانانو ته غلبه ورکول . ۴ . د مؤمنانو سِينې يخېدل . ۵ . د کافرانو غصه ختمول . ۶ . بعضې کافرانو ته د توبې توفيق ملاويدل .

(۳) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ﴾ . الحج آية ۴۰ .

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴾ . البقرة آية ۲۵۱ .

٤. په جهاد سره کمزوري مسلمانان د کافرانو د ظلم نه خلاصيږي ، او کوم مسلمانان چې د هغوی سره قيديان دي د هغوی راخلاصولو ته لار برابرېږي .(١)

٥. په جهاد سره په دُنيا کې د مُخلصينو او منافقينو په مينځ کې تميز پيدا کيږي ، يعنی د مؤمنانو او منافقينو امتحان اخيستلې شي ، ددې د پاره چې مؤمنان د منافقينو نه جدا شي ، ځکه مؤمنان جهاد کوي ، او منافقين هسې بهَانې جوړوي .(٢)

٦. د جهاد په ذريعه مسلمانانو ته د شهادت اُوچته مرتبه ملاويږي .(٣)

ددينه علاوه د جهاد نور ډير فوائد هم شته ، چې هغه ټول په دې مختصر وخت کې بيانول ممکن ندي .

## په جهاد کې هر قسمه مرګ باندې مړ کيدونکې مسلمان شهيد دی

١. څوک چې د الله ﷻ په لار کې اُووځي ، هِجرت اوکړي ، يا جهاد ته لاړ شي او هلته په جهاد کې شهيد شي يا په خپل مرګ باندې مړ شي نو الله تعالی داسې کس ته هم د شهادت اُوچته مرتبه ورکوي ، ده ته هم بهترين رِزق او نعمتونه ورکوي . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۞ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ اللهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴾ .(٤)

---

(١) الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴾. النساء آية ٧٥.

(٢) الله تعالی فرمايي : ﴿ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ؕ وَاللهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴾. التوبة آية ١٦ .

﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا اَخْبَارَكُمْ ﴾. سورة محمد آية ٣١.

(٣) الله ﷻ فرمايي، ﴿ اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ . آل عمران آية ١٤٠ .

(٤) الحج آية ٥٨، ٥٩.

ترجمه : او کوم خلق چې د الله په لاره کې هجرت اوکړي بيا هغوی اُووژلې شي ، يا مړه شي نو الله تعالی به خامخا دوی ته ښه رزق ورکړي ، او بيشکه الله تعالی خامخا بهترين رزق ورکوونکې دی . الله تعالی به دوی ضرور داسې ځای ته داخل کړي چې هغه ځای به دوی خوښ کړي ، او بشکه الله تعالی پُوهه (او) بُرد باره دی .

همدا مضمون په نورو آيتونو کې هم بيان شوی . (۱)

۲ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ فَصَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَمَاتَ أَوْ قُتِلَ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ أَوْ بَعِيْرُهُ أَوْ لَدَغَتْهُ هَامَةٌ ، أَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللهُ فَإِنَّهُ شَهِيْدٌ وَ إِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ . (۲)

څوک چې د الله ﷻ په لاره ( جهاد وغيره ) کې اُووځي بيا هغه په خپل مرګ باندې مړ شي يا اُووژلې شي نو هغه شهيد دی ، يا هغه لره خپل آس يا خپل اُوښ اُووهي او په خپو کې يې مېده کړي ، يا څه زهريله ځناور ( مار وغيره ) يې اُوچيچي ، يا ناڅاپه د الله ﷻ په مَرضې سره په خپله بِستره باندې مړ شي نو په هر صورت کې دا شهيد دی ، او دده د پاره جنت دی .

## د شهيدانو تعداد

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( صحابه کرامو ته ) اوفرمايل :

مَا تَعُدُّوْنَ الشَّهِيْدَ فِيْكُمْ ؟ تاسو شهيد چاته وايئ ؟

صحابه کرامو ورته اوفرمايل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ .

---

(۱) الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ . النساء آية ۱۰۰ .

﴿ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۞ وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴾ . آل عمران آية ۱۵۷ ، ۱۵۸ .

(۲) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۱۶ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۳۴۱۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۴۳ ، سنن ابي داؤد بابٌ في من مات غازِيًا رقم الحديث ۲۴۹۹ . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الفصل الثاني رقم ۳۸۴۰(۵۳) ، كنز العمال رقم ۱۰۵۵۵ ، الجهاد لابن ابي عاصم ج ۱ ص ۲۲۲ رقم الحديث ۵۴ . و ج۲ ص ۵۷۶ رقم ۲۳۵ .

څوک چې د الله ﷻ په لاره کې اُووژلې شي نو هغه شهيد دی .

نبي عليه السلام اوفرمايل :

إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِيْ إِذًا لَقَلِيْلٌ .

بيشکه بيا خو به زما د اُمت شهيدان ډير کم شي .

صحابه کرامو عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! نو شهيدان څوک دي ؟ نبي ﷺ اوفرمايل :

مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ مَاتَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ... وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ . (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لاره کې اُووژلې شي هغه شهيد دی ، څوک چې د الله ﷻ په لار کې په خپل مرګ مَړشي هغه شهيد دی ، څوک چې د طاعون بيمارۍ په وجه مړ شي هغه شهيد دی ، څوک چې د خېټې په بيمارۍ کې مړ شي هغه شهيد دی ، او څوک چې په اُوبو کې ډوب شي نو هغه هم شهيد دی .

په احاديثو مبارکه ؤ کې ددينه علاوه د نورو شهيدانو تذکره هم راغلې . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه . قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَا تَعُدُّوْنَ الشَّهِيْدَ فِيْكُمْ ؟ » قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ . قَالَ : « إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِيْ إِذًا لَقَلِيْلٌ » . قَالُوْا : فَمَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ مَاتَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ . وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ » . قَالَ ابْنُ مِقْسَمٍ : أَشْهَدُ عَلَى أَبِيْكَ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ أَنَّهُ قَالَ : « وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ » . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَاءِ رقم الحديث ١٦٥ ( ١٩١٥ ) ، سنن ابن ماجة باب ما يرجى فيه الشهادة رقم الحديث ٢٨٠٤ ، صحيح ابن حبان فَصْلٌ فِي الشَّهِيدِ ذِكْرُ الخِصَالِ الَّتِي يُدْرِكُ بِهَا الْمَرْءُ فَضْلَ الشَّهَادَةِ وَإِنْ لَمْ يُقْتَلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ٣١٨٦ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٦١ ، شعب الايمان رقم ٩٤١٣ ، و رقم ٩٤١٥ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨١١ (٢٥) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٥٨٣ ، و رقم ٢٥٢٩ ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ٩٥٧٦ .

(۲) وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ : اَلْمَطْعُوْنُ ، وَالْمَبْطُوْنُ ، وَالْغَرِقُ ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ ، وَالشَّهِيْدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَاءِ رقم الحديث ١٦٤ ( ١٩١٤ ) . صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ٣١٨٨ فَصْلٌ فِي الشَّهِيدِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُصْطَفَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُرِدْ بِهٰذَا الْعَدَدِ نَفْيًا عَمَّا وَرَاءَهُ . ← ← ← ← ← ← ← ←

مثلا په اور او سوزي ، ديوال ورباندي را اوغورځيږي ، زنانه د ولادت په وخت مړه شي يا يې په خېټه کې بچې وي او مړه شي ، يا په ځوانۍ کې د واده نه مخکې مړه شي ، يا څوک د خپل مال او خپلې بي بي په حفاظت کې مړ شي ، يا څوک د خپل ځان په دفاع کې مړ شي ، يا د ظالم نه د خپل ظلم بدله اخيستلو حالت کې مړ شي نو دا هم په شهيدانو کې داخل دي ، خو دا اُخروي شهيدان دي ، يعنې دوی ته به په قيامت کې د شهيد ثواب ورکولې شي ، خو په دُنيا کې به دوی ته غُسل ورکولې شي ، البته صرف دُنيوي شهيد ته به غُسل نشي ورکولی .

( **نوټ** : ددې مسئلې پوره تفصيل روستو " د شهادت فضائل او د شهيد مقام " په موضوع کې د شهيد په اقسامو کې ذکر دی . ابوالشمس علي عنه )

---

←←← وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ : اَلْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ ، وَالْغَرِقُ شَهِيْدٌ ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيْدٌ ، وَالْمَبْطُوْنُ شَهِيْدٌ ، وَصَاحِبُ الْحَرِيْقِ شَهِيْدٌ ، وَالَّذِيْ يَمُوْتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيْدٌ ، وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ شَهِيْدٌ . قال الالباني : صحيح . سنن ابي داود كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابٌ فِيْ فَضْلِ مَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ رقم ۳۱۱۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الجنائز الفصل الثاني رقم الحديث ۱۵۶۱ (۳۹) ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۳۱۸۹ فَصْلٌ فِي الشَّهِيْدِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُصْطَفَى لَمْ يُرِدْ بِقَوْلِهِ: الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ نَفْيًا عَمَّا وَرَاءَ هٰذَا الْعَدَدِ الْمَحْصُوْرِ . وَرَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ أَيْضًا .

# د اسلامي سَرحداتو د حفاظت او پهره دارۍ فضائل

په احاديثو مباركهٔ کې د اِسلامي سَرحداتو د حفاظت او پهره دارۍ ( څوکيدارۍ ) ډير فضائل بيان شوي ، يعنى کله چې يو مسلمان د الله ﷻ د رَضا د پاره د دُشمن په مقابله کې د اسلامي سَرحداتو حفاظت (پهره) کوي ، او مقابلې ته تيار ولاړ وي نو دداسې خوش نصيبه کس د پاره په صحيح احاديثو مباركهٔ کې ډير فضائل بيان شوي .

الله ربّ العزت په قرآن مجيد کې مسلمانانو ته دا حُکم کړى :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾. (۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! ( په تکليفونو باندې) صبر او کړئ ، ( د کافرانو سره د مقابلې په وخت )يو بل په صبر آماده کړئ ( يعنى په مقابله کې ځانونه مضبوط کړئ) ، د جهاد د پاره تيار اوسئ ، او د الله تعالى نه اُويرېږئ ، ددې د پاره چې تاسو کامياب شئ .

## د " رِباط " او " مُرابِط " معنٰى

علماؤ د رِباط ډيرې معناګانې ذکر کړې :

۱ . په تفسير معارف القرآن کې ذکر دي : د اِسلامي سرحداتو د حفاظت د پاره د جنګ تيارۍ کولو باوجود هلته قِيام کولو ته " رِباط " او " مُرابَطَة " ويلې شي . (۲)

۲ . علامه سرخسي رحمه الله په " شرح سير کبير " کې د رباط متعلق ليکلي :

---

(۱) آل عمران آية ۲۰۰ .

بل ځاى الله ﷻ فرمايي :﴿ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾. التوبة آية ۵ .

ترجمه : بيا کله چې د اِحترام مياشتې تېرې شي نو مشرکين چې چيرته بيامومئ وې وژنئ ، وې نيسئ ، راګير يې کړئ ، او په هر ځاى کې ورته ( د نيولو د پاره پټ) کيني ، پس که چيرته دوى توبه اُوباسي ، (په پابندۍ سره) مونځ قائم کړي او زکوة ورکوي نو بيا د دوى لار پرېږدئ ، بيشکه الله ﷻ بخونکې مهربان دى .

(۲) تفسير معارف القرآن سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ .

هُوَ عِبَارَةٌ عَنِ الْمُقَامِ فِيْ ثَغْرِ الْعَدُوِّ لِإِعْزَازِ الدِّيْنِ ، وَدَفْعِ شَرِّ الْمُشْرِكِيْنَ عَنِ الْمُسْلِمِيْنَ . (۱)

رباط دېته وايي چې مسلمان د دُښمن په مقابله کې د اسلامي سرحداتو د حفاظت د پاره په دې خاطر تيار موجود وي چې د اسلام شان اُوچت شي ، او مسلمانانو ته د مشرکينو (او کافرانو ) شَر دفع شي .

۳. علامه قرطبي رحمه الله د "مرابط" معنى دا ليکلى :

اَلْمُرَابِطُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عِنْدَ الْفُقَهَاءِ هُوَ الَّذِيْ يَشْخَصُ إِلٰى ثَغْرٍ مِنَ الثُّغُوْرِ لِيُرَابِطَ فِيْهِ مُدَّةً مَا . (۲)

د فقهاء کرامو په نزد باندې مُرابِط فِي سَبِيل الله هغه چاته وايي چې هغه يو اسلامي سرحد ته لاړ شي ، او هلته د څه وخت د پاره (د دشمنانو په مقابله کې ) خپل ځان تيار اوساتي .

مفسّرينو هم د رِباط همدا معاني ذکر کړي . (۳)

په احاديثو مباکه وُ کې د اسلامي سرحداتو د حفاظت او پهره دارۍ ډېر فضائل بيان شوي ، زه به درته يو څو ذکر کړم :

## يوه ورځ د اسلامي سرحدونو حفاظت او پهره کول د دُنيا او مَافِيهَا نه بهتر ده

د بخاري شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) شرح السير الكبير ج ۱ ص ۷ فَضِيلَةُ الرِّبَاط

(۲) الجامع لأحكام القرآن ( تفسير القرطبي ) ۴/۳۲۳ سورة آل عمران آية ۲۰۰ .

(۳) قَالَ ابن عطية: والقول الصحيح هو أن الربط هُوَ الْمُلَازَمَةُ فِي سَبِيلِ اللهِ. أَصْلُهَا مِنْ رَبْطِ الْخَيْلِ. ثُمَّ سُمِّيَ كُلُّ مُلَازِمٍ لِثَغْرٍ مِنْ ثُغُوْرِ الْإِسْلَامِ مُرَابِطًا. فَارِسًا كَانَ أَوْ رَاجِلًا . تفسير القرطبي ۴/۳۲۳ آل عمران آية ۲۰۰ .

وَرَابِطُوْا أبدانكم وخيولكم في الثغور مترصدين للغزو، وأنفسكم على الطاعة . تفسير البيضاوي

( وَرَابِطُوا ) أَقِيمُوا عَلَى الْجِهَادِ . تفسير الجلالين .

{ وَرَابِطُوْا } أي لازموا ثغوركم مستعدين للكفاح والغزو . صفوة التفاسير .

رِبَاطُ يَوْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا . (۱)

د الله ﷻ په لاره کې یوه ورځ د اِسلامي سَرحداتو پهره کول د دُنیا او څه چې په دې دُنیا کې دي ـ ددې ټولو نه بهتر ده.

**د حدیث مطلب** : بعضې علماؤ ددې حدیث همدا ظاهري مطلب اخیستی "چې یوه ورځ د اسلامي سرحداتو حفاظت کول د دُنیا او ددې د ټولو شیانو نه بهتر دی".

بعضې علماؤ دا مطلب بیان کړی چې که د یو انسان دا طاقت پیدا شي چې بِالفَرضِ والمَحال ددې ټولې دُنیا مالِک شي او دا د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړي نو ددینه یوه ورځ د اسلامي سرحداتو حفاظت او پهره کول بهتر ده. دې قول ته قاضي عِیاض او نورو علماؤ ترجیح ورکړې ده. (۲)

بعضې علماؤ ددې حدیث مطلب دا بیان کړی چې په دې حدیث کې د مسلمانانو د پوهې د پاره د مغیباتو تَشبِیه د محسوساتو سره ورکړې شوی.

---

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ رِبَاطِ يَوْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحدیث ۲۸۹۲ ، سنن الترمذي باب ماجاء في فضل المرابط رقم الحدیث ۱۶۶۴ ، سنن النسائي فضل الرِّباط رقم الحدیث ۳۱۶۹ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۲۶۳۵ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۳۹۷۹ ، مسند احمد رقم الحدیث ۲۲۸۷۲.

(۲) امام نووي رحمه الله په شرح د مسلم کې ذکر کړي/: (لَغَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا) وَمَعْنَى هٰذَا الْحَدِيْثِ أَنَّ فَضْلَ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَثَوَابَهُمَا خَيْرٌ مِنْ نَعِيْمِ الدُّنْيَا كُلِّهَا لَوْ مَلَكَهَا إِنْسَانٌ وَتَصَوَّرَ تَنَعُّمَهُ بِهَا كُلِّهَا . لِأَنَّهُ زَائِلٌ وَنَعِيْمَ الْآخِرَةِ بَاقٍ قَالَ الْقَاضِيْ وَقِيْلَ فِيْ مَعْنَاهُ وَمَعْنَى نَظَائِرِهِ مِنْ تَمْثِيْلِ أُمُوْرِ الْآخِرَةِ وَثَوَابِهَا بِأُمُوْرِ الدُّنْيَا أَنَّهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا لَوْ مَلَكَهَا إِنْسَانٌ وَمَلَكَ جَمِيْعَ مَا فِيْهَا وَأَنْفَقَهُ فِيْ أُمُوْرِ الْآخِرَةِ قَالَ هٰذَا الْقَائِلُ وَلَيْسَ تَمْثِيْلُ الْبَاقِيْ بِالْفَانِيْ عَلَى ظَاهِرِ إِطْلَاقِهِ . وَاللهُ أَعْلَمُ . شرح النووي علی مسلم (المنهاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج) ۲۶/۱۳ بَابُ فَضْلِ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ذکر کړي : (... مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا) وَالْمَعْنَى فَضْلُ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ نِعَمِ الدُّنْيَا كُلِّهَا ، لِأَنَّهَا زَائِلَةٌ فَانِيَةٌ وَنِعَمُ الْآخِرَةِ كَامِلَةٌ بَاقِيَةٌ . وَمُحْتَمَلٌ أَنَّ الْمُرَادَ أَنَّ هٰذَا الْقَدْرَ مِنَ الثَّوَابِ خَيْرٌ مِّنَ الثَّوَابِ الَّذِيْ يَحْصُلُ لِمَنْ لَوْ حَصَلَتْ لَهُ الدُّنْيَا وَأَنْفَقَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ۲۴۵۷/۶ كِتَابُ الْجِهَادِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ.

بعضې علماؤ ددې حديث نور مطلبونه هم بيان کړي چې د پهره دارۍ پټ اجر ددې دُنيا د ظاهري ټولو نعمتونو نه بهتر دی . (۱)

## جهاد کې پهره کوونکي ته د مرګ نه پس اَجر ملاويدل . او د عذابِ قبر نه حفاظت

کوم کس چې په جهاد کې د اسلامي سرحداتو حفاظت او پهره کوي نو داسې کس ته د مرګ نه پس تر قيامته پورې مسلسل ددې اَجر ليکلې شي ، او داسې کس به د عذابِ قبر نه هم محفوظ وي .

د ابوداؤد شريف او ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

كُلُّ الْمَيِّتِ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الْمُرَابِطَ فَإِنَّهُ يَنْمُو لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . وَيُؤَمَّنُ مِنْ فَتَّانِ الْقَبْرِ . (۲)

د هر مړي عمل د هغه د مرګ سره ختميږي ( ده ته د خپل عمل ثواب رسيدل بَند شي ) مګر د الله ﷻ په لاره کې د اسلامي سرحد حفاظت کوونکي اَجر نه ختميږي ، ځکه ده ته ددې عمل اَجر تر قيامته پورې مسلسل زياتولې شي ، او د قبر د فِتنې ( عذاب او حِساب ) نه به محفوظ وي .

**وجه** : په تفسير معارف القرآن کې ذکر دي : د مذکوره حديث نه معلومه شوه چې د نورو صدقه جاريه کارونو نه په جهاد کې د پهرې کولو فضيلت زيات دی ، ځکه ددې نورو صدقه جاريه کارونو ثواب انسان ته هله رسيږي چې کله ددينه خلق فائده اخلي ، خو په جهاد کې پهره کوونکي ته بغير د څه شرط نه تر قيامته پورې ددې نوې نوې اجر رسي .

---

(۱) مشارع الاشواق ج۱ ص ۳۶۹ .

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي فَضْلِ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۲۵۰۰ قال الالباني: صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا رقم الحديث ۱۶۲۱ وقال الترمذي : هذا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۱۷ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۳ (۳۶) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۳۴۹ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۲۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۸۰۳ .

وجه داده چې نور مسلمانان نېک اعمال هله کولې شي چې دوی د دُشمن د حملو نه محفوظ وي ، نو ګویا په جهاد کې پهره کول د نورو مسلمانانو د نېکو اعمالو سبب دی ، نو ځکه ده ته تر قیامته پورې ددې اَجر رَسیږي . (۱)

ملا علي قاري رحمه الله هم په " مرقاة شرح مشکوة " کې دا وجه لیکلې ده چې د اسلامي سرحداتو حفاظت کوونکي مجاهد خپل ځان د داسې کار د پاره وقف کړې وي چې ددې فائده تر قیامته پورې ټولو مسلمانانو ته رسي ، او هغه کار دادی چې ده د دُشمنانو دَفع کولو سره دِین ژوندی ( او سَربُلند ) ساتلی دی . (۲)

ددینه علاوه که چیرته پهره کوونکي مجاهد د پهرې کولو سره سره څه نور نېک اَعمال کوي او دا په دې حالت کې وفات شي نو ده ته به د پهره دارۍ د اَجر سره سره ددې نورو نېکو اعمالو اجر هم تر قیامته پورې لیکلې شي . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أُجْرِيَ عَلَيْهِ أَجْرُ عَمَلِهِ الصَّالِحِ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُ ، وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ ، وَأَمِنَ مِنَ الْفَتَّانِ ، وَبَعَثَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ آمِنًا مِنَ الْفَزَعِ . (۳)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې د پهرې (یعنی سرحداتو د حفاظت) په حالت کې وفات شي نو ده ته به د ټولو هغه نېکو عملونو اَجر جاري کولې شي کوم چې ده کول ، او ده ته به دده رِزق هم جاري وي ، دا به د قبر د فِتنې ( عذاب او سوال جواب ) نه هم محفوظ وي ، او الله تعالی به

(۱) معارف القرآن سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د مذکوره حدیث تشریح داسې کړی : (كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ) بِصِيغَةِ الْمَجْهُولِ ، أَيْ يَنْقَطِعُ عَنْ أَهْلِهِ وَيُطْبَعُ (عَلَى عَمَلِهِ) : وَالْمَعْنَى لَا يُكْتَبُ لَهُ ثَوَابٌ جَدِيدٌ (إِلَّا الَّذِيْ مَاتَ مُرَابِطًا فِيْ سَبِيلِ اللهِ فَإِنَّهُ يُنَمَّى) : أَيْ يُزَادُ لَهُ (عَمَلُهُ) بِأَنْ يَصِلَ إِلَيْهِ كُلَّ لَحْظَةٍ أَجْرٌ جَدِيدٌ (إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ) : فَإِنَّهُ فَدَى نَفْسَهُ فِيمَا يَعُودُ نَفْعُهُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ ، وَهُوَ إِحْيَاءُ الدِّيْنِ بِدَفْعِ أَعْدَائِهِمْ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح كِتَابُ الْجِهَادِ الْفَصْلُ الثَّانِي ۶/۲۴۷۶ في تشريح حديث ۳۸۲۳ .

(۳) تفسير القرطبي ۴/۳۲۵ سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۶۷ قال الالباني: صحيح . المعجم الاوسط رقم الحديث ۵۳۱۲ ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ۹۴۹۸ بابٌ في الرباط ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۵۵۹ ، تفسير معارف القرآن سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ .

دا د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راپاڅوي چې د هر قسمه ويرې نه به په أمن وي .
همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی . (۱)

**د عذابِ قبر نه په أمان کيدل**: د مذکوره احاديثو نه دا هم ثابته شوه چې څوک په جهاد کې د اسلامي سرحداتو د حفاظت ( او پهره کولو ) په حالت کې وفات شي نو داسې کس به د عذابِ قبر نه محفوظ وي .

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر دی : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :
مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أُوْمِنَ عَذَابَ الْقَبْرِ ، وَنَمَا لَهُ أَجْرُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . (۲)
څوک چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې د پهرې کولو په حالت کې وفات شي نو دا به د عذابِ قبر نه محفوظ وي ، او ده ته به د دې أجر تر قيامته پورې همداسې مسلسل زياتولې شي .

## په جهاد کې يوه ورځ پهره کول د نورو زرو ورځو د عبادت نه بهتر ده

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :
رِبَاطُ يَوْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيْمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَنَازِلِ . (۳)

---

(۱) عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ . وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِيْ كَانَ يَعْمَلُهُ ، وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ ، وَأَمِنَ الْفَتَّانَ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۱٦۳ ( ۱۹۱۳ ) ، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل المرابط رقم الحديث ۱٦٦٥ ، سنن النسائي فضل الرباط رقم الحديث ۳۱٦۸ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۱۸۹۷ كتاب الجهاد الترغيب في الرباط في سبيل الله عزوجل ، تفسير القرطبي ج۴ ص ۳۲۴ سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ ، الجهاد لابن ابي عاصم رقم الحديث ۳۰۴ .

(۲) إسناده قوي . صحيح ابن حبان مخرجا بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُرَابِطَ إِنَّمَا يَجْرِيْ لَهُ أَجْرُ عَمَلِهِ لَا عَمَلُهُ رقم الحديث ۴٦۲۵ قال الالباني : صحيح . المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۲۳۴۹ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۴۸۰ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۸۷ ، مجمع الزوائد باب في الرباط رقم الحديث ۹۵۰۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۷۲۳ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْمُرَابِطِ رقم الحديث ۱٦٦۷ قال الالباني : حسن . سنن النسائي فضل الرباط رقم ۳۱٦۹ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۳۱(۴۴) ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجهاد رقم ۱۲۲۴(۹) الترغيب في الرباط في سبيل الله عزوجل . كنز العمال رقم ۱۰۵۱۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۸۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۴۷۰ ، و رقم ۵۵۷ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۴۵۵ .

د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې يوه ورځ پهره کول د نورو هغه زرو ( ۱۰۰۰ ) ورځو د عبادت نه بهتر ده په کومو کې چې پهره نه وي .

**نوټ** : دا فضيلت په جهاد کې د پهرې کولو سره خاص دی . (١)

## په جهاد کې يوه شپه پهره کوونکي ته د زرو ( ۱۰۰۰ ) ورځو نفلي روژو او زرو ( ۱۰۰۰ ) شپو د عبادت ثواب ملاويږي

څوک چې يوه شپه د اسلامي سرحداتو حفاظت ( او پهره ) اوکړي نو ده ته د زرو (۱۰۰۰) ورځو نفلي روژو ، او زرو (۱۰۰۰) شپو د عبادت ثواب ملاويږي .

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ رَابَطَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ سُبْحَانَهُ ، كَانَتْ كَأَلْفِ لَيْلَةٍ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا . (٢)

چا چې د الله ﷻ په لار کې يوه شپه پهره اوکړه نو ده ته به د زرو (۱۰۰۰) ورځو د نفلي روژو ، او د زرو (۱۰۰۰) شپو د عبادت ثواب ملاويږي .

( يعنی په يوه شپه پهره کولو سره به ده ته د داسې زرو شپو د عبادت ثواب ملاويږي چې زر ورځې يې ورسره روژه هم نيولې وي ) .

۲ . همدا مضمون په بل صحيح حديث کې هم صراحةً ذکر شوی : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) ( خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ سِوَاهُ ) : أَيْ فِيْمَا سِوَى الرِّبَاطِ ، أَوْ فِيْمَا سِوَى سَبِيْلِ اللهِ ، فَإِنَّ السَّبِيْلَ يُذَكَّرُ وَيُؤَنَّثُ (مِنَ الْمَنَازِلِ) : وَخُصَّ مِنْهَا الْمُجَاهِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ بِدَلِيْلٍ مُنْفَصِلٍ عَقْلِيٍّ وَنَقْلِيٍّ ، وَهُوَ يُنَافِيْ تَفْسِيْرَ الرِّبَاطِ بِالِانْتِظَارِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسَاجِدِ ، وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " فَذٰلِكَ الرِّبَاطُ ، فَذٰلِكَ الرِّبَاطُ " ؛ لِأَنَّهُ رِبَاطٌ دُوْنَ رِبَاطٍ ، بَلْ هُوَ مُشَبَّهٌ بِالرِّبَاطِ لِلْجِهَادِ ، فَإِنَّهُ الْأَصْلُ فِيْهِ ، أَوْ هٰذَا رِبَاطٌ لِلْجِهَادِ الْأَكْبَرِ . كَمَا أَنَّ ذَاكَ رِبَاطٌ لِلْجِهَادِ الْأَصْغَرِ ، وَتَفْسِيْرٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى : { أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا } فَإِنَّ الرِّبَاطَ الْجِهَادِيَّ قَدْ فُهِمَ مِنَّا قَبْلَهُ ، كَمَا لَا يَخْفٰى . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٦ / ٢٤٨٠ كتاب الجهاد الفصل الثاني .

(٢) سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ٢٧٦٦ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الجهاد الترغيب في الرباط في سبيل الله عز و جل رقم الحديث ١٢٢٣ ( ٩ ) ، تفسير القرطبي ج٤ ص ٣٢٥ سورة آل عمران في تشريح آية ٢٠٠ ، كنز العمال رقم الحديث ١٠٦٣٥ .

حَرَسُ لَيْلَةٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنَ أَلْفِ لَيْلَةٍ يُقَامُ لَيْلُهَا، وَيُصَامُ نَهَارُهَا . (۱)

د الله ﷻ په لار کې يوه شپه د مجاهدينو پهره کول د هغه زرو (۱۰۰۰) شپو نه ډيره بهتره ده چې په هغې کې ټوله شپه عبادت اوشي ، او ددې په ورځو کې نفلي روژه اونيولې شي .

(يعنى که يو کس مسلسل زر ورځې نفلي روژې اونيسي او ددې په شپو کې ټوله شپه عبادت اوکړي نو ددينه يوه شپه د الله ﷻ په لار کې د مجاهدينو پهره کول ډيره افضل ده)

## يو شوارورز پهره کول د يو مياشت نفلي روژو او ټوله شپه عبادت نه بهتر ده

د مسلم شريف حديث دي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ . (۲)

يو شوارورز پهره کول د يو مياشت نفلي روژو او يو مياشت ټوله شپه عبادت نه بهتر ده .

## د يَرې په ځاى کې پهره کولو واله شپه د ليلة القدر نه غوره ده

۱. نبي کريم صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل :

أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِلَيْلَةٍ أَفْضَلَ مِنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ؟ حَارِسٌ حَرَسَ فِيْ أَرْضِ خَوْفٍ لَعَلَّهُ أَنْ لَا يَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهِ . (۳)

آيا زه تاسو ته د ليلة القدر نه بهترينه شپه او نه ښايم ؟ کوم پهره کوونکې چې د خطرې

---

(۱) المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۲۶ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . مسند احمد رقم ۴۳۳ ، ورقم ۴۶۳ ، المعجم الکبير للطبراني رقم ۱۴۵ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۲۹ ، الجهاد لابن ابي عاصم ج۲ ص ۴۲۴ رقم الحديث ۱۵۰ ، کنز العمال رقم الحديث ۱۰۷۳۰ .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الرِّبَاطِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ رقم الحديث ۱۶۳ ( ۱۹۱۳ ) ، سنن الترمذي باب ما جاء في فضل المرابط رقم الحديث ۱۶۶۵ ، سنن النسائي فضل الرباط رقم الحديث ۳۱۶۸ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۱۸۹۷ کتاب الجهاد الترغيب فى الرّباط في سبيل الله عزوجل ، تفسير القرطبي ج۴ ص ۳۲۴ سورة آل عمران في تشريح آية ۲۰۰ ، الجهاد لابن ابي عاصم رقم الحديث ۳۰۴ .

(۳) المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۲۴ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . السنن الکبرى للبيهقي باب فضل الحرس في سبيل الله رقم ۱۸۴۴۴ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۲۹ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۳۴ ، کنز العمال رقم الحديث ۱۰۷۱۶ .

په ځای کې پهره اوکړي او دا اِمکان وي چې دا کس واپس کور ته ژوندې رانشي نو دغه شپه د ليلة القدر نه غوره ده .

۲ . بلکه د حضرت ابوهريرة ﷺ نه خو تر دې پورې نقل دي چې د پهرې يوه شپه ماته په مسجدِ حرام او مسجدِ نبوي کې د ليلة القدر موندلو نه ډيره خوښه ده . (۱)

## په جهاد کې پهره کوونکي ته د ټولو حاجيانو د حجونو او عمرو ثواب ملاويږي

علامه ابن عساکر رحمه الله په خپل کتاب "تاريخ دمشق" کې دا واقعه رانقل کړې :

ابراهيم يماني رحمه الله فرمايي چې زه د يمن نه راغلم او د سفيان ثوري رحمه الله په خدمت کې حاضر شوم ، هغه ته مې ووېل :

اې ابوعبدالله (سفيان ثوري) ! ما په زړه کې دا اِراده کړې چې زه دلته جَدّې ته راشم ، ددې ځای نه به هر کال پهرې ته ځم ، په هره مياشت کې به يوه عُمره کوم ، هر کال به حج کوم ، خپل کور ته به هم نزدې شم . نو آيا تاسو ته زما دا کار خوښ دی او که شام ته لاړ شم هلته د سرحداتو د حفاظت د پاره پهره اوکړم ؟

سفيان ثوري رحمه الله ورته اووېل :

يَا أَخَا أَهْلِ الْيَمَنِ ! عَلَيْكَ بِسَوَاحِلِ أَهْلِ الشَّامِ .

اې زما يَمني ورور ! په ځان باندې د شام ساحل ته تلل لازم کړه ، او هلته د سرحداتو د حفاظت د پاره پهره کوه .

(سفيان ثوريؒ درې کرتې دا جُمله اووېله ، او بيا يې ورته وجه هم بيان کړه :)

ځکه هر کال يولک ، دوه لکه ، درې لکه يا زيات خلق بيتُ الله ته ( د حج او عُمرې اداء کولو د پاره ) راځي :

لَكَ مِثْلُ حَجَّتِهِمْ وَعُمْرَتِهِمْ وَمَنَاسِكِهِمْ .

---

(۱) كَانَ أَبُوهُرَيْرَةَ ﷺ يَقُوْلُ : رِبَاطُ لَيْلَةٍ إِلَى جَانِبِ الْبَحْرِ مِنْ وَرَاءِ عَوْرَةِ الْمُسْلِمِيْنَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُوَافِقَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِيْ أَحَدِ الْمَسْجِدَيْنِ مَسْجِدِ الْكَعْبَةِ أَوْ مَسْجِدِ الرَّسُوْلِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ .... مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۹۶۱۶ ، سنن سعيد بن منصور باب ماجاء في فضل الرباط رقم الحديث ۲۴۱۰ ، كنزالعمال فضل الرباط رقم الحديث ۱۰۷۴۴ .

تاته به ددې تولو خلقو د حجونو عُمرو او نورو عباداتو ثواب ملاويږي . (۱)

## په جهاد کې پهره کوونکي ته د نورو مسلمانانو د مونځونو او روژو ثواب ملاويږي

حضرت انس بن مالک ﷺ فرمايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه د پهرې متعلق پوښتنه اوشوه ( چې پهره کوونکي ته په دې سره څومره اَجر ملاويږي ؟ )
نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

مَنْ رَابَطَ لَيْلَةً حَارِسًا مِنْ وَرَاءِ الْمُسْلِمِيْنَ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ خَلْفَهُ مِمَّنْ صَامَ وَصَلّٰى . (۲)

چا چې يوه شپه د نورو مسلمانانو پهره اوکړه نو دده نه روستو چې څومره خلقو روژې نيولي او مونځونه يې کړي د هغوی هومره اَجر به دې پهره کوونکي ته هم ورکولې شي .

## يوه شپه پهره کولو سره د جنت مستحق کيدل

په مشکوة شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده :
حضرت ابن عائذ رضي الله عنه فرمايي : رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د يو سړي جنازې سره لاړ ( ددې د پاره چې په هغه باندې د جنازې مونځ اوکړي ) ، کله چې جنازه کيښودې شوه نو حضرت عُمر رضي الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل :

لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ .

---

(۱) عن إبراهيم اليماني رَحِمَهُ اللهُ قال : قدمتُ من اليمن فأتيتُ سفيانَ الثوري فقلتُ يا ابا عبد الله إني جعلتُ في نفسي أن أنزل جدة فأرابط بها كلّ سنة ، وأعتمر في كل شهر عمرة ، وأحج في كلّ سنة حجة . وأقرب من أهلي أحياء أحبّ إليك أم آتي الشام ؟ فقال لي: يَا أَخَا أَهْل الْيَمَنِ ا عَلَيْكَ بِسَوَاحِلِ أَهْلِ الشَّامِ . عَلَيْكَ بِسَوَاحِلِ أَهْلِ الشَّامِ . عَلَيْكَ بِسَوَاحِلِ أَهْلِ الشَّامِ . فإنّ هذا البيتَ يحجّه في كلّ عام مائة ألف ومائتا ألف وثلاثمائة ألف وما شاء الله تعالى من التّضعيف لكَ مِثْل حجّتهم وعمرتهم ومناسكهم . تاريخ دمشق لابن عساكر ج۲ ص ۳۵۱ ، وهكذا في مشارع الاشواق ج۱ ص ۳۸۳ .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَجْرِ الرِّبَاطِ . فَقَالَ : مَنْ رَابَطَ ....
المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۸۰۵۹ بَابُ الْمِيمِ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي الرِّبَاطِ رقم الحديث ۹۴۹۹ وقال الهيثمي: رِجَالُهُ ثِقَاتٌ. كنز العمال رقم الحديث ۱۰۷۲۰ الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۱۸۰۲ ، وقال المنذري : رواه الطبراني في الاوسط باسناد جيد .

اې د الله رسوله ! تاسو په ده باندې د جنازې مونځ مه کوئ ، ځکه دا يو فاجِر سړی و .

( دې اَوريدو سره ) نبي عليه السلام خلقو طرف ته مخ مبارک وَر واړول او پوښتنه يې ورنه اوکړه : هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الإِسْلاَمِ؟

آيا په تاسو کې چا دا کس د اسلام په يو کار کولو باندې ليدلې دی ؟ ( يعنی تاسو دا په داسې کار ليدلی چې هغه په حقيقي اسلام باندې دلالت کوي ؟ )

يو سړي ووېل : نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

آو ، اې د الله رسوله ! دې کس د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې يوه شپه ( د مجاهدينو ) پهره کړې وه .

( دې اَوريدو سره ) نبي عليه السلام په ده باندې د جنازې مونځ اوکړو ، ( د دَفن کولو نه پس ) دده په قبر باندې يې په خپل لاس مبارک سره خاورې واچولی ، او دې مړي ته يې خطاب کولو سره اوفرمايل :

أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

ستا ملګري دا ګمان کوي چې ګني ته جهنّمي يې خو زه دا ګواهي ورکوم چې ته جنّتي يې .

بيا نبي عليه السلام حضرت عُمر ﷺ ته اوفرمايل :

يَا عُمَرُ ! إِنَّكَ لاَ تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلٰكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ . (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَائِذٍ ﷺ قَالَ : خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جِنَازَةِ رَجُلٍ . فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : لاَ تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ . فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ فَقَالَ : « هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الإِسْلاَمِ؟ » فَقَالَ رَجُلٌ : نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ . وَقَالَ : « أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ » وَقَالَ : يَا عُمَرُ ! إِنَّكَ لاَ تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلٰكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ٣٨٦٠ (٧٣) ، شعب الايمان الجهاد المرابطة في سبيل الله عز وجل رقم الحديث ٣٩٨٨ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٩٢٥ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الْحَرَسِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ٩٢٩٢ ، كنز العمال كتاب الجهاد من قسم الأفعال باب في فضله والحث عليه رقم الحديث ١١٣٥٦ .

اې عُمر ! د تانه به د خلقو د اَعمالو متعلق تپوس نشي کولی ، بلکه د تا نه به د فِطرت تپوس کولې شي .

( يعنی د تا نه به د خلقو د ګناهونو باره کې تپوس نشي کولی . بلکه د هغه شيانو په باره کې به تپوس کولې شي چې هغه په اسلام دلالت کوي چې هغه د دِين شَعائر او علامات دي ) .

**وضاحت :** چونکه د صحابه کرامو په زړونو کې يَره زياته وه نو ددې کس د څه اعمالو په وجه حضرت عُمر رضي الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل چې دا سړې فاجر دی . پيغمبر عليه السلام حضرت عُمر رضي الله عنه ددې جُرأت نه منع کړو ، او دا يې ورته واضحه کړه چې د يو انسان صرف اعمالو ته کتلو سره دده د اُخروي حيثيت په باره کې فيصله کول ندي پکار ، بلکه د انسان اُخروي نِجات دارو مدار د اِسلام په فِطرت يعنی بُنيادي عقائدو باندې دی ، هر چې اعمال دي نو الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډير مهربان دی ، پس کله چې يو کس داسې اسلامي عمل اوکړي چې هغه عمل ددې کس په اسلام باندې د پوره يقين او اعتقاد دلالت کوي نو ددې کس د مسلمان ثابتولو د پاره همدا خبره کافي ده . (۱)

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث بهترينه تشريح کړې : (أَصْحَابُكَ) أَيْ: بَعْضُهُمْ، أَوْ كُلُّهُمْ (يَظُنُّونَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ ) : لِكَوْنِهِمْ مِمَّا غَلَبَ عَلَيْهِمُ الْخَوْفُ ( وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ) : نَظَرًا إِلَى حُسْنِ الظَّنِّ بِاللَّهِ وَسَعَةِ الرَّحْمَةِ . (وَقَالَ: يَا عُمَرُ ! إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ ) : بِصِيغَةِ الْمَجْهُولِ (عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ ) أَيْ: مِنَ الْمَعَاصِي، وَفِي نُسْخَةٍ زِيَادَةُ : فِي الْإِسْلَامِ ، أَيْ: فِي حَالِ حُصُولِ إِسْلَامِهِمْ وَتَحَقُّقِ إِيمَانِهِمْ (وَلَكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ ) أَيْ: عَمَّا يَدُلُّ عَلَى الْإِسْلَامِ مِنْ شَعَائِرِ الدِّينِ، وَعَلَامَاتِ الْيَقِينِ. وَالْمَقْصُودُ مَنْعُ عُمَرَ رضي الله عنه عَمَّا أَقْدَمَ عَلَيْهِ. فَإِنَّ الْاِعْتِبَارَ بِالْفِطْرَةِ وَالْاِعْتِمَادَ عَلَى الْاِعْتِقَادِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ.

قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : قَوْلُهُ عَنِ الْفِطْرَةِ ، أَيْ: عَنِ الْإِسْلَامِ وَأَعْمَالِ الْخَيْرِ . لِقَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ » . يَعْنِي أَنْتَ يَا عُمَرُ مِثْلُكَ لَا يُخْبِرُ فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ عَنْ أَعْمَالِ الشَّرِّ لِلْمَوْتَى، بَلْ أَخْبِرْ عَنْ أَعْمَالِ الْخَيْرِ . كَمَا قَالَ: « اذْكُرُوا مَوْتَاكُمْ بِالْخَيْرِ » فَوَضَعَ لَا تُسْأَلُ مَوْضِعَ لَا تُخْبِرْ لِئَلَّا يَسْأَلَ أَحَدٌ ذَلِكَ ، وَلَا يُخْبِرُ كَلِمًا لِلسُّؤَالِ بِالْكُلِّيَّةِ . فَيَنْتَفِي الْإِخْبَارُ أَيْضًا ، وَلِذَلِكَ سَأَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَعْمَالِ الْخَيْرِ بِقَوْلِهِ: هَلْ رَآهُ أَحَدٌ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ " وَشَهِدَ لَهُ بِالْجَنَّةِ لِحِرَاسَتِهِ . فَاكْتَفَى بِالْحِرَاسَةِ عَنْ غَيْرِهَا مِنَ الْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ تَرْجِيحًا لِلْفِطْرَةِ عَلَى الْأَعْمَالِ السَّيِّئَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۶ /۲۴۹۸ كتاب الجهاد الفصل الثالث .

بهر حال ، په دې حديث کې اوية خوشخبري ده چې په پهره کولو سره انسان د جنت مستحق گرځي .

## پهره داری ته غاړه ایخودو په وجه نبي ﷺ د جنت زيرې ورکړو

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم (د خپلو صحابه کرامو سره) غزوه أحد ته د جهاد د پاره أووت نو په يو ځای کې يې اوفرمايل : نن شپه به په دې درّه باندې څوک پهره اوکړي ؟

د انصارو يو کس راپاڅيد چې نوم يې ذکوان بن عبد قيس ﷺ وُ ، او کُنيَت يې ابوالسَّبُع وُ ، ده اوويل : زه به پهره اوکړم . نبي عليه السلام ورته پوښتنه اوکړه :

مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟

ده ورته ووېل : اِبْنُ عَبْدِ قَيْسٍ .

زه د عبد قيس ځوي يم . ( ده خپل نوم وانه خيست ، بلکه د پلار نوم يې واخيست چې زه د عبد قيس ځوي يم ) .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : اِجْلِسْ . ته کينه .

پيغمبر عليه السلام دوباره هماغه اِعلان اوکړو ( چې نن شپه به زمونږ پهره څوک اوکړي ؟ ) . حضرت ذکوان ﷺ بيا پاڅيد ( او وې ويل چې زه به پهره اوکړم ) .

نبي عليه السلام ورته پوښتنه اوکړه :

مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟ ده ورته ووېل : أَنَا أَبُو السَّبُعِ . زه ابوالسّبع يم .

( دا ځل هم ده خپل نوم وا نه خيست ، بلکه کُنيت يې ذکر کړو ) .

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : تاسو په فلاني فلاني ځای باندې د پهرې د پاره اُودرېږئ .

حضرت ذکوان ﷺ نبي عليه السلام ته اوفرمايل : اې د الله رسوله ! په هر ځل باندې تاسو ته همدا ما جواب درکړو ، خپل نوم مې ځکه په هر ځل وانه خيست چې کيدې شي دلته د مشرکينو څوک جاسوس وي چې هغه پوهه نشي .

(دې اَوريدو سره) رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا .

د چا چې دا خوښه وي چې ( په دُنيا کې ) داسې کس اوګوري چې هغه به صبا په خپلو قدمونو سره د جنت په باغيچو کې ګرځي نو هغه دې دا ذکوان ﷺ اوګوري .

ددينه پس حضرت ذکوان ﷺ خپل کور ته لاړ ، او د خپلو بيبيانو نه يې رُخصت راواخيست ، راروان شو ، خپلو بيبيانو د لمن نه اُونيو او ورته وې ويل :

يَا أَبَا السَّبُعِ ! تَدَعُنَا وَتَذْهَبُ ؟ اې ابوالسّبع ! ته مونږ پرېږدې او ته ځې ؟

ده ورنه خپله لمن راخلاصه کړه ، راروان شو ، کله چې د خپلو بيبيانو نه لږ وړاندې راغی نو هغوی ته يې مخ وَرواړول او ورته وې ويل :

مَوْعِدُكُنَّ يَوْمُ الْقِيَامَةِ .

د تاسو سره به ملاقات د قيامت په ورځ کوم .

(دا يې وويل ، روان شو ، د پهرې ځای ته لاړ ) بيا دا شهيد شو . (۱)

## کومه سترګه چې د پهره دارۍ په وجه وِيخه پاتې شي په هغې باندې دجهنم اُور حرام دی

۱. د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

---

(۱) لَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ ، قَالَ : مَنْ يُنْتَدَبُ لِسَدِّ هٰذِهِ الثَّغْرَةِ اللَّيْلَةَ ؟ أَوْ كَمَا قَالَ . قَالَ : فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ ذَكْوَانُ بْنُ عَبْدِ قَيْسٍ أَبُو السَّبُعِ . فَقَالَ : أَنَا . فَقَالَ : مَنْ أَنْتَ ؟ قَالَ : اِبْنُ عَبْدِ قَيْسٍ . قَالَ : اِجْلِسْ . ثُمَّ دَعَا . فَقَالَهَا . فَقَامَ ذَكْوَانُ ﷺ . فَقَالَ : مَنْ أَنْتَ ؟ فَقَالَ : أَنَا أَبُو السَّبُعِ . فَقَالَ : كُونُوا مَكَانَ كَذَا وَكَذَا . فَقَالَ ذَكْوَانُ ﷺ : يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا هُوَ إِلَّا أَنَا . وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ يَكُونَ لِلْمُشْرِكِينَ عَيْنٌ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا . فَانْطَلَقَ ذَكْوَانُ ﷺ إِلَى أَهْلِهِ يُوَدِّعُهُنَّ . فَأَخَذْتَ نِسَاؤُهُ بِثِيَابِهِ ، وَقُلْنَ : يَا أَبَا السَّبُعِ ! تَدَعُنَا وَتَذْهَبُ ؟ فَاسْتَلَّ ثَوْبَهُ حَتَّى إِذَا جَاوَزَهُنَّ ، أَقْبَلَ عَلَيْهِنَّ . فَقَالَ : مَوْعِدُكُنَّ يَوْمُ الْقِيَامَةِ . ثُمَّ قُتِلَ .
الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۱۲۵ رقم ۱۵۱ .

عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ : عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ . وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. (۱)

دوه سترګې داسې دي چې هيڅ کله به دا د جهنم اور مَسه نکړي ( يعنی د جهنم معمولي آثر به هم وَرَاو نه رسي ) ؛ يوه هغه سترګه چې د الله ﷻ د يَرې يې ژړلي وي ، او دويمه هغه سترګه چې د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې يې د پهرې په وجه شپه وِيخه تېره کړې وي .

۲ . په يو روايت کې ذکر دي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمايل :

حُرِمَتْ عَيْنٌ عَلَى النَّارِ سَهِرَتْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . (۲)

هغه سترګه د جهنم په اُور باندې حرامه کړې شوې ده چې د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې يې پهره داري کړې وي .

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی . (۳)

## په پهره کې وفات کېدونکې کس شهيد دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا مَاتَ شَهِيْدًا ، وَوُقِيَ فَتَّانَ الْقَبْرِ ، وَغُدِيَ وَرِيْحَ بِرِزْقِهِ مِنَ الْجَنَّةِ ، وَجَرٰى

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْحَرَسِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۳۹ ، قال الالباني : حديث صحيح . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۹ ( ۴۲ ) ، شعب الايمان رقم الحديث ۷۷۵ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۲۶۲۰ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۹۴۸۸ باب الحرس في سبيل الله ، كنز العمال رقم الحديث ۵۸۷۵ ، الجهاد لابن ابي عاصم رقم الحديث ۱۴۶ .

(۲) سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ ثَوَابُ عَيْنٍ سَهِرَتْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۳۱۱۷ قال الالباني : صحيح . كنز العمال فضل الرباط رقم الحديث ۱۰۷۳۱ .

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : حُرِمَتِ النَّارُ عَلٰى عَيْنٍ دَمَعَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ . حُرِمَتِ النَّارُ عَلٰى عَيْنٍ سَهِرَتْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۳۲ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ " ووافقه الذهبي . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۴۲۵ باب فضل الحرس في سبيل الله ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۲۱۳ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۷۴۱ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۹۴۸ باب الحرس في سبيل الله ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۵۷۵ .

عَلَيْهِ عَمَلُهُ . (۱)

څوک چې د اسلامي سرحداتو په حفاظت ( پهره کولو ) کې وفات شي نو دا شهيد وفات شو ( يعنی ده د شهادت مرتبه حاصله کړه ) ، دا به د قبر د فِتنې ( امتحان او عذاب ) نه محفوظ وي ، سهر او ماښام به ده ته د جنت نه رزق ورکولې شي ، او د ده د عمل اَجر به ده ته تر قيامته پورې جاري وي .

**وجه** : دا د الله ﷻ قانون دی چې کوم مسلمان د يو نېک کار پُوخ قصد اوکړي او يا د اِلٰهي تقدير په وجه هغه کار اونشي نو الله ﷻ ده ته د هغې کار اَجر ورکوي ، او په صحيح احاديثو کې ددې ډير مثالونه ذکر دي :

مثلاً مجاهد د جهاد د پاره اُووځي نو که دا په لاره کې په خپل مرګ باندې مړ شي نو بيا هم دا شهيد دی .

يا يو کس د حج د پاره روان شي او لاره کې وفات شي نو ده ته هم د حج ثواب ورکولې شي .

يا يو کس په کور کې اَودس اوکړي او جُمات ته د جَمعې مانځه د پاره روان شي هلته چې اُورسي ورته معلومه شي چې جَمعه شوې ده نو ده ته هم د جَمعې ثواب ورکولې شي .

همدغه شان په جهاد کې پهره کوونکې کس هم د شهادت په نيت باندې را اُوتې وي او د دُشمن مخې ته ولاړ وي ، اوس چې کله دا په خپل مرګ باندې وفات شي نو ده ته هم د شهادت مرتبه ورکولې شي . دغه وجه ده چې دا هم د نورو شهيدانو په شان د عذابِ قبر نه محفوظ وي ، د جنت نه ورته رِزق ورکولې شي او د قيامت د ورځې د يَرې نه به محفوظ وي . (۲)

## د علماؤ اِجماع

علامه ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ په " مجموع الفتاوى " کې په دې خبره باندې د علماؤ اِجماع

---

(۱) مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۹۶۲۲ ، مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۴۶۰ ، كنز العمال كتاب الجهاد الباب الخامس: الفصل الثاني: في الشهادة الحكمية رقم الحديث ۱۱۱۹۳ ، ورقم الحديث ۱۱۲۲۳ .

(۲) مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج۱ ص ۳۷۷ الباب السادس عشر في فضل الرباط في سبيل الله .

رانقل کړی چې د اسلامي سرحداتو حفاظت او پهره کول په مکه معظمه ، مدینه منوّره او بیتُ المقدس کې د عبادت په نیت د اُوسیدو نه بهتر ده . (۱)

## د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ نه پوښتنه

۱ . د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه اوشوه :

په مکه معظمه کې اُوسیدل تاته ډیر خوښ دي او که په سرحداتو کې پهره کول ؟

ده ورته وویل : اَلرِّبَاطُ اَحَبُّ اِلَيَّ . په سرحداتو کې پهره کول ماته ډیر خوښ دي . (۲)

۲ . د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دا هم نقل دي :

لَيْسَ يَعْدِلُ الْجِهَادَ عِنْدِيْ وَالرِّبَاطَ شَيْءٌ . (۳)

زما په نزد د جهاد او پهرې کولو سره بل هیڅ څیز برابر نشته .

## د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ نه پوښتنه

یو کس د امام مالک رحمه الله نه پوښتنه اوکړه : تاسو زما د پاره کومه خبره ډیره خوښوی چې آیا زه په مدینه منوّره کې مُقیم شم او که په اسکندریه کې د سرحداتو د

---

(۱) د فتاوی ابن تیمیه نه درته اصل عبارت رانقل کوم : سُئِلَ شَيْخُ الْإِسْلَامِ أَحْمَدُ بْنُ تَيْمِيَّةَ - قَدَّسَ اللهُ رُوحَهُ - : عَنِ الْحَدِيثِ وَهُوَ : { حَرْسُ لَيْلَةٍ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ أَفْضَلُ مِنْ عَمَلِ رَجُلٍ فِي أَهْلِهِ أَلْفَ سَنَةٍ } وَعَنْ سُكْنَى مَكَّةَ وَالْبَيْتِ الْمُقَدَّسِ وَالْمَدِينَةِ الْمُنَوَّرَةِ عَلَى نِيَّةِ الْعِبَادَةِ وَالْانْقِطَاعِ إِلَى اللهِ تَعَالَى . وَالسُّكْنَى بِدِمْيَاطَ وَإِسْكَنْدَرِيَّةَ وَطَرَابُلُسَ عَلَى نِيَّةِ الرِّبَاطِ . أَيُّهُمْ أَفْضَلُ ؟

فَأَجَابَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، بَلِ الْمُقَامُ فِي ثُغُورِ الْمُسْلِمِينَ كَالثُّغُورِ الشَّامِيَّةِ وَالْمِصْرِيَّةِ أَفْضَلُ مِنَ الْمُجَاوَرَةِ فِي الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ ، وَمَا أَعْلَمُ فِي هٰذَا نِزَاعًا بَيْنَ أَهْلِ الْعِلْمِ ، وَقَدْ نَصَّ عَلَى ذٰلِكَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ ، وَذٰلِكَ لِأَنَّ الرِّبَاطَ مِنْ جِنْسِ الْجِهَادِ ، وَالْمُجَاوَرَةُ غَايَتُهَا أَنْ تَكُونَ مِنْ جِنْسِ الْحَجِّ .....

(بیا علامه ابن تیمه رحمه الله ددې خبرې د ثبوت د پاره د قرآن کریم آیتونه او د نبي علیه السلام ډیر احادیث راوړي دي) . مجموع الفتاوی ج ۲۸ ص ۵ اَلْجُزْءُ الثَّامِنُ وَالْعِشْرُونَ كِتَابُ الْفِقْهِ اَلْجُزْءُ الثَّامِنُ : الْجِهَادُ

(۲) وحکی ابن المنذر فی الاوسط عن الامام احمد بن حنبل رحمه الله ، أنه سئل : المقام بمكة أحب اليک أم الرباط ؟ قال : اَلرِّبَاطُ اَحَبُّ اِلَيَّ . مشارع الاشواق ج ۱ ص ۳۸۶ .

(۳) المغني لابن قدامة ۹/۲۰۲ كِتَابُ الْجِهَادِ مَسْأَلَةٌ تَمَامُ الرِّبَاطِ أَرْبَعُونَ يَوْمًا .

حفاظت د پاره مُقيم شم ؟

امام مالک رحمه الله ورته اوفرمايل :

بَلْ أَقِمْ بِالْاِسْكَنْدرِيَّةِ .

بلکه ته په اسکندريه کې (د سرحداتو د حفاظت د پاره ) مُقيم شه .(١)

## ډير صحابه کرام او تابعين د مکې معظمې او مدينې منورې نه بهر د جهاد او سرحداتو د حفاظت د پاره تللي

چونکه په احاديثو مبارکهٔ کې د اِسلامي سرحداتو د حفاظت او هلته د پهرې کولو ډير فضائل بيان شوي ، نو په همدې خاطر بې شميره صحابه کرام ، تابعين او تبع تابعين د مکې معظمې او مدينې منورې نه بهر د شام ساحِل ته تللي ، او هلته يې په جهاد او پهره کولو کې وخت تېر کړی ، تر دې چې په همدې حالت کې شهيدان شوي ، يا وفات شوي .

دوی په مکه معظمه او مدينه منوره کې د اُوسيدلو په نسبت جهاد ته تلل خوښ کړل ، او تر آخِري سَلګۍ پورې په جهاد کې مصروفه وو .

همدغه رنګې بې شميره فقهاؤ ، مُحدّثينو او بزرګانو په جهاد کې د اسلامي سرحداتو حفاظت او پهره کړې ده .

(١) وقد سئل رجل الامام مالكا رحمه الله : أيما أحب إليک أقيم بالمدينة الشريفة او أقيم بالإسكندرية؟ فقال: بَلْ أَقِمْ بِالْاِسْكَنْدرِيَّةِ . مشارع الاشواق ج ١ ص ٣٨٦ .

# په جهاد کې د روژې نیولو فضائل

څوک چې د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې د روژې نیولو طاقت لري او په دې سره په جهادي اُمورو کې فرق نه راځي نو په احاديثو مباركهٔ کې ددې ډېر زيات فضائل بيان شوي ، همدارنګې په جهاد کې د ذِکرو اَذکار او نورو نېکو اَعمالو کولو هم ډېر فضيلت راغلی ، ددې په باره کې درته يو څو فضائل ذکر کوم :

## د الله ﷻ په لار کې یوه ورځ روژه نیولو سره د جهنم نه د اَويا (۷۰) کالو په فاصله لرې کيدل

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيْلِ اللهِ بَعَّدَ اللهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا . (۱)

څوک چې يوه ورځ د الله ﷻ په لار کې روژه اونيسي نو الله ﷻ به دده مخ د جهنم نه د اَويا (۷۰) کالو په فاصله باندې لرې اُوساتي .

همداسې حديث په مسلم شريف کې هم ذکر دی . (۲)

## د الله ﷻ په لار کې یوه ورځ روژه نیولو سره د سلو (۱۰۰) کالو په مقدار د جهنم نه لرې کيدل

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الصَّوْمِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۸۴۰ ، مشكاة المصابيح باب القضاء الفصل الاول رقم الحديث ۲۰۵۳ (۱۸) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۳۰۰ ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۶۸۵ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۶۹۰ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۳۵۹۵ .

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُوْمُ يَوْمًا فِي سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا بَاعَدَ اللهُ بِذٰلِكَ الْيَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا . صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ فِي سَبِيلِ اللهِ لِمَنْ يُطِيقُهُ بِلَا ضَرَرٍ وَلَا تَفْوِيتِ حَقٍّ رقم الحديث ۱۶۷ (۱۱۵۳) ، سنن النسائي كتاب الصِّيَامِ بَابُ ثَوَابِ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۲۲۴۸ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۲۱۱۳ .

مَامِنْ رَجُلٍ يَصُوْمُ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا بَاعَدَهُ اللهُ مِنَ النَّارِ مِقْدَارَ مِائَةِ عَامٍ. (۱)

کوم کس چې د الله ﷻ په لار کې روژه اُونيسي نو الله تعالی به دا د جهنم نه د سلو (۱۰۰) کالو په فاصله باندې لرې کړي.

په بعضې رواياتو کې د دينه زياته فاصله ذکر ده. (۲)

## د الله ﷻ په لار کې يوه ورځ روژه نيولو سره دده او جهنم په مينځ کې يو خندَق فاصله پيدا کيدل

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. (۳)

څوک چې د الله ﷻ په لار (جهاد يا نورو ديني لارو) کې يوه ورځ روژه اُونيسي نو الله تعالی به دده او جهنم په مينځ کې د يو خَندق په مقدار فاصله راولي، دا يو خَندق به په غټوالي کې د آسمان او زمکې د فاصلې په مقدار وي.

(يعنی د يوې روژې په وجه به الله تعالی دده او جهنم په مينځ کې پنځه سوه (۵۰۰) کاله

---

(۱) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِيمَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۵۱۷۷، المعجم الاوسط رقم الحديث ۴۶۶۰ بَابُ الْعَيْنِ مَنِ اسْمُهُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بَعُدَتْ مِنْهُ النَّارُ مَسِيْرَةَ مِائَةِ عَامٍ. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِيمَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۵۱۷۵، وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَالْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُ مُوَثَّقُونَ. المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۲۴۹ بَابُ الْبَاءِ مَنِ اسْمُهُ بَكْرٌ.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... وَمَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بَاعَدَ اللهُ عَنْهُ النَّارَ مَسِيْرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْتَعْجِلِ ... مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۷۵۰۳، كنز العمال كتاب الجهاد من قسم الأفعال باب في فضله والحث عليه رقم الحديث ۱۱۳۵۲.

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّوْمِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث قال الالباني: حسنٌ صحيحٌ. مشكوة المصابيح باب القضاء الفصل الثاني رقم الحديث ۲۰۶۳ (۲۹)، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۹۲۱، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۵۷۴، و رقم ۴۸۲۶، مجمع الزوائد رقم الحديث ۵۱۷۲ كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِيمَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۸۰۶

فاصله پيدا کړي . (۱) )

**فائده** : چونکه په جهاد کې د روژې نيولو فضيلت زيات دی نو ځکه به زمونږ اسلافو په جهاد کې روژې نيولی ( خو شرط دادی چې په روژې نيولو سره په جهادي أمورو کې کمزورتيا نه پيدا کيږي ) .

ډير مجاهدين په داسې حالت کې شهيدان شوي چې روژه به يې وه .

حضرت عبدالله بن مَخرَمَة رضي الله عنه په جنګ يمامه کې په داسې حالت کې شهيد شو چې روژه يې وه . (۲)

## روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورې وينا چې :

## " نن د مونږ سره روژه ماته کړه "

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړی : حضرت ثابت بُناني رحمه الله فرمايي چې يو انصاري ځوان ډيره زَمانه جهاد اوکړو ، ( د شهادت دومره شَوقي وُ چې ) په هر جنګ کې به د شهادت په غرض ورمخکې کيدو ليکن شهادت تراوسه ورته نهٔ نصيبه شوی ، يوه ورځ يې د ځان سره په پريشانۍ کې دا سوچ کولو او وې ويل :

وَاللهِ مَا أَرَانِيْ إِلَّا لَوْ قَفَلْتُ إِلىٰ أَهْلِيْ فَتَزَوَّجْتُ .

( ما خو ډير وخت شهادت أوغوښت خو راته نصيب نه شو ) قسَم په الله ، که چيرته زه کورته لاړ شم نو واده به کوم .

بيا دا ځوان په خپله خيمه کې ( د غرمې په وخت ) د قيلولې په غرض أوده شو ( دده روژه وه ) ، څه وخت پس خپلو ملګرو د ماسپخين مانځه ته راپاڅولو ، هغه چې کله راپاڅيد نو په چغو چغو يې أوژړل ، ملګري يې أوېريدل چې کيدې شي دهٔ ته په خوب کې څه تکليف

(۱) ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث ډيره بهترينه تشريح کړی : ( مَنْ صَامَ يَوْمًا فِي سَبِيْلِ اللهِ ) أَيْ فِي الْجِهَادِ . أَوْ فِيْ طَرِيْقِ الْحَجِّ ، أَوِ الْعُمْرَةِ ، أَوْ طَلَبِ الْعِلْمِ ، أَوِ ابْتِغَاءِ مَرْضَاةِ اللهِ ( جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ خَنْدَقًا ) أَيْ حِجَابًا شَدِيْدًا وَمَانِعًا بَعِيْدًا بِمَسَافَةٍ مَدِيْدَةٍ ( كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ) أَيْ مَسَافَةَ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۴۲۵/۴ كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ صِيَامِ التَّطَوُّعِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي .

(۲) الجهاد لابن المبارک ج۱ ص۹۷ رقم ۱۱۷ .

رسيدلې وي . ده خپلو ملګرو ته وويل : ماته څه تکليف نشته ، ليکن ( ژاړم په دې چې ) اوس ماته په خُوب کې يو کس راغې ، او راته وې ويل :

اِنْطَلِقْ إِلَى زَوْجَتِكَ الْعَيْنَاءِ .

ته خپلې بي بي " عَيْنَاء " ته لاړ شه .(۱) ( راځه چې زه دې ورله بوځم ) .

دا ځوان وايي چې زه ورسره روان شوم ، هغه زه يوې سپينې صفا زمکې ته راوستم ، بيا يې داسې ښائسته باغيچې ته دننه کړم چې ما د دينه زياته ښائسته باغيچه په خپل ژوند کې نه وه ليدلې ، ناڅاپه مې په هغې کې لس ( ۱۰ ) داسې ښائسته جينکۍ اوليدې چې ما په ټول عُمر کې داسې ښائسته جينکۍ نه وې ليدلې ، زما دا اُميد وُ چې کيدې شي عَيْنَاء په دوی کې يوه وي ، نو ما د دوی نه پوښتنه اوکړه :

أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ آيا په تاسو کې عَيْنَاء شته ؟

هغوی راته وويل : هِيَ بَيْنَ أَيْدِينَا وَنَحْنُ جَوَارِيهَا .

هغه زمونږ نه وړاندې ده ، مونږ د هغې خِدمت ګارې يو .

بيا زه د خپل ملګري سره مخکې لاړم نو هلته مې يوه بله باغيچه اُوليده چې دا د هغه مخکينۍ باغيچې نه په حُسن کې ډيره زياته وه ، په دې کې شل ( ۲۰ ) جينکۍ وې چې دا د هغه مخکينۍ جينکو نه په ښائست کې ډيرې زياتې وې ، زما دا اُميد وُ چې عَيْنَاء به په دوی کې يوه وي ، نو ما د دوی نه پوښتنه اوکړه :

أَفِيكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ آيا په تاسو کې د عَيْنَاء په نوم ښځه شته ؟

هغوی وويل : هِيَ بَيْنَ أَيْدِينَا وَنَحْنُ جَوَارِيهَا .

هغه زمونږ نه وړاندې ده ، مونږ د هغې خِدمتګارې يو .

( همداسې ده د ديرشو ( ۳۰ ) جينکو تذکره اوکړه ) .

دا ځوان وايي چې زه بيا مخکې لاړم ، تر دې چې زه د سرو ياقوتو نه جوړ شوي يو محل ته اُورسيدم ، دې محل په خپل ښائست سره خپلې خواوُ شا علاقې رُوښانه کړې وی ، ماته

---

(۱) عَيْنَاء د غټو سترګو واله ښائسته حُورې ته وايي .

خپل ملګري ووېل : ته دې محل ته ننوځه . زه چې محل ته ننوتم نو په هغې کې داسې ښائسته ځليدونکې ښځه موجود وه چې د محل رڼا د هغې د وړاندې هيڅ نه وه ، زه د هغې سره په خنګ کې کيناستم ، هغې د ماسره خبرې کولې ، په دې دَوران کې ماته خپل ملګري ووېل : را اُووځه ، واپس ځو . (اګر چې زما زړه واپس راتګ نه غوښتل خو ) ما چونکه د خپل ملګري د خبرې نه اِنکار نه شو کولی نو زه راپاڅيدم ، راروان شوم ، نو عَيْنَاء حُورې زما د ځادر يو طرف اونيو او راته وې ويل :

أَفْطِرْ عِنْدَنَا اللَّيْلَةَ . نن د مونږ سره روژه ماته کړه .

دا ځوان وايي چې کله تاسو زه اوس د ماسپخين مانځه ته راپاڅولم نو ماته معلومه شوه چې دا خو صرف خوب وُ نو ځکه د غم په وجه مې اُوژړل .

د دوی دا خبرې په خپل مينځ کې رواني وې چې په دې وخت کې د کافرانو سره د جهاد کولو اعلان اوشو ، ټول مجاهدين په آسونو باندې سواره شو او ميدانِ جنګ ته ورغلل ، په دې دَوران کې دا ځوان هم ورغی .

د کافرانو سره مسلسل جنګ شروع وُ ، کله چې ماښام د روژه ماتي وخت شو نو په همدې حالت کې دا ځوان شهيد شو ، حالانکه دده روژه وه . ( يقيني چې ده روژه د عَيْنَاء حُورې سره ماته کړه ، او خوب يې رېښتيني شو ) . (۱)

---

(۱) عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ أَنَّ فَتًى غَزَا زَمَانًا، وَتَعَرَّضَ لِلشَّهَادَةِ ، فَلَمْ يُصِبْهَا ، فَحَدَّثَ نَفْسَهُ ، فَقَالَ : وَاللهِ مَا أَرَانِيْ إِلَّا لَوْ قَفَلْتُ إِلٰى أَهْلِيْ فَتَزَوَّجْتُ . قَالَ : ثُمَّ قَالَ فِي الْفُسْطَاطِ ، ثُمَّ أَيْقَظَهُ أَصْحَابُهُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ ، قَالَ : فَبَكٰى حَتّٰى خَافَ أَصْحَابُهُ أَنْ يَكُوْنَ قَدْ أَصَابَهُ شَيْءٌ ، فَلَمَّا رَأٰى ذٰلِكَ قَالَ : إِنِّيْ لَيْسَ بِيْ بَأْسٌ وَلٰكِنَّهُ أَتَانِيْ آتٍ ، وَأَنَا فِي الْمَنَامِ ، فَقَالَ : اِنْطَلِقْ إِلٰى زَوْجَتِكَ الْعَيْنَاءِ . قَالَ : فَقُمْتُ مَعَهُ ، فَانْطَلَقَ بِيْ فِيْ أَرْضٍ بَيْضَاءَ نَقِيَّةٍ ، فَأَتَيْنَا عَلٰى رَوْضَةٍ مَا رَأَيْتُ رَوْضَةً قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا ، فَإِذَا فِيْهَا عَشْرُ جَوَارٍ مَا رَأَيْتُ مِثْلَهُنَّ قَطُّ وَلَا أَحْسَنَ مِنْهُنَّ ، فَرَجَوْتُ أَنْ تَكُوْنَ إِحْدَاهُنَّ . فَقُلْتُ : أَفِيْكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ قُلْنَ : هِيَ بَيْنَ أَيْدِيْنَا وَنَحْنُ جَوَارِيْهَا . قَالَ : فَمَضَيْتُ مَعَ صَاحِبِيْ فَإِذَا رَوْضَةٌ أُخْرٰى يُضَعَّفُ حُسْنُهَا عَلٰى حُسْنِ الَّتِيْ تَرَكْتُ ، فِيْهَا عِشْرُوْنَ جَارِيَةً يُضَاعَفُ حُسْنُهُنَّ عَلٰى حُسْنِ الْجَوَارِي اللَّاتِيْ خَلَّفْتُ ، فَرَجَوْتُ أَنْ تَكُوْنَ إِحْدَاهُنَّ . فَقُلْتُ : أَفِيْكُنَّ الْعَيْنَاءُ ؟ قُلْنَ : هِيَ بَيْنَ أَيْدِيْنَا وَنَحْنُ جَوَارِيْهَا . حَتّٰى ذَكَرَ ثَلَاثِيْنَ جَارِيَةً ، قَالَ : ثُمَّ انْتَهَيْتُ إِلٰى قُبَّةٍ مِنْ يَاقُوْتَةٍ حَمْرَاءَ مُجَوَّفَةٍ ←←←←←←←←

# په جهاد کې د زخمي کېدو اَجرونه

محترمو مسلمانانو ! په جهاد کې انسان زخمي کيږي هم ، خو دا به په دې زخمي کېدو سره خپل هِمت نه بائلي ، ځکه لکه څرنګې چې مسلمان په جنګ کې زخمي کيږي نو همدغه شان کافر هم زخمي کيږي ، خو کافر د باطِل دِين په دِفاع کې هِمت نه بائلي او مسلسل جنګيږي نو همدغه شان مسلمان ته هم په کار دي چې د حق دِين په دِفاع کې هِمّت او نه بائلي او بنه په شجاعت سره د کافرانو په مقابله کې اُوجنګيږي. مسلمانانو ته خو د زخمي کېدو په وجه الله ﷻ ډير اَجرونه ورکوي.

بل دا چې دا د الله ﷻ نِظام دی چې کله يو طرف ته غلبه وي او کله بل طرف ته، په دې سره د مسلمانانو اِمتحان هم اخيستلې شي.

په غزوه اُحد کې د څه اِجتهادي غلطۍ په وجه مسلمانانو ته سخت تکليف اُورسيد ، نو بيا به کافرانو مسلمانانو ته پيغور ورکول چې "که محمد (ﷺ) ريښتيني پيغمبر وي نو بيا تاسو ته شکست ولې ملاوُ شو" په دې پيغور سره بعضې مسلمانان خفه وو نو الله ﷻ مسلمانانو ته تسلي ورکړه :

﴿ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ﴾.(۱)

ترجمه : که چيرته تاسو ته څه زخم اُورسيږي نو دې (کافر) قوم ته هم ددې په شان زخم

←←← قَدْ أَضَاءَ لَهَا مَا حَوْلَهَا. فَقَالَ لِي صَاحِبِي : أُدْخُلْ . فَدَخَلْتُ . فَإِذَا امْرَأَةٌ لَيْسَ لِلْقُبَّةِ مَعَهَا ضَوْءٌ . فَجَلَسْتُ . فَتَحَدَّثْتُ سَاعَةً . فَجَعَلَتْ تُحَدِّثُنِي . فَقَالَ صَاحِبِي : أُخْرُجْ اِنْطَلِقْ . قَالَ : وَلَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَعْصِيَهُ . قَالَ : فَقُمْتُ . فَأَخَذَتْ بِطَرَفِ رِدَائِي، فَقَالَتْ : أَفْطِرْ عِنْدَنَا اللَّيْلَةَ . فَلَمَّا أَيْقَظْتُمُونِي رَأَيْتُ أَنَّمَا هُوَ حُلْمٌ. فَبَكَيْتُ . فَلَمْ يَلْبَثُوا أَنْ نُودِيَ فِي الْخَيْلِ . قَالَ: فَرَكِبَ النَّاسُ . فَمَا زَالُوا يَتَطَارَدُونَ حَتَّى إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ . وَحَلَّ لِلصَّائِمِ الْإِفْطَارُ . أُصِيبَ تِلْكَ السَّاعَةَ . وَكَانَ صَائِمًا. وَظَنَنْتُ أَنَّهُ مِنَ الْأَنْصَارِ . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۱۲۲ رقم ۱۲۹ .

(۱) آل عمران آية ۱۴۰ .

رسيدلي دی، او دا (د فتحې او شکست) ورځې خو مونږ د خلقو په مينځ کې (وار په وار) اَړوو راړوو، او ددې د پاره چې الله تعالی مؤمنان جدا کړي (وې آزمايي)، او په تاسو کې ځنې شهيدان کړي (يعنې د شهادت اُوچته مرتبه ورته نصيبه کړي).

بل ځای فرمايي:

﴿ وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾. (۱)

ترجمه: او تاسو د (کافر) قوم په لټولو کې سستي مه کوئ، که چيرته (په جنګ کې) تاسو دَرد مَند کيږئ نو ستاسو په شان هغوی هم دَرد مَند کيږي، او تاسو د الله ﷻ نه د داسې اَجر اُميد لرئ چې هغوی يې نه لري، او الله تعالی پوهه (او) حکمت خاوند دی.

## د قيامت په ورځ به د زخمي د وِينې نه د مشکو په شان خوشبوئي ځي

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ـ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ ـ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ. (۲)

قَسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده، کوم کس چې د الله ﷻ په لار (جهاد) کې زخمي شي - او الله ﷻ هغه کس ښه پيژني څوک چې د هغه په لار کې زخمي کيږي - نو دا کس به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راشي (چې د زخم نه به يې وِينه بهيږي) رنګ خو به يې د وِينې وي ليکن خوشبوئي به يې د مشکو وي.

---

(۱) النساء آية ۱۰۴.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ يُجْرَحُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۲۸۰۳، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الجِهَادِ وَالخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ رقم الحديث ۱۰۵ (۱۸۷۶)، مسند احمد رقم الحديث ۷۳۰۲، سنن الترمذي رقم الحديث ۱۶۵۶، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۴۷، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰۲ (۱۶)، موطاء مالک رقم الحديث ۲۹.

۲. د ابوداؤد شريف او ترمذي شريف په حديث کې دا هم دي چې ددې وينې رَنګ به د زعفرانو په شان وي او بُوی به يې د مشکو په شان وي :

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

.... وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ لَوْنُهَا لَوْنُ الزَّعْفَرَانِ وَ رِيحُهَا رِيحُ الْمِسْكِ ...(۱)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې زخمي شي يا ورته څه حادثه ( تکليف ) اُورسي نو دا به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې د زخم وِينه به يې د مخکې نه زياته وي (يعنی په دُنيا کې چې اکثره دا زخم په کوم حالت کې وُ په هماغه حالت کې به راشي ) ددې رنګ به د زعفرانو په شان وي ، او بُوئی به يې د مشکو په شان وي .

**په دې حالت کې د راتللو وجه** : په مذکوره دوارو احاديثو کې ذکر شو چې " شهيد به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راځي چې د زخم نه به يې وِينه روانه وي او د مشکو بُوئي به ورنه ځي " په دې حالت کې د راتللو حِکمت دادی چې دا وِينه به دده د پاره ګواه ( ثبوت ) وي چې دا سړې مظلوم دی ، او ده ځان د الله ﷻ په اِطاعت کې زخمي کړی .

بل دا چې په قيامت کې به خلقو ته ددې زخمي مرتبه او مقام هم معلوم شي چې " د الله ﷻ په نزد دده څومره لوي مقام دی چې د زخم نه يې د مشکو په شان خوشبوئي ځي "

## د غونډ تقرير خلاصه

**د غونډ خلاصه دا راأوته چې جهاد د اِسلام آهم حُکم دی ، په قرآن کريم او احاديثو کې ددې ډير فضائل او فوائد بيان شوي :**

(۱) سنن ابي داود كِتَاب الجِهَادِ بَابٌ فِيمَنْ سَأَلَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ رقم الحديث ۲۵۴۱ قال الالباني : صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱٦۵۷ ، سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ رقم الحديث ۳۱۴۱ ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۵۳۴ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۱۱٦ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۵ (۳۸) ، شعب الايمان رقم ۳۹۴۵ .

په جهاد کولو سره انسان د جنت مستحق کيږي ، په جنت کې د انسان سل (١٠٠) درجې ورباندې اُوچتيږي ، جهاد د جنت لنډه لار ده ، په دې سره انسان ته د غَم او خفګان نه نِجات ملاويږي ، مغفرت يې نصيبه کيږي ، جهاد کې په قدمونو باندې دُوړه پريوتلو سره په انسان باندې د جهنم اُور او لوګې حراميږي ، په لږ جهاد کولو سره انسان ته ډير اَجر ملاويږي ، په جهاد کې هر قِسمه مرګ باندې مړ کيدونکي مسلمان ته د شهادت اُوچته درجه ملاويږي ، په جهاد سره په مخ د زمکه باندې اسلامي نِظام نافذ کيږي ، اسلام په ټوله دُنيا باندې غالبه کيږي ، کُفر مغلوبه کيږي ، په جهاد سره کافران ذليله کيږي ، د زمکې نه فساد او فِتنې ختميږي ، او د کمزورو مسلمانانو مدد کيږي ، په جهاد سره د مُخلِصو او منافقينو په مينځ کې تمييز پيدا کيږي ، او مسلمان ته د شهادت اُوچته مرتبه نصيبه کيږي .

## همدارنګې په جهاد کې د پهرې کولو هم ډير فضائل بيان شوي :

په جهاد کې يو ورځ پهره کول د دُنيا او مَافِيهَا نه بهتر ده ، په جهاد کې پهره کوونکې به د عذابِ قبر نه محفوظ وي او د مرګ نه پس به هم ده ته د دې اَجر ملاويږي ، په جهاد کې يو ورځ پهره کول د نورو زرو (١٠٠٠) ورځو د عبادت نه بهتر ده ، په جهاد کې يوه شپه پهره کوونکي ته د زرو (١٠٠٠) ورځو نفلي روژو او زرو (١٠٠٠) شپو د عبادت ثواب ملاويږي ، د خطرې په ځای کې پهره کولو واله شپه د ليلة القدر نه غوره ده ، په جهاد کې پهره کوونکي ته د ټولو حاجيانو د حجونو او عمُرو ثواب ملاويږي ، د نورو مسلمانانو د مونځونو او روژو ثواب هم ورته ملاويږي ، په يوه شپه پهره کولو سره انسان د جنت مستحق کيږي ، پهره کوونکي ته نبي عليه السلام د جنت زيرې ورکړی ، په داسې کس باندې د جهنم اُور حراميږي .

## همدغه شان په جهاد کې د روژې نيولو هم ډير فضائل بيان شوي :

يوه ورځ روژه نيولو سره انسان د جهنم نه د آويا (٧٠) يا سلو (١٠٠) کالو په فاصله باندې لرې کيږي ، په يوه ورځ روژه نيولو سره دده او د جهنم په مينځ کې يو خَندق فاصله پيدا کيږي .

همدارنګې په جهاد کې د زخمي کيدو هم ډير اجرونه بيان شوي ، د قيامت په ورځ به د زخمي د وينې نه د مشکو په شان خوشبوئي ځي .

ددينه علاوه د جهاد نور ډير فضائل ، فوائد او حِکمتونه بيان شوي ، هغه ټول په تفصيل سره په دې لږ وخت کې بيانول ممکن ندي .

## دُعا

الله تعالى دې زمونږ او ستاسو په زړونو کې هم د جهاد جَذبه پيدا کړي ، پروَردِګارِ عالَم دې مونږ ټولو ته د نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيبه کړي چې مونږ هم د جهاد دا اَهمه فريضه دوباره راژوندۍ کړو .

په مخ د زمکه چې چيرته هم مجاهدين د اِعلاء کلمة الله د پاره جهاد کوي هغوى ټولو ته دې الله ﷻ فتح او کاميابي ورنصيبه کړي ، او څوک چې د اسلام او مسلمانانو خلاف جنګيږي يا د دوى د ختمولو کوشش کوي نو که هدايت يې په نصيب کې وي الله تعالى دې ورته هدايت اوکړي او که هدايت يې په نصيب کې نه وي نو ربِّ کائنات دې دوى ټول په خپل قهر سره تباه او بَرباد کړي ، الله ﷻ دې په هر ځاى کې کافران ذليله کړي ، او الله ﷻ دې په ټوله دُنيا باندې اسلامي نظام قائم کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾. البقرة آیة ٢٤٤

# د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات

تالیف

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

# نوټ

دا موضوع مې په درې (۳) غټو عُنواناتو باندې تقسیم کړی :


۱. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات صفحه ۱۵۳

۲. د جهاد متعلق ځنې اعتراضات او د هغې مُدَلل جوابات صفحه ۱۷۵

۳. جهاد ته د نه تلونکو خلقو مختلف بهانې او د هغې مُدَلل جوابات صفحه ۲۰۰


که په هره جُمعه دا ځانله ځانله عُنوان بیان شي نو هم صحیح ده ، او که مقرِّر سره وخت زیات وي نو ټوله موضوع په یوه جُمعه هم بیانولې شي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د قدرت باوجود جهاد نه كولو سزاګاني او نقصانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ. وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ. وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ قُلْ إِنْ كَانَ آبَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِأَمْرِهٖ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ. (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو! جهاد د اِسلام آهم حُکم دی، په قرآن

---

(۱) التوبة آية ۲۴.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ ذَمِّ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ رقم الحديث ۱۵۸ (۱۹۱۰)، سنن ابي داود كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۲، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۱۳، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ اَلتَّشْدِيْدُ فِيْ تَرْكِ الْجِهَادِ رقم الحديث ۳۰۹۷، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۱۸، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۸۴، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۴۱، شرح السنّة للبغوي باب فرض الجهاد ج۱۰ ص ۳۷۵، كنزالعمال رقم الحديث ۱۰۵۵۸، مسند احمد رقم الحديث ۳۸۱۳.

کريم او احاديثو مبارکه وُ کې ددې ډير اَهميت او فضائل بيان شوي ، او کله چې جهاد فرضِ عَين شي ( يعنی کافران د مسلمانانو په څه علاقه باندې حمله اوکړي ) نو بيا د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيدونه هم ذکر شوي .

## په قرآن کريم کې د جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيد

د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره په قرآن کريم کې سخت وعيد ذکر شوی :

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴾ .(۱)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته دوی ته اووايه که چيرته ستاسو پلاران ، ستاسو ځامن ، ستاسو ورونه ، ستاسو بيبياني ، ستاسو خپلوان ، هغه مالونه چې تاسو ګټلي دي ، هغه تجارت چې تاسو د هغې د نقصان ( او بَنديدو ) نه ويريږئ ، او د اُوسيدو هغه کورونه چې تاسو هغه خوَښوئ دا ټول شيان که چيرته تاسو ته د الله ، د هغه د رسول او جهاد فِي سَبِيلِ الله نه ډير محبوب وي نو بيا انتظار اوکړئ تر دې چې الله تعالی خپل حُکم (يعنی عذاب) رااُوليږي ، او (يا دساتئ) الله تعالی فاسقانو ( نافرمانو ) ته هدايت نه کوي .

**فائده** : په دې آيت کې د قدرت باوجود جهاد نه کوونکو د پاره سخت وعيد بيان شوې دی ، چې داسې خلق د الله ﷻ د قهر او عذاب مستحق ګرځي .

۲ . په يو بل آيت کې الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِى الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿۳۸﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

(۱) التوبة آية ۲۴ .

قَدِيرٌ ﴾. (١)

ترجمه: اې مؤمنانو ! دا په تاسو څه شوي دي چې کله درته او ويلې شي چې " تاسو د الله ﷻ په لار کې ( جهاد ته ) أووځئ " نو تاسو زمکې طرف ته دَرانه شئ ( يعنې په ځاى ځخ پاتې شئ او جهاد ته نه ځئ ) ، آيا تاسو د آخرت په مقابله کې د دُنيا په ژوند باندې راضي شوي يئ ؟ پس د دُنيا ژوند خو د آخرت په مقابله کې ډير لږ دى. که چيرته تاسو جهاد ته أو نه أوځئ نو الله تعالى به تاسو ته دَرد ناک عذاب درکړي، ستاسو په ځاى به يو بل قوم راولي ، تاسو به الله ﷻ ته هيڅ نقصان او نه رسولې شئ ، او الله تعالى په هر څيز باندې قادر دى.

**د علامه قرطبي رحمه الله وينا:** ددې آيت په باره کې علامه قرطبي رحمه الله فرمايي:

وَهُوَ تَوْبِيخٌ عَلَى تَرْكِ الْجِهَادِ. وَعِتَابٌ عَلَى التَّقَاعُدِ عَنِ الْمُبَادَرَةِ إِلَى الْخُرُوجِ. (٢)

دا د جهاد په پريخودو باندې تَوبيخ دى ، او کوم خلق چې جهاد ته نه ځي د هغوى د پاره رَټنه ده.

## بغير عُذره د جهاد نه پاتې شوي خلقو د پاره سخته زورَنه

غزوه تبوک ته د تللو په وخت نبي عليه السلام په جهاد کې د شِرکت عام اعلان اوکړو ، چونکه په دې وخت کې سخته ګرمي وه ، منافقين د جهاد نه پاتې شو ، او يو بل ته يې وويل: لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ . په دې سخته ګرمۍ کې د جهاد د پاره مه أوځئ.

بيا دوى په دې خپلو پاتې کيدو باندې خوشحاله هم وو ، نو الله تعالى د دوى په باره کې سخت وعيدونه نازل کړل، او د دوى د خبرې جواب يې په دې الفاظو ورکړو :

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا .

(١) التوبة آية ٣٨ ، ٣٩.

(٢) (إِثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ) قَالَ الْمُفَسِّرُونَ: مَعْنَاهُ إِثَّاقَلْتُمْ إِلَى نَعِيمِ الْأَرْضِ. أَوْ إِلَى الْإِقَامَةِ بِالْأَرْضِ. وَهُوَ تَوْبِيخٌ عَلَى تَرْكِ الْجِهَادِ. وَعِتَابٌ عَلَى التَّقَاعُدِ عَنِ الْمُبَادَرَةِ إِلَى الْخُرُوجِ. وَهُوَ نَحْوُ مَنْ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ. تفسير القرطبي ٨/١٣٠ سورة التوبة آية ٣٨.

ترجمه: اې پيغمبره ! ته ورته اووايه چې (د جهاد نه پاتې کيدو په وجه) د جهنم أور خو په ګرم والي کې (ددې ګرمۍ نه) ډير سخت دی.

او الله ﷻ نبي عليه السلام ته اوفرمايل چې ددې جهاد نه د پاتې کيدو په وجه دوی آئنده د پاره د ځان سره په هيڅ جهاد کې مه شريکوه ، او د دوی مړه کيدلو نه روستو وړياندې د جنازې مونځ هم مه کوه.

الله تعالی ددې بيان په "سورة التوبة" کې په دې الفاظو سره کړی:

﴿ فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ ۝ فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝ فَإِنْ رَجَعَكَ اللَّهُ إِلَىٰ طَائِفَةٍ مِنْهُمْ فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُلْ لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ ۝ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: کوم خلق چې د جهاد نه پاتې شو دوی د رسول الله (ﷺ) په خلاف (جهاد ته نه تللو په وجه) په خپلو کيناستو (او پاتې کيدو) باندې خوشحاله شو ، دوی دا بده أوګڼله چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوکړي ، او دوی يو بل ته وويل چې تاسو په ګرمۍ کې (جهاد ته) مه أوځئ. (اې پيغمبره !) ته ورته أووايه چې د جهنم أور خو په ګرم والي کې (ددې ګرمۍ نه) ډير سخت دی ، کاش چې دوی پوهيدی. پس دوی دې (په دُنيا کې) لږ أوخاندي او (په آخرت کې) ډير دې أوژاړي ، دا سزا د هغه څه ده چې دوی (په دُنيا کې) کول. پس (اې پيغمبره !) که چيرته ته الله تعالی ددې منافقانو يوې ډلې ته راوَستی او دوی د تا نه (په بله موقع) جنګ ته د وتلو اجازت اوغواړي نو ته ورته أووايه : " تاسو به هيڅ کله (هميشه) د ماسره جهاد ته نه أوځئ ، او هيڅ کله به

---

(۱) التوبة آية ۸۱ تا ۸۴.

زما په ملګرتيا کې د دُشمن سره نه جنګيږۍ ، ( دا ځکه چې ) بيشکه تاسو په اول ځل د جهاد نه کيناستل ( پاتې کيدل ) خوښ کړي وو پس اوس هم روستو پاتې خلقو ( ښځو ، معذورو ، ماشومانو او بوډاګانو ) سره کينئ ". اې د الله رسوله ! که په دوی کې (آئنده ) يو کس مړ شي نو په هغه باندې هيڅ کله د جنازې مونځ مه کوه ، او د هغه په قبر باندې مه اُودريږه ، بيشکه دوی د الله او د رسول نه اِنکار کړې دی ، او دوی په داسې حالت کې مړه شوي دي چې دوی نافرمانه وو .

**عبرت** : ډير د عبرت مقام دی چې څوک بغير عُذره د جهاد نه پاتې شوي وو نو د دوی په باره کې سخت وعيد نازل شو .

**د مذکوره آيتونو حُکم عام دی** : اګر چې دا آيتونه د هغه منافقينو په باره کې نازل شوي چې هغوی د تبوک غزا نه بغير عُذره پاتې شوي وو خو ددې حُکم عام دی ، اوس هم چې په کومو خلقو باندې جهاد فرضِ عَين شي او دوی د قدرت باوجود جهاد ته نه اُوځي نو دوی هم په دې سخت وعيد کې داخل دي .

که نور هيڅ هم نه وي نو کم از کم بغير عُذره د جهاد نه پاتې کيدل د منافقانو عمل دی(۱) او د منافقانو د پاره په قرآن کريم کې سخت وعيدونه ذکر شوي .

---

(۱) الله تعالى ددې منافقانو په باره کې فرمايي :

﴿ وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُوا۟ مَعَ رَسُولِهِ ٱسْتَـْٔذَنَكَ أُو۟لُوا۟ ٱلطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا۟ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ۝ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴾ . التوبة آية ۸۶ ، ۸۷ .

ترجمه : کله چې يو سورة نازل کړې شي ( او په هغې کې دا مضمون وي ) چې تاسو په الله ﷻ باندې اِيمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتيا کې جهاد اوکړئ نو په دوی کې مالدار خلق د تانه اِجازت غواړي او وايي : مونږ پريږده چې د ناستو خلقو سره پاتې شو ، دوی په خپله په دې باندې راضي شو چې د روستو پاتې کيدونکو ښځو سره پاتې شي ، او د دوی په زړونو باندې مُهر لږولې شوې دی ، پس دوی نه پوهيږي .

**لطيفه** : مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ددې آيت ﴿ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ ﴾ ترجمه داسې کړی : دوی ( د بې غيرتۍ په وجه ) په کور کې ناستو ښځو سره په کيناستو باندې راضي شو . تفسير بيان القرآن ج ۲ ص ۱۵۱ سورة التوبة آية ۸۷ .

## مسئله : جهاد کله او په چا باندې فرض عين دی ؟

چې کله کافران په يو اسلامي مُلک باندې حمله اوکړي او د هماغه ځای مسلمانان د کافرانو د مقابلې قدرت لري نو صرف د هماغه ځای په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين دی، خو که هغوی د کافرانو د مقابلې طاقت نه لرلو يا يې طاقت لرلو خو د سستۍ د وجې يې جهاد نه کولو نو ورسره څنګ کې په نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين دی، تر دې چې که دشمن قوي وُ او د هاغه ځای مسلمانانو يې د مقابلې طاقت نه شو لرلی يا يې د سستۍ د وجې جهاد نه کولو نو درجه په درجه تر د مشرق او مغرب پورې په ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين ګرځي .

چې کله جهاد فرضِ عَين شي نو بيا په دې کې د هيڅ شرط او د هيچانه د اجازت اخيستلو ضرورت نشته، بلکه دا په هر قدرت لرونکي باندې فرض دی، په دې کې ځوي د والدينو د اجازت نه بغير او قرض داري د قرض اداء کولو نه بغير هم شرکت کولې شي . (۱)

---

(۱) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَيَخْرُجُ الْكُلُّ وَلَوْ بِلَا إِذْنٍ ) وَيَأْثَمُ الزَّوْجُ وَنَحْوُهُ بِالْمَنْعِ. الدرالمختار . قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : (قَوْلُهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ) أَيْ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ. فَإِنْ عَجَزُوْا أَوْ تَكَاسَلُوْا فَعَلَى مَنْ يَلِيهِمْ حَتّٰى يُفْتَرَضَ عَلَى هٰذَا التَّدْرِيْجِ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِيْنَ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار على الدر المختار ۱۲٦/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ .

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمُوْا عَلَى ثَغْرٍ مِنْ ثُغُوْرِ الْإِسْلَامِ. فَيَصِيْرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ قَرُبَ مِنْهُمْ، وَهُمْ يَقْدِرُوْنَ عَلَى الْجِهَادِ . وَنَقَلَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ عَنِ الذَّخِيْرَةِ : أَنَّ الْجِهَادَ إِذَا جَاءَ النَّفِيْرُ إِنَّمَا يَصِيْرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ . فَأَمَّا مَنْ وَرَاءَهُمْ بِبُعْدٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ عَلَيْهِمْ. حَتّٰى يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ إِذَا لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِمْ . فَإِنْ احْتِيْجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ لَمْ يَعْجِزُوْا عَنْهَا لٰكِنَّهُمْ تَكَاسَلُوْا وَلَمْ يُجَاهِدُوْا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيْهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ. لَا يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ ثُمَّ وَثُمَّ إِلٰى أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَى جَمِيْعِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّدْرِيْجِ وَنَظِيْرُهُ الصَّلَاةُ عَلَى الْمَيِّتِ . فَإِنَّ مَنْ مَاتَ فِيْ نَاحِيَةٍ مِنْ نَوَاحِي الْبَلَدِ فَعَلَى جِيْرَانِهِ وَأَهْلِ مَحَلَّتِهِ أَنْ يَقُوْمُوْا بِأَسْبَابِهِ، وَلَيْسَ عَلَى مَنْ كَانَ بِبُعْدٍ مِنَ الْمَيِّتِ أَنْ يَقُوْمَ بِذٰلِكَ . وَإِنْ كَانَ الَّذِيْ بِبُعْدٍ مِنَ الْمَيِّتِ يَعْلَمُ أَنَّ أَهْلَ مَحَلَّتِهِ يُضَيِّعُوْنَ حُقُوْقَهُ أَوْ يَعْجِزُوْنَ عَنْهُ كَانَ عَلَيْهِ أَنْ يَقُوْمَ بِحُقُوْقِهِ كَذَا هُنَا . رد المحتار على الدر المختار ۱۲۴/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ مَطْلَبٌ فِي الْفَرْقِ بَيْنَ فَرْضِ الْعَيْنِ وَفَرْضِ الْكِفَايَةِ

خو شرط دا دی چې دوی د جهاد کولو قدرت لري. (۱)

## څوک چې نه جهاد اوکړي، او نه يې په زړه کې د جهاد اِراده وي نو داسې کس منافِق مړ کيږي

په مسلم شريف، ابوداؤد شريف، مشکوٰة شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ. (۲)

څوک چې مړ شو او جهاد يې اونکړو، او په زړه کې يې د جهاد اِراده (او جَذبه) هم نه وه نو دا سړی د منافقت په يو قِسم باندې مړ شو.

**د حديث تشريح**: يعنې کوم مؤمن بنده چې په داسې حالت کې مړ شي چې په خپل ژوند کې يې جهاد هم نه وي کړی، او په زړه کې يې د جهاد پَخه اِراده هم نه وي کړي، يا په زړه کې يې دا آرزو هم نه وي کړي "چې کاش ما جهاد کړی وی" نو دا سړی د منافقت په يو قِسم مړ شو. يعنې دا په دې عمل سره د منافقانو مُشابِه شو، ځکه منافقان هم جهاد نه کوي، او حديث کې راځي رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

---

(۱) قَالَ الحصكفيؒ: (وَلَا بُدَّ) لِفَرْضِيَّتِهِ (مِنْ) قَيْدٍ آخَرَ وَهُوَ (الإِسْتِطَاعَةُ). الدر المختار ۱۲۷/۴ كِتَابُ الجِهَادِ.

قَالَ العلامة الكاسانيؒ: وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ فَنَقُولُ إِنَّهُ لَا يُفْتَرَضُ إِلَّا عَلَى القَادِرِ عَلَيْهِ. فَمَنْ لَا قُدْرَةَ لَهُ لَا جِهَادَ عَلَيْهِ، لِأَنَّ الجِهَادَ بَذْلُ الجُهْدِ، وَهُوَ الوُسْعُ وَالطَّاقَةُ بِالقِتَالِ. أَوِ المُبَالَغَةُ فِي عَمَلِ القِتَالِ، وَمَنْ لَا وُسْعَ لَهُ كَيْفَ يَبْذُلُ الوُسْعَ وَالعَمَلَ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۷ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ الجِهَادُ.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ذَمِّ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالغَزْوِ رقم الحديث ۱۵۸ (۱۹۱۰)، سنن ابي داود كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۲، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۱۳، سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ اَلتَّشْدِيْدُ فِيْ تَرْكِ الجِهَادِ رقم الحديث ۳۰۹۷، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۱۸، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۸۴، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۹۳۱، شرح السنّة للبغوي باب فرض الجهاد ج۱۰ ص ۳۷۵، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۵۵۸، مسند احمد رقم الحديث ۳۸۱۳.

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . (۱)

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو أعمالو کې) مُشابهت اوکړو نو دې به د هماغه خلقو په ډله کې شمارېږي .

ملاعلي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې د دې حديث بهترينه تشريح نقل کړی . (۲)

## د قدرت باوجود بغير عُذره جهاد نه کوونکي به د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې دِين به يې ناقص وي

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ لَقِيَ اللهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ لَقِيَ اللهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ . (۳)

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَاب اللِّبَاسِ بَابٌ فِي لُبْسِ الشُّهْرَةِ رقم الحديث ۴۰۳۱ قال الالباني : هذا حديث حسن صحيح . مشكوة المصابيح كتاب اللباس الفصل الثاني رقم الحديث ۴۳۴۷ (۴۴) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۳۰۱۶ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۷۹۵۹ باب مَن تشبّه بقوم فهو منهم ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۳۲۷ .

(۲) (وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ) : أَيْ بِالْغَزْوِ (نَفْسَهُ) وَالْمَعْنَى : لَمْ يَعْزِمْ عَلَى الْجِهَادِ وَلَمْ يَقُلْ " يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مُجَاهِدًا " وَقِيلَ وَلَمْ يُرِدِ الْخُرُوجَ ، وَعَلَامَتُهُ فِي الظَّاهِرِ إِعْدَادُ آلَتِهِ . قَالَ تَعَالَى : { وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً } [ التوبة آية ۴۶ ] . وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ : (مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ) أَيْ : نَوْعٍ مِنْ أَنْوَاعِ النِّفَاقِ ، أَيْ : مَنْ مَاتَ عَلَى هَذَا فَقَدْ أَشْبَهَ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُتَخَلِّفِينَ عَنِ الْجِهَادِ ، وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ . وَقِيلَ : هَذَا كَانَ مَخْصُوصًا بِزَمَانِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَالْأَظْهَرُ أَنَّهُ عَامٌّ وَيَجِبُ عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ أَنْ يَنْوِيَ الْجِهَادَ إِمَّا بِطَرِيقِ فَرْضِ الْكِفَايَةِ . أَوْ عَلَى سَبِيلِ فَرْضِ الْعَيْنِ إِذَا كَانَ النَّفِيرُ عَامًّا . وَيُسْتَدَلُّ بِظَاهِرِهِ لِمَنْ قَالَ : الْجِهَادُ فَرْضُ عَيْنٍ مُطْلَقًا . وَفِي شَرْحِ مُسْلِمٍ لِلنَّوَوِيِّ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ : نُرَى أَنَّ ذَلِكَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : وَهَذَا الَّذِي قَالَهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ مُحْتَمَلٌ . وَقَدْ قَالَ غَيْرُهُ إِنَّهُ عَامٌّ . وَالْمُرَادُ أَنَّ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَشْبَهَ الْمُنَافِقِينَ الْمُتَخَلِّفِينَ عَنِ الْجِهَادِ فِي هَذَا الْوَصْفِ . فَإِنَّ تَرْكَ الْجِهَادِ أَحَدُ شُعَبِ النِّفَاقِ . مرقاة المفاتيح ۲۴۷۰/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۱۳ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمُرَابِطِ رقم الحديث ۱۶۶۶ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۵ (۲۸) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۲۴۲۰ ، كنز العمال كتاب الجهاد من قسم الاقوال الباب الاول في الترغيب فيه رقم ۱۰۴۹۵ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۱۵۷ .

نوټ : اګرچې دې حديث ته امام الباني ضعيف ويلی ، خو د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې خو په قرآن کريم او صحيح احاديثو کې هم ذکر دي .

څوک چې (د قيامت په ورځ) د الله ﷻ په حضور کې په داسې حالت کې حاضر شي چې په ده باندې د جهاد څه آثر (علامه) نه وي نو دا به د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې دده په دِين کې به نقصان (کمې) وي.

**د حديث تشريح**: د حديث مطلب دادی چې په چا باندې جهاد فرضِ عَين وي خو د قدرت باوجود دا جهاد اونکړي او دده په بدن باندې د جهاد څه آثر او علامه هم نه وي يعنی په بدن باندې يې د جهاد زَخم نه وي، يا يې په بدن باندې د جهاد ګرد نه وي پريوتي، يا يې بدن په جهاد کې نه وي ستړې شوی، يا يې په جهاد کې مال نه وي مصرف کړی، او يا يې مجاهدينو ته اَسلحه او اَسباب نه وي اخيستي نو داسې کس به د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې دده په دِين کې به نقصان وي.(۱)

## د قدرت باوجود بغير عُذره جهاد نه کوونکې به په سخت مصيبت کې ګرفتاريږي

د ابوداؤد شريف او ابن ماجه شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا، أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (۲)

---

(۱) (مَنْ لَقِيَ اللهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ): اَلْأَثَرُ بِفَتْحَتَيْنِ مَا لَقِيَ مِنَ الشَّيْءِ دَالًّا عَلَيْهِ. قَالَهُ الْقَاضِي، وَالْمُرَادُ بِهِ هُنَا الْعَلَامَةُ، أَيْ مَنْ مَاتَ بِغَيْرِ عَلَامَةٍ مِنْ عَلَامَاتِ الْغَزْوِ مِنْ جِرَاحَةٍ، أَوْ غُبَارِ طَرِيقٍ، أَوْ تَعَبِ بَدَنٍ، أَوْ صَرْفِ مَالٍ، أَوْ تَهْيِئَةِ أَسْبَابٍ وَتَعْبِيَةِ أَسْلِحَةٍ (لَقِيَ اللهَ): أَيْ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (وَفِيهِ ثُلْمَةٌ) أَيْ: خَلَلٌ وَنُقْصَانٌ بِالنِّسْبَةِ إِلَى كَمَالِ سَعَادَةِ الشَّهَادَةِ وَمُجَاهَدَةِ الْمُجَاهَدَةِ. وَيُمْكِنُ أَنْ يَكُونَ الْحَدِيثُ مُقَيَّدًا بِمَنْ فُرِضَ عَلَيْهِ الْجِهَادُ، وَمَاتَ مِنْ غَيْرِ الشُّرُوعِ فِي تَهْيِئَةِ الْأَسْبَابِ الْمُوَصِّلَةِ إِلَى الْمُرَادِ. مرقاة المفاتيح ۲۴۸۳/۶ كتاب الجهاد الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۳۸۳۵.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۳ قال الالباني: حسن. سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۷۶۲، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۷۴۷، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۸۵، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۹۴۲، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۰ (۲۳)، صحيح الترغيب والترهيب ۱۳۹۱ (۳) الترهيب من ان يموت الانسان ولم يغز ولم ينو الغزو.

څوک چې په خپله جهاد اونکړي ، نه مجاهد ته د جهاد د پاره أسباب برابر کړي ، او نه د مجاهد د کور خبر خبر واخلي ( يعنی د مجاهد د کور صحيح نګراني اونکړي ، او مدد ورسره اونکړي ) نو الله ﷻ به دا د قيامت نه مخکې په سخت مصيبت کې ګرفتار کړي . (۱)

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې مسلمان ته پکار دي چې په خپله په جهاد کې شرکت اوکړي ، او که د جنګ طاقت يې نه وي نو بيا دې د مجاهدينو د پاره أسحله او ضروري سامان واخلي ، او که دا طاقت يې هم نه وي نو د مجاهدينو کورنۍ سره دې مدد اوکړي ، ځکه که دا يو هم اونکړي نو الله ﷻ به داسې کس په سخت عذاب او مصيبت کې ګرفتار کړي .

## په جهاد پريخودو سره مسلمانان ذليله کيږي

د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ . (۲)

کله چې تاسو د عِيْنَې بيع کوئ (۳) ، د غواګانو لکۍ اونيسئ ، په کرونده خوشحاله

---

(۱) ( أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ ) : أَيْ بِشِدَّةٍ مِنَ الشَّدَائِدِ ، وَالْبَاءُ فِيهِ لِلتَّعْدِيَةِ ، أَيْ : بِبَلِيَّةٍ تَقْرَعُهُ وَتُهْلِكُهُ وَتَصْرَعُهُ وَتَدُقُّهُ . وَلِذَا سُمِّيَتِ الْقِيَامَةُ بِالْقَارِعَةِ . مرقاة المفاتيح ۲۴۷۳/۶ كتاب الجهاد الفصل الثاني .

(۲) سنن ابي داؤد أَبْوَابُ الإِجَارَةِ بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْعِينَةِ رقم الحديث ۳۴۶۲ ، قال الالباني: صحيح . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۰۷۰۳ باب ماورد في كراهية التبايع بالعينة ، كنز العمال كتاب الجهاد الباب الاول في الترغيب فيه رقم الحديث ۱۰۵۰۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۸۹ ( ۲ ) الترهيب من ان يموت الانسان و لم يغز ولم ينو الغزوة ، سلسلة الاحاديث الصحيحة للالباني رقم ۱۱ .

(۳) د عَيْنَة تعريف دادی چې يو کس د بل چا نه څه څيز په معلومو روپو سره د يوې معلومې نېټې پورې واخلي هغه ته يې تر اوسه روپۍ نه وي ورکړي د نېټې راتلو نه مخکې مخکې همدا څيز په هماغه کس باندې د هغې نه په کم قيمت خرڅ کړي . نو دا بيعه ناجائزده .

وَالْعِينَةُ بِفَتْحِ الْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَسُكُونِ الْيَاءِ تَحْتَهَا نُقْطَتَانِ وَفَتْحِ النُّونِ هُوَ أَنْ يَبِيعَ مِنْ رَجُلٍ سِلْعَةً بِثَمَنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ يَشْتَرِيهَا مِنْهُ بِأَقَلَّ مِنَ الثَّمَنِ الَّذِي بَاعَهَا . مرقاة ج۵ ص ۱۹۲۰ ، تفسير قرطبي ج۲ ص ۵۹ البقرة آية ۱۰۴ .

شي، او جهاد پرېږدي، نو الله تعالى به په تاسو باندې ذِلت مسلط کړي، دا ذِلت به د تاسو نه تر هغه وخته پورې نه لرې کيږي تر دې چې تاسو خپل دِين ته واپس راشي (يعنى جهاد شروع کړی).

**عبرت** : په دې حديث کې ذکر شو چې په جهاد پرېخودو سره په مسلمانانو باندې اجتماعي ذِلت مسلط کيږي. او بيا د حديث په آخِري جُمله کې سخت وعيد ذکر شو چې د جهاد نه مخ اړول ګويا د دِين نه وتل دي ځکه خو نبي عليه السلام اوفرمايل چې دا ذِلت به په تاسو باندې تر هاغه وخته پورې وي تر دې چې تاسو خپل دِين ته واپس راشي او جهاد شروع کړی. (۱)

## د تعداد او وَسائلو زياتيدو باوجود بيا هم مسلمانان د بې اِتفاقى او جهاد پريخودو په وجه ذليل دي

نن صبا د مسلمانانو تعداد او ملکونه د کافرانو نه زيات دي، قوّت او وسائل هم د دوی سره ډير دي، خو بيا هم په ټوله دُنيا کې ذليل او مغلوب دي، دا ځکه چې په دوی کې اتفاق نشته او جهاد يې پريخې دی.

د دې خبرې څه تفصيل درته بيانوم چې پوره پرې پوهه شې.

په دې وخت کې د مسلمانانو اُووه پنځوس (۵۷) اسلامي ملکونه دي چې د نورو ټولو قومونو نه زيات دي.

هوائي او دَريابي لارې ټولې د مسلمانانو په ملکونو باندې دي، که دوی اُوغواړي نو په يوه ورځ کې د ټولې دُنيا هوائي او دريابي لارې بندولې شي.

د اِقتصادياتو په اِعتبار سره هم مسلمانان په ټوله دُنيا کې مضبوط دي، ځکه په دې وخت کې د دُنيا لويه سَرمايه تېل، پټرول، مَعدنيات او کوئله ده، او دا ټول شيان په اسلامي ملکونو کې زيات دي.

(۱) ودلّ قوله ﷺ " حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ " على أنّ ترك الجهاد والإعراض عنه والسكون الى الدّنيا خروج عن الدّين ومفارقة له وكفى به ذنبًا وإثمًا مبينًا. مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۱ ص ۱۰۷.

تېلو ته په عربی کښې " اَلذَّهَبُ السَّائِل " ( يعنی بهيدونکي سره زَر) وايي ، دا په دې وخت کې لويه سَرمايه ده ، ځکه ټوله دُنيا په تېلو روانه ده . او پنځه اَويا ( ۷۵ ) فيصده تېل د مسلمانانو په ملکونو کې پيدا کيږي ، صرف په سعودي عرب کې نورلس ( ۱۹ ) فيصده ( يعنی د دُنيا پنځمه حصه ) تېل پيدا کيږي .

همدارنګې قيمتي مَعدنيات او کوټله هم زياته په اسلامي ملکونو کې پيدا کيږي .

د ټولې دُنيا قوي فوج د اسلامي ملکونو دی چې دوی په يخنۍ ، ګرمۍ ، غرونو ، دَشتو او هر ځای کې جنګيدې شي . د کافرانو ملکونو فوج بعضې په يَخنۍ ، بعضې په ګرمۍ ، بعضې په غرونو او دَشتو کې جنګ نشي کولی خو د مسلمانانو فوج په هر ځای کې او هر وخت د جنګ کولو طاقت لري .

ددينه علاوه د دُنيا نور وسائل هم د مسلمانانو په ملکونو کې زيات دي . ګويا اسلامي ملکونه د ټولې دُنيا د پاره د شاه رګ مثال لري .

خلاصه دا چې په مخ د زمکه د مسلمانانو ملکونه او تعداد هم زيات دی ، د جعرافيې په اعتبار سره په اَهمو ځايونو کې هم پراته دي ، او اِقتصادي لحاظ سره هم د ټولې دُنيا نه قوي دي خو ددې ټولو خبرو باوجود بيا هم هر ځای مسلمانان ذليل ، مغلوب او کمزوري دي ، په هر ځای کې وَهل ټکول خوري ، اکثره د کافرانو غلامان دي ، په هر اسلامي ملک کې خپل مينځي اختلافات روان دي ددې اصل وجه همدا ده چې په دوی کې اتّفاق و اتحاد نشته ، او جهاد يې پريخې دی . (۱)

---

(۱) په حديث کې هم ذکر دي ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضي الله عنه قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْجِهَادَ فِي سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا ضَرَبَهُمُ اللهُ بِذُلٍّ . كنزالعمال رقم الحديث ۸۴۴۷ كتاب الأخلاق الفصل الثاني: في تفصيل الأخلاق على حروف المعجم

وفي رواية : عَنْ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْجِهَادَ إِلَّا عَمَّهُمُ اللهُ بِالْعَذَابِ . المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۳۸۳۹ بَابُ الْعَيْنِ مَنِ اسْمُهُ عَلِيٌّ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۹۴۶۸ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيمَنْ لَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُجَهِّزْ غَازِيًا ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۹۲ كتاب الجهاد الترهيب في الرباط في سبيل الله عز وجل ،

تر څو پورې چې په مسلمانانو کې اِتفاق و اِتحاد نه وي پيدا شوی، په شريعت باندې يې پوره عمل نه وي شروع کړی، او د جهاد اَهمه فريضه يې نه وي ژوندۍ کړې نو تر هاغې وخته پورې به دوی همداسې ذليل او مغلوب وي.

## مولانا شکيب اَرسلان ؒ ته په خوب کې د حضرت ابوبکر صديق ﷛ وينا

يو معتمَد عالِم " مولانا شکيب اَرسلان ؒ " په خپل کتاب " حاضرة العالم الاسلامي " کې خپله دا واقعه ليکلې ده چې کله ما د مسلمانانو دا کمزورې حالت اوکتلو نو الله ﷻ ته مې ډير اُوژړل چې : اې الله ! دا مونږ د ډيرو اَسبابو باوجود ولې دومره ذليل شو؟ ژړل مې ، او په همدې ژړا کې خوب راغی ، په خوب کې مې اُوليد چې حضرت ابوبکر صديق ﷛ په يو ځای کې ناست دی ، زه ورغلم ، سلام مې ورباندې واچول ، په زړه کې مې چې د مسلمانانو د کمزورۍ کومې خبرې وې دا ټولې مې هغه ته بيان کړې او ورته مې وويل چې په مونږ مسلمانانو باندې دا څه چل شوی چې په هر ځای کې مغلوب يو ؟

حضرت ابوبکر صديق ﷛ راته اوفرمايل چې ددې اَصل وجه داده چې مسلمانانو بادشاهانو په خپل کتاب ( قرآن کريم ) باندې عمل پريخې دی ، د نورو غير مُسلمه قومونو پيروي کوي ، او د الله ﷻ د فتحې او عِزت وَعدې د هغه مسلمانانو سره دي چې هغوی په خپل کتاب او خپل دِين باندې عمل کوي ، دوی چې خپل کتاب پريخود نو همداسې به ذليل وي . ( او په قرآن کريم کې خو د جهاد حُکم هم شته ، په دې يې هم عمل پريخی ، کافران اګر چې قرآن کريم نه مني خو دوی ته الله ﷻ مُهلت ورکړی ، د دوی د پاره هسې هم دائمي جهنم دی ) .

مولانا شکيب اَرسلان ؒ وايي چې ما ورته وويل : مسلمانان په قرآن کريم باندې څنګه عمل اوکړي ؟

نو حضرت ابوبکر صديق ﷛ راته د آسانۍ د پاره وويل : که دوی د قرآن کريم په يو وړوکي سورة ( سورة اِخلاص ) باندې عمل اوکړي نو هم الله ﷻ به ډير عزت ورکړي .

کله چې حضرت ابوبکرصديق ﷛ راته دا خبره اوکړه نو زه د خوب نه راپاڅيدم .

دا عالم وايي چې بيا ما په سورة اِخلاص کې سوچ کولو چې په دې کې څه شی دی چې په دې باندې عمل کولو سره به مسلمانان کامياب او عزت مند شي ؟

چې سوچ مې په کې اوکړو نو په دې سورة کې د الله ﷻ درې (۳) صفتونه بيان شوي ، زه پوهه شوم چې که په مسلمانانو کې دا درې صفتونه راشي نو دوی به الله ﷻ په ټوله دُنيا باندې غالب کړي :

**اولنی صفت** : په دې سورة کې د الله ﷻ اولنی صفت " يو والی " بيان شوی .

﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴾. (اې پيغمبره ! ) ته ورته اُووايه : هغه الله اِيک يَو دی .

نو تر څو پورې چې په مسلمانانو بادشاهانو او عامو مسلمانانو کې يَو والی ، اتفاق او اِتحاد نه وي پيدا شوی نو تر هغې پورې به دوی همداسې ذليل وي .

په اسلامي شريعت کې صرف د يو خِلافت ( او حُکومت ) اجازت دی ، چې د ټولې دُنيا مسلمانانو د پاره به يو خليفه وي دا ځکه چې کله د مسلمانانو خليفه يو وي نو په دې سره د دوی قوّت هم مضبوط وي .

نن صبا چې دا څومره ډير بادشاهان دي دا ټول د شريعت خلاف دي . (۱)

البته که حکومت دومره لوی وي چې يو خليفه ټول حکومت نشي کنټرول کولی نو بيا د دويم اجازت شته ، نن صبا خو ټوله دُنيا يو خليفه هم کنټرول کولی شي .

---

(۱) په اسلام کې د ډيرو خلافتونو اِجازت نشته ، په حديث کې هم راغي چې د اولني بادشاه سره وَفاء کوئ ، که دويم خليفه راپورته شي نو په توره ورسره جنګ اوکړئ .

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ، وَإِنَّهُ لَانَبِيَّ بَعْدِيْ ، وَسَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ . قَالُوْا : فَمَا تَأْمُرُنَا ؟ قَالَ : فُوْا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ ، أَعْطُوْهُمْ حَقَّهُمْ ، فَإِنَّ اللّٰهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ . صحيح البخاري رقم الحديث ۳۴۵۵ كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ مَا ذُكِرَ عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ . صحيح مسلم رقم الحديث ۴۴ (۱۸۴۲) كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ الْأَمْرِ بِالْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخُلَفَاءِ ، الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا بُوْيِعَ لِخَلِيْفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخَرَ مِنْهُمَا . صحيح مسلم رقم الحديث ٦١(۱۸۵۳) كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ إِذَا بُوْيِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۳٦۷٦ ( ۱٦ ) كتاب الإمارة والقضاء الفصل الأول .

په دې دوَر کې چې اَمریکه ظاهري اِعتبار سره په ټولو ملکونو کې قوي ده نو ددې وجه صرف همدا ده چې د هغې د لاندې نهه څلویښت (۴۹) ریاستونه دي ، په دوه غټو براَعظمو باندې مشتمل ده خو بادشاه د ټولو يو دى نو ځکه قوي ده .

لهذا که په مسلمانانو بادشاهانو کې يو والې (اِتحاد) راشي نو په ټوله دُنيا باندې به غالب شي ، خو افسوس چې د مسلمانانو بادشاهان د کافرانو په اشارو سره د خپلو اَغراضو دپاره په مختلفو پارټو او تنظيمونو کې تقسيم شوي ، د خپلې کُرسۍ بچ کولو د پاره د کافرانو غلامي کوي ، او د غلط سياست او غلطې پاليسۍ په وجه د خپل مُلک مسلمانان وژني .

**دويم صفت** : په سورة اخلاص کې د الله تعالى دويم صفت دا ذکر شوى :

﴿ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴾ . الله بې نيازه دى ( هيڅ ته ضرورت نه لري ) .

نو تر څو پورې چې په مسلمانانو کې صَمَدِيَت (خود مُختاري ، په خپلو خپو اُودريدل) نه وي پيدا شوي دوى به تر هغې پورې ذليل وي .

کوم قوم چې زرې اَسلحې ، زرې برَستنې ، زاړه غنم ، او هر شى د کافرانو نه په سوال غواړي نو د داسې قوم به څه عزت او څه استِقلال پاتې شي ؟

اکثر اسلامي ملکونه اوس هم په جهاز ، ټينک او نورو غټو شيانو جوړولو کې غيرمُسلمو ته محتاج دي .

تر دې چې د يو قوم ژبه ، قانون ، رَسم و رِواج ، د خوراک څکاک لباس او نورې طريقې د غير مُسلمو وي نو دا قوم به څه عزت بيامومي ؟

اَلحَمدُلِلّٰه ، د مسلمانانو خپل قانون ، خپل لِباس ، او خپلې د ژوند تېرولو پوره طريقې شته خو ددې باوجود بيا هم د مسلمانانو په عدالتونو کې انګريزي قانون دی ، لباس يې د انګريزانو په شان پينټ او پَتلون وي ، او په غاړه کې يې د عيسايانو مذهبي نخه د سپي لکۍ ( ټائي ) رازورَنده کړې وي .

خوراک د انګريزانو په شان په ولاړه کوي ، په ګېره خريلو کې يې شکل و صورت د انګريزانو جوړ کړې وي ، د ماشوموالي نه په خپلو بچو باندې انګريزي تعليم کوي ، په

دُکانونو باندې يې نومونه په انګريزي کې ليکلي وي ، د واده کارډونه په انګريزي کې ليکي ، ښځې يې د کافرانو په شان په بازارونو کې بې حياء ګرځي ، چُهټي د انګريزانو په شان د اِتوار په ورځ کوي نو آيا داسې قوم به ترقي اوکړي ؟ هيڅ کله نه .

نورې ژبې زده کول څه بده خبره نده خو چې يو قوم خپله ژبه پرېږدي او په خپلو بچو باندې د ماشوم والي نه انګريزي تعليم شروع کړي نو په دې سره خو په دې ماشومانو کې د اول نه د غيرمُسلمو عقيده ، د هغوی اخلاق او د هغوی تهذيب راځي ، دغه وجه ده چې کله دا غټ شي نو بيا د انګريزانو غلامان وي ، خپله ژبه ورله نه ورځي ، که په خپله ژبه کې خبرې کوي نو زياتره حصه په کې انګريزي وايي ، د خپل دِين نه خبر نه وي ، په پېنټ پَتلون او ټائي باندې فخر کوي ، خوراک په ولاړه کوي . نو دا قوم به څه ترقي اوکړي ؟

که يو فَن يا يو عِلم زده کول ضروري وي نو هغه خپلې ژبې ته راړول په کار دي ، ولې د يوې ژبې زده کولو د پاره خپل بچي د غيرمُسلمو غلامان جوړوئ ؟

په دُنيا کې د اِسرائيلو يو مُلک دی ، د هغوی مذهبي ورځ د خالي (شنبې) ورځ ده ، نو په دې ورځ باندې هغوی چُهټي کوي او دهيچا پرواه نه کوي . د انګريزانو مذهبي ورځ د اتوار ورځ ده نو په دې ورځ باندې چُهټي کوي ، د مسلمانانو د جُمعې په ورځ چُهټي وي خو بيا هم بعضې اسلامي ملکونو د کافرانو په غلامۍ کې چُهټي د اِتوار په ورځ کړه او بهَانه داجوړوي چې " که چُهټي د جُمعې په ورځ کړو نو په دې سره زمونږ اِقتصاد خرابيږي " ، نو د شريعت په خلاف وَرزې سره الله ﷻ د دوی اِقتصاد نور هم خراب کړو .

دير اسلامي ملکونه د همدې غلامۍ په وجه نوې اَسلحې او ايټم بَم نشي جوړولی ، که کوم مُلک د ايټم بَم جوړولو اِراده اوکړي نو امريکه وړباندې سترګې را اُوباسي چې تا اجازت د چانه اخيستی ؟ که په مسلمانانو بادشاهانو کې اتفاق او بهادري وی نو دا به يې ورته ويلې وی : تاسو چې ايټم بَم جوړ کړی نو تاسو اجازت د چانه اخيستی ؟ خو افسوس چې په دوی کې دومره هِمت نشته .

**دريم صفت** : په سورة اخلاص کې د الله تعالی دريم صفت دا ذکر شوی :

لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ، وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا اَحَدٌ .

ترجمه: نه الله اولاد زیږولی دی، او نه دې زیږولی شوی دی (یعنی نه د الله ﷻ نه څوک پیدا دي، او نه دې د چا نه پیدا دی). او نشته د ده سره برابر هیڅوک.

الله تعالی د چا سره جِنسي، علاقائي او خانداني تعلق نه لري. اسلامي شریعت هم هیڅ کله مسلمانان په قومیت، وَطنیَت، او ژبه باندې نه جدا کوي.

## مسلمانان په خپل مینځ کې سره وروڼه دي

بلکه که یو کس هر قِسمه ژبه وایي، د هرې قبیلې سره تعلق لري، او د هر مُلک وي خو چې مسلمان وي نو دا د بل مسلمان ورور دی.(۱)

الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾.(۲)

ترجمه: بیشکه مؤمنان (د یو بل) وروڼه دي.

## مختلف قومونه او مختلفې قبیلې جوړېدل صرف د تعارُف ذریعه ده

ژبه خو صرف د بیان ذریعه ده، قومِیت خو صرف د پیژندلو ذریعه ده، ددې په وجه به مسلمانانو په خپل مینځ کې نه بې اتفاقه کیږي. الله تعالی فرمایي:

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾.(۳)

اې خلقو مونږ تاسو د یو سړي (حضرت آدم عليه السلام) او یوې ښځې (حضرت حواء رضي الله عنها) نه پیدا کړي یَی، او مونږ ستاسو مختلف قومونه او قبیلې جوړې کړي دي ددې د پاره چې تاسو یو بل اُوپیژنئ، بیشکه په تاسو کې ډیر مُعزّز د الله ﷻ په نزد هغه کس دی چې هغه په تاسو کې ډیر مُتّقي (پرهیزګار) وي.

ددې آیت نه معلومه شوه چې د خلقو مختلف قومونه او مختلف قبیلې جوړېدلو اصل

(۱) خطبات حضرت شیخ (اُستاذي و استاذ العماء شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد حسن جان المدني شهید رحمه الله) ص ۲۵۴ مع الغیر والخلاصه والإضافة.

(۲) الحجرات آیة ۱۰.

(۳) الحجرات آیة ۱۳.

مقصد تعارُف دی ، يعنی دا خلق په دې سره يو بل اُوپيژني چې " دا د فلانکي قوم او فلانکي قبيلې دی " . خاندانونه او قبيلې د فخر او شرافت ذريعه نده ، بلکه د شرافت ذريعه تقوٰی ده ، په دا کې چې څومره ډيره تقوٰی وی همدومره به دا د الله ﷻ په نزد ډير مُعزّز وي.

لهذا که يو کس پښتون وي ، فارسيوان وي ، پنجابې وي ، يا د بلې ژبې واله وي خو چې مسلمان وي نو دا ټول په خپل مينځ کې سره ورونړه دي.

## د ژبو او رَنګونو اختلاف د الله ﷻ د معرفت ذريعه ده

ډير خلق بعضې ژبو ته او بعضې تور رَنګه خلقو ته سپک ګوري او خندا ورپورې کوي، حالانکه ژبو ته سپک کتل ، يا بعضې تور رَنګه قومونو واله خلقو ته سپک کتلو کې د کُفر خطره ده. ځکه دا مختلف ژبې او مختلف رنګونو واله خلق الله تعالی پيدا کړي دي ، او دا يې د خپل معرفت ذريعه ګرځولې ده ، چې ددې په ذريعه به خلق الله ﷻ اُوپيژني ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۚ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴾. (۱)

ترجمه : او د الله د نخو نه د آسمانونو او زمکې پيدا کول ، او ستاسو د ژبو او رَنګونو اختلاف هم دی ، بيشکه په دې کې د پوهه خلقو د پاره نخې (او دليلونه) دي.

يعنی د آسمانونو او زمکې پيدائش ، او همدارنګې د خلقو مختلف ژبې او مختلف رنګونو واله کيدل د الله ﷻ د معرفت نخې دي چې په دې سره د الله ﷻ ذات پيژندلې شي (هر کس به وايي چې الله رب العزت څومره د لوي قدرت واله دی چې مختلف ژبې او مختلف قِسمه رنګونو واله خلق يې پيدا کړي دي).

لهذا د چا د ژبې پورې خندا کول ، يا د چا د رَنګ پورې خندا کول ګويا د الله ﷻ د نخو سپکاوې کول دي ، او دا سخته ګناه ده ، بلکه د الله ﷻ د نخو نه اِنکار کول خو کُفر دی.

---

(۱) الروم آية ۲۲.

# نبي عليه السلام د قيامته پورې هرې ژبې واله خلقو د پاره پيغمبر دی

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې د هيچا ژبې ته سپک کتل ندي په کار ، ځکه که يو غيرمُسلمه کس مسلمان شي نو هغه به کومه ژبه وايي ؟ هغه به ضرور هماغه خپله ژبه وايي بل دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خو تر قيامته پورې راتلونکو ټولو قومونو او ټولو انسانانو د پاره پيغمبر دی .

الله ﷻ نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ﴾. (۱)

ترجمه : او ( اې پيغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول راليږلې يې .

بل ځای فرمايي :

﴿ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه : او ( اې پيغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره ( د جنت ) زيرې ورکوونکې او ( د جهنم نه ) ويروونکې راليږلې يې ، ليکن اکثر خلق نه پوهيږي .

اوس که د هرې ژبې واله کس ايمان راوړي نو هغه به ضرور هماغه د خپل قوم ژبه وايي ، لهذا چاته د ژبې يا رَنګ په وجه سپک کتل ندي په کار .

د دې خبرې خلاصه دا راأووته چې مسلمانان په خپل مينځ کې سره ورونه دي ، ټول يو قوم دی . مختلف قومونه ، مختلف قبيلې ، مختلفو ژبو او مختلفو رَنګونو واله کيدل د بې اتفاقۍ ذريعه نده ، بلکه د ټولې دُنيا مسلمانان به سره په خپل مينځ کې متحد وي نو بيا به يې قوّت برقرار وي ، او په کافرانو باندې به غالب وي .

خو که مسلمانانو په قرآن کريم باندې عمل پريخود ، بې اتفاقي په کې پيدا شوه او جهاد يې پريخود نو بيا به همداسې ذليل وي . لهذا په جهاد کې سستي نده په کار .

(۱) النساء آية ۷۹ .

(۲) سبا آية ۲۸ .

# د قدرت باوجود جهاد نه کولو نور نقصانات

**۱**. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سره د الله ﷻ قهر او عذاب نازلیږي. (۱)

**۲**. په جهاد نه کولو سره کافران غالبه کیږي ، مسلمانان ذلیله کیږي ، د دوی آزادي ختمیږي ، بلکه مسلمانان د کافرانو غلامان جوړیږي .

لکه فرعون چې خپل ځان ته رب وویل او بني اسرائیل یې د خپل ځان غلامان جوړ کړل .

یا لکه نن صبا چې مجموعي لحاظ سره د مسلمانانو هر بادشاه د خپلې کرسۍ په خاطر ځان د امریکې غلام جوړ کړی .

**۳**. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سره په دُنیا کې ظلم ، بَدبختي او بې اِنصافي پیدا کیږي ، د مسلمانانو د لاس نه قِیادت او خلافت اُوځي ، او په دوی باندې ظالمان حکمرانان مسلّط کیږي .

همدارنګې د مسلمانانو سره چې د الله ﷻ د نصرت کومه وعده شوې وه (۲) نو په جهاد نه کولو سره هغه وعده ختمیږي .

---

(۱) الله تعالی فرمایي : ﴿ قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴾ . التوبة آية ۲۴ .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ۚ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ۝ إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ . التوبة آية ۳۸ ، ۳۹ .

(۲) الله ﷻ د مؤمنانو سره د نصرت دا وعده کړی : ﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ﴾ . النور آية ۵۵ .

او کوم نعمتونه چې الله ﷻ ورته ورکړي هغه ورنه واپس سَلب کیږي.

لکه په بني اسرائیلو باندې چې جهاد فرض شو او هغوی اونکړو نو بیا څلویښت (۴۰) کاله پریشانه ګرځیدل. (۱)

٤. په جهاد نه کولو سره اُمّتِ مُسلمه ورځ په ورځ تباهۍ او ذِلت طرف ته روانیږي، د دوی خپل اسلامي تَشَخُّص او رُعب ختمیږي، او د کافرانو په نظرونو کې سپکیږي.

۵. د جهاد نه کولو په وجه د مسلمانانو په خپل مینځ کې اختلافات او جَنګونه پیدا کیږي، ځکه که جهاد کیدی نو دا غصه به په کافرانو سَړیده، خو اوس دا غضبي قوّت مسلمانان په خپل مینځ کې په یو بل باندې استعمالوي.

٦. د قدرت باوجود جهاد ته نه تلل او هسې بهَانې جوړول د منافقانو صفت خودلې شوی، او د منافقانو د پاره خو په قرآن کریم کې د جهنم سخته سزا ذکر شوی. (۲)

## جهاد ته تللو کې تاخیر کولو سره د ډیر ثواب نه محروم کیدل

په مسند احمد، مجمع الزوائد، او المعجم الکبیر کې دا واقعه ذکر ده:

---

(۱) الله ﷻ په قرآن مجید کې ددې تذکره داسې کړی: ﴿يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰۤى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰۤى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ﴾ ........ المائدة آية ۲۱، ۲۲

﴿قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ﴾. المائدة آية ۲٦

(۲) ﴿ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴾. التوبة آية ۴۵.

﴿فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْۤا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۗ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ﴾. التوبة آية ۸۱

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته جهاد ته د تللو حُکم اوکړو ، (ټول صحابه کرام جهاد ته لاړل ) ، یو صحابي پاتې شو ، هغه خپلې بي بي ته وویل :

أَتَخَلَّفُ حَتَّى أُصَلِّيَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ ، ثُمَّ أُسَلِّمَ عَلَيْهِ ، وَأُوَدِّعَهُ ، فَيَدْعُوَ لِي بِدَعْوَةٍ تَكُونُ شَافِعَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ .

زه ځکه روستو پاتې شوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به د ماسپخین مونځ اوکړم ، بیا به د نبي علیه السلام په خدمت کې د سلام د پاره حاضر شم ، رُخصت به ورنه واخلم ، هغه به ماته داسې دُعا اوکړي چې په قیامت کې به مې د شفاعت ذریعه جوړه شي .

پس کله چې نبي علیه السلام د ماسپخین مونځ اوکړو نو دا صحابي راغی ، او سلام یې ورباندې واچول ، پیغمبر علیه السلام ده ته اوفرمایل :

أَتَدْرِي بِكَمْ سَبَقَكَ أَصْحَابُكَ ؟

آیا تا ته پته ده چې د تا نه ستا ملګري څومره مخکې لاړل ؟

ده ورته وویل : آو ، د یوې ورځې د سهر په فاصله باندې مخکې تللي دي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل :

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ سَبَقُوكَ بِأَبْعَدِ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقَيْنِ وَالْمَغْرِبَيْنِ فِي الْفَضِيلَةِ .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده هغوی په فضیلت کې د تا نه د مشرق او مغرب د فاصلې نه زیات مخکې تللي دي . (۱)

(۱) ... عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَمَرَ أَصْحَابَهُ بِالْغَزْوِ ، وَأَنَّ رَجُلًا تَخَلَّفَ ، وَقَالَ لِأَهْلِهِ : أَتَخَلَّفُ حَتَّى أُصَلِّيَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ ، ثُمَّ أُسَلِّمَ عَلَيْهِ ، وَأُوَدِّعَهُ ، فَيَدْعُوَ لِي بِدَعْوَةٍ تَكُونُ شَافِعَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ . فَلَمَّا صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ الرَّجُلُ مُسَلِّمًا عَلَيْهِ ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَتَدْرِي بِكَمْ سَبَقَكَ أَصْحَابُكَ ؟ » قَالَ : نَعَمْ ، سَبَقُونِي بِغَدْوَتِهِمْ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ سَبَقُوكَ بِأَبْعَدِ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقَيْنِ وَالْمَغْرِبَيْنِ فِي الْفَضِيلَةِ . مسند احمد رقم الحديث ۱۵۶۲۲ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ فَضْلِ الْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۹۴۶۹ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۲۳ .

همدا واقعه د احاديثو په نورو کتابونو کې هم ذکر ده ، په هغې کې ذکر دي چې دا صحابي حضرت مُعاذ بن جبل رضي الله عنه وُ . (۱)

## د جهاد متعلق څنې اعتراضات او د هغې مُدلّل جوابات

بعضې خلق د جهاد متعلق څه اعتراضات کوي نو د هغه اعتراضاتو مُدلّل او تسلّي بخش جوابات درته ذکر کوم :

## نبي عليه السلام د دَعوت سره سره جهاد هم کړی

بعضې د اسلام نه ناخبره مسلمانان دا وايي چې نبي عليه السلام جهاد ندې کړی بلکه ټول عُمر يې صرف دعوت و تبليغ کړی ، او دوی په دليل کې دا آيت پيش کوي :

﴿ اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَالۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ ﴾ . (۲)

ترجمه : ته (خلقو ته) د خپل رب لارې طرف ته په حِکمت او ښَه نصيحت سره دعوت (بلنه) ورکوه . (يعنی خلق دِين ته په حِکمت او ښه نصيحت سره رابَله) .

د دينه علاوه نور هغه آيتونه او احاديث پيش کوي کوم چې د دعوت په باره کې راغلي دي .

ددې جواب دادی : دا خبره صحيح ده چې نبي عليه السلام خلقو نه د دِين دعوت ورکړی ځکه په مکه معظمه کې يې ديارلس (۱۳) کاله همدا دعوت ورکړې وُ ، خو چې کله په مدينه منوّره کې جهاد فرض شو نو بيا په لس (۱۰) کاله مدَني دوَر کې يې د دَعوت سره سره جهاد هم کړی . په دې لس کاله کې نبي عليه السلام په اُووه ويشت (۲۷)

---

(۱) عَنِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا فِيهِمْ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ ﷺ . فَغَدَا الْقَوْمُ وَتَخَلَّفَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ حَتَّى صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ ، فَالْتَفَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ: « أَلَا أَرَاكَ سَبَقَكَ الْقَوْمُ بِشَهْرٍ فِي الْجَنَّةِ . الْحَقْ أَصْحَابَكَ » فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ وَتَدْعُوَ لِي لِيَكُونَ لِي بِذٰلِكَ الْفَضْلُ عَلَى أَصْحَابِي . قَالَ : « بَلْ لَهُمُ الْفَضْلُ عَلَيْكَ . الْحَقْ أَصْحَابَكَ » وَقَالَ : « رَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا ، وَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا » . سنن سعيد بن منصور رقم الحديث ۲۳۷۹ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ غَدْوَةٍ أَوْ رَوْحَةٍ فِي سَبِيلِ اللهِ .

(۲) النحل آية ۱۲۵ .

غزاګانو کې په خپله حصه اخيستې، په دې کې يې غابنونه مبارک هم شهيدان شوي، په خپل لاس باندې يې کافر (أبيّ بن خلف) هم وژلی. او پنځه پنځوس (۵۵) جهادونو ته يې صحابه کرام ليږلي، نو په مجموعه لس کاله کې نبي عليه السلام بالواسطه او بِلا واسطه دوه اتيا (۸۲) جهادونه کړي، تر دې چې په مرضُ الوفات کې يې هم د حضرت أسامه رضي الله عنه په مشرۍ کې لښکر د جهاد پاره ليږلی.

پس معلومه شوه چې نبي عليه السلام د دعوت و تبليغ سره سره جهاد هم کړی.

## بعضې خلق د جهاد آيتونه او احاديث په خپل خاص عمل باندې چَسپانوي

بعضې د دِين نه ناخبره خلق داسې هم شته چې په قرآن کريم کې کوم آيتونه خاص د جهاد په باره کې نازل شوي، يا په کومو احاديثو کې د جهاد تذکره او ثواب ذکر شوی دوی دا آيتونه او احاديث په خپل خاص عمل باندې چَسپانوي، يا دوی غټ ظلم دا کوي چې د جهاد متعلق آيت يا حديث يا واقعه ذکر کړي او بيا يې په خپل خاص مستحب عمل باندې تطبيق کړي، د دِين د نورو شُعبو هيڅ ذکر په کې نه کوي، بلکه په خپل خاص مستحب عمل کې د دې آيتونو او احاديثو تخصيص کوي.

نو خبردار، دا د آيتونو او احاديثو تحريفِ معنوي دی، چې د دِين د پاره ډير نقصاني دی. ځکه جهاد خو د دِين اَهمه شُعبه ده، څوک چې د دينه اِنکار کوي هغه بغير د شک و شبهې نه قطعي کافر دی، ځکه دا د قرآن کريم د ډيرو آيتونو نه اِنکار کول دي.

او څوک چې په دې آيتونو او احاديثو کې تحريفِ معنوي کوي يعنی دا آيتونه او احاديث په خپل خاص مستحب عمل باندې تطبيقوي او د دِين د نورو شعبو هيڅ ذکر نه کوي نو دا د دِين سره سخت ظلم او بې انصافي ده، دا خلق به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله د وړاندې ضرور د دې جواب ورکړي.

د انصاف تقاضا خو دا وه چې دا آيتونه او احاديث د کوم مقصد د پاره ذکر شوي اول يې هماغه مقصد بيانولی، او بيا يې په دې کې دا خپل مستحب عمل هم شامل کړې وی. ليکن دوی د جهاد هيڅ تذکره نه کوي، بلکه د جهاد نوم وړاندې سَم د توپک ډَز په شان بَد لږي.

که چیرته دغه شان د دوی دا سلسله جاري پاتې شي او اهل حق علماء ددې اصلاح اونکړي نو زما دا یقین دی چې آئنده د دوی نسل به د جهاد نه مکمل اِنکار اوکړي ( لکه چې اوس هم په دوی کې بعضې په ښکاره او بعضې په پټه د جهاد نه اِنکار کوي ) چې دا بیا صراحةً کُفر دی.

بعضې علماء د ځنې وجوهاتو او یَرې په وجه د جهاد تقریر نشي کولی، او په داسې بې عِلمه خلقو باندې د اِصلاح د پاره صراحةً رد هم نشي کولی، ځکه دوی په دې کې د خپل سَر یا اِمامت ختمیدو خطره محسوسوي.

خو اَلحمدُلله، اوس هم په معاشره کې ډیر داسې حَق پرَسته علماء شته چې هغوی حق نه پټوي، او په هر ځای کې حق وایي، اګر چې په حق ویلو سره د دوی د سَر خطره وي یا د امامت ختمیدو خطره وي خو بیا هم دوی د دِین په خاطر ددې هر څه نه تېر وي لیکن د دِین تحریف کول نه برداشت کوي.

زه دا وایم: که چیرته علماء د دُنیوي فائدې په خاطر یا د یَرې د وجې نه حق بیان نه کړي، او خلق د جهاد ددې اَهمې فریضې نه خبر نکړي نو په احادیثو مبارکهؤ کې چې د حق پټوونکو علماؤ د پاره کوم سخت وعیدونه بیان شوي د هغې به مستحق جوړ شي، او د قیامت په ورځ به د الله ﷻ د وړاندې ضرور ددې جواب ورکړي.

## د بې دِینه خلقو اعتراض چې " په اسلام کې اِکرَاه (زُور زَبردستي) نشته "

الله تعالی فرمايي: ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِ﴾.(١)

ترجمه: نشته دی زُور (زبردستي) په دِین (قبلولو) کې.

یعنی یو کس به په زُور نشي مسلمانولی.

ددې آیت نه بعضې بې دِینه خلق دا اِستدلال کوي چې په اسلام کې زُور زبردَستي نشته، که کافران اسلام قبلوي او که نه، دا د هغوی خوښه ده، لهذا جهاد ته ضرورت نشته، مونږ ورسره اِقدامي جهاد نه کوو ( یعنی مونږ به پرې اول حمله نه کوو ).

ددې **اول جواب** دادی چې د آیت مطلب دادی چې د دِین په قبلولو کې زُور نشته.

(١) البقرة آية ٢٥٦.

يعنی کوم اهلِ کتاب ( کافران ) چې په خپله خوښه باندې اسلام نه قبلوي خو جِزيه ( ټېکس ) ورکوي نو په هغوی باندې په زُوره اسلام قبلول نشته. خو که يو کافر ايمان هم نه راوړي او جِزيه هم نه ورکوي نو بيا د داسې کافر سره جهاد ضروري دی.

يا **دويم جواب** دادی چې دا آيت د جهاد په آيتونو سره منسوخ دی.

په تفسير معارف القرآن کې ذکر دي چې ددې آيت په ليدلو سره بعضې خلق دا اعتراض کوي چې " کله په دِين کې زُور زَبردستي نشته نو بيا جهاد په کې د کوم ځای نه راغی ؟ "

ددې په جواب کې مفتي شفيع رحمه الله ليکلي دي چې که ژُوَر نظر واچولې شي نو دا اعتراض بالکل نه واردېږي ، ځکه د جهاد مقصد دا ندی چې خلق په اِيمان راوړلو باندې مجبور کړې شي ، ورنه بيا د کافرانو نه د جِزيې اخيستلو او د هغوی د جان و مال حفاظت کولو څه مطلب شو ؟ ( يعنی کله چې کافران جِزيه ورکوي نو بيا په اسلامي حکومت کې د هغوی جان و مال محفوظ وي ) ، بلکه د جهاد مقصد د اعلاء کلمة الله سره سره د فساد ختمول دي. ځکه کافران په مخ د زمکه فساد خوَروي او الله تعالی فساد نه خوَښوي.

ربِّ کريم فرمايي : ﴿ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴾. (١)

ترجمه : او دوی په زمکه کې د فساد ( خوَرولو ) کوشش کوي ، او الله تعالی فساد کوونکي نه خوَښوي.

د کافرانو وژل داسې دي لکه د مار ، لړَم او نورو ضرَري ځناورو وژل.

دغه وجه ده چې په کافرانو کې د کومو خلقو نه د فساد خوَرولو يَره نه وي لکه : ماشومان ، زَنانه ، بوداګان ، ګډ او شَل وغيره نو په ميدانِ جنګ کې هم د دوی وژل منع دي. همدارنګې کوم کافر چې مسلمانانو ته جِزيه ( ټېکس ) ورکوي نو د هغوی وژل هم نشته ، صرف هغه کافران به وژلې شي چې اِيمان هم نه راوړي ، جِزيه هم نه ورکوي او د مذکوره کسانو نه علاوه وي. (٢)

---

(١) المائدة آية ٦٤.

(٢) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٦.

تولو مُفسّرين ددې آيت ﴿لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِ﴾ په باره کې فرمايي چې دا آيت يا خود جهاد په نورو آيتونو سره منسوخ دی، او يا دا د هغه کافرانو په باره کې دی چې هغوی جزيه ورکوي. (۱)

---

(۱) د يو څو تفاسيرو نه درته اصل عبارتونه رانقل کوم

په "تفسير ابن كثير" کې ددې آيت متعلق ذکر دي : وَقَدْ ذَهَبَ طَائِفَةٌ كَثِيرَةٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ أَنَّ هٰذِهِ مَحْمُولَةٌ عَلَى أَهْلِ الْكِتَابِ وَمَنْ دَخَلَ فِي دِينِهِمْ قَبْلَ النَّسْخِ وَالتَّبْدِيلِ إِذَا بَذَلُوا الْجِزْيَةَ . وَقَالَ آخَرُونَ : بَلْ هِيَ مَنْسُوخَةٌ بِآيَةِ الْقِتَالِ وَأَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يُدْعَى جَمِيعُ الْأُمَمِ إِلَى الدُّخُولِ فِي الدِّينِ الْحَنِيفِ دِينِ الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَبَى أَحَدٌ مِنْهُمُ الدُّخُولَ فِيهِ وَلَمْ يَنْقَدْ لَهُ أَوْ يَبْذُلِ الْجِزْيَةَ ، قُوتِلَ حَتَّى يُقْتَلَ . وَهٰذَا مَعْنَى الْإِكْرَاهِ قَالَ اللهُ تَعَالَى: {سَتُدْعَوْنَ إِلَى قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ} [الفتح آية ١٦] . وقال تعالى : {يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ} [التحريم آية ٩] وقال تعالى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} [التوبة آية ١٢٣] . وَفِي الصَّحِيحِ : عَجِبَ رَبُّكَ مِنْ قَوْمٍ يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ فِي السَّلَاسِلِ . (صحيح البخاري رقم الحديث ٣٠١٠) . تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ٦٨٣/١ البقرة آية ٢٥٦ .

په "تفسير روح المعاني" کې ددې آيت متعلق ذکر دي : وجوز أن تكونَ إخبارا في معنى النّهي أي لا تكرهوا في الدّين وتجبروا عليه . وهو حينئذ إمّا عامٌ منسوخٌ بقوله تعالى: جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ [التوبة: ٧٣، التحريم: ٩] وهو المحكي عن ابن مسعود وابن زيد وسليمان بن موسى . أو مخصوصٌ بأهل الكتاب الذين قبلوا الجزية . وهو المحكي عن الحسن وقتادة والضحاك . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ١٤/٢ البقرة آية ٢٥٦ .

په "تفسير قرطبي" کې ددې آيت متعلق ذکر دي : اِخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي مَعْنٰى هٰذِهِ الْآيَةِ عَلَى سِتَّةِ أَقْوَالٍ : (اَلْأَوَّلُ) قِيلَ إِنَّهَا مَنْسُوخَةٌ، لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَكْرَهَ الْعَرَبَ عَلَى دِينِ الْإِسْلَامِ وَقَاتَلَهُمْ وَلَمْ يَرْضَ مِنْهُمْ إِلَّا بِالْإِسْلَامِ . قَالَهُ سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسٰى، قَالَ : نَسَخَتْهَا "يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ ". وَرُوِيَ هٰذَا عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَكَثِيرٍ مِنَ الْمُفَسِّرِينَ. (اَلثَّانِي) : لَيْسَتْ بِمَنْسُوخَةٍ ، وَإِنَّمَا نَزَلَتْ فِي أَهْلِ الْكِتَابِ خَاصَّةً ، وَأَنَّهُمْ لَا يُكْرَهُونَ عَلَى الْإِسْلَامِ إِذَا أَدَّوُا الْجِزْيَةَ ... الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبي) ٢٨٠/٣ البقرة آية ٢٥٦ .

په "تفسير زاد المسير" کې ددې آيت متعلق ذکر دي : واختلف علماءُ النّاسخ والمنسوخ في هذا القدر من الآية. فذهب قومٌ إلى أنّه محكمٌ، وأنّه من العام المخصوص، فإنّه خص منه أهل الكتاب بأنّهم لا يكرهون على الإسلام، بل يخيّرون بينه وبين أداء الجزية ... وذهب قومٌ إلى أنّه منسوخٌ ، وقالوا هذه الآية نزلت قبل الأمر بالقتال، فعلى قولهم، يكون منسوخًا بآية السيف. زاد المسير في علم التفسير ٢٣١/١ البقرة آية ٢٥٦

**نوټ** : کله چې مسلمانان اِقدامي جهاد کوي ، يعنې د کافرانو په مُلک باندې حمله کوي نو کومو کافرانو ته چې د اسلام دعوت مخکې نه وي رسيدلی مسلمانان به اول دوی ته د اسلام دعوت ورکړي ، که اسلام قبول کړي نو ډيره ښه ده ، خو که اسلام په خپله خوښه نه قبلوي نو بيا به ورنه د جِزيې ورکولو مطالبه اوکړي که جِزيه قبوله کړي نو بيا هم د دوی جان و مال محفوظ دی ، او که جِزيه هم نه ورکوي نو بيا به ور سره جهاد کولې شي .
خو په دِفاعي جهاد کې ( يعنې کله چې کافران د مسلمانانو په مُلک باندې حمله اوکړي) نو ددې د پاره هيڅ شرط نشته ، بلکه د کافرانو سره به سمدستي جهاد شروع کوي ؟

## صرف په اعمالو کولو او خبرو کولو سره کافران نه ختميږي ، بلکه د دوی سره جهاد هم ضروري دی

بعضې بې عِلمه ، د دِين نه ناخبره مسلمانان دا وايي چې " جهاد ته ضرورت نشته ، ځکه مونږ نېک اعمال کوو او کافرانو ته خبرې کوو نو په دې سره به په خپله کافران ختم شي " .
نو ددې جواب دادی چې : خبر دار ، په اسلام کې ددې نظريې هيڅ ګنجائش نشته ، اسلام هيڅ کله د داسې نظريې ساتلو اجازت ندې ورکړی .
که صرف په نېکو اعمالو باندې کار کيدی نو بيا خو د صحابه کرامو اِيمان د مونږ نه مضبوط وُ ، د هغوی اعمال د مونږ نه ښه وو ، ځکه هغوی د نبي عليه السلام په موجودګۍ کې نېک اعمال کول ، نو بيا ولې نبي عليه السلام او صحابه کرام مجبور شو چې د مکې معظمې نه يې هجرت اوکړو ؟ بيا ولې نبي عليه السلام او صحابه کرامو مختلف جهادونه اوکړل ؟
صحابه کرامو خو په مکه معظمه کې نېک اعمال کول ليکن بيا هم ورباندې کافرانو ظلمونه کول ، خو کله چې د هجرت نه پس د جهاد حُکم راغی او پيغمبر عليه السلام مکې معظمې ته د لس زره ( ۱۰۰۰۰ ) لښکر سره راغی نو بيا هماغه د مکې مشرکان د نبي عليه السلام د وړاندې ذليله ولاړ وو ، دا خو صرف د همدې جهاد برکت وُ .
بل دا چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په خپله په اُووه ويشت ( ۲۷ ) غزاګانو کې حصه اخيستې ، او پنځه پنځوس ( ۵۵ ) جهادونو ته يې صحابه کرام ليږلي ، مجموعه لس

كاله مدني دوَر كې يې بالواسطه او بِلا واسطه دوه اَتيا (۸۲) جهادونه كړي، غابشونه مبارك يې په جهاد كې شهيدان شوي، په زرګونو صحابه كرام په مختلفو جهادونو كې شهيدان شوي، د پيغمبر عليه السلام د وفات نه پس صحابه كرامو په سوُونو جهادونه كړي، نو كه صرف په اَعمالو باندې كار كيدى نو بيا دوى ولې دا دومره ډير جهادونه كول؟ آيا دې كُفري مُلكونو ته اسلام صرف په اعمالو رارسيدلى او كه صحابه كرامو جهادونه اوكړل او اسلام يې را اُورسول؟

داسې مُلك به نه وي چې هلته صحابهٔ كرامو جهاد نه وي كړى، په مختلفو مُلكونو كې صحابه كرام شهيدان شوي او هملته يې قبرونه هم دي. آيا دوى هلته د تجارت د پاره تللي وُ؟ هرګز نه، بلكه د جهاد په ذريعه يې اسلام خور كړو.

كه صرف په اعمالو باندې كار كيدى نو بيا به صحابه كرامو په هماغه بهترين ځايونو (مسجدِ حرام او مسجدِ نبوي) عبادت كولى، بيا دوى ولې مختلفو مُلكونو ته د جهاد د پاره لاړل او اكثر په كې هملته شهيدان شو؟ دا ځكه چې دوى ته پته وه چې د نيكو اعمالو سره سره جهاد هم د اسلام آهمه شعبه او فرضي حُكم دى.

اوس چې څوك دا خبره كوي چې جهاد ته ضرورت نشته نو داسې كس بې دِينه، ګمراه او د اسلام نه خارج دى، ځكه دا د قرآن كريم د ډيرو آيتونو نه اِنكار كول دي، او د قرآن د آيتونو نه اِنكار كول كُفر دى.

بهر حال، چې كله د پاكو صحابه كرامو په اعمالو سره يو كُفري مُلك بغير د جهاد كولو نه فتح نه شو اګر چې د هغوى اعمال سَل فيصده صحيح وو نو بيا به بغير د جهاد نه زمونږ ګناهګارو په اعمالو باندې څنګه كُفري مُلك فتح شي؟ او څنګه به كافران ختم شي؟

همدا رنګې بغير د جهاد كولو نه صرف په خبرو كولو سره هم كافران نه ختميږي، ځكه كه د جهاد نه بغير صرف مسلمانانو ته په دُعاګانو كولو او كافرانو ته په خبرو (بَد دُعا) كولو كار كيدى نو بيا خو هر كال په لكونو حاجيان د حج په موسم كې په عرفات او نورو بهترينو ځايونو كې د مسلمانانو د پاره دُعاګانې كوي او كافرانو ته خبرې كوي، نو آيا په دې سره كافران ختم شو؟ آيا په دې سره كافران د مسلمانانو د مُلكونو نه اُووتل؟ هرګز

نه. خو چې کله مجاهدين جهاد شروع کړي او په کافرانو باندې حمله اوکړي نو بيا په خپله په شا لاړ شي.

تاسو اوګورئ چې بعضې اسلامي ملکونو سره غټې غټې أسلحې شته خو کافران د هغوی نه نه ويريږي، خو چې کله په يو ځای کې د مجاهدينو وړه ډَله د کافرانو خلاف جهاد شروع کړي نو بيا ټول کافران په لړزان شي، د شپې خوبونه يې اُوتختي، بلکه کافران د جهاد د نوم نه ويريږي.

دغه وجه ده چې دوی په هر ځای کې مجاهدين د دهشت ګردو په نوم باندې بَدنام کړل، حالانکه تر اوسه پورې دوی د دهشت ګردئ صحيح تعريف اونکړو " چې دهشت ګردي چاته وايي؟ ". دهشت ګرد خو په خپله آمريکا او دا نور کافران دي چې دوی په مختلفو بهانو سره د مسلمانانو په ملکونو ( لکه افغانستان، عراق، فلسطين وغيره ) باندې حملې کوي، بمبارياني وريانديې کوي، بې ګناه مسلمانان ښځې او ماشومان شهيدانوي، نو آيا دا دهشت ګردي او ظلم ندی؟ اوس چې کوم مجاهدين د خپل دِين، خپل مُلک او خپل عزت د پاره دِفاعي جهاد کوي نو دوی وايي چې دا دهشت ګرد دي.

دا خو عجيبه انصاف دی چې امريکا د دولس زره (۱۲۰۰۰) مِيله لرې نه راځي په افغانستان يا بل اسلامي ملک باندې بمبار کوي، بې ګناه مسلمانان شهيدانوي دا دهشت ګردي نده خو چې کله يو مجاهد خپله دِفاع کوي نو دا دهشت ګردي ده؟ دا خو عجيبه قضاوت او عجيبه انصاف دی.

## که کافر په وژلو سره د جهنم مستحق ګرځي نو مسلمان يې ذِمه وار ندی

بعضې بې دِينه، کم عقل او د اسلام نه ناخبره خلق دا **اعتراض** کوي چې جهاد په کار ندی ځکه په جهاد کې کافران وژلې کيږي، په دې سره کافران د ائمي د جهنم مستحق ګرځي، او د دې ذِمه وار همدا وژونکې مسلمان دی.

**جواب**: دا اعتراض په حقيقت کې په مجاهد باندې ندی بلکه په الله ﷻ، نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو باندې دی، ځکه په قرآن کريم کې ځای په ځای د کافرانو سره د جهاد کولو او د دوی د وژلو حُکم شوی، نبي عليه السلام په خپل لاس مبارک

باندې اُبيّ بن خلف کافر وژلی (۱) ، پيغمبر عليه السلام په خپله په اُووه ويشت (۲۷) غزاګانو کې شِرکت کړی ، د دوی د وړاندې صحابه کرامو په زرګونو کافران وژلي ، پنځه پنځوس (۵۵) جهادونو ته نبي عليه السلام په خپل لاس باندې صحابه کرام ليږلي دي ، په دې جهادونو کې صحابه کرامو په زرهاؤ کافران وژلي ، د پيغمبر عليه السلام مدَني دوَر اکثره په جهاد کې تېر شوی ، د نبي عليه السلام په نومونو کې يو نوم " نَبِيُّ الْمَلَاحِمِ " هم دی ، يعنی د غټو جنګونو واله پيغمبر . (۲)

د دوی د وفات نه پس صحابه کرامو په سوونو جهادونه کړي ، په دې جهادونو کې اګرچې صحابه کرام هم شهيدان شوي خو په لکونو کافران يې هم وژلي . (۳)

په بخاري شريف او مسلم شريف کې داحديث ذکر دی چې نبي عليه السلام په بنومصطلق باندې ناڅاپه حمله اوکړه ، د هغوی دځوانانو د وژلو حُکم يې اوکړو ، او د هغوی ښځې او ماشومان يې قيد کړل . (۴)

---

(۱) وَأَمَّا أُبَيُّ بْنُ خَلَفٍ فَقَتَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ بِيَدِهِ . معالم التنزيل في تفسير القرآن ( تفسير البغوي ) ۴۴۳/۳ سورة الفرقان آية ۲۴ ، مرقاة المفاتيح ج۲ ص ۸۱۹ ، سنن سعيد بن منصور ج۲ ص ۳۶۴ رقم ۲۸۷۶ . ( پوره واقعه روستو په صفحه ۱۸٦ ذکر ده . ابوالشمس علي عنه )

(۲) عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ : لَقِيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ . فَقَالَ : أَنَا مُحَمَّدٌ، وَأَنَا أَحْمَدُ، وَأَنَا نَبِيُّ الرَّحْمَةِ ، وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ ، وَأَنَا الْمُقَفَّى، وَأَنَا الْحَاشِرُ، وَنَبِيُّ الْمَلَاحِمِ . شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳٦۳۱ كتاب الفضائل بَابُ أَسْمَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۳۴۴۵ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۴۰٦۰ باب اسماء النبي صلى الله عليه وسلم .

(۳) علماؤ په دې باندې مستقل کتابونه ليکلي ، د هر جهاد تفصيلي تذکره يې کړی ، په دې کتابونو کې يو کتاب " تاريخ اسلام " د مولانا اکبر شاه نجيب آبادي هم دی چې په اُردو ژبه کې ليکل شوی ، بيا يو کس د دې ترجمه په پښتو ژبه کې اوکړه ، بيا ما ( ابوالشمس ) د هغې دوباره اصلاح اوکړه ، او چاپ شوی ، په هغې کې د دې ټولو جهادونو پوره تفصيلي واقعات شته . ابوالشمس علي عنه .

(۴) إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَغَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّونَ ، وَأَنْعَامُهُمْ تُسْقَى عَلَى الْمَاءِ ، فَقَتَلَ مُقَاتِلَتَهُمْ ، وَسَبَى ذَرَارِيَّهُمْ ، وَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ جُوَيْرِيَةَ رضي الله عنها . صحيح البخاري كِتَابُ الْعِتْقِ بَابُ مَنْ مَلَكَ مِنَ الْعَرَبِ رَقِيقًا، فَوَهَبَ وَبَاعَ وَجَامَعَ وَفَدَى وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ رقم الحديث ۲۵۴۱ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۱۷۳۱ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ جَوَازِ الْإِغَارَةِ عَلَى الْكُفَّارِ الَّذِينَ بَلَغَتْهُمْ دَعْوَةُ الْإِسْلَامِ، مِنْ غَيْرِ تَقَدُّمِ الْإِعْلَامِ بِالْإِغَارَةِ

حضرت ابو طلحة رضي الله عنه په غزوه حُنين کې ځانله شل (۲۰) کافران وژلي وو. (۱)

حضرت سليمان بن ربيعة رضي الله عنه به فرمايل چې ما په دې خپله توره باندې سل (۱۰۰) داسې کافران په ميدانِ جنګ کې وژلي دي چې هغوی ټول پوره اَسلحه بند وو (يعنی زغرې يې اچولې وې) د غيرُ الله عبادت به يې کول، يو مې هم ترلې شوې ندی وژلی. (۲)

همدارنګې براء بن مالک رضي الله عنه به فرمايل چې ما سل (۱۰۰) مشرکين په مقابله کې ځانله وژلي دي، په دې کې د ماسره بل هيڅ څوک شريک نه وُ، او زه چې د بل کس سره د کافر په وژلو کې شريک شوې يم د هغې تعداد بيا زيات دی. (۳)

حافظ ابن کثير رحمه الله په "البداية والنهاية" کې د مسلمانانو د يو جهاد ذکر کړی چې په هغې کې د مسلمانانو د مجوسو سره مقابله راغلې وه، د هغې واقعې په آخر کې يې ليکلي: إِنَّهُ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ وَغَرِقَ قَرِيبٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفٍ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ. (۴)

د الله جل جلاله حمد او احسان دی چې په دې جنګ کې د مجوسيانو په يوه ورځ باندې تقريبًا يو لک (۱۰۰۰۰۰) کسان اووژل شو او غرق شو.

علامه ابن کثير رحمه الله د کافرانو په وژلو باندې د الله جل جلاله حمد او شکريه اداء کړه.

---

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِي يَوْمَ حُنَيْنٍ: « مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ ». فَقَتَلَ أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِينَ رَجُلًا وَأَخَذَ أَسْلَابَهُمْ... سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي السَّلَبِ يُعْطَى الْقَاتِلَ رقم الحديث ۲۷۱۸ وقال ابوداؤد: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مسند احمد رقم الحديث ۱۲۲۳۶، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۸۳۶.

(۲) قَالَ سَلْمَانُ بْنُ رَبِيعَةَ: قَتَلْتُ بِسَيْفِي هٰذَا مِائَةً مُسْتَلْئِمٍ يَعْبُدُ غَيْرَ اللهِ. مَا قَتَلْتُ مِنْهُمْ رَجُلًا صَبْرًا. مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۴۶۲.

(۳) عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ: اِسْتَلْقَى الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ عَلَى ظَهْرِهِ، فَتَرَنَّمَ، فَقَالَ لَهُ أَنَسٌ رضي الله عنه: اُذْكُرِ اللهَ يَا أَخِي. فَاسْتَوَى جَالِسًا وَقَالَ: أَيْ أَنَسُ! أَتُرَانِي أَمُوتُ عَلَى فِرَاشِي، وَقَدْ قَتَلْتُ مِائَةً مِنَ الْمُشْرِكِينَ مُبَارَزَةً سِوَى مَا شَارَكْتُ فِي قَتْلِهِ. مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ السَّلَبِ وَالْمُبَارَزَةِ رقم الحديث ۹۴۶۹، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۹۲، و رقم ۱۱۸۷، شرح السنة للبغوي ج ۱۲ ص ۳۸۲، مجمع الزوائد رقم ۱۵۷۹۴، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۵۲۷۲ وقال الحاكم: هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه.

(۴) البداية والنهاية لابن كثير ۳۶/۷ سنة ثلاث عشرة من الهجرة وقعة البويب

# الله ﷻ په جهاد کې د کافرانو د وژلو حُکم کړی

الله ﷻ په قرآن کريم کې په مختلفو تعبيراتو سره مسلمانانو ته حُکم کړی چې په جهاد کې کافران اُووژني. يو څو آيتونه درته رانقل کوم:

الله تعالی فرمايي:

١. ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ﴾.(١)

ترجمه: بيا کله چې ستاسو د کافرانو سره مقابله راشي نو د هغوی څټونه اُووهئ.

٢. ﴿ قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ﴾. (٢)

ترجمه: ( اې مؤمنانو ! ) تاسو د دوی (يعنی کافرانو) سره اُوجنګيږئ الله تعالی به ستاسو په لاس باندې دوی ته عذاب ورکړي، رَسواء به يې کړي، د دوی په مقابله کې به ستاسو مدد اوکړي، او ( دوی ته په سزا ورکولو سره ) د مؤمنانو سينې به يخې کړي

٣. ﴿ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ﴾. (٣)

ترجمه: او چيرته چې تاسو کافران اُومومئ قتل يې کړئ، او د کومو ځايونو نه چې هغوی تاسو اِيستلي يَئ د هغه ځايونو نه يې اُوباسئ.

د دينه علاوه په نورو ډيرو آيتونو کې د کافرانو سره د جنګيدلو او د هغوی د وژلو حُکم شوی. (٤)

---

(١) محمد آية ٤

(٢) التوبة آية ١٤ .

(٣) البقرة آية ١٩١ .

(٤) ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾. الانفال آية ٣٩ .

﴿ فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾. التوبة آية ٥ .

## نبي ﷺ په خپل لاس مبارک باندې كافر ( ابيّ بن خلف ) وژلې دی

أُبَيّ بن خلَف د اسلام سخت ترين دُشمن وُ ، ده د نبي عليه السلام په باره كې ويلي وو :

وَاللهِ لَأَقْتُلَنَّ مُحَمَّدًا . قسَم په الله ، زه به محمد ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) قتلوم .

پيغمبر عليه السلام ته چې دا خبره را اُورسيده نو وې فرمايل :

بَلْ أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ . بلكه زه به يې اِن شاء الله قتلوم .

يو كس دا خبره د نبي عليه السلام نه واوريده ، لاړ او أُبَيّ بن خلَف ته يې ددې خبرې ذكر اوكړو چې نبي عليه السلام ستا په باره كې دا اوفرمايل :

بَلْ أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ . بلكه زه به يې اِن شاء الله قتلوم .

أُبَيّ بن خلَف دې اَوريدو سره أويريد او دې سړي ته يې قسَم وركړو :

أَنْشُدُكَ بِاللهِ أَسَمِعْتَهُ يَقُوْلُ ذٰلِكَ ؟

زه تا ته په الله ﷻ باندې قسَم دركوم چې تا يقيني دا خبره د نبي عليه السلام نه اَوريدلې ؟

ده ورته وويل : آو . نو دده په زړه كې يَره پيدا شوه ، ځكه كافرانو ته پته وه چې د نبي عليه السلام هره خبره رښتيني وي ، او څه يې چې ويلي هغه يقيني وي .

كله چې په جنګِ اُحد كې أُبَيّ بن خلَف د مشركانو سره ميدان ته راغی نو موقع يې تلاش كوله چې پيغمبر عليه السلام ( نَعوذُ بِالله ) قتل كړي . نو د حملې په اِراده باندې ورته رانزدې شو ، صحابه كرامو دا د لرې نه ختمول غوښتل خو رسولُ الله ﷺ صحابه كرامو ته اوفرمايل : خَلُّوْا عَنْهُ . دا راپرېږدئ .

نبي عليه السّلام د يو صحابي نه نېزه واخيسته او ګوذار يې ورباندې اوكړو ، په څټ اُولږيد ، څټ يې معمولي زخمي شو ، ديره وِينه ورنه توَى نه شوه ، د غوائي په شان رَمبارې يې شروع كړې او په مَنډه خپلو ملګرو ته ورغی ، او همداسې رَمبارې يې

وهلی .... ملګرو ورته وویل : قسَم په الله ته خو معمولي ګرېدلې يې (دومره پوخ زخمي نه يې) نو بيا ولې دومره چغې وهې ؟ ده ورته وويل :

وَاللهِ لَوْ لَمْ يُصِبْنِيْ إِلَّا بِرِيْقِهِ لَقَتَلَنِيْ، أَلَيْسَ قَدْ قَالَ : " أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ " وَاللهِ لَوْ كَانَ الَّذِيْ بِيْ بِأَهْلِ ذِى الْحِجَازِ لَقَتَلَهُمْ.

قسَم په الله ، که محمد (ﷺ) په ما باندې صرف لاړې تُو کړې وی نو هم زه يې وژلم ، آيا هغه زما په باره کې دا نهٔ ويلي " چې زه به اِن شاءَالله دا قتلوم " . قسَم په الله په ما باندې چې څومره تکليف دی که دا په ټول اهلِ حجاز والا باندې وی نو هغه به يې وژلي وی .

يوه ورځ ، دوه همداسې وُ (چغې يې وهلی) بيا مړشو ، او د جهنم مستحق شو .(۱)

---

(۱) په " مصنف عبدالرزاق " کې دا واقعه په دې الفاظو ذکر ده : وَأَمَّا أُبَيُّ بْنُ خَلَفٍ، فَقَالَ : وَاللهِ لَأَقْتُلَنَّ مُحَمَّدًا . فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : « بَلْ أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ » قَالَ : فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِمَّنْ سَمِعَ ذٰلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ فَقِيْلَ : إِنَّهُ لَمَّا قِيْلَ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قُلْتَ قَالَ : « بَلْ أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ » فَأَفْزَعَهُ ذٰلِكَ . وَقَالَ أُنْشِدُكَ بِاللهِ أَسَمِعْتَهُ يَقُوْلُ ذٰلِكَ ؟ قَالَ : نَعَمْ فَوَقَعَتْ فِيْ نَفْسِهِ لِأَنَّهُمْ لَمْ يَسْمَعُوْا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ قَوْلًا إِلَّا كَانَ حَقًّا . فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ خَرَجَ أُبَيُّ بْنُ خَلَفٍ مَعَ الْمُشْرِكِيْنَ فَجَعَلَ يَلْتَمِسُ غَفْلَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ . فَيَحُوْلُ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَلَمَّا رَأَى ذٰلِكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَصْحَابِهِ: « خَلُّوْا عَنْهُ » فَأَخَذَ الْحَرْبَةَ . فَجَزَلَهُ بِهَا . يَقُوْلُ : رَمَاهُ بِهَا . فَيَقَعُ فِيْ تَرْقُوَتِهِ تَحْتَ تَسْبِغَةِ الْبَيْضَةِ . وَفَوْقَ الدِّرْعِ . فَلَمْ يَخْرُجْ مِنْهُ كَبِيْرُ دَمٍ . وَاحْتَقَنَ الدَّمُ فِيْ جَوْفِهِ . فَجَعَلَ يَخُوْرُ كَمَا يَخُوْرُ الثَّوْرُ . فَأَقْبَلَ أَصْحَابُهُ حَتَّى احْتَمَلُوْهُ وَهُوَ يَخُوْرُ . وَقَالُوْا : مَا هٰذَا فَوَاللهِ مَا بِكَ إِلَّا خَدْشٌ . فَقَالَ : وَاللهِ لَوْ لَمْ يُصِبْنِيْ إِلَّا بِرِيْقِهِ لَقَتَلَنِيْ، أَلَيْسَ قَدْ قَالَ : " أَنَا أَقْتُلُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ " وَاللهِ لَوْ كَانَ الَّذِيْ بِيْ بِأَهْلِ ذِى الْحِجَازِ لَقَتَلَهُمْ . قَالَ : فَمَا لَبِثَ إِلَّا يَوْمًا أَوْ نَحْوَ ذٰلِكَ حَتَّى مَاتَ إِلَى النَّارِ . مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۷۳۱ كِتَابُ الْمَغَازِيْ وَقْعَةُ هُذَيْلٍ بِالرَّجِيْعِ وَالرَّجِيْعُ مَوْضِعٌ .

همداسې تفصيلي واقعه په تفسير خازن کې هم ذکر ده . تفسير خازن ۱/۳۰۳ سورة آل عمران آية ۱۴۴ .

وَأَمَّا أُبَيُّ بْنُ خَلَفٍ فَقَتَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ بِيَدِهِ . معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۳/۴۴۳ سورة الفرقان آية ۲۴ ، مرقاة المفاتيح ج۲ ص ۸۱۹ ، سنن سعيد بن منصور ج۲ ص ۳۶۴ رقم ۲۸۷۶ .

## کافر او ده لره قتلوونکې مسلمان به هيڅ کله په جهنم کې يو ځاى نشي

په احاديثو مبارکهؤ کې د کافرانو د وژلو ډير فضيلت بيان شوى.

د مسلم شريف او مشکوة شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا .(۱)

کافر او ده لره قتلوونکې مسلمان به هيڅ کله د جهنم په اُور کې جمع نشي.

**د حديث تشريح**: يعنى کوم مسلمان چې په جهاد کې کافر اُووژني نو دا کافر او دا مسلمان به په جهنم کې هيڅ کله يو ځاى نشي. ځکه د کافر په وژلو سره د مسلمان ګناهونه معاف کيږي، نو جهنم ته د تللو ضرورت نه پيدا کيږي.

ددې مطلب دا رااُووت چې کافر لره وژونکې مجاهد به هيڅ کله جهنم ته نه داخليږي.

ددې خبرې تائيد د نورو صحيح احاديثو نه هم کيږي.

بل دا چې کله کافر د کُفر په حالت کې مردار شي نو دا خو به جهنم ته يقيني ځي، اوس که چيرته مجاهد هم جهنم ته لاړ شي نو دا خو بيا دواړه په جهنم کې جمع کيږي، حالانکه په حديث کې ذکر شو چې دا دواړه به د جهنم په اُور کې نه جمع کيږي.

## مؤمنان به د کافرانو په مقابله کې ډير سخت وي

د مؤمنانو شان دادى چې دوى به په خپل مينځ کې رَحم کوونکي وي خو د کافرانو په مقابله کې به ډير سخت وي، ددې د پاره چې کافران د مسلمانانو د نرمۍ په وجه زړه وَر نشي، الله تعالى د مؤمنانو شان داسې بيان کړى:

﴿ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ﴾.(۲)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا ثُمَّ أَسْلَمَ رقم الحديث ۱۳۰ (۱۸۹۰)، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۵ (۹)، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۵۱۴، مسند احمد رقم الحديث ۹۱۶۳، ورقم ۹۳۳۲، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۳۱، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۶۲۱، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۴۹۹.

(۲) الفتح آية ۲۹.

ترجمه : او کوم خلق چې د نبي علیه السلام سره دي هغوی د کافرانو د پاره ډیر سخت دي ، (او) په خپل مینځ کې مهربانه دي .

الله ﷻ نبي علیه السلام ته فرمایي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پیغمبره ! ته د کافرانو او منافقینو سره جهاد اوکړه ، او په دوی باندې سختي اوکړه .

همدارنګې الله تعالی مؤمنانو ته هم فرمایي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ . (۲)

ترجمه : اې مؤمنانو تاسو د هغه کافرانو سره جنګ اوکړئ چې هغوی د تاسو سره نزدې دي ، او په کار ده چې دوی په تاسو کې سختي اُوومومي ( یعنی د جهاد کولو په وخت ځانونه مضبوط کړئ ، نرمي ورسره مه کوئ ) .

دا ټول آیتونه په دې دلالت کوي چې مؤمنان به د کافرانو په مقابله کې ډیر سخت وي ، په جهاد کې به د دوی سره هیڅ نرمي نه کوي ، بلکه دوی به قتلوي .

که په قتلولو سره دوی د جهنم مستحق ګرځي ددې ذمه وار مسلمان ندی ، ځکه الله ﷻ او د هغه رسول په خپله مسلمانانو ته د همدې حکم کړی .

اوس چې څوک بې دِینه دا اعتراض کوي :

" چې جهاد په کار ندی ځکه په دې کې کافران وژلې شي او هغوی د جهنم مستحق ګرځي "

نو دوی په حقیقت کې دا اعتراض په الله ﷻ او رسول الله ﷺ باندې کوي . او د قرآن کریم ددې دومره ډیرو آیتونو او صریحو احادیثو نه انکار کوي ، چې دا لویه ګمراهي ده .

---

(۱) التوبة آية

(۲) التوبة آية ۱۲۳ .

# په اسلام کې اقدامي جهاد هم شته

د بې دِينه خلقو د اعتراض نه مخکې اول د اِقدامي جهاد او دِفاعي جهاد تعریفونه اوپېژنئ :

((( **د اِقدامي جهاد او دِفاعي جهاد تعریف** : " اِقدامي جهاد " دیته وایي چې مسلمانانو ته غلبه حاصله وي او کافرانو د مسلمانانو په کومه علاقه باندې حمله نه وي کړې خو مسلمانان اِبتداءً په هغوی باندې حمله اوکړي ، دا جهاد فرضِ کفائي دی ، یوه ډله به ضرور داسې وي چې هغوی به د کافرانو سره په جهاد کې مصروفه وي نو په دې سره به د ټولو مسلمانانو غاړه خلاصه وي ، او که ټولو مسلمانانو دا جهاد پرېخود نو بیا د فرض په پرېخودلو سره به ټول ګناهګار وي . (۱)

او " دِفاعي جهاد " دیته وایي چې کافران د مسلمانانو په یوه علاقه باندې حمله اوکړي نو بیا په مسلمانانو باندې خپله دِفاع فرضِ عَین ده . اوس که د هماغه ځای مسلمانان د کافرانو د مقابلې قدرت لري نو صرف د هماغه ځای په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین دی ، خو که هغوی د کافرانو د مقابلې طاقت نه لرلو یا طاقت یې لرلو خو د سستۍ د وجې یې جهاد نه کولو نو ورسره څنګ کې په نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عین دی ، تر دې چې که دشمن قوي وُ او د هاغه ځای مسلمانانو یې د مقابلې طاقت نه شو لرلی یا یې د سستۍ د وجې جهاد نه کولو نو درجه په درجه تر د مشرق او مغرب پورې په ټولو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَین کیږي . (۲)

---

(۱) فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ ، لِأَنَّ الْوُجُوبَ عَلَى الْكُلِّ . الهداية كِتَابُ السِّيَرِ ۲/۳۷۸

(۲) قَالَ الحصكفي رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ فَيَخْرُجُ الْكُلُّ وَلَوْ بِلَا إِذْنٍ ) . الدر المختار

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : ( قَوْلُهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ ) أَيْ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ ، فَإِنْ عَجَزُوا أَوْ تَكَاسَلُوا فَعَلَى مَنْ يَلِيهِمْ حَتّٰى يُفْتَرَضَ عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ عَلَى كُلِّ الْمُسْلِمِينَ شَرْقًا وَغَرْبًا . رد المحتار ۴/۱۲۶ كِتَابُ الْجِهَادِ

قَالَ ابن عابدين رَحِمَهُ اللّٰهُ : وَفَرْضُ عَيْنٍ إِنْ هَجَمُوا عَلَى ثَغْرٍ مِنْ ثُغُورِ الْإِسْلَامِ ، فَيَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ قَرُبَ مِنْهُمْ ، وَهُمْ يَقْدِرُونَ عَلَى الْجِهَادِ . وَنَقَلَ صَاحِبُ النِّهَايَةِ عَنِ الذَّخِيرَةِ : أَنَّ الْجِهَادَ إِذَا جَاءَ النَّفِيرُ ←←←←←←

خو شرط دادی چې دوی د جهاد کولو قدرت لري.(۱) )))

**د بې دِينه خلقو اعتراض او د هغې جواب:** بعضې مُلحِد او بې دِينه خلق دا خبره کوي چې: " په اسلام کې دِفاعي جهاد شته خو اِقدامي جهاد نشته " يعنې که کافران په مونږ باندې حمله اوکړي نو مونږ به د خپلې دِفاع د پاره جهاد کوو ليکن که هغوی حمله نه وي کړې نو مونږ به پرې اول حمله نه کوو.

ددې **جواب** دادی چې د دوی دا خبره د قرآن کريم د صريحو آيتونو ، او احاديثو خلاف ده، ځکه په اسلام کې لکه څرنګې چې دِفاعي جهاد شته نو همدغه شان اِقدامي جهاد هم شته، بلکه په قرآن کريم کې چې د جهاد کوم آيتونه دي هغه اکثر د اِقدامي جهاد متعلق دي، د دِفاعي جهاد حُکم خو د اسلام په اِبتدائي دَور کې ورکړې شوې وُ، نور اکثر حُکمونه د اِقدامي جهاد متعلق دي.

## په قرآن کريم کې د اِقدامي جهاد متعلق آيتونه

په قرآن کريم د جهاد ډير آيتونه د اِقدامي جهاد متعلق دي ، ځکه اسلام دا غواړي چې په مخ د زمکه باندې کُفر مغلوبه شي، فسادات ختم شي، او اسلام غالبه شي.

الله تعالی مؤمنانو ته دا حُکم کړی :

←←←← إِنَّمَا يَصِيرُ فَرْضَ عَيْنٍ عَلَى مَنْ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ . فَأَمَّا مَنْ وَرَاءَهُمْ بِبُعْدٍ مِنَ الْعَدُوِّ فَهُوَ فَرْضُ كِفَايَةٍ عَلَيْهِمْ، حَتَّى يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ إِذَا لَمْ يُحْتَجْ إِلَيْهِمْ . فَإِنْ احْتِيجَ إِلَيْهِمْ بِأَنْ عَجَزَ مَنْ كَانَ يَقْرُبُ مِنَ الْعَدُوِّ عَنِ الْمُقَاوَمَةِ مَعَ الْعَدُوِّ أَوْ لَمْ يَعْجِزُوا عَنْهَا لَكِنَّهُمْ تَكَاسَلُوا وَلَمْ يُجَاهِدُوا فَإِنَّهُ يُفْتَرَضُ عَلَى مَنْ يَلِيهِمْ فَرْضَ عَيْنٍ كَالصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ، لَا يَسَعُهُمْ تَرْكُهُ ثُمَّ وَثُمَّ إِلَى أَنْ يُفْتَرَضَ عَلَى جَمِيعِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ شَرْقًا وَغَرْبًا عَلَى هٰذَا التَّدْرِيجِ. رد المحتار على الدر المختار ۱۲۳/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ مَطْلَبٌ فِي الْفَرْقِ بَيْنَ فَرْضِ الْعَيْنِ وَفَرْضِ الْكِفَايَةِ

(۱) قال الحصكفيؒ: (وَلَا بُدَّ) لِفَرْضِيَّتِهِ (مِنْ) قَيْدٍ آخَرَ وَهُوَ (الْإِسْتِطَاعَةُ) . الدر المختار ۱۲۷/۴ كِتَابُ الْجِهَادِ.

قال العلامة الكاسانيؒ : وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ فَنَقُولُ إِنَّهُ لَا يُفْتَرَضُ إِلَّا عَلَى الْقَادِرِ عَلَيْهِ . فَمَنْ لَا قُدْرَةَ لَهُ لَا جِهَادَ عَلَيْهِ ، لِأَنَّ الْجِهَادَ بَذْلُ الْجُهْدِ ، وَهُوَ الْوُسْعُ وَالطَّاقَةُ بِالْقِتَالِ ، أَوِ الْمُبَالَغَةُ فِي عَمَلِ الْقِتَالِ، وَمَنْ لَا وُسْعَ لَهُ كَيْفَ يَبْذُلُ الْوُسْعَ وَالْعَمَلَ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۹۷/۷ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ الْجِهَادُ .

﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾ . (۱)

ترجمه : او تاسو د کافرانو سره اُوجنګيږئ تر دې چې فِتنه پاتې نشي ، او ټول دِين يواځې د الله ﷻ ( قائم ) شي .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ . (۲)

ترجمه : اې مؤمنانو تاسو د هغه کافرانو سره جنګ اوکړئ چې هغوی د تاسو سره نزدې دي ، او په کار ده چې دوی په تاسو کې سختي اُومومي ( يعنی د جهاد کولو په وخت ځانونه مضبوط کړئ ، نرمي ورسره مه کوئ ) .

﴿ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ﴾ (۳)

ترجمه : او تاسو مشرکانو سره ټول په يو ځای اوجنګيږئ لکه څرنګې چې هغوی د تاسو سره ټول په يو ځای جنګيږي .

ددينه علاوه د قرآن کريم په نورو ډيرو آيتونو کې مسلمانانو ته دا حُکم شوی چې د کافرانو سره تر هاغه وخته پورې جهاد اوکړئ چې يا اِيمان راوړي ، يا د ذِلت په حالت کې جزيه ورکړي ، او يا د مخ د زمکې نه ختم شي او د کفر جَړه ختمه شي . (۴)

او اسلام په ټوله دُنيا باندې غالب شي . (۵)

او دا ښکاره خبره ده چې د کافرانو نه جِزيه اخيستل خو په اِقدامي جهاد کې وي ، په دِفاعي جهاد کې خو ددې تصوّر نه کيږي .

---

(۱) الانفال آية ۳۹ .

(۲) التوبة آية ۱۲۳ .

(۳) التوبة آية ۳۶ .

(۴) ﴿ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴾ التوبة آية ۲۹ .

(۵) ﴿ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴾ . التوبة آية ۳۳ .

# نبي عليه السلام اکثر اِقدامي جهادونه کړي

که مونږ د نبي عليه السلام جهادونه اوګورو نو د غزوه اُحد او غزوه خندق نه علاوه نور ټول جهادونه يې اِقدامي وو ، يعنې اول نبي عليه السلام په کافرانو باندې حمله کړې.

لکه په غزوه خيبر ، غزوه بني مصطلق ، هوازن، غزوه تبوک ، فتح مکه ، او نورو ټولو جهادونو کې نبي عليه السلام اول په کافرانو باندې حمله کړې.

صرف په غزوه اُحد او غزوه خندق کې کافرانو اول حمله کړې وه او نبي عليه السلام دِفاعي جهاد کړې وُ ، د غزوه خندق نه پس رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل:

اَلْآنَ نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَنَا، نَحْنُ نَسِيْرُ إِلَيْهِمْ . (١)

اوس به مونږ اِبتداءً د دوی سره غزا کوو ، هغوی به په مونږ باندې نه راځي ، مونږ به هغوی طرف ته (د حملې د پاره ) ورځو.

همدا رنګې د نبي عليه السلام د وفات نه پس صحابه کرامو چې د شام په زمکه باندې په سوونو جهادونه کړي دا ټول اِقدامي جهادونه وو. بيا مصر ، فارس ، خراسان، حتّى چې کابل او ملتان پورې د صحابه کرامو او تابعينو ټول جهادونه اِقدامي وو ، يعنې دوی اول په کافرانو باندې حمله کړې.

د بخارې شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوْا أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ، وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ . فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ. وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ . (٢)

ماته دا حُکم شوی چې زه د خلقو (کافرانو) سره تر هغه وخته پورې اُوجنګيږم تر دې پورې

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ غَزْوَةِ الْخَنْدَقِ وَهِيَ الْأَحْزَابُ رقم الحديث ٤١١٠ ورقم ٤١٠٩.

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابٌ: {فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ} رقم الحديث ٢٥ ، ورقم ٣٩٢٠، ورقم ١٣٩٩ ، ورقم ٦٩٢٤، ورقم ٧٢٨٤. صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ الأَمْرِ بِقِتَالِ النَّاسِ حَتَّى يَقُولُوا: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ رقم ٣٣(٢١).

چې دوی د " لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ " ګواهي ( اِقرار ) اوکړي، مونځ قائم کړي، او زکوة ورکړي، پس کله چې دوی دا کارونه اوکړي نو دوی د مانه خپلې وينې او خپل مالونه محفوظ کړل مګر د اِسلام حق به ورباندې وي ( يعنی که بې ګناه قتل اوکړي يا شادي شُده کس زِنا اوکړي نو بيا به وژلې شي ) او د دوی ( پټ ) حساب الله ﷻ ته حواله دی.

## د اِقدامي جهاد د پاره نور دلائل

۱ . که په اسلام کې اِقدامي جهاد نه وی نو بيا په قرآن کريم او احاديثو کې مسلمانانو ته د فتوحاتو زيرې ولې ورکړې شوی ؟

۲ . همدارنګې مصر، عراق، قسطنطنيه، اُندلس او نور ډير کُفري ملکونه په اِقدامي جهاد فتح شوي او که په دفاعي جهاد ؟ دا په اِقدامي جهاد فتح شوي چې مسلمانانو په دې ځايونو باندې حملې اوکړی او فتح يې کړل.

۳ . په قرآن کريم کې چې ځای په ځای د مالِ غنيمت او د هغې د تقسيمولو ذکر راغلی نو آيا په دِفاعي جهاد کې مسلمانانو ته دومره ډير مالِ غنيمت په لاس ورځي چې د هغې نه بيتُ المال ته هم حصه لاړه شي او په مجاهدينو هم تقسيم شي ؟ هر ګز نه. دومره ډير مال خو صرف په اِقدامي جهاد کې په لاس راځي.

٤ . د مسلم شريف حديث دی چې کله به نبي عليه السلام جهاد ته فوج لېږلو نو د هغې امير ته به يې د تقوی وصيت اوکړو او بيا به يې ورته اوفرمايل:

اُغْزُوْا بِاسْمِ اللّٰهِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، قَاتِلُوْا مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ...(۱)

(۱) كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيْرًا عَلٰى جَيْشٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ أَوْصَاهُ فِيْ خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللّٰهِ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرًا، ثُمَّ قَالَ: اُغْزُوْا بِاسْمِ اللّٰهِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، قَاتِلُوْا مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ. صحيح مسلم رقم الحديث ۳ (۱۷۳۱) كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَأْمِيْرِ الْإِمَامِ الْأُمَرَاءَ عَلَى الْبُعُوْثِ، وَوَصِيَّتِهِ إِيَّاهُمْ بِآدَابِ الْغَزْوِ وَغَيْرِهَا

تاسو د الله ﷻ په نوم سره د الله ﷻ د رضا د پاره جهاد اوکړئ، څوک چې په الله ﷻ سره کُفر کوي ( يعنی الله تعالی نه مني ) د هغوی سره جنګ اوکړئ.

په دې حديث کې هم د اِقدامي جهاد خبره ده.

۵. پيغمبر عليه السلام چې کافرانو بادشاهانو ( هرقل، قيصر وغيره ) ته کوم خطونه ليږلي وو نو په هغې خطونو کې يې هم اول دوی ته د اسلام دعوت ورکړې وُ، او په نه منلو سره يې ورته اَختار ورکړې وُ. (۱)

دا هم د اِقدامي جهاد خبره ده.

٦. د نبي عليه السلام د وفات نه پس چې کله حضرت ابوبکر صديق ﷺ خليفه شو نو مسلمانانو ته يې خطبه ورکړه، بيا يې يو خط اوليکل او مختلفو طرفونو ته يې اوليږل، په دې خط کې يې مسلمانانو ته ترغيب ورکړې وُ چې په شام باندې حمله اوکړي او د کافرانو نه يې واخلي. مسلمانانو دده په خبره باندې عمل اوکړو.

کله چې شام فتح شو، بيا صحابه کرام د مصر فتح کولو طرف ته روان شو، بيا يې دياربکر فتح کړو، بيا يې عراق فتح کړو، بيا په دريائې دَجله پورې وَتل او په مدائن کې يې د کِسریٰ محل فتح کړو، بيا خراسان افغانستان پورې راغلل. نو آيا دا ټول اِقدامي جهادونه وو او که نه؟ يقيني چې دا ټول په اِقدامي جهادونو فتح شوي.

## د ځان دِفاع خو هر حيوان کوي

اسلام اول مسلمانانو د اِقدامي جهاد حُکم کړی. چې کله کافران په مسلمانانو حمله اوکړي نو بيا خو د مجبوريت په وجه دِفاعي جهاد کول خامخا فرضِ عَين دی.

بلکه د انسان نه علاوه نور حيوانات او حشرات هم د خپلې دِفاع حق لري، الله تعالی ټولو حيواناتو ته د خپلې دِفاع د پاره اَسباب هم ورکړي، چې دوی د دې په ذريعې سره

---

(۱) په بخاري شريف او مسلم شريف کې هغه خطونه ذکر دي، په هغې ټولو کې دا خبره ذکر ده، فَإِنِّيْ أَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الإِسْلَامِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ ... صحيح البخاري رقم الحديث ۲۵۵۳، و رقم ۷، و رقم ۲۹۴۰، صحيح مسلم رقم الحديث ۷۴ (۱۷۷۳).

خپله دفاع کوي. (۱) نو بيا د مسلمان اِمتياز څه پاتې شو ؟ بلکه مسلمان به د دِفاعي جهاد سره سره اِقدامي جهاد هم کوي.

## يو اعتراض او د هغې جواب

که ستاسو ذِهن ته دا **اعتراض** راځي چې " کله کافران د مونږ سره اِبتداءً جنګ نه کوي نو بيا مونږ ورباندې ولې اِقدامي ( اول ) حمله اوکړو ؟ "

نو ددې **اول جواب** دادی چې دا خبره دروغ ده چې کافران د مسلمانانو سره نه جنګيږي بلکه قرآن کريم صراحةً ذکر کړي چې : " کافران هميشه د مسلمانانو سره جنګيږي " الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ﴾. (۲)

ترجمه : که چيرته ددې کافرانو وَس ( طاقت ) پيدا شي نو دوی به هميشه د تاسو سره تر هاغې وخته پورې جنګيږي تر دې چې دوی تاسو د خپل دِين نه واړوي.

نو اوس چې څوک دا اعتراض کوي ( چې کافران د مسلمانانو سره نه جنګيږي ) نو دوی د قرآن کريم ددې آيت دروغ ثابتولو کوشش کوي.

**دويم جواب** دادی چې مونږ مسلمانان يو مونږ ته الله ﷻ دا حُکم کړی چې د کُفر او فِتنې ختميدو پورې جهاد کوئ. (۳)

نو مونږ به اوس تر هاغې وخته پورې جهاد کوو چې تر څو پورې اسلام په ټوله دُنيا باندې

---

(۱) الله تعالى بعضې حيواناتو ته د خپلې دِفاع د پاره ښکرونه ورکړي لکه غوا ، غوائي او نور غټ حيوانات ، چې دوی د ښکرونو په ذريعه خپله دِفاع کوي. بعضې حيواناتو ته يې د خپلې دِفاع د پاره په خپو کې غټ قوّت ورکړی لکه خَر ، قچر وغيره چې دوی په شاته خپو باندې وهل کوي. بعضې حيواناتو ته يې د خپلې دِفاع د پاره داړې ( سخت غاښونه ) ورکړي لکه زمرې وغيره. بعضو ته يې مضبوطې پَنجې ورکړي لکه باز وغيره. بعضو ته يې په مَخوکه کې د دِفاع طاقت ورکړې وي چې په دې وهل کوي. بعضو ته يې د لشې په ذريعه د چيچلو طاقت ورکړې وي لکه مچۍ ، ډَمبر وغيره. مار ته يې د سَتنې نه تېره غاښونه ورکړي چې ددې په ذريعه د انسان وجود ته زهر دَننه کوي او خپله دفاع کوي.

(۲) البقرة اية ۲۱۷.

(۳) ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾. الانفال آية ۳۹.

غالب شوي نه وي او د کُفر فتنه ختمه شوې نه وي.

نبي علیه السلام هم فرمايي: اَلجِهَادُ مَاضٍ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ. (١)

جهاد به تر قیامته پورې جاري وي.

## د جهاد حُکم په ترتیب سره نازل شوی

علامه شامي رحمه الله لیکلي چې د جهاد حُکم ترتیب وار نازل شوی ( بیا علامه شامي رحمه الله ددې پوره تفصیل ذکر کړی) خو آخري حُکم مسلمانانو ته د جهاد په باره کې دا نازل شوی: ﴿ وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ﴾. او تاسو د الله ﷻ په لار کې جهاد کوئ.

او همدا حُکم به د قیامته پورې جاري وي. (٢)

بهر حال دا خبره ثابته شوه چې په اسلام کې لکه څرنګې چې دِفاعي جهاد شته نو همدغه شان اِقدامي جهاد هم شته.

## که هیڅوک اِقدامي جهاد اونکړي نو د ټولې دُنیا مسلمانان به د فرض په پریخودلو سره ګناهګار وي

اِقدامي جهاد فرضِ کفائي دی، یعنی که کافرانو د مسلمانانو په مُلک باندې حمله نه وي کړي خو بیا هم یوه ډله داسې په کار ده چې په کافرانو باندې اِبتداءً حمله اوکړي، او د هغوی سره په جهاد کې مصروفه وي، نو په دې سره به د ټولو مسلمانانو غاړه خلاصه وي.

---

(١) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٢٤٥٣/٦ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح حديث ٣٧٨٧. البحر الرائق ج٥ ص ٧٦ كتاب السير، مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر ج١ ص ٦٣٢ كتاب السير احكام الجهاد، الهداية كتاب السير ج٢ ص ٣٧٨.

(٢) ثُمَّ اِعْلَمْ أَنَّ الأَمْرَ بِالقِتَالِ نَزَلَ مُرَتَّبًا: فَقَدْ كَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَأمُورًا أَوَّلًا بِالتَّبْلِيغِ وَالإِعْرَاضِ: {فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ} [الحجر آية ٩٤]. ثُمَّ بِالمُجَادَلَةِ بِالأَحْسَنِ {اُدْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ} [النحل آية ١٢٥] الآيَة. ثُمَّ أُذِنَ لَهُمْ بِالقِتَالِ {أُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقَاتَلُوْنَ} [الحج آية ٣٩] الآيَة. ثُمَّ أُمِرُوْا بِالقِتَالِ إِنْ قَاتَلُوْهُمْ {فَإِنْ قَاتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ} [البقرة آية ١٩١]. ثُمَّ أُمِرُوْا بِهِ بِشَرْطِ اِنْسِلَاخِ الأَشْهُرِ الحُرُمِ {فَإِذَا انْسَلَخَ الأَشْهُرُ الحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ} [التوبة آية ٥]. ثُمَّ أُمِرُوْا بِهِ مُطْلَقًا {وَقَاتِلُوْا فِي سَبِيْلِ اللهِ} [البقرة آية ١٩٠] الآيَة. وَاسْتَقَرَّ الأَمْرُ عَلَى هٰذَا. سَرَخْسِيٌّ مُلَخَّصًا. رد المحتار على الدر المختار ١٢٣/٤ كِتَابُ الجِهَادِ

خو که هيڅوک هم دا اِقدامي جهاد ونکړي نو د فقهاؤ په ټولو کتابونو کې دا خبره ذکر ده چې بيا به د ټولې دُنيا مسلمانان د فرض په پرېخودلو سره ګناهګار وي.(۱)

البته که کافران د مسلمانانو په يوه علاقه باندې حمله اوکړي نو بيا خو جهاد فرضِ عَين دی (تفصيل يې مخکې تېر شوی).

## د فِیْ سَبِیْلِ اللہ لفظ چې کله مطلقاً ذکر شي نو ددې اولنې مصداق به جهاد وي

د فِیْ سَبِیْلِ اللہ (د الله ﷻ لار) لفظ چې کله په قرآن کريم او احاديثو کې ذکر شي نو کله ددينه عامه معنٰى (يعنى ټول دِين او د دِين هره شُعبه ورنه) مراد وي، دا بيا د دِين يوې شُعبې سره خاص کول ناجائز دی.(۲)

او کله د فِیْ سَبِیْلِ اللہ لفظ نه يوه خاصه معنٰى يعنى صرف جهاد مراد وي، بيا دلته ددينه عامه معنى مراد کول صحيح نده، مثلاً په قرآن کريم کې د جهاد سره د فِیْ سَبِیْلِ اللہ لفظ يو ځای راشي لکه: ﴿وَجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾. او ﴿يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ يا په احاديثو کې د جهاد سره د فِیْ سَبِیْلِ اللہ لفظ يو ځای راشي لکه: اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. يا: جَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. نو ددينه به خاصه معنٰى مراد وي چې هغه د کافرانو سره قِتال کول دي.

علامه ابن حجر رحمه الله په "فتح الباري شرح صحيح البخاري" کې ددې حديث "لَغَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا" په تشريح کې ليکلي چې دلته د فِیْ

---

(۱) په هدايه کې ذکر دي: (فَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيْعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ) لِأَنَّ الْوُجُوْبَ عَلَى الْكُلِّ. الهداية كِتَابُ السِّيَرِ ۲/۳۷۸

په دُرمختار کې ذکر دي ...(وَإِلَّا) يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ فِيْ زَمَنٍ مَا (أَثِمُوْا بِتَرْكِهِ) أَيْ أَثِمَ الْكُلُّ مِنَ الْمُكَلَّفِيْنَ. الدر المختار ۴/۱۲۲ كِتَابُ الْجِهَادِ

(۲) لکه په دې آيت کې ﴿وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ ترجمه، او دا کافران خلق د الله ﷻ د لارې نه منع کوي. دلته د سبيل الله نه د دِين هره شعبه مراد ده.

سَبِيْلِ الله نه مراد جهاد دی. (۱)

يا مخکې هغه دا خبره صراحةً ذکر کړی چې کله په يو ځای کې د فِيْ سَبِيْلِ الله لفظ مطلقًا ذکر شي (او هلته قرينه د بلې معنٰی يا مانِع نه وي) نو د دينه به جهاد مرادي وي. (۲)

همدا رنګې علامه کوثري رحمه الله په " مقالات کوثري " کې په دې باندې تفصيلي بحث کړی، او د اَحنافو، شوافعو او حنابلهٔ د کتابونو نه يې په حوالو سره دا خبره ثابته کړې چې کله د فِيْ سَبِيْلِ الله لفظ بغير د څه قرينې نه مطلقًا ذکر شي نو د دې رومبی معنٰی به جهاد وي، او دا دليل يې هم ذکر کړی چې کله د اهلِ شرع په نزد باندې يو لفظ په مُتَبَادِر (مشهوره) معنٰی کې ذکر شي نو دغه مُتَبَادره معنٰی به د دې لفظ حقيقتِ شرعيه وي، نو د فِيْ سَبِيْلِ الله لفظ مُتَبَادره معنٰی په شريعت کې جهاد دی، نو چې مطلقًا ذکر شي نو همدا به ورنه مرادّ وي.

دغه وجه ده چې په دې آيت ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ.... وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ...﴾ کې د زکوة کوم مصارف ذکر شوي نو د ټولو فقهاؤ او مُحدِّثينو په نزد باندې د فِيْ سَبِيْلِ الله نه مراد مُنْقَطِعُ الْغُزَاة دي. يعنی د فِيْ سَبِيْلِ الله نه مراد هغه مجاهدين دي چې په لاره کې ورسره خرچه ختمه شوې وي نو دوی ته هم زکوة ورکول جائز دی.

بهر حال، خلاصه دا رااُووته چې کله په قرآن کريم او احاديثو کې د فِيْ سَبِيْلِ الله لفظ مطلقًا ذکر شي نو د ټولو فقهاؤ او مُحدِّثينو په نزد باندې د دې اَولنې مِصداق جهاد دی، د دينه پس به د قرينې او مَحل په اعتبار سره دا د مطلقِ دين او د دين د هرې شُعبې د پاره هم استعمالولې شي.

---

(۱) قَوْلُهُ "فِيْ سَبِيْلِ اللهِ" : أَيِ الْجِهَادِ. فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر رحمه الله ۶/۱۴ قَوْلُهُ كِتَابُ الْجِهَادِ قَوْلُهُ بَابُ الْغَدْوَةُ وَالرَّوْحَةُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

(۲) علامه ابن حجر رحمه الله د دې حديث (مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ) په تشريح کې ليکلي : وَالْمُرَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ جَمِيْعُ طَاعَاتِهِ اه وَهُوَ كَمَا قَالَ إِلَّا أَنَّ الْمُتَبَادَرَ عِنْدَ الْإِطْلَاقِ مِنْ لَفْظِ سَبِيْلِ اللهِ الْجِهَادُ. فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر ۶/۲۹ قَوْلُهُ كِتَابُ الْجِهَادِ قَوْلُهُ بَابُ مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

# جهاد ته د نه تلونکو خلقو مختلف بهانې او د هغې مُدَلَّل جوابات

ډیر خلق د مختلفو بهَانو په وجه جهاد ته نه ځي، که ځوک دوی ته د جهاد د پاره اُوو ایي نو دوی ورته مختلف قِسمه بهَانې جوړوي، حالانکه که د قرآن کریم او احادیثو په رَڼا کې ددې خلقو بهَانو ته او کتلې شي نو دا هسې شیطاني دُهوکې وي.

اوس درته د دوی یو څو بهَانې او د هغې تفصیلي جوابات ذکر کوم:

## د مرګ د ویرې جهاد ته نه تلل

بعضې خلق جهاد ته ددې د وجې نه ځي چې هلته به مړ شم.

حالانکه دا هسې شیطاني دُهوکه ده، ځکه انسان به خامخا یوه ورځ وفات کیږي.

الله تعالی فرمایي: ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾. (۱)

ترجمه: هر یو نفس څکونکې د مرګ دی.

یا د هر انسان د پاره د مرګ خپله نېټه مقرر ده، د هغې نه انسان یو ساعت نه مخکې کیږي، او نه روستو کیږي. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾. (۲)

ترجمه: او د هرې ډلې (او قوم) د پاره یو وخت مقرر دی، پس کله چې د دوی نېټه راشي نو نه یو ساعت روستو کیږي او نه رامخکې کیږي.

قسَم په الله چې جهاد ته تللو په وجه د انسان نېټه نه رامخکې کیږي، او جهاد نه پاتې کېدو په وجه د انسان نېټه نه اُوږدیږي.

---

(۱) آل عمران آیة ۱۸۵. العنکبوت آیة ۵۷.

همدا خبره په نورو آیتونو کې هم بیان شوی: ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ﴾. القصص آیة ۸۸.

﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ. وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾. الرحمن آیة ۲۶، ۲۷.

﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ ﴾. النساء آیة ۷۸

(۲) الاعراف آیة ۳۴.

بل ځای فرمایي: ﴿ وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾. المنافقون آیة ۱۱.

که جهاد کې څوک خامخا شهيد کيدی نو حضرت خالد بن وليد ﷺ به شهيد شوې وُ ،
ځکه هغه د سلو ( ۱۰۰ ) نه په زياتو غټو غټو جنګونو کې شريک شوې وُ ، او په هر جنګ
کې يې د بهادرې مظاهره کړې وه .

په شام ، مصر ، صعيد مصر او عراق کې يې د الله ﷻ د دين د پاره داسې د بهادرۍ نه
ډک جهادونه کړي چې تر اوسه پورې ورته تولهٔ دُنيا حېرانه ده . په وجود کې يې يو لويشت
ځاى بغير زَخمه نهٔ وُ ، ليکن په جهاد کې شهيد نه شو ، بلکه په خپله بستره باندې وفات شو .
د وفات په وخت يې او فرمايل چې ما د سلو ( ۱۰۰ ) نه زياتو جنګونو کې حصه اخيستې
ده ، اوس اوګورئ زه په خپله بِستره باندې د اُوښ په شان ( په خپل مرګ ) مر کيږم ، الله
ﷻ دې اوکړي چې د بُزدلانو سترګې اوغړيږي .
په جنګ موته کې دده په لاس کې نهه ( ۹ ) تورې ماتې شوى . نبي عليه السلام دهٔ ته د
سَيفُ الله لقب ورکړې وُ . (۱)

# د مال او بچو د محبت په وجه جهاد ته نه تلل

بعضې خلق د مال و دولت او خپلو بچو د محبت په وجه جهاد ته نه ځي چې بيا به رانه دا
پاتې شي .

نو ددې جواب دادى چې مال و دولت او بچي خو په دُنيا کې د مسلمان د پاره يو
آزمېښت دى ، چې آيا ددې د محبت په وجه دا انسان شرعي احکامات پرېږدي او که نه ؟

اللهﷻ فرمايي : ﴿ وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ . (۲)

---

(۱) .... ثُمَّ رَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِصْبَعَهُ. فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ سَيْفٌ مِنْ سُيُوْفِكَ فَانْصُرْهُ . فَمِنْ يَوْمِئِذٍ سُمِّيَ خَالِدٌ " سَيْفَ اللهِ " . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْمَغَازِي وَالسِّيَرِ بَابُ غَزْوَةِ مُؤْتَةَ رقم الحديث ۱۰۲۱۶ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۶۹۵۵ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۵۵۱ .

.... فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تُؤْذُوْا خَالِدًا ، فَإِنَّهُ سَيْفٌ مِنْ سُيُوْفِ اللهِ صَبَّهُ اللهُ عَلَى الْكُفَّارِ .
صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۷۰۹۱ مناقب الصحابة رضي الله عنهم أجمعين ذِكْرُ تَسْمِيَةِ الْمُصْطَفَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ سَيْفَ اللهِ

(۲) الانفال آية ۲۸ .

ترجمه : او پوهه شئ چې بيشکه ستاسو مالونه او ستاسو اولاد ( په حقيقت کې ) ازميښت دی ، او د الله سره ډير لوي اجر دی .

په قرآن کريم کې د مال او اولاد حقيقت په دې الفاظو ذکر شوی ، الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَآ أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُم بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ ءَامِنُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او ستاسو مالونه او ستاسو اولاد داسې ندي چې تاسو مونږ ته په قُربت کې نژدې کړي ، مګر څوک چې ايمان راوړي او نيک عمل اوکړي نو دوی ته به د خپل عمل دوچنده بدله وي ، او دوی به ( د جنت ) په بالاخانو کې په امن و امان سره وي .

همدارنګې مال و اولاد ، بيبيانو ، سرو زرو او سپينو زرو ته د دُنيا د ژوند سامان ويل شوی . (۲)

همدارنګې که په احاديثو مبارکه وُ کې د دُنيا حقيقت اوکتلې شي نو دا د الله ﷻ په نزد باندې د ماشي د وَزر هومره حيثيت هم نه لري ، رسول الله ﷺ فرمايي :

لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ . (۳)

که چيرته دُنيا د الله ﷻ په نزد باندې د ماشي د وَزر برابر وی نو کافر ته به يې د دينه د اوبو يو ګوټ ( غړپ ) هم نه وُ ورکړلی .

---

(۱) السبا آية ۳۷ .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ ﴾ . آل عمران آية ۱۴ .

په يو بل آيت کې هم همدا مضمون بيان شوی ، الله تعالى فرمايي : ﴿ اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ۖ ﴾ . الحديد آية ۲۰ .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي هَوَانِ الدُّنْيَا عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۲۳۲۰ قال الالباني: هذا حديث صحيح. سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَثَلُ الدُّنْيَا رقم الحديث ۴۱۱۰ ، مشكوة المصابيح كتاب الرّقاق الفصل الثاني رقم الحديث ۵۱۷۷ ( ۲۳ ) .

## د مور پلار ، بچو او خپلوانو جدائي نه برداشت کولو په وجه جهاد ته نه تلل

بعضې خلق جهاد ته د دې د وجې نه ځي چې هغوی وايي : " مونږ د خپل مور ، پلار ، بچو ، بي بي ، خپلوانو او دوستانو جدائي نه شو برداشت کولی ، او د مانه پس به زمونږ د بچو د رزق څه اِنتظام وي ؟ " .

نو دوی ته جواب دادی چې که يو کس سره د خپلو بچو فکروي چې د مانه پس به د دوی د رزق څه اِنتظام وي ؟ نو ده ته داويل په کار دي چې د ځامنو په بحاره کې توکّل او اعتماد په الله ﷻ باندې اوکړئ ، ځکه الله تعالی د دوی خالِق دی ، د ټولو مخلوقاتو د رزق ذِمه واري الله ﷻ په خپله اخيستی (۱) د انسان نه بهترينه پالنه الله ﷻ د خپل بنده کوي .

بل دا چې د قيامت په ورځ خو د انسان بَدعمله ځوي په کار نه راځي ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡ وَٱخۡشَوۡاْ يَوۡمٗا لَّا يَجۡزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوۡلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې خلقو د خپل رب ( د عذاب ) نه اُووېرېږئ ، او د هغه ورځې نه اُووېرېږي په کومه ورځ باندې چې به پلار د خپل ځوي په کار نه راځي ، او نه به ځوي د پلار په څه کار راځي ، بيشکه د الله ﷻ وعده حقه ده ، پس د دُنيا ژوندې دې تاسو ته دُهوکه درنکړي ، او د الله ﷻ په حقله دې تاسو ته دُهوکه باز شيطان دُهوکه درنکړي .

همدارنګې د قيامت په هغه سخته ورځ کې به انسان د خپل مور پلار ، ځامنو ، بي بي او دوستانو نه تختي .

الله تعالی فرمايي :

---

(۱) الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴾ . هود آية ٦ .

بل ځای فرمايي : ﴿ وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴾ . طه آية ۱۳۲ .

(۲) لقمان آية ۳۳ .

﴿ فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ۝ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۝ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ۝ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ۝ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴾ . (۱)

ترجمه: بيا کله چې (د قيامت) سخت آواز راشي نو په دغه ورځ به سړې د خپل ورور، خپلې مور، خپل پلار، خپلې ښځې او د خپلو ځامنو نه تختي. په دغه ورځ به په دوی کې د هر سړي د پاره داسې يو حال (او فِکر) وي چې دا به يې (د نورو خلقو د پوښتنې نه) غافله کړې وي.

په يو بل آيت کې ذکر دي: ﴿ اَلْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴾ . (۲)

ترجمه: ټول دوستان به په دغه ورځ باندې د يو بل دښمنان وي، بغير د مُتَّقيانو نه.

البته که دده دا ځامن او خپلوان نېکان وي نو که جهاد ته د تللو په وجه دا ورنه اوس جدا شي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى دا دوی سره په جنت کې يو ځای کړي، او هلته به همدا دده په کار راشي.

همدارنګې که دده دا ځامن او خپلوان نېکان نه وي بلکه ګناهګار وي او دا ورنه جهاد ته لاړ شي، هلته شهيد شي نو بيا يې هم همدې بچو او خپلوانو ته فائده ده، ځکه شهيد خو به د خپل خاندان د اَويا (۷۰) کسانو شفاعت کوي. نو دده دا جدائي هم د هغوی د پاره ښه شوه.

## د خپلې بي بي د محبت په وجه جهاد ته نه تلل

بعضې خلق ددې د وجې جهاد ته نه ځي چې دوی وايي:

" زمونږ په زړونو کې د خپلې بي بي سره ډيره مِينه ده، ددې جدائي نه شم برداشت کولی، که زه جهاد ته لاړ شم او شهيد شم نو دا به ګنده شي".

نو ددې جواب دادی چې انسان به آخر هم د خپلې بي بي نه د مرګ په وجه جدا کيږي، اوس که دده د ابي بي نېکه (ديندار) وي نو په قيامت کې به الله تعالى ديته د حُورو نه زيات حُسن ورکړي، او په جنت کې به يې دده سره يو ځای کړي.

---

(۱) عبس آية ۳۳ تر ۳۷.

(۲) الزخرف آية ۶۷.

او که دا دِینداره نه وي نو الله تعالی به د جهاد په برکت سره دې کس ته داسې بهترینې حُورې ورکړي چې هغه به د نُور نه پیدا وي، دومره به ښائسته وي چې که د هغې یو نُوک دُنیا ته راښکاره شي نو د څوارلسمې شپې سپوږمۍ رَڼا به تته شي، که د هغې د لاس بَنګړي دُنیا ته د شپې په وخت راښکاره شي نو په ټوله دُنیا کې به تیاره ختمه شي، که هغه په خپله دُنیا ته راښکاره شي نو ټوله دُنیا به د خوشبوئي نه ډکه شي، که هغه خپلې لاړې په مالګین سمندر کې واچوي نو د ټول سمندر اُوبه به خوږې شي، داسې ښائسته دي چې د هغې ښائست په الفاظو کې نشي بیانیدی.

نو آیا انسان ددې بهترینو حُورو په عِوض کې د دُنیا دې کمزورې ښځې ته ترجیح ورکوي؟

د دُنیا ښځې خو داسې دي چې که صفائي اونکړي نو بیا ګنده بُوئي ورنه ځي، بَدرنګې ښکاري، په بودا والي کې د کاره اُووځي.

بلکه که انسان ورسره ټول عُمر اِحسان اوکړي خو په معمولي خبره باندې ددې ټولو احساناتو نه اِنکار کوي.

د بخاري شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

... لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ. (۱)

که چیرته ته (د دُنیا) د ښځې سره ټول عُمر احسان اوکړې، بیا درنه معمولي خبره اوګوري (کومه چې ددې د طبعیت برابر نه وي) نو دا وایي" ما د تانه په ټول عُمر کې خیر ندې لیدلی".

## د دُنیا د بَنګلو او عیش و عِشرت په وجه جهاد ته نه تلل

بعضې خلق جهاد ته ددې د وجې نه ځي چې بیا به رانه دا ښائسته بَنګلې، نِعمتونه

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ كُفْرَانِ العَشِيرِ، وَكُفْرٍ دُونَ كُفْرٍ رقم الحديث ۲۹، و رقم ۱۰۵۲۰ أَبْوَابُ الكُسُوفِ بَابُ صَلاَةِ الكُسُوفِ جَمَاعَةً، و رقم ۵۱۹۷ كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ كُفْرَانِ العَشِيرِ وَهُوَ الزَّوْجُ، وَهُوَ الخَلِيطُ، مِنَ المُعَاشَرَةِ، صحيح مسلم كِتَابُ الْكُسُوفِ بَابُ مَا عُرِضَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ مِنْ أَمْرِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ۱۷ (۹۰۷).

او عيش و عشرت پاتې شي ، يا به رانه دا غتې عُهدې پاتې شي .

نو ددې جواب دادی چې د دُنيا بَنګلې خو داسې دي چې که دا صفا نکړې شي نو بَدرنګې معلوميږي ، آخر يوه ورځ به دا ختميږي، او که نور هيڅ نه وي نو آخر به دا د انسان نه په مرګ سره پاتې کيږي. همدارنګې د دُنيا دا نور نعمتونه هم يوه ورځ ختميدونکي دي.

ددې په عِوض کې د جهاد په وجه الله ﷻ د مسلمانانو د پاره په جنت کې داسې بهترينې بَنګلې او نِعمتونه تيار کړي دي چې د هغې پوره صفت په الفاظو کې بيانول ناممکن دی :

د هغې بَنګلو يوه خَختـه به د سرو زرو وي او بله به د سپينو زرو وي ، د هغې کانړي به د ملغلرو او جواهراتو وي ، خاوره به يې د مُشکو وي ، د هغې بَنګلو د فرشونو لاندې طرف به د وريښمو وي ( نو ظاهر به يې څومره ښائسته وي ؟ ) ، په هغې بَنګلو کې به دوی ته هر وخت خوراک په دَستر خوان باندې پروت وي ، ددې تازه ميوې به نه ختميږي ، کوم قِسمه ميوو ته چې د دوی زړه کيږي هغه به موجود وي.(۱) ،

مُهر کړې شوي جنّتي شراب به ورته پراته وي. (۲)

د ملغلرو په شان ښائسته خادِمين به ولاړ وي. دې جنّتيانو به د شنو وريښمو لباس اغوستې وي.(۳)

د هغې باغونو د اُونو لاندې به د خالصه صفا اُوبو ، شُودو ، صفا شرابو ، او ګبين وَلې بهيږي. (۴)

---

(۱) اللہ تعالی فرمايي: وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ۝ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ . الواقعة آية ۲۰ ، ۲۱ .

وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ۝ لَا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ . الواقعة آية ۳۲ ، ۳۳ .

(۲) يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ۝ خِتَامُهُ مِسْكٌ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ . المطففين آية ۲۵، ۲۶ .

(۳) يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ۝ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝ لَا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ . الواقعة آية ۱۷ تا ۱۹ .

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ۝ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ۝ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا . الانسان آية ۱۹ تا ۲۱ .

(۴) مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ . محمد آية ۱۵ ←←←← ←←←←

دوی به همیشه په دې جنتونو او نعمتونو کې وي.

ددینه علاوه په قرآن کریم او احادیثو کې د جنت د نورو نعمتونو او حُورو ذکر هم په تفصیل سره شوی.

اوس دې انسان دا سوچ اوکړي چې: آیا د دُنیا دا عارضي او فناء کیدونکي نعمتونه بهتر دي او که د آخرت دائمي نعمتونه؟ یقیني چې د آخرت دائمي نعمتونه بهتر دي.

لهذا د دُنیاوي نعمتونو په وجه د جهاد نه پاتې کیدل بکار ندي.

## جهاد ته نه تللو د پاره دا بهانه جوړول چې " اَمیر نشته "

بعضې خلق جهاد ته نه ځي او بهانه دا جوړوي چې: " د جهاد د پاره د اَمیر ضرورت دی او زمونږ اَمیر نشته " .

نو ددې خبرې جواب دادی چې شریعت هم دا وایي چې جهاد دې د اَمیر او حکومت په نګرانۍ کې اوشي، او دا بهتره طریقه هم ده چې حکومت د جهاد سَرپرستي اوکړي، ځکه که په جهاد کې مجاهدین شهیدان شي یا د مدد ضرورت شي نو حکومت به نور کسان او مدد وَراَولیږي.

لیکن نن صبا حکومتونه د جهاد سرپرَستي نه کوي، ځکه د اقوام متحده په چارټر کې دا خبره لیکلې ده چې " هیڅوک به د مذهب په بُنیاد باندې جنګ نه کوي ". او په دې باندې ټولو ملکونو دَستخطونه کړي، اوس یو مُلک هم ددې خلاف وَرزي نشي کولی، نو دوی خو په هیڅ صورت باندې د جهاد مشري نه کوي.

نو مونږ مسلمانان لکه ځرنګې چې د شریعت د نورو عباداتو د پاره خپل نظم برابروو نو همدغه شان به مجاهدین هم په خپله خپل اَمیر مقرر کړي او د هغه د سَرپرستۍ د لاندې به

---

←←← وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. النساء آیة ۱۳.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا. النساء آیة ۵۷.

مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ. الرعد آیة ۳۵.

جهاد کوي، ددې د پاره چې د جهاد دا مُقدّسه فريضه پاتې نشي.

او په اسلامي شريعت کې ددې مختلفې نمونې د مونږ سره شته:

۱. (په احاديثو کې اُوږده واقعه ذکرده) حضرت ابوبصير ﷺ د سمندر په غاړه مقيم وُ، نور مسلمانان به هم چې د مکې معظمې نه راتلل ټول به هلته ورتلل، هغوی ابوبصير ﷺ خپل امير اُوټاکلو او دده په مشرۍ کې يې د کافرانو په قافلو باندې حملې کولې. حالانکه ابوبصير ﷺ نبي عليه السلام آمير نه وُ مقرر کړی، بلکه مجاهدينو په خپله خپل آمير مقرر کړي وُ، او نبي عليه السلام په دې کار باندې رَد هم اونکړو.

۲. حضرت حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا خپلو ملګرو امير مقرر کړو او د يزيد خلاف يې جهاد شروع کړو، حالانکه دا د حکومت د طرفه آمير نه وُ مقرر شوی. د حضرت حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د جهاد نه هيڅوک هم اِنکار نه کوي.

۳. حضرت زبير ﷺ خپلو ملګرو آمير مقرر کړو او د هغه زمانې د بادشاه خلاف يې جهاد شروع کړو، په ډيرو ځايونو باندې يې خلافت هم قائم شو. حالانکه دې کار ته هيڅوک هم غلط نه وايي.

۴. ابراهيم او د هغه ورور "محمد" چې د خليفه منصور عباسي خلاف جهاد شروع کړې وُ، دوی هم خپلو ملګرو اميران مقرر کړي وو، حالانکه هيڅوک د دوی دې کار ته غلط نه وايي، بلکه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله هم د دوی ددې کار تائيد کړې وُ.

۵. په بخاري شريف کې تفصيلي حديث موجود دی، د غزوه موته د پاره چې نبي عليه السلام کوم درې کسان نمبر په نمبر آميران ټاکلي وو د هغوی د شهادت نه پس مجاهدينو په خپله خوَښه حضرت خالد بن وليد ﷺ آمير اُوټاکل، او دې کار ته تر اوسه پورې هيچا غلط ندي ويلي.(۱)

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ، ثُمَّ أَخَذَهَا خَالِدُ بْنُ الوَلِيدِ عَنْ غَيْرِ إِمْرَةٍ فَفُتِحَ عَلَيْهِ، وَمَا يَسُرُّنِي، أَوْ قَالَ: مَا يَسُرُّهُمْ، أَنَّهُمْ عِنْدَنَا ". وَقَالَ: وَإِنَّ عَيْنَيْهِ لَتَذْرِفَانِ . صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ تَأَمَّرَ فِي الحَرْبِ مِنْ غَيْرِ إِمْرَةٍ إِذَا خَافَ العَدُوَّ رقم الحديث ۳۰۶۳ .

ددينه علاوه نور بې شيمره دلائل او نمونې شته چې هلته د حکومت د سرپرستۍ نه بغير مجاهدينو په خپل مينځ کې امير ټاکلی، او د هغه د سرپرستۍ د لاندې يې جهاد کړی.

نن صبا غير مُسلمه دا کوشش کوي چې په مسلمانانو کې دا خبره خوَره کړي چې:

" اوس صحيح جهاد نشته ځکه جهاد خو د حکومت او امير نه بغير نه وي "

نو خبردار، دا د جهاد ختمولو د پاره د کافرانو لويه حَربه ده چې په هر دوَر کې يې استعمالوي.

## بعضې خلق د جهاد نه مُستثنٰی دي

په ماشوم، شَل، ګډ، ړُوند، بيمار او نورشرعي معذورانو باندې جهاد فرض ندی. (۱)

همدارنګې په ښځو باندې هم په عامو حالاتو کې جهاد فرض ندی، خو چې کله جهاد فرضِ عَين شي او کافران د مسلمانانو کورونو ته راُورسي نو بيا به قدرت لرونکې ښځې هم خپله دِفاع کوي.

په قرآن کريم کې الله تعالی ځنې خلق د جهاد نه مُستثنٰی کړي دي. (۲)

فقهاء کرامو هم په خپلو کتابونو کې ددې پوره تفصيل ذکر کړی. (۳)

---

(۱) معارف القرآن سورة النساء في تشريح آية ۹۴.

(۲) الله تعالى فرمايي: ﴿ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝ وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ ﴾. التوبة آية ۹۱، ۹۲.

بل ځای فرمايي: ﴿ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ ﴾. الفتح آية ۱۷.

(۳) قَالَ العلامة الكاساني رَحِمَهُ اللَّهُ: وَأَمَّا بَيَانُ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ فَنَقُولُ إِنَّهُ لَا يُفْتَرَضُ إِلَّا عَلَى الْقَادِرِ عَلَيْهِ، فَمَنْ لَا قُدْرَةَ لَهُ لَا جِهَادَ عَلَيْهِ، لِأَنَّ الْجِهَادَ بَذْلُ الْجُهْدِ، وَهُوَ الْوُسْعُ وَالطَّاقَةُ بِالْقِتَالِ، أَوِ الْمُبَالَغَةُ فِي عَمَلِ الْقِتَالِ، وَمَنْ لَا وُسْعَ لَهُ كَيْفَ يَبْذُلُ الْوُسْعَ وَالْعَمَلَ. فَلَا يُفْرَضُ عَلَى الْأَعْمَى وَالْأَعْرَجِ، وَالزَّمِنِ وَالْمُقْعَدِ، وَالشَّيْخِ الْهَرِمِ، وَالْمَرِيضِ وَالضَّعِيفِ، وَالَّذِي لَا يَجِدُ مَا يُنْفِقُ. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۷/۹۸ كِتَابُ السِّيَرِ فَصْلٌ فِي بَيَانِ مَنْ يُفْتَرَضُ عَلَيْهِ الْجِهَادُ. وهكذا في الدر المختار ۴/۱۲۴ كِتَابُ الْجِهَادِ

# کوم خلق چې د عُذر په وجه د جهاد نه پاتې شي نو هغوی ته هم د جهاد ثواب ملاویږي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی: حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې کله رسول الله صلی الله عليه وسلم د غزوه تبوک نه واپس راتلو او مديني منوّرې ته نزدې را اُورسيدو نو وې فرمايل:

إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ.

بيشکه په مدينه منوّره کې داسې خلق هم شته (چې د جهاد په دې سفر کې د تاسو سره شريک نه وو خو) چې کله تاسو په کومه لاره تللی يا يو وادي (او ځنګل) مو قطع کولو نو هغوی هم د تاسو سره په ثواب کې شريک وو.

صحابه کرامو پوښتنه اوکړه: يَا رَسُولَ اللهِ! وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟

اې د الله رسوله! آيا دغه خلق په مدينه منوّره کې دي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ.

(آو) هغوی په مدينه منوّره کې دي خو هغوی عُذر د تللو نه منع کړي دي (يعنی د عُذر په وجه پاتې شوي دي). (۱)

د دې حديث نه معلومه شوه چې څوک د عُذر په وجه د جهاد نه پاتې شي خو په زړه کې يې د جهاد شوق او تمنّا وي نو الله تعالی داسې خلقو ته هم د جهاد ثواب ورکوي.

البته دا خلق په مرتبه کې د مجاهدينو سره برابر ندي، ځکه د مجاهدينو فضيلت په ناستو

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ، فَقَالَ: «إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ قَالَ: «وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ». صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ نُزُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِجْرَ رقم الحديث ۴۴۲۳، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ ثَوَابِ مَنْ حَبَسَهُ عَنِ الْغَزْوِ مَرَضٌ أَوْ عُذْرٌ آخَرُ رقم الحديث ۱۵۹ (۱۹۱۱)، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۱۵ (۲۹)، سنن ابي داؤد باب في الرخصة في القعود من العذر رقم الحديث ۲۵۰۸.

خلقو باندې د قرآن کريم په صريحو آيتونو سره ثابت دی.(۱)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې کله په چا باندې جهاد فرضِ عَين شي او دده قدرت وي خو بغير د عُذر نه په جهاد کې شِرکت اونکړي نو دداسې کس د پاره په قرآن کريم او احاديثو کې سخت وعيد ذکر شوی:

د داسې کس د پاره د جهنم سزا ذکر شوی، داسې کس به منافق مړ کيږي، داسې کس به د قيامت په ورځ د الله ﷻ سره په داسې حالت کې مخامخ کيږي چې دِين به يې ناقص وي، داسې کس الله تعالی په سختو مصيبتونو او ذِلت کې آخته کوي.

همدارنګې په جهاد کې تاخير کوونکې د ډيرو ثوابونو نه محرومه کيږي.

لهذا د بهَانو جوړولو نه بغير په جهاد کې شِرکت په کار دی، ځکه مرګ په خپله نېټه باندې دی، يوه ورځ به آخر هم انسان مړ کيږي او د دُنيا دا ټول نعمتونه به ورنه پاتې وي، نو بيا د مرګ د يَرې يا د دُنياد محبت په وجه باندې د جهاد نه پاتې کيدل په کار ندي.

البته چې څوک معذور وي نو هغوی د جهاد نه مُستثنٰی دي، هغوی ته الله ﷻ همداسې ددې اَجر ورکوي.

**دُعا**: الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې د جهاد سره مِينه پيدا کړي، او مجاهدين چې چيرته هم د دِين د سَربُلندۍ د پاره جهاد کوي الله ﷻ دې ورته فتح او نصرت ورکړي.

آمِين يَارَبَّ العَالَمِين.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ: يَدُلُّ هٰذَا عَلٰى أَنَّ الْقَاعِدِيْنَ الْأَضِرَّاءَ يُشَارِكُوْنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِي الْأَجْرِ، وَلَا يَدُلُّ عَلٰى اِسْتِوَائِهِمَا فِيْهِ. وَالدَّالُّ عَلٰى نَفْيِ الْإِسْتِوَاءِ قَوْلُهُ تَعَالٰى: { فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ دَرَجَةً } [النساء آیه ۹۵]، وَقَوْلُهُ تَعَالٰى: {وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ أَجْرًا عَظِيْمًا} [النساء: ۹۵] دَرَجَاتٍ، أَيْ عَلٰى غَيْرِ الْأَضِرَّاءِ، أَوْ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ وَالْأَضِرَّاءِ دَرَجَةً وَهِيَ الْغَنِيْمَةُ وَنُصْرَةُ دِيْنِ اللّٰهِ تَعَالٰى فِي الدُّنْيَا، وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَيْهِمْ دَرَجَاتٍ فِي الْعُقْبٰى. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۶ ص ۲۴۷۲ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۱۵ (۲۹)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ﴾. النساء آیة ۹۵

# د مجاهدينو مقام او فضائل

تاليف


آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د مجاهدينو مقام او فضائل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ . (۱)

وَ قَالَ تَعَالٰى : ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾ . (۲)

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِنَّ فِى الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ اَعَدَّهَا اللّٰهُ لِلْمُجَاهِدِيْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

---

(۱) النساء آية ۹۵ ، ۹۶ .

(۲) التوبة آية ۲۰ تا ۲۲ .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِيْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ رقم الحديث ۲۷۹۰ ، و رقم الحديث ۷۴۲۳ كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَاب ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ ﴾ ، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ دَرَجَةُ الْمُجَاهِدِ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ رقم الحديث ۳۱۳۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۴۱۹ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۱ ذكرُ وصف الدرجات للمجاهدين في سبيل الله ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم ۳۷۸۷ (۱) ، شرح السنة للبغوي رقم ۲۶۱۰ .

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! جهاد د اسلام اهم فرضي رکن دی ( اګرچې جهاد په بعضې صورتونو کې فرضِ عَين دی او په بعضې صورتونو کې فرضِ کفايي دی ) ، او کوم مجاهدين چې د دِين د سَربُلندي او خالصه د الله ﷻ د رِضا د پاره جهاد کوي نو په قرآن کريم او صحيح احاديثو مبارکهؤ کې د داسې مجاهدينو ډير اُوچت مقام او زيات فضائل بيان شوي .

په نن موضوع کې به زه إِنْ شَاءَ الله تاسو ته د مجاهدينو مقام او فضائل بيانوم :

## مجاهدينو ته الله ﷻ په نورو خلقو باندې اُوچته مرتبه ورکړې

په قرآن کريم کې الله تعالی د مجاهدينو اُوچت مقام او اُوچتې درجې بيان کړي : ربِ کائنات فرمايي :

﴿ لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۚ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ أَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ۚ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ .(۱)

ترجمه : کومو مؤمنانو ته چې څه عُذر نشته او په کور کې ناست دي دا د هغه مجاهدينو سره ( په درجه کې ) برابر ندي کوم چې د الله ﷻ په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي ، ( بلکه ) الله تعالی هغه مجاهدينو ته کوم چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي دوی ته يې په ناستو خلقو باندې اُوچته درجه ورکړې ، او د هر يو سره يې د نېکۍ ( جنت ) وعده کړيده ، خو بيا هم الله تعالی مجاهدينو ته په ناستو خلقو باندې د ډيرلوي اَجر په ذريعه فضيلت ورکړی . ( د هغه اجر تفصيل دادی چې ؛ ) د دوی د پاره د الله د طرفه اُوچتې درجې ، بخَنه او رحمت دی ، او الله تعالی بخونکې مهربان دی .

(۱) النساء آية ۹۵ ، ۹۶ .

**د آيت تشريح** : چې کله جهاد فرضِ کفايه وي (يعنى کافرانو د مسلمانانو په څه علاقه باندې حمله نه وي کړي) او څه مسلمانان په اِقدامي جهاد کې مصروف وي (يعنى دوى په کافرانو حمله کړې وي) ، او څنې نور مسلمانان بغير د څه عُذر نه په خپلو کورونو کې ناست وي ، په نورو دِيني کارونو او عباداتو کې مشغول وي نو الله ﷻ په دې آيتونو مبارکه ؤ کې دا خبره واضحه کړه چې دا ناست خلق د مجاهدينو سره په درجه کې هيڅ کله برابر ندي ، بلکه الله تعالى مجاهدينو ته ډيره اُوچته درجه او فضيلت ورکړى.

بيا الله ﷻ ددې نورو مسلمانانو په باره کې (کوم چې د جهاد فرضِ کفائي کيدو په وخت په خپلو کورونو کې په نورو دِيني کارونو کې مشغول وي ، د دوى د تسلى د پاره) اوفرمايل چې د دوى ټولو د پاره د جنت وعده ده ، خو فرق صرف په درجو کې دى ، چې مجاهدينو ته الله ﷻ په ناستو خلقو باندې د ډير لوي اجر په ذريعه فضيلت ورکړى.

بيا الله ﷻ د دغه اُوچتو درجو تفصيل هم بيان کړو چې هغه د الله ﷻ د طرفه د ثواب اُوچتې درجې ، مغفرت او رحمت دى.

خو دا حُکم په هغه حالت کې دى چې جهاد فرضِ کفائي وي (يعنى کافرانو په مسلمانانو باندې حمله نه وي کړي) .

او که چيرته کافران دمسلمانانو په څه علاقه باندې حمله اوکړي او د هماغه ځاى مسلمانانو د کافرانو دفع کولو طاقت لرلو نو صرف د هماغه ځاى په قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين دى.

خو که دشمن قوي ؤ د هغه ځاى مسلمانانو د کافرانو د مقابلې طاقت نه شو لرلى يا يې طاقت لرلو خو د سستۍ د وجې يې جهاد نه کولو نو بيا ورسره څنګ کې په نورو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عَين دى ، تر دې چې که دشمن ډير قوي ؤ او د هاغه ځاى مسلمانانو يې د مقابلې طاقت نه شو لرلى يا يې د سستۍ د وجې جهاد نه کولو نو درجه په درجه تر د مشرق او مغرب پورې په ټولو قدرت لرونکو مسلمانانو باندې جهاد فرضِ عين ګرځي. البته شرعي معذور خلق ددې حُکم نه مُستثنٰى دي . (دا مسئله په مخکې موضوع ګانو کې په تفصيل سره تيره شوى ، هلته يې اوګوره . ابوالشمس على عنه )

# د مجاهدينو د پاره د جنت اوچتې درجې

الله ﷻ فرمايي :

﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾. (۱)

ترجمه : کومو خلقو چې ایمان راوړو ، هجرت یې اوکړو ، او د الله ﷻ په لار کې یې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوکړو نو د الله په نزد د دوی ډیره لویه درجه ده ، او همدا خلق کامیاب دي . دوی ته د دوی رَب د خپل رحمت ، رَضامَندی او داسې جنت زیرې ورکوي چې په هغې کې به دائمي نعمتونه موجود وي ، دا خلق به په هغې کې تل د پاره همیشه اوسیږي ، بیشکه د الله ﷻ سره ډیر لوي اَجر دی .

په یو بل آیت کې الله ﷻ د دوی د پاره د جنت وعده په دې الفاظو سره کړی :

﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾. (۲)

ترجمه : بیشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخیستي دي چې د دې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي .

# مجاهدینو د پاره د رحمت او مغفرت زیرې

الله تعالی فرمايي :

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾. (۳)

(۱) التوبة آية ۲۰ تا ۲۲ .

(۲) التوبة آية ۱۱۱ .

(۳) البقرة آية ۲۱۸ .

ترجمه: بيشکه چا چې ايمان راوړو، هجرت يې اوکړو، او د الله په لاره کې يې جهاد اوکړو هم هغوی د الله د رحمت اُميد لري، او الله بخونکې مهربان دی.

فائده: په دې آيت کې د مجاهدينو د پاره دا زيرې دی چې دوی د الله ﷻ د رَحمت اُميد لري، او الله ﷻ بخونکې دی د دوی بخنه به اوکړي.

## مجاهدينو ته الله ﷻ ريښتوني مؤمنان ويلي، او د دوی سره يې د مغفرت او بهترين رِزق وعده کړی

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۚ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾. (۱)

ترجمه: چا چې اِيمان راوړو، هجرت يې اوکړو، د الله په لاره کې يې جهاد اوکړ، او چا چې دې مجاهدينو ته ځای ته ورکړو او د دوی مدد يې اوکړو نو هم دوی (ټول) رِښتيني مؤمنان دي، د دوی د پاره بخنه او د عزت رِزق دی.

## مجاهد ته په هر حالت کې اجر

که مجاهد شهيد شي، يا کامياب شي نو په دې هر صورت کې الله ﷻ ورسره د لوی اجر وعده کړی، پروردِگارِ عالم فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾. (۲)

ترجمه: او څوک چې د الله ﷻ په لار کې جنګ (يعنی جهاد) کوي بيا دې شهيد شي يا غالب راشي پس مونږ به ډير زر ده ته ډير لوی اَجر ورکړو.

(۱) الانفال آية ۷۴.
(۲) النساء آية ۷۴.

# مجاهد په ټولو خلقو کې بهترين کس دی

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی : حضرت ابوسعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ ؟

اې د الله رسوله ! په خلقو کې د ټولو نه بهترين کس څوک دی ؟

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بِنَفْسِهٖ وَمَالِهٖ .

هغه مؤمن ( بهترين کس دی ) چې د الله تعالیٰ په لار کې په خپل ځان او خپل مال سره جهاد کوي .

صحابه کرامو بيا عرض اوکړو : بيا څوک دير بهتر دی ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل :

مُؤْمِنٌ فِيْ شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللهَ ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهٖ .

هغه مؤمن چې د غرونو په يوه دَره کې ځانله اُوسيږي ، د الله تعالیٰ نه ويريږي ، او خلق د خپل شَر نه محفوظ ساتي ( يعنې خلقو ته ضرر نه رسوي ) .(۱)

۲ . همدا مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر شوی : حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل :

أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ مَنْزِلَةً ؟

---

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قِيْلَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بِنَفْسِهٖ وَمَالِهٖ » . قَالُوْا : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : « مُؤْمِنٌ فِيْ شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَتَّقِي اللهَ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهٖ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: أَفْضَلُ النَّاسِ مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهٖ وَمَالِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۸٦ ، و رقم الحديث كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: الْعُزْلَةُ رَاحَةٌ مِنْ خُلَّاطِ السُّوْءِ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالرِّبَاطِ رقم الحديث ۱۲۲ (۱۸۸۸) ، سنن ابن ماجة باب العزلة رقم الحديث ۳۹۷۸ ، سنن الترمذي باب ماجاء ايّ الناس افضل؟ رقم الحديث ۱٦٦۰ ، سنن النسائي فضل من يجاهد في سبيل الله بنفسه وماله رقم الحديث ۳۱۰۵ .

آيا زه تاسو ته په خلقو کې د مرتبې په اعتبار سره د ټولو نه بهترين کس په باره کې خبر درکړم ؟

صحابه کرامو ورته اوفرمايل : آو ، اې د الله رسوله. ( ضرور خبر راکړې ) .

نبي عليه السلام اوفرمايل :

رَجُلٌ آخِذٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ ، حَتّٰى يُقْتَلَ أَوْ يَمُوْتَ .

( په ټولو خلقو د مرتبې په اعتبار سره ) بهترين کس هغه دی چې د الله ﷻ په لار " جهاد " کې يې د آس واګې نيولې وي ( او تر هاغه وخته پورې جهاد کوي ) تر دې چې شهيد شي ، يا په خپل مرګ باندې وفات شي .

( نبي عليه السلام بيا صحابه کرامو ته اوفرمايل : )

أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِيْ يَلِيْهِ ؟ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِيْ شِعْبٍ يُقِيْمُ الصَّلٰوةَ ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ ، وَيَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ .

آيا زه تاسو ته د هغه چا په باره کې خبر درکړم چې هغه مجاهد ته ( په مرتبه کې ) نزدې وي ؟ دا هغه کس دی چې ځانله په يوه دَره ( د غره لمن ) کې اُوسيږي ، مونځ کوي ، زکوة ورکوي ، او د دې خبرې ګواهي ورکوي چې د الله ﷻ نه علاوه بل هيڅوک د عبادت لائق نشته . (۱)

## په جنت کې د مجاهدينو د پاره سل ( ۱۰۰ ) درجې

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ النَّاسِ مَنْزِلَةً ؟ » قَالُوْا : بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : « رَجُلٌ آخِذٌ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، حَتّٰى يُقْتَلَ أَوْ يَمُوْتَ . أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِالَّذِيْ يَلِيْهِ ؟ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِيْ شِعْبٍ ، يُقِيْمُ الصَّلٰوةَ ، وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ ، وَيَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۳۷۹ . وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي. سنن النسائي كِتَابُ الزَّكَاةِ مَنْ يَسْأَلُ بِاللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا يُعْطِي بِهِ رقم الحديث ۲۵۶۹ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۳۱ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۱۱۶ ، و رقم ۲۹۲۷ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۰۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۰۷۶۷ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۲۶۱ ، كنز العمال رقم ۱۰۶۵۳ .

... إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ... (۱)

بيشكه په جنت كې سل (۱۰۰) درجې دي ، دا الله ﷻ د هغه مجاهدينو د پاره تيارې كړې دي كوم چې د الله په لاره كې جهاد كوي ، د هرې دوه درجو په مينځ كې دومره فاصله ده څومره چې د آسمان او زمكې په مينځ كې ده .

مجاهدينو ته چې الله ربّ العزت د جنت سل (۱۰۰) درجې وركوي نو دا صرف د دې جهاد په وجه باندې .

۲ . همدا مضمون په مسلم شريف او نورو د احاديثو په كتابونو كې هم ذكر دى:

حضرت ابوسعيد خُدري رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ( ماته ) اوفرمايل :

يَا أَبَا سَعِيدٍ ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا ، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا ، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا ، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ .

اې ابوسعيد ! څوک چې د الله ﷻ په رَب كيدو ، اسلام ( دده د پاره ) دِين كيدو ، او محمد صلى الله عليه وسلم رسول كيدو باندې راضي شو ( يعنى په زړه سره يې دا تهول اُومنل ) نو دده د پاره جنت واجب شو .

ابوسعيد خُدري رضي الله عنه (چې دا واوريد نو ډيرې خوشحالى نه) ديته په تعجّب كې شو ، او وې ويل : أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ . اې د الله رسوله ! دا كلمات يو ځل بيا ماته اووايه .

نبي عليه السلام دا كلمات دوباره وويل ، او بيا يې اوفرمايل :

وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ .

يو بل عمل داسې دى چې د هغې په وجه د بنده په جنت كې سل (۱۰۰) درجې اُوچتيږي ، د هرې درجې په مينځ كې دومره فاصله ده څومره چې د آسمان او زمكې په مينځ كې ده .

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۹۰ ، و رقم الحديث ۷۴۲۳ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَاب { وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ } ، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ دَرَجَةُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۳۱۳۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۴۱۹ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۱ ذكرُ وصف الدرجات للمجاهدين في سبيل الله ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم ۳۷۸۷ (۱) ، شرح السنة للبغوي رقم ۲۶۱۰ .

ابو سعيد خدري رضي الله عنه عرض اوکړو :

وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ اې د الله رسوله! هغه څه عمل دی؟

نبي عليه السلام اوفرمايل : اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کول، د الله جل جلاله په لاره کې جهاد کول. (۱)

په بعضې رواياتو کې راځي چې نبي عليه السلام دا آخري جمله (اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ) درې کرتې اوفرمايله.

## مجاهد ته د جنت ضمانت

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

تَكَفَّلَ اللهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِيْ سَبِيْلِهِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِهِ، وَتَصْدِيْقُ كَلِمَاتِهِ بِأَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ يَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِيْ خَرَجَ مِنْهُ مَعَ مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ. (۲)

چاچې د الله جل جلاله په لار کې داسې جهاد اوکړو چې دا د کور نه صرف د الله جل جلاله په لار کې د جهاد د پاره اُوتې وي، او د الله د کلِمو تصديق کوونکې وي نو الله جل جلاله د داسې مجاهد د

---

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا أَبَا سَعِيْدٍ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ»، فَعَجِبَ لَهَا أَبُوْ سَعِيْدٍ رضي الله عنه، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ، فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: «وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ». قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: «اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ». صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدَّهُ اللهُ تَعَالَى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الدَّرَجَاتِ رقم الحديث ۱۱۶ (۱۸۸۴)، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۱ (۶۴)، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۳۱ درجة المجاهد في سبيل الله عز وجلّ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۲، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۶۱، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۴۹۳، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۵۳، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۱۱، كنز العمال رقم الحديث ۲۸۱.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُحِلَّتْ لَكُمُ الْغَنَائِمُ» رقم الحديث ۳۱۲۳، و رقم الحديث ۷۴۵۷ كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَابُ قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ}، و رقم الحديث ۷۴۶۳، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوْجِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۰۴ (۱۸۷۶).

پاره ددې خبرې ضمانت کړی چې دا به جنت ته داخلوي، يا چې د کوم کور نه را اُوتې وي همغې ته به يې د اَجر و غنيمت سره واپس ګرځوي.

همدا مضمون په نوراحاديثو کې هم ذکر شوی. (۱)

(نوټ: د الله ﷻ د ضمانت او کفالت مطلب دادی چې هغه په خپل فضل و کرم سره دده د پاره جنت واجب کړی. (۲))

۲. حديث قدسي دی، الله تعالى فرمايي:

أَيُّمَا عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي خَرَجَ مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِي ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي ضَمِنْتُ لَهُ أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا أَصَابَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ، وَإِنْ قَبَضْتُهُ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ وَأَرْحَمَهُ، وَأُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَضَمَّنَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ. لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا جِهَادًا فِي سَبِيلِي، وَإِيمَانًا بِي، وَتَصْدِيقًا بِرُسُلِي، فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ أُرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ، نَائِلًا مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۰۳ (۱۸۷۶)، مصنف ابن ابي شيبة ما ذكر في فضل الجهاد والحث عليه رقم الحديث ۱۹۳۱۳، مسند احمد رقم الحديث ۹۱۸۷، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۸۹۱.

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: انْتَدَبَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي، أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ، أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. صحيح البخاري كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابٌ: الْجِهَادُ مِنَ الْإِيمَانِ رقم الحديث ۳۶، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۸۹ (۳)، مسند احمد رقم الحديث ۸۹۸۰، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۴۸۴ بابٌ في فضل الجهاد في سبيل الله.

(۲) (تَضَمَّنَ اللهُ) وفي الرواية الأخرى "تَكَفَّلَ اللهُ" ومعناهما: أوجب الله تعالى له الجنة بفضله وكرمه سبحانه وتعالى. وهذا الضمان والكفالة موافق لقوله تعالى: { إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ } الآية. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ۱۰۳ (۱۸۷۶)

(۳) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۵۹۷۷، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ: ثَوَابُ السَّرِيَّةِ الَّتِي تُخْفِقُ رقم الحديث ۳۱۲۶، قال الالباني: صحيحٌ. سبعون حديثًا في الجهاد ج۱ ص ۲۴.

وفي روايةٍ: عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَعْنِي يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِي هُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ، إِنْ قَبَضْتُهُ أَوْرَثْتُهُ الْجَنَّةَ، وَإِنْ رَجَعْتُهُ رَجَعْتُهُ بِأَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ. سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ رقم ۱۶۲۰، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۳۱۰ (۲۱) الترغيب في الجهاد في سبيل الله.

زما په بندګانو کې چې کوم بنده زما د رضا د پاره جهاد في سبيل الله ته اووځي نو زه دده د پاره ضامن يم چې دا ( خپل کورته ) د أجر و غنيمت حاصلولو سره واپس کړم، او که چيرته زه دده روح قبض کړم نو زه به ورته بخنه کوم، رحم به پرې کوم، او جنت ته به يې داخلوم.

## مجاهدين به د عامو خلقو نه څلويښت کاله مخکې په اوله ډله کې جنت ته داخليږي

حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ اوفرمايل:

أَتَعْلَمُ أَوَّلَ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي؟

آيا تا ته زما په أمت کې هغه ډله معلومه ده کومه چې به د ټولو نه اول جنت ته داخليږي؟

ما ورته ووېل: اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ.

الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي.

نبي عليه السلام اوفرمايل: دا هغه مهاجرين دي چې دوی به د قيامت په ورځ د جنت دروازې ته راشي او خلاصول به يې اوغواړي، نو د جنت ساتونکې فرښتې به ورته اووايي:

أَوَقَدْ حُوْسِبْتُمْ؟ آيا د تاسو سره حساب شوې دی؟

دوی به ورته اووايي:

بِأَيِّ شَيْءٍ نُحَاسَبُ، وَإِنَّمَا كَانَتْ أَسْيَافُنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا فِي سَبِيْلِ اللهِ، حَتَّى مِتْنَا عَلَى ذٰلِكَ.

مونږ سره د څه شي حساب کولې شي؟ بيشکه زمونږ توري د الله ﷻ په لاره کې زمونږ په أوګو باندې زوړندې وی ( هر وخت په مو جهاد کولو ) تردې چې مونږ په همدې حالت کې وفات شو.

پيغمبر عليه السلام اوفرمايل: پس دوی ته به د جنت دروازه کلاؤ کړې شي، دا خلق به د عامو خلقو نه څلويښت ( ۴۰ ) کاله مخکې جنت ته داخل شي، او په هغې کې به آرام

کوي . (۱)

## مجاهدين د الله ﷻ مېلمانه دي ، د دوی دُعاګانې قبلېږي

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

وَفْدُ اللهِ ثَلَاثَةٌ : اَلْغَازِيْ ، وَالْحَاجُّ ، وَالْمُعْتَمِرُ . (۲)

د الله ﷻ مېلمانه درې قِسمه خلق دي : ۱ . جهاد کوونکي ۲ . حج کوونکي ۳ . عُمره کوونکي .

او څوک چې د چا مېلمه شي نو کوربه ورته د خپل وَس موافق ورکړه کوي .

که د يو سخي سړي نه څوک څه اوغواړي نو هغه ورته د خپل وَس موافق ورکړه کوي نو د الله ﷻ شان خو ډېر اُوچت دی چې څوک د هغه نه سوال اوکړي ، دُعاګانې ورنه اوغواړي نو خامخا به الله ﷻ د خپل شان موافق ده ته ورکړه کوي او دُعاګانې به يې قبلوي .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَتَعْلَمُ أَوَّلَ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ ؟ » قَالَ : اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . فَقَالَ : " اَلْمُهَاجِرُوْنَ يَأْتُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ وَيَسْتَفْتِحُوْنَ، فَيَقُوْلُ لَهُمُ الْخَزَنَةُ : أَوَ قَدْ حُوْسِبْتُمْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : بِأَيِّ شَيْءٍ نُحَاسَبُ، وَإِنَّمَا كَانَتْ أَسْيَافُنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، حَتَّى مِتْنَا عَلَى ذٰلِكَ . قَالَ : فَيُفْتَحُ لَهُمْ، فَيَقِيْلُوْنَ فِيْهِ أَرْبَعِيْنَ عَامًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَهَا النَّاسُ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۳۸۹ . وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . شعب الايمان الجهاد رقم الحديث ۳۹۵۵ ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۳۷۸۱ ، الباب الرابع في القبائل وذكرهم مجتمعة ومتفرقة ، ورقم الحديث ۳۷۹۲۲ باب في فضائل القبائل المهاجرون رضي الله عنهم

(۲) المستدرک على الصحيحين ۱٦۱۱ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . سنن النسائي فضل الحجّ رقم الحديث ۲٦۲۵ ، شعب الايمان رقم ۳۸۰۸ ، ورقم ۳۸۱۲ ، مشكاة المصابيح كتاب المناسک الفصل الثالث رقم الحديث ۲۵۳۷(۳۳) ، صحيح ابن خزيمة باب فضل الحج اذ الحاج من وفد الله عز وجل رقم ۲۵۱۱ ، صحيح ابن حبان كتاب الحج فضل الحج والعمرة ذكر البيان بانّ الحاجّ والعمار وفد الله جلّ وعلا .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْغَازِيْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ، وَفْدُ اللهِ، دَعَاهُمْ، فَأَجَابُوْهُ، وَسَأَلُوْهُ، فَأَعْطَاهُمْ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ فَضْلِ دُعَاءِ الْحَاجِّ رقم ۲۸۹۳ ، صحيح ابن حبان رقم ۳٦۱۳ ، شعب الايمان رقم ۳۸۱۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۱۱۰۹ (۱۵) .

په يو حديث کې دي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

اِتَّقُوْا أَذَى الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، فَإِنَّ اللهَ يَغْضِبُ لَهُمْ كَمَا يَغْضِبُ لِلرُّسُلِ، وَيَسْتَجِيْبُ لَهُمْ كَمَا يَسْتَجِيْبُ دُعَآءَ الرُّسُلِ. (۱)

کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي تاسو هغوی ته د تکليف ورکولو نه ځان بچ کړئ ، ځکه الله ﷻ دې مجاهدينو ته په تکليف ورکولو سره داسې غصه کيږي لکه څنګه چې رسولانو ته په تکليف ورکولو غصه کيږي ، او د مجاهدينو دُعاګانې داسې قبلوي لکه څرنګې چې د رسولانو دُعاګانې قبلوي.

## د مجاهد په دُعا باندې مړ شوې خَر دوباره راژوندې کيدل

حافظ ابن کثير رحمه الله د امام بيهقي په حواله دا واقعه رانقل کړی چې : د يمن نه يو کس د جِهاد د پاره راغی ، په لاره کې ورته خپل خَر مړ شو ، دا پاڅيد ، اَودس يې اوکړو ، بيا يې دوه رکعته مونځ اوکړو ، او دا دُعا يې اوکړه :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدفنية مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ . وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ لَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ الْيَوْمَ مِنَّةً . أَطْلُبُ إِلَيْكَ الْيَوْمَ أَنْ تَبْعَثَ حِمَارِيْ .

اې الله ! زه د دفنيه مقام نه راغلې يم ، خالِصه ستا د رَضا د پاره ستا په لاره کې جهاد کوم ، او زه دا ګواهي ورکوم چې ته مړي ژوندي کوی ، او ته به د قبرونو واله دوباره راژوندي کوي ، نو اې الله ! ته په ما باندې د بل چا اِحسان مه آروه ( چې زه د بل چا محتاج شم ) ، بلکه زه نن د تا نه سوال کوم چې زما خَر ما له راژوندې کړه .

فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ .

نو دده خَر راپاڅيد ( راژوندې شو ) خپل غوږونه يې څنډل .

امام بيهقي رحمه الله ددې واقعې نه روستو ذکر کړي :

(۱) جامع المسانيد والسّنن الهادي لأقوم سَنَن لابن كثير رقم الحديث ۱۸۵۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰٦٦۵ ورقم ۱۰٦٦۴ كتاب الجهاد من قسم الأقوال الباب الأول: في الترغيب فيه ، تفسير روح البيان ۳/ ۲٦٦ سورة التوبة آية ۷۳ ، جامع الاحاديث لجلال الدين سيوطي رقم الحديث ۲۷۹ ، اسد الغابة ۱/ ۵۵۱ باب الجيم والميم .

هٰذَا إِسْنَادٌ صَحِيْحٌ ، وَمِثْلُ هٰذَا يَكُوْنُ كَرَامَةً لِصَاحِبِ الشَّرِيْعَةِ .

ددې واقعې سَنَد صحيح دی ، او دغه شان د وَلي كرامت د پيغمبر معجزه وي.

( ځکه وَلي ته دا كرامت د نبي عليه السلام د اِطاعت په وجه نصيبه شوې وي ، لهذا دا هم د پيغمبر عليه السلام معجزه شوه ) . (۱)

همدا واقعه ابن ابی الدّنيا په خپل كتاب " مَنْ عَاشَ بَعْدَ الْمَوْت " كې هم رانقل كړې . (۲)

## د مجاهد په دُعا باندې د اَس بچي راژوندې كيدل

په " الرّسالة القشيرية ، المنتظم في تاريخ الملوك والأمم ، صفة الصفوة ، تاريخ دمشق " او نورو ډيرو كتابونو كې دا واقعه ذكر ده :

ابن ابي عُبيد البسري رحمه الله د خپل پلار واقعه بيانوي چې هغه يو كال لښكر سره د جهاد د پاره اُووت ، په لاره كې ورته خپله سوَرلي " د اَس بچي " مړ شو ، ده د الله ﷻ نه دا دُعا اوغوښته :

يَا رَبِّ ! أَعِرْنَاهُ حَتّٰى نَرْجِعَ إِلٰى بُسْرٰى .

---

(۱) أَقْبَلَ رَجُلٌ مِنَ الْيَمَنِ ، فَلَمَّا كَانَ بِبَعْضِ الطَّرِيْقِ نَفَقَ حِمَارُهُ ، فَقَامَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ، ثُمَّ قَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدفنية مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ ، وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ لَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ الْيَوْمَ مِنَّةً ، أَطْلُبُ إِلَيْكَ الْيَوْمَ أَنْ تَبْعَثَ حِمَارِيْ ، فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ .

معجزات النبي صلى الله عليه وسلم عودة الحياة للموتى ص ۱۸۱ .

(۲) ابن ابی الدنيا دا واقعه داسې رانقل كړې : أَنَّ قَوْمًا أَقْبَلُوْا مِنَ الْيَمَنِ مُتَطَوِّعِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، فَنَفَقَ حِمَارُ رَجُلٍ مِنْهُمْ ، فَأَرَادُوْا أَنْ يَنْطَلِقَ مَعَهُمْ فَأَبٰى ، فَقَامَ فَتَوَضَّأَ وَصَلّٰى ، ثُمَّ قَالَ : « اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ جِئْتُ مِنَ الدثينة مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِكَ وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِكَ ، وَإِنِّيْ أَشْهَدُ أَنَّكَ تُحْيِي الْمَوْتٰى وَتَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ، فَلَا تَجْعَلْ لِأَحَدٍ عَلَيَّ مِنَّةً ، وَإِنِّيْ أَطْلُبُ إِلَيْكَ أَنْ تَبْعَثَ لِيْ حِمَارِيْ ، ثُمَّ قَامَ إِلَى الْحِمَارِ فَضَرَبَهُ ، فَقَامَ الْحِمَارُ يَنْفُضُ أُذُنَيْهِ فَأَسْرَجَهُ وَأَلْجَمَهُ ، ثُمَّ رَكِبَهُ فَأَجْرَاهُ ، فَلَحِقَ بِأَصْحَابِهِ » فَقَالُوْا : مَا شَأْنُكَ ؟ قَالَ : « شَأْنِيْ أَنَّ اللهَ بَعَثَ لِيْ حِمَارِيْ » قَالَ الشَّعْبِيُّ : « فَأَنَا رَأَيْتُ الْحِمَارَ بِيْعَ أَوْ يُبَاعُ بِالْكُنَاسَةِ » . مَن عاش بعدالموت لابن ابی الدنيا ص ۲۹ رقم الواقعه ۲۹ ، معجزات النبي صلى الله عليه وسلم عودة الحياة للموتى ص ۱۸۱ .

اې ربه ! ماته دا سوَرلي عَارِيَةً راژوندی کړه چې زه ورباندې خپل کلي " بسرى " ته اُورسم .

( دا دُعا چې څنګه ختمه شوه ) نو ناڅاپه د آس بچې راپاڅيد ( ژوندې شو ) .

( ابن ابي عُبيد بسريؒ فرمايي : ) کله چې زما پلار جهاد اوکړو او واپس خپل کلي "بسرى" ته راغی نو ماته يې وويل :

يَا بُنَيَّ ! خُذِ السَّرْجَ عَنِ المهر . اې بچيه ! ددې آس د بچي نه دا زِين لرې کړه .

ما ورته وويل :

إِنَّهُ عَرِقَ فَإِنْ أَخَذْتُ السَّرْجَ دَاخَلَهُ الرِّيحُ .

آس خوَله دی ، که زه ورنه زِين لرې کړم نو هوا به يې اُووهي ( او بيمار به شي ) .

پلار راته وويل : يَا بُنَيَّ ! إِنَّهُ عَارِيَةٌ .

اې بچيه ! دا په سوال غوښتلې شوې دی ( يعنی ما د الله ﷻ نه عاريةً غوښتې وُ چې زه پرې صرف کور ته اُورسم ) .

فَلَمَّا أَخَذْتُ السَّرْجَ وَقَعَ المهرُ مَيِّتًا .

کله چې ما ورنه زِين لرې کړو نو د آس بچې په زمکه راپريوت او مړ شو . (۱)

ددينه علاوه نور دير داسې بې شميره واقعات شته چې الله ﷻ د مجاهدينو دُعاګانې قبولې کړې .

(۱) عَنِ ابْنِ أَبِي عُبَيْد البسريِّ يحدث عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ غزا سنة من السِّنين ، فخرج في السَّرِيَّة ، فمات المهر الَّذِي كَانَ تحته وَهُوَ فِي السرية . فَقَالَ : يَا رَبِّ ! أعرناه حَتَّى نَرْجِعَ إِلى بُسْرى ، يَعْنِي قريته . فَإِذَا المهر قائمٌ . فلما غزا و رجع إلى بسرى. قَالَ: يَا بُنَيَّ ! خُذِ السَّرْجَ عَنِ المهر . فَقُلْتُ: إنه عَرِقَ فَإِنْ أَخَذْتُ السَّرْجَ داخله الرِّيحُ . فَقَالَ : يا بُنَيَّ ! إِنَّهُ عَارِيَةٌ . قَالَ : فَلَمَّا أَخَذْتُ السَّرْجَ وَقَعَ المهرُ مَيِّتًا . الرسالة القشيرية ۲ /۵۵۶ باب المعرفة بالله ، المنتظم في تاريخ الأمم والملوك لابن جوزي رحمه الله ج۱۱ ص۲۶۳ ابو عبيدة البسري ، تاريخ دمشق لابن عساكر ج۵۲ ص ۲۸۵ ، تاريخ الإسلام و وفيات المشاهير والأعلام لشمس الدين الذهبي ج۱۹ ص ۲۷۹ الطبقة السادسة والعشرون .

## مجاهدينو د پاره الله ﷻ ضامن دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ جَاهَدَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَانَ ضَامِنًا عَلَى اللهِ ... (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې جهاد اوکړي نو الله تعالی دده د پاره ضامن دی.

## په الله ﷻ باندې د مجاهد مدد کول حق دی

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ: اَلْمُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَالْمُكَاتَبُ الَّذِيْ يُرِيْدُ الْأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِيْ يُرِيْدُ الْعَفَافَ. (۲)

درې کسان داسې دي چې په الله ﷻ باندې د دوی مدد کول حق (ثابت او واجب (۳)) دی: ۱. د الله ﷻ په لار کې جهاد کوونکی ۲. هغه مُکاتَب چې د بدلِ کتابت اداء کولو اِراده لري ۳. او هغه نکاح کوونکې چې د پاک دامنۍ والۀ ژوند تېرولو اِراده لري.

الله ربّ العزت هم فرمايي:

(۱) صحيح ابن خزيمة كِتَابُ الْإِمَامَةِ فِي الصَّلَاةِ بَابُ ضَمَانِ اللهِ الْغَادِيْ إِلَى الْمَسْجِدِ وَالرَّائِحَ إِلَيْهِ رقم الحديث ۱۴۹۵. قال الأعظمي: إسناده حسن. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۴، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۵۰ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۳۹، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۵۱۸، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۱۹۲، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳۷۲.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُجَاهِدِ وَالنَّاكِحِ وَالْمُكَاتَبِ وَعَوْنِ اللهِ إِيَّاهُمْ رقم الحديث ۱۶۵۵ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مشكوة المصابيح كتاب النكاح الفصل الثاني رقم الحديث ۳۰۸۹ (۱۰)، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۶۱۲، شرح السنّة للبغوي كتاب النكاح باب الترغيب في النكاح رقم الحديث ۲۲۳۹، كنز العمال رقم الحديث ۷۲۲۳.

(۳) (حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ) أَيْ: ثَابِتٌ عِنْدَهُ إِعَانَتُهُمْ، أَوْ وَاجِبٌ عَلَيْهِ بِمُقْتَضَى وَعْدِهِ مُعَاوَنَتُهُمْ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۵/۲۰۳۷ كتاب النكاح الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۳۰۸۹.

﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾.(۱)

ترجمه: څوک چې زمونږ ( د دِين ) په لاره کې جهاد ( او کوشش ) کوي نو مونږ به ورته خامخا خپلې لارې اُوښايو ، او بيشکه الله تعالى د نېکانو خلقو سره دى .

مجاهدينو سره الله ﷻ په مختلفو موقعو کې خپل مدد کړى ، تر دې چې په دَشتو او بيابانو کې يې ورته د خوراک انتظام برابر کړى ، بلکه د ځنګلي ځناورو او مرغانو په ذريعه يې هم د دوى مدد کړى ، او په صحيح احاديثو کې ددې په باره کې ډير واقعات ذکر دي :

## درې سوه مجاهدينو د پاره الله ﷻ د سمندر نه غټ ماهي را اُوويست چې تر د يوې مياشت پورې يې اُوخوړ

په مسلم شريف ، ابوداؤد شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده ، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي :

مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم د قريشو يوې قافلې سره ملاويدو ( او نيولو ) د پاره اوليږلو ، په مونږ باندې يې حضرت ابو عُبيده بن جراح ﷺ آمير مقرر کړو ، او مونږ ته يې د توښې ( خوراک ) د پاره د قجورو يوه تهيلۍ راکړه ، نبي عليه السلام زمونږ د پاره ددينه علاوه نور څه او نه موندل چې مونږ ته يې راکړې وى ، حضرت ابو عُبيده ﷺ به په هره ورځ مونږ ته يوه يوه قجوره راکوله .

د حديث راوي وايي چې ما د حضرت جابر ﷺ نه پوښتنه اوکړه :

كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ بِهَا؟ تاسو به ددې يوې قجورې سره څه کول ؟

هغه راته وويل :

نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبِيُّ ، ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَاءِ ، فَتَكْفِيْنَا يَوْمَنَا إِلَى اللَّيْلِ ، وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ ، ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَاءِ فَنَأْكُلُهُ .

مونږ به دا ( يوه قجوره ) داسې چُوپله لکه څرنګې يې چې ماشوم چُوپي ، بيا به مو

(۱) العنكبوت آية ٦٩ .

وريسي اُوبه اُوشكلی ، دا به زمونږ ټوله ورځ د ماښام پورې کافي وه . مونږ به په خپلو آمساګانو سره د اُونو نه پاڼې را اُوشنډلی ، بیا به مو په اُوبو کې لمدې کړی او هغه به مو خوړلی .

حضرت جابر ﷺ فرمايي چې مونږ د سمندر غاړې ته لاړو نو مونږ ته د سمندر په غاړه باندې د شګو اُوږدې غونډۍ په شان يو څيز راښکاره شو ، مونږ چې ورته ورغلو نو دا غټ سمندري ماهي وُ چې هغې ته " عنبر " ويلې شي ( دا ماهي سمندر غاړې ته راغورځولې وُ ) . حضرت ابوعُبيده ﷺ ( اول ) ووېل : دا مردار دی . بيا يې اوفرمايل :

لَا، بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ فَكُلُوْا.

نه ، بلکه مونږ خو د الله د رسول د طرفه راليږلې شوي ( قاصدان ) يو ، د الله ﷻ په لار کې يو ، او تاسو په اِضطراري ( مجبورۍ ) حالت کې يَی نو دا اُوخورئ .

حضرت جابر ﷺ فرمايي چې مونږ ټول درې سوه ( ۳۰۰ ) کسان د يوې مياشتې پورې هلته ( د قريشو د قافلې په انتظار کې ) مُقيم وو او ددې عنبر ماهي غوښه به مو خوړه ، تر دې چې مونږ وریاندې ښه تکړه ( او تازه ) شو .

حضرت جابر ﷺ فرمايي چې ماته ښه ياد دي چې مونږ به ددې عنبر ماهي د سترګې نه ( د خوراک د پاره ) د غوړو ډک ډک ګوډي ډکول ، او د غوائي برابر د غوښې تکړې به مو ورنه راغوڅولی .

( دا دومره غټ ماهي وُ چې ) يو ځل ابوعبيده ﷺ ( زمونږ ) ديارلس ( ۱۳ ) کسان ددې ماهي په سترګه کې کينول ( نو ټول په کې ځای شو ) .

بيا ابوعبيده ﷺ ددې ماهي يوه پُښتۍ اُودروله ، او زمونږ په اُوښانو کې يو لوي اُوښ باندې يې کجاوه کيښوده او ددې ماهي د پُښتۍ د لاندې يې تېر کړو نو په آسانۍ سره ورلاندې تېر شو . مونږ ددې ماهي د غوښو لوي لوي تکړې په اُور باندې اُوېې شولی ، اُوچې مو کړی او د ځان سره مو ذخيره کړی .

کله چې مونږ مدينې منوّرې ته رااُورسيدو ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلو ، او هغوی ته مو ددې ماهي ټوله واقعه ذکر کړه ، نو هغه راته اوفرمايل :

هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللهُ لَكُمْ. فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا؟

دا هغه رزق دی چې الله تعالی تاسو ته (د سمندر نه) راويستلې دی، آيا د تاسو سره هغې څه غوښه شته چې په مونږ باندې يې اوخورې؟

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ددې ماهي غوښه ور اوليږله، پس هغوی دا اوخوړه. (۱)

**نوټ**: په بخاري شريف کې هم دا واقعه په مختلفو ځايونو کې ذکر ده، په يو حديث کې ذکر دي چې مونږ درې سوه (۳۰۰) کسانو دا ماهي پنځلس (۱۵) ورځې اوخوړو. (۲)

---

(۱) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ رضي الله عنه، نَتَلَقَّى عِيرًا لِقُرَيْشٍ، وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِنْ تَمْرٍ لَمْ يَجِدْ لَنَا غَيْرَهُ، فَكَانَ أَبُو عُبَيْدَةَ رضي الله عنه يُعْطِينَا تَمْرَةً تَمْرَةً، قَالَ: فَقُلْتُ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِهَا؟ قَالَ: نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبِيُّ، ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَاءِ، فَتَكْفِينَا يَوْمَنَا إِلَى اللَّيْلِ، وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ، ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَاءِ فَنَأْكُلُهُ. قَالَ: وَانْطَلَقْنَا عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ، فَرُفِعَ لَنَا عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ كَهَيْئَةِ الْكَثِيبِ الضَّخْمِ، فَأَتَيْنَاهُ فَإِذَا هِيَ دَابَّةٌ تُدْعَى الْعَنْبَرَ، قَالَ: قَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ رضي الله عنه: مَيْتَةٌ، ثُمَّ قَالَ: لَا، بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِي سَبِيلِ اللهِ، وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ فَكُلُوا. قَالَ: فَأَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ حَتَّى سَمِنَّا. قَالَ: وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا نَغْتَرِفُ مِنْ وَقْبِ عَيْنِهِ بِالْقِلَالِ الدُّهْنَ، وَنَقْتَطِعُ مِنْهُ الْفِدَرَ كَالثَّوْرِ، أَوْ كَقَدْرِ الثَّوْرِ، فَلَقَدْ أَخَذَ مِنَّا أَبُو عُبَيْدَةَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا، فَأَقْعَدَهُمْ فِي وَقْبِ عَيْنِهِ، وَأَخَذَ ضِلَعًا مِنْ أَضْلَاعِهِ فَأَقَامَهَا ثُمَّ رَحَلَ أَعْظَمَ بَعِيرٍ مَعَنَا، فَمَرَّ مِنْ تَحْتِهَا وَتَزَوَّدْنَا مِنْ لَحْمِهِ وَشَائِقَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ أَتَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: «هُوَ رِزْقٌ أَخْرَجَهُ اللهُ لَكُمْ، فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ فَتُطْعِمُونَا؟». قَالَ: فَأَرْسَلْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَأَكَلَهُ. صحيح مسلم كِتَابُ الصَّيْدِ وَالذَّبَائِحِ وَمَا يُؤْكَلُ مِنَ الْحَيَوَانِ بَابُ إِبَاحَةِ مَيْتَاتِ الْبَحْرِ رقم الحديث ۱۷ (۱۹۳۵)، سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَطْعِمَةِ بَابٌ فِي دَوَابِّ الْبَحْرِ رقم الحديث ۳۸۴۰، مسند احمد رقم الحديث ۱۴۳۳۸، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۵۲۶۰، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۹۶۲، مؤطاء مالک رقم الحديث ۲۴، شرح السنة للبغوي رقم ۲۸۰۶، المعجم الاوسط رقم ۸۸۷۴.

(۲) عَنْ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا رضي الله عنه، يَقُولُ: بَعَثَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِائَةِ رَاكِبٍ، وَأَمِيرُنَا أَبُو عُبَيْدَةَ رضي الله عنه، نَرْصُدُ عِيرًا لِقُرَيْشٍ، فَأَصَابَنَا جُوعٌ شَدِيدٌ حَتَّى أَكَلْنَا الْخَبَطَ، فَسُمِّيَ جَيْشَ الْخَبَطِ، وَأَلْقَى الْبَحْرُ حُوتًا يُقَالُ لَهُ الْعَنْبَرُ، فَأَكَلْنَا نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا بِوَدَكِهِ، حَتَّى صَلَحَتْ أَجْسَامُنَا... صحيح البخاري كِتَابُ الذَّبَائِحِ وَالصَّيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ} رقم الحديث ۵۴۹۴.

او په بل حديث کې ذکر دي چې مونږ اتلس (۱۸) ورځې اُوخوړو. (۱)

## کور ته واپس راتلو پورې مجاهد ته مسلسل د مونځ، روژو او تلاوت ثواب ملاويږي

د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ، لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ، وَلَا صَلٰوةٍ، حَتّٰى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ تَعَالٰى.

د الله ﷻ په لاره کې د مجاهد مثال د هغه روژه دار، تهجد گزار او تلاوت کوونکي په شان دی چې هغه د روژې او مانځه په وجه نه ستړې کيږي تر دې چې دا مجاهد کور ته واپس راشي. (۲)

**تشريح**: يعنی کله چې مجاهد د خپل کور نه دجهاد د پاره اُووځي نو تر واپس کيدو پورې الله ﷻ ده ته د هغه چا په شان ثواب ورکوي چې هغه مسلسل روژې نيولې وي، مسلسل د شپې په مانځه ولاړ وي، مسلسل د قرآن کريم تلاوت کوي او په دې نه ستړې کيږي.

سبحان الله، په دې حديث کې د مجاهد د پاره څومره لويه خوشخبري ده، ځکه مجاهد خو کور ته د واپس راتلو پورې مسلسل جهاد نه کوي، بعضې وخت خوراک څکاک ځوب يا نور کارونه کوي خو ددې باوجود بيا هم الله تعالی ده ته دا درجه ورکړی چې مسلسل هر وخت ده ته د روژو، مونځونو او تلاوت ثواب ملاويږي.

---

(۱) وفي رواية .... فَأَكَلَ مِنْهُ ذٰلِكَ الْجَيْشُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً. صحيح البخاري كِتَاب الشَّرِكَةِ بَابُ الشَّرِكَةِ فِي الطَّعَامِ وَالنَّهْدِ وَالْعُرُوضِ رقم الحديث ۲۴۸۳، ورقم ۴۳۶۰ كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ غَزْوَةِ سِيفِ الْبَحْرِ.

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۱۰ (۱۸۷۸)، موطاء مالک باب الترغيب في الجهاد رقم الحديث ۱، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۱۴، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۲۱، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۸۸ (۲)، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۰۲ (۱۰) الترغيب في الجهاد في سبيل الله تعالى، مسند احمد رقم الحديث ۹۴۸۱، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۴۸۹، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۱۴، كنز العمال رقم ۱۰۶۵۰.

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی. (۱)

## مجاهد خپل کور ته واپس راتلو باندې هم د جهاد ثواب مومي

د ابوداؤد شریف او مشکوة شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

**قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ.** (۲)

د جهاد نه راواپس کېدل هم د جهاد په شان دي.

**د حدیث تشریح**: د حدیث مطلب دادی چې کله مجاهد د جهاد نه فارغ شي او واپس خپل کور ته راځي نو ده ته په دې واپس راتللو باندې هم دومره اَجر ورکولې شي څومره چې جهاد ته په تللو او جهاد کولو کې ورکولې شي.

ځکه مجاهد هر وخت د جهاد کولو اِراده لري، اوس که دا د جهاد نه واپس راځي او په کور کې څه آرام کوي نو په دې سره په ده کې دوباره جهاد ته د تللو طاقت پيدا کيږي نو ځکه په واپس راتللو کې هم ورته د جهاد ثواب ورکولې شي. (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الْقَانِتِ الصَّائِمِ الَّذِي لَا يَفْتُرُ صَلَاةً وَلَا صِيَامًا، حَتَّى يَرْجِعَهُ اللهُ إِلَى أَهْلِهِ بِمَا يَرْجِعُهُ إِلَيْهِمْ مِنْ غَنِيمَةٍ أَوْ أَجْرٍ أَوْ يَتَوَفَّاهُ فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ. صحیح ابن حبان مخرجا بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ هَذَا الْفَضْلَ يَكُونُ لِلْمُجَاهِدِ وَإِنْ مَاتَ فِي طَرِيقِهِ ذَلِكَ رقم الحديث ۴۶۲۲ قال الالباني: هذا حديث حسن صحيح. شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۲۶۱۲، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۲۰ (۲۶).

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي فَضْلِ الْقَفْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۲۴۸۷ قال الالباني: صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۴۱ (۵۴)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۹۹ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. مسند احمد رقم الحديث ۶۶۲۵، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۸، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۴۵، شعب الايمان رقم ۳۹۷۰، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۷۱، كنزالعمال رقم ۱۰۶۰۸.

(۳) (قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ): فِي النِّهَايَةِ: هُوَ الْمَرَّةُ مِنَ الْقُفُولِ، وَهُوَ الرُّجُوعُ عَنْ سَفَرِهِ، وَفِيهِ وُجُوهٌ: أَحَدُهَا أَنَّ أَجْرَ الْمُجَاهِدِ فِي انْصِرَافِهِ إِلَى أَهْلِهِ بَعْدَ غَزْوِهِ كَأَجْرِهِ فِي إِقْبَالِهِ إِلَى الْجِهَادِ، لِأَنَّ فِي قُفُولِهِ إِرَاحَةً لِلنَّفْسِ وَاسْتِعْدَادًا بِالْقُوَّةِ لِلْعَوْدِ وَحِفْظًا لِأَهْلِهِ بِرُجُوعِهِ إِلَيْهِمْ، وَنَظِيرُهُ مَا وَرَدَ أَنَّ الْحَاجَّ فِي ضَمَانِ اللهِ مُقْبِلًا وَمُدْبِرًا. مرقاة المفاتيح ج ۶ ص ۲۴۸۵ كتاب الجهاد الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۳۸۴۱ (۵۴).

بلکه مجاهد چې په جهاد کې اُولږه ، تَنده ، ستړي والې ، او د سفر تکليفونه برداشت کوي ، يا په کې خرچ کوي نو ددې ټولو په عِوض کې ده ته نېکۍ ليکلې شي ، او الله ﷻ ورته ددې ښه بدله ورکوي. (۱)

## د مجاهد خوب د نورو خلقو د نفلي روژو او ټوله شپه عبادت په شان دی

۱. په " مُصَنَّف ابن ابي شيبه " کې دا روايت ذکر دی ، مکحول رحمه الله فرمايي چې يو کس نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او وې ويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ النَّاسَ قَدْ غَزَوْا وَحَبَسَنِيْ شَيْءٌ فَدُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ يُلْحِقُنِيْ بِهِمْ .

اې د الله رسوله ! بيشکه خلق غزا ته لاړل او زه څه عُذر د غزا نه پاتې کړې يم ، پس تاسو اوس ما ته داسې يو عمل اُوښايَه چې هغه ما په ثواب کې هغوی ته وَر اُورسوي .

پيغمبر عليه الصلاة والسلام ورته اوفرمايل :

هَلْ تَسْتَطِيْعُ قِيَامَ اللَّيْلِ ؟ آيا ته ټوله شپه د مونځ کولو طاقت لرې ؟

هغه ورته وويل : په کوشش سره به دا اوکړم . نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

هَلْ تَسْتَطِيْعُ صِيَامَ النَّهَارِ؟ آيا ته ټوله ورځ روژې نيولې شې ؟

هغه ورته وويل : آو . پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

فَإِنَّ إِحْيَاءَكَ لَيْلَتَكَ وَصِيَامَكَ نَهَارَكَ كَنَوْمَةِ أَحَدِهِمْ . (۲)

---

(۱) الله تعالی ددې بيان داسې کړی : ﴿مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ أَنْ يَتَخَلَّفُوْا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسِهٖ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَلَا يَطَئُوْنَ مَوْطِئًا يَغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ۞ وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَلَا كَبِيْرَةً وَلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ .التوبة آية ۱۲۰ ، ۱۲۱ .

(۲) عَنْ مَكْحُوْلٍ رَحِمَهُ اللهُ ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ النَّاسَ قَدْ غَزَوْا وَحَبَسَنِيْ شَيْءٌ فَدُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ يُلْحِقُنِيْ بِهِمْ ، قَالَ : هَلْ تَسْتَطِيْعُ قِيَامَ اللَّيْلِ ؟ قَالَ : أَتَكَلَّفُ ذٰلِكَ ، قَالَ : هَلْ تَسْتَطِيْعُ صِيَامَ النَّهَارِ ؟ قَالَ : نَعَمْ ، قَالَ : فَإِنَّ إِحْيَاءَكَ لَيْلَتَكَ وَصِيَامَكَ نَهَارَكَ كَنَوْمَةِ أَحَدِهِمْ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۳۷ .

بيشکه ستا ټوله شپه عبادت کول او ټوله ورځ روژه نيول د مجاهد د خوب په شان دي .

۲ . بلکه په بعضې احاديثو کې د مجاهد خوب د نورو خلقو د نفلي روژو او ټوله شپه عبادت نه افضل ګرځول شوی .

سعيد بن منصور" په خپل کتاب کې دا حديث رانقل کړی چې .... نبي عليه السلام ته يو کس راغی او دا پوښتنه يې ورنه اوکړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهٖ عَمَلَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

اې د الله رسوله ! ماته داسې يو عمل اُوښايه چې زه ورباندې د الله د لارې مجاهِد د عمل هومره ثواب حاصل کړم .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

لَوْ قُمْتَ اللَّيْلَ وَصُمْتَ النَّهَارَ لَمْ تَبْلُغْ نَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

که چيرته ته ټوله شپه عبادت اوکړې او ټوله ورځ روژه اونيسې خو بيا به هم د مُجاهِد فِي سَبِيلِ الله خوب ته او نه رَسې .(۱)

## د مجاهد يوه ورځ د نورو خلقو د ټولې شپې عبادت او دورځې د نفلي روژې نه بهتر ده

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا حديث رانقل کړی چې حضرت ابوهريرة رضي الله عنه په يوه موقع اوفرمايل :

أَيَسْتَطِيْعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقُوْمَ فَلَا يَفْتُرُ ، وَيَصُوْمَ فَلَا يُفْطِرُ ، مَا كَانَ حَيًّا ؟

(۱) پوره حديث داسې دی ؛ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، أَنَّ رَجُلًا كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ مَالٌ كَثِيْرٌ فَأَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهٖ عَمَلَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . فَقَالَ: «كَمْ مَالُكَ؟» قَالَ : سِتَّةُ آلَافِ دِيْنَارٍ، فَقَالَ : « لَوْ أَنْفَقْتَهَا فِيْ طَاعَةِ اللهِ لَمْ تَبْلُغْ غُبَارَ شِرَاكِ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . وَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أُدْرِكُ بِهٖ عَمَلَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، فَقَالَ : « لَوْ قُمْتَ اللَّيْلَ وَصُمْتَ النَّهَارَ لَمْ تَبْلُغْ نَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . سنن سعيد بن منصور ۲/ ۱۵۰ رقم الحديث ۲۳۰۵ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ.

آيا په تاسو كې يو كس دا طاقت لري چې تول عُمر په مانځه ولاړ وي او ستړي نه شي ؟ او تول عُمر نفلي روژې اونيسي او ماتې يې نکړي ؟ ( يعنى ناغه په کې را نه ولي ) .
ده ته په جواب كې وويلې شو : اې ابوهريرة ! دا طاقت به څوک اولري ؟ ده ورته وويل :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ يَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْهُ .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده بيشكه د الله ﷻ په لار كې د مجاهد يوه ورځ ددينه ډيره بهتر ده . (۱)

**نوټ** : په بعضې كتابونو كې د إِنَّ يَوْمَ الْمُجَاهِدِ په ځاى باندې إِنَّ نَوْمَ الْمُجَاهِدِ ليكل شوى. نو بيا به يې مطلب دا وي چې " بيشكه د الله ﷻ په لار كې د مجاهد خوب ددينه بهتر دى " .

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: « أَيَسْتَطِيْعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَقُوْمَ فَلَا يَفْتُرُ ، وَيَصُوْمُ فَلَا يُفْطِرُ ، مَاكَانَ حَيًّا ؟ فَقِيْلَ لَهُ : يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! وَمَنْ يُطِيْقُ هٰذَا ؟ فَقَالَ : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ يَوْمَ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَفْضَلُ مِنْهُ » .
الجهاد لابن المبارک ج۱ ص ۶۴ رقم الحديث ۷۰ .

# مجاهدينو سره د مدد کولو فضائل

جهاد داسې بهترين عبادت دی چې ددې سره د چا هم واسطه راغلې هغه ته الله ﷻ لوي مقام ورکړی ، لهذا څوک چې د مجاهدينو سره يا د دوی کورنۍ سره مدد کوي نو په احاديثو مبارکهؤ کې د داسې خلقو د پاره هم ډير اجرونه ذکر شوي : يو څو درته بيانوم :

## مجاهد او دده کورنۍ سره مدد کوونکي ته د جهاد ثواب ملاويږي

۱ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَقَدْ غَزَا، وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا. (۱)

چا چې د الله ﷻ په لار کې غزا کوونکي ته د جهاد سامان تيار کړو نو دا داسې دی لکه چې ده په خپله جهاد اوکړو ، او چا چې په ښه طريقې سره د يو مجاهد د کور کفالت اوکړو ( يعنی دده د کور ضرورتونه يې پوره کړل ) نو ده ګويا په خپله جهاد اوکړو .

۲ . په يو بل حديث کې ورسره څه نوره اِضافه هم شته ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَجْرِ الْغَازِيْ شَيْئًا. (۲)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې غزا کوونکي ته ( د سفر يا جهاد ) سامان تيار کړي نو ده ته به هم د غازي هومره اَجروي او د غازي په اَجر کې به هيڅ کمې نه راځي .

**تشريح** : د دواړو حديثونو مطلب دا دی چې څوک د مجاهد سره مدد اوکړي ، د جنګ

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا أَوْ خَلَفَهُ بِخَيْرٍ رقم الحديث ۲۸۴۳ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ إِعَانَةِ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ بِمَرْكُوبٍ وَغَيْرِهِ، وَخِلَافَتِهِ فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ رقم الحديث ۱۳۵ (۱۸۹۵) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۴۵ ، سنن ابي داؤد باب ما يجزئ من الغزو رقم الحديث ۲۵۰۹ ، سنن الترمذي باب ماجاء في فضل من جهز غازيا رقم الحديث ۱۶۲۸ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۷ (۱۱) .

(۲) سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا رقم الحديث ۲۷۵۹ قال الالباني: صحيح . مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۳۳ ، و رقم ۲۱۶۷۶ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۳۰ إسناده صحيح على شرط مسلم . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۲۷۳ و رقم ۵۲۷۴ ، معجم ابن عساكر رقم ۵۷۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۶۵۴ .

يا سفر سامان ورله واخلي ، يا دده د كور ضرورتونه پوره كړي نو داسې كس ته هم حُكمًا د جهاد ثواب ملاويږي ، اګرچې ده په خپله جهاد نه وي كړى . (۱)

## مجاهد سره مدد كوونكي ته دوچند اَجر ملاويږي

د ابوداؤد شريف او مشكوة شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لِلغَازِيْ أَجْرُهُ ، وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الغَازِيْ . (۲)

غازي ته به د جهاد خپل اَجر ملاويږي ، او جَاعِل ( يعنى د مجاهد سره مدد كوونكي ) ته به د مدد كولو خپل اَجر هم ملاويږي او د غازي د جهاد كولو هومره اَجر به هم ورته ملاويږي .

**د حديث تشريح** : مجاهد ته به د جهاد كولو خپل اَجر ملاويږي ، او جاعِل يعنى چا چې د مجاهد سره مدد كړې وي ، اسلحه يې ورته اخيستي وي ، يا يې نور مدد ورسره كړې وي نو ده ته به د دې مال خرچ كولو اَجر هم ملاويږي او ورسره ورسره د مجاهد هومره اَجر به هم ده ته ملاويږي ، وجه داده چې دا مدد كوونكې د مجاهد د جهاد كولو سبب جوړ شو ، خو د مجاهد په خپل اَجر كې به هيڅ كمې نشي كولى .

د جَاعِل دويم مطلب دا هم دى چې يو كس مجاهد ته اُجرت وركړي او جهاد ته يې اُوليږي نو دې اُجرت وركوونكي ته به دوچند اَجر ملاويږي ، او دا زمونږ د احنافو په نزد جائز هم ده .

---

(۱) ( فَقَدْ غَزَا) أَيْ حُكْمًا ، وَحَصَلَ لَهُ ثَوَابُ الغَزَاةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۶/ ۲۴۶۰ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۷۹۷ ( ۱۱ ) .

( فَقَدْ غَزَا) كتب له أجر الغزو وإنْ لم يغز لأنّه ساعد عليه. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح رقم الحديث ۲۸۴۳ .

(۲) سنن ابي داؤد كِتَاب الجِهَادِ بَابُ الرُّخْصَةِ فِي أَخْذِ الجَعَائِلِ رقم الحديث ۲۵۲۶ قال الالباني: صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۴۲ (۵۵) ، مسند احمد رقم الحديث ۶۶۲۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۶ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۷۸۴۵ ، شعب الايمان رقم ۳۹۷۰ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۲۶۷۱ ، كنز العمال رقم ۱۰۶۲۰ .

ملاعلي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث بهترينه تشريح کړې ده . (۱)

## مجاهد سره مدد کوونکې به د قيامت په ورځ د عرش د سيورې لاندې وي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَعَانَ مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ غَارِمًا فِي عُسْرَتِهِ، أَوْ مُكَاتَبًا فِي رَقَبَتِهِ أَظَلَّهُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ. (۲)

چا چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کوونکي مجاهد سره مدد اوکړو، يا يې قرض داري سره په تَنګ دَستۍ کې مدد اوکړو، او يا يې مکاتَب سره د هغه په آزادولو کې مدد اوکړو نو الله ﷻ به ده ته (د قيامت په هغه سخته ورځ کې) د خپل عرش د سيورې لاندې ځای ورکړي په کومه ورځ چې د الله ﷻ (د عرش) د سيورې نه علاوه بل هيڅ ځای کې سيورې نه وي.

## مجاهد سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دي

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:

---

(۱) (لِلْغَازِيْ أَجْرُهُ) : أَيْ ثَوَابُهُ الْكَامِلُ الْمُخْتَصُّ بِهِ (وَلِلْجَاعِلِ) أَيْ لِلْمُعِيْنِ لِلْغَازِيْ بِبَذْلِ جُعْلٍ لَهُ، أَوْ بِتَجْهِيْزِ أَسْبَابِهِ وَمَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ (أَجْرُهُ) : أَيْ أَجْرُ نَفَقَتِهِ (وَأَجْرُ الْغَازِيْ) : أَيِ الَّذِيْ يَغْزُوْ بِسَبَبِ أُجْرَتِهِ. قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ: اَلْجَاعِلُ مَنْ يَدْفَعُ جُعْلًا، أَيْ أُجْرَةً إِلَى غَازٍ لِيَغْزُوَ، وَهٰذَا عِنْدَنَا صَحِيْحٌ. فَيَكُوْنُ لِلْغَازِيْ أَجْرُ سَعْيِهِ، وَلِلْجَاعِلِ أَجْرَانِ: أَجْرُ إِعْطَاءِ الْمَالِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَأَجْرُ كَوْنِهِ سَبَبًا لِغَزْوِ ذٰلِكَ الْغَازِيْ. وَمَنَعَهُ الشَّافِعِيُّ وَأَوْجَبَ رَدَّهُ إِنْ أَخَذَهُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۶/۲۴۸۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۴۲(۵۵).

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۱۵۹۸۷، ورقم ۱۵۹۸۶، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۲۱۷۶، ورقم ۲۳۰۱۸ كِتَابُ الْبُيُوْعِ وَالْأَقْضِيَةِ إِنْظَارُ الْمُعْسِرِ وَالرِّفْقُ بِهِ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۵۹۰، ورقم ۵۵۹۱، المستدرك على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْمُكَاتَبِ رقم الحديث ۲۸۶۰ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ورقم الحديث ۲۴۲۸، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۶۲۱، شعب الايمان رقم ۳۹۷۲، مجمع الزوائد رقم ۷۲۴۳، كنزالعمال رقم الحديث ۴۳۲۹۵.

لَأَنْ أُجَهِّزَ سَوْطًا فِي سَبِيلِ اللهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حَجَّةٍ بَعْدَ حَجَّةِ الإِسْلَامِ . (۱)

که زه د الله ﷻ په لار کې (مجاهد ته) يوه کوره (چابک، قمچينه) ورکړم نو دا ماته د فرضي حج نه پس د نفلي حج نه ډيره خوښه ده.

همدارنګې په نورو ډيرو احاديثو کې د مجاهدينو سره د مدد کولو، د دوی د خدمت کولو، د دوی د پاره د خوراک او سورلۍ انتظام کولو ډير اجرونه ذکر شوي، او ديته بهترينه صدقه ويل شوی. (۲)

حضرت عدي بن حاتم رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه چې کومه صدقه ډيره افضله ده؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

خِدْمَةُ عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ ، أَوْ ظِلُّ فُسْطَاطٍ ، أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللهِ .

(بهترينه صدقه داده:) د الله ﷻ په لار کې د خدمت د پاره غلام ورکول، د سيوري د پاره خېمه ورکول، او (د مجاهدينو د سورلۍ د پاره) ځوانه اُوښه ورکول.

**د مجاهدينو رُخصتولو د پاره ورسره تر يوځايه تلل**: همدارنګې د مجاهدينو رُخصتولو د پاره د هغوی سره تر يو ځايه تللو هم ډير فضيلت بيان شوی.

نبي عليه السلام به هم چې کله د جهاد د پاره لښکر ليږل نو تر يو ځايه به ورسره لاړو، بيا به يې ورته دُعا اوکړه. (۳)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۱۵۸ . و رقم الحديث ۸۵۷۵ .

وفي رواية: قَالَ عَبْدُ اللهِ ابْنُ مَسْعُودٍ رضی الله عنه : لَأَنْ أُمَتِّعَ بِسَوْطٍ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حَجَّةٍ فِي إِثْرِ حَجَّةٍ . الجهاد لابن المبارك ج۱ ص ۱۶۹ رقم الحديث ۲۲۶ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۸۸ .

(۲) عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ الطَّائِيِّ رضی الله عنه ، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: خِدْمَةُ عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ ، أَوْ ظِلُّ فُسْطَاطٍ ، أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللهِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الخِدْمَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث قال الالباني: حسن. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۵۵، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۲۹۶، سنن سعيد بن منصور رقم الحديث ۲۴۰۷ بَابُ الخِدْمَةِ وَمَا جَاءَ فِي عَسْبِ الفَرَسِ

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : مَشَى مَعَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ←←←←←

همدارنګې حضرت ابوبکر صديق ﷺ به هم چې کله د جهاد د پاره لښکر ليږل نو تر يو ځای پورې به ورسره د ثواب په نيت باندې پياده تللو . (۱)

---

←←← بِبَقِيعِ الْغَرْقَدِ حِينَ وَجَّهَهُمْ ثُمَّ قَالَ : « اِنْطَلِقُوا عَلَى اسْمِ اللهِ ، اَللّٰهُمَّ أَعِنْهُمْ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۸۰ وقال الحاکم : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . وقال الذهبي : هذا حديث صحيح . مسند احمد رقم الحديث ۲۳۹۱ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۵۵۴ ، معرفة الصحابة لابي نعيم رقم الحديث ۳۶۵۹ .

وفي رواية .... كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَدَّعَ جَيْشًا قَالَ : « أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۴۷۸ .

وفي رواية .... كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَيَّعَ جَيْشًا فَبَلَغَ عُقْبَةَ الْوَدَاعِ قَالَ : أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَاتِكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ . السنن الكبرى للبيهقي جِمَاعُ أَبْوَابِ الْوَلِيمَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَشْيِيعِ الْمَنَازِلِ رقم الحديث ۱۴۵۸۷ ، السنن الكبرى للنسائي كِتَابُ عَمَلِ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ مَا يَقُولُ لِلشَّاخِصِ رقم الحديث ۱۰۲۶۸ ، الآداب للبيهقي رقم الحديث ۵۳۳ .

(۱) إِنَّ أَبَا بَكْرٍ ﷺ شَيَّعَ جَيْشًا فَمَشَى مَعَهُمْ فَقَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اِغْبَرَّتْ أَقْدَامُنَا فِي سَبِيلِهِ . قَالَ فَقَالَ رَجُلٌ : إِنَّمَا شَيَّعْنَاهُمْ . فَقَالَ إِنَّمَا جَهَّزْنَاهُمْ وَشَيَّعْنَاهُمْ وَدَعَوْنَا لَهُمْ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۵۲۱ .

بَعَثَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ جَيْشًا إِلَى الشَّامِ ، فَخَرَجَ يُشَيِّعُهُمْ عَلَى رِجْلَيْهِ ، فَقَالُوا : يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنْ لَوْ رَكِبْتَ ، قَالَ : أَحْتَسِبُ خُطَايَ فِي سَبِيلِ اللهِ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۵۲۲ .

عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ ﷺ بَعَثَ جُيُوشًا إِلَى الشَّامِ ، فَخَرَجَ يَمْشِي مَعَ يَزِيدَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ وَكَانَ أَمِيرَ رُبْعٍ مِنْ تِلْكَ الْأَرْبَاعِ . فَزَعَمُوا أَنَّ يَزِيدَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ ﷺ : إِمَّا أَنْ تَرْكَبَ ، وَإِمَّا أَنْ أَنْزِلَ . فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ « مَا أَنْتَ بِنَازِلٍ ، وَمَا أَنَا بِرَاكِبٍ إِنِّي أَحْتَسِبُ خُطَايَ هٰذِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ » . موطا مالك كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ فِي الْغَزْوِ رقم الحديث ۱۰ ، السنن الكبرى للبيهقي جِمَاعُ أَبْوَابِ السِّيَرِ بَابُ تَرْكِ قَتْلِ مَنْ لَا قِتَالَ فِيهِ مِنَ الرُّهْبَانِ وَالْكَبِيرِ وَغَيْرِهِمَا رقم الحديث ۱۸۱۴۸ .

# د مجاهدينو د بيبيانو احترام د خپلې مور په شان لازم دى

د مسلم شريف او مشكوٰة شريف حديث دى ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ . وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِيْنَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ أَهْلِهٖ فَيَخُوْنُهُ فِيْهِمْ إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهٖ مَا شَاءَ ، فَمَا ظَنُّكُمْ؟ . (۱)

د مجاهدينو د بيبيانو عزت په كور كې پاتې شوو خلقو ( يعنى غير مجاهدينو ) باندې داسې لازم دى لكه د خپلو مورانو عزت . او كوم كس چې د مجاهدينو د كور پالنه (نګراني) كوي او دا د هغوى بيبيانو سره خيانت اوكړي نو دا خيانت ګر به د قيامت په ورځ د مجاهد مخې ته اُودرولې شي ( مجاهد ته به وويلې شي چې ده ستا د كور سره خيانت كړې وُ پس اوس چې ستا څومره خوښه وي دده نه نيك اعمال واخله (۲) ) پس مجاهد به دده د نيكو اعمالو نه دومره ډير واخلي څومره چې دده خوښه وي ، ( بيا نبي عليه السلام صحابه كرامو ته مخ مبارك راواړول او ورته وې فرمايل : )

ستاسو څه خيال دى ؟ ( چې آيا دا مجاهد به دده سره نيك اعمال پرېږدي ؟ هرګز نه ، بلكه ټول به ورنه واخلي (۳) ) .

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ، وَإِثْمِ مَنْ خَانَهُمْ فِيهِنَّ رقم الحديث ۱۳۹ (۱۸۹۷) ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۸ (۱۲) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ رقم الحديث ۲۴۹۶ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۹۷۷ ، سنن النسائي حرمة نساء المجاهدين رقم الحديث ۳۱۸۹ ، صحيح ابن حبان رقم ۴۶۳۴ ، السنن الكبرى للبيهقي باب ما جاء في حرمة نساء المجاهدين رقم ۱۸۵۸۰ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۷۶.

(۲) په نسائي شريف كې ورسره همدا الفاظ هم شته : ... قِيْلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ : هٰذَا خَانَكَ فِيْ أَهْلِكَ فَخُذْ مِنْ حَسَنَاتِهٖ مَا شِئْتَ، فَمَا ظَنُّكُمْ . سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ مَنْ خَانَ غَازِيًا فِي أَهْلِهٖ رقم ۳۱۹۰ قال الالباني: صحيح.

(۳) د نسائي شريف په حديث كې دا آخري خبره صراحةً ذكر ده قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ فِي الْحُرْمَةِ كَأُمَّهَاتِهِمْ، وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِيْنَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ أَهْلِهٖ إِلَّا نُصِبَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُقَالُ: يَا فُلَانُ ! هٰذَا فُلَانٌ فَخُذْ مِنْ حَسَنَاتِهٖ مَا شِئْتَ . ←←←

**د حديث تشريح** کوم خلق چې جهاد ته ندي تللي په دوی باندې د مجاهدينو د بيبيانو احترام داسې لازم دی لکه د خپلو مورانو په شان . يعنی د دوی بيبيانو ته به په بَدنظر نه ګوري ، خِيانت به ورسره نه کوي ، احسان او مدد به ورسره کوي . (۱)

اوس چې څوک د مجاهد د کور نائِب وي ( دده د کور نګراني کوي ) او دا د دوی بيبيانو ، لورانو وغيره سره خيانت اوکړي ، د دوی حياء او عزت ته نقصان اُورسوي نو ددې دومره سخته ګناه ده چې د قيامت په ورځ به دا خيانت ګر انسان د مجاهد مخې ته اُودرولې شي او ده ته به اوويلې شي چې ددې خيانت ګر انسان د اعمالو نه چې ستا څومره نېک اعمال خوښ وي ورنه واخله . نبي عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل چې ستاسو څه خيال دی چې دا مجاهد به ددې خيانت ګر ته نېک اعمال پرېږدي ؟ ( هيڅ کله نه ، بلکه ټول به ورنه واخلي ) . (۲)

او يقيني چې مجاهد د همدې مستحق هم دی چې ټول نېک اعمال ورنه واخلي ، ځکه مجاهد چې جهاد ته لاړ شي نو په خپل سَر قربانولو سره د دِين حفاظت کوي ، او ( د جهاد فرضِ کفايي کيدو په صورت کې ) د نورو خلقو غاړه خلاصوي ، اوس چې څوک دده د کور سره خيانت کوي نو يقيني چې مجاهد ددې مستحق دی چې ټولې نېکۍ ورنه واخلي .

---

←←← ثُمَّ الْتَفَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: مَا ظَنُّكُمْ تُرَوْنَ يَدَعُ لَهُ مِنْ حَسَنَاتِهِ شَيْئًا ؟.
سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ مَنْ خَانَ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ رقم الحديث ۳۱۹۱ قال الالباني: صحيحٌ.

(۱) ( حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ ) هذا في شيئين : أحدهما تحريم التعرض لهن بريبة من نظر محرم وخلوة وحديث محرم وغير ذلك . والثاني: في برهن والإحسان إليهن وقضاء حوائجهن التي لا يترتب عليها مفسدة ولا يتوصل بها إلى ريبة ونحوها . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ۱۳۹ (۱۸۹۷).

(۲) ( فَمَا ظَنُّكُمْ؟ ) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ : مَعْنَاهُ فَمَا تَظُنُّونَ فِي رَغْبَةِ الْمُجَاهِدِ فِي أَخْذِ حَسَنَاتِهِ وَالِاسْتِكْثَارِ مِنْهَا فِي ذَلِكَ الْمَقَامِ ؟ أَيْ لَا يَبْقَى مِنْهَا شَيْءٌ إِلَّا أَخَذَهُ . وَقَالَ الْمُظْهِرُ أَيْ : مَا ظَنُّكُمْ بِاللهِ مَعَ هَذِهِ الْخِيَانَةِ؟ هَلْ تَشُكُّونَ فِي هَذِهِ الْمُجَازَاةِ أَمْ لَا ؟ يَعْنِي فَإِذَا عَلِمْتُمْ صِدْقَ مَا أَقُولُ فَاحْذَرُوا مِنَ الْخِيَانَةِ فِي نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ. وَقَالَ التُّورِبِشْتِيُّ : أَيْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِمَنْ أَحَلَّهُ اللهُ بِهَذِهِ الْمَنْزِلَةِ ، وَخَصَّهُ بِهَذِهِ الْفَضِيلَةِ . فَرُبَّمَا يَكُونُ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الْكَرَامَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۶۱/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۷۹۸ (۱۲) .

**د عبرت مقام** : محترمو مسلمانانو ! تاسو ديته سوچ اوکړئ چې کله د مجاهد د بيبيانو دومره لوي عزت دی نو آيا په خپله د مجاهد به څومره لوي مقام وي ؟

ډير بَدبخته ، ظالِمان او بې اِيمانه خلق داسې هم شته چې هغوی د کافرانو خوشحالولو د پاره مجاهدين نيسي ، په کورونو باندې ورله چاپې وَهي ، دهشت گرد ورته وايي ، او نور تکليفونه ورته رَسوي. آيا ددې خلقو به د قيامت په ورځ څه حشَر وي ؟

په دُنيا کې به هم الله ﷻ دې ظالمانو ته ضرور ددې خپل عمل سزا ورکړي ، ځکه په حديث کې راځي چې الله مجاهدينو ته ضرر رسولو باندې داسې غصه کيږي لکه څنګه چې پيغمبرانو ته په ضرر رسولو باندې غصه کيږي . (١)

## د غونډ تقرير خلاصه :

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې جهاد دومره بهترين عمل دی چې ددې په وجه الله ﷻ مجاهدينو ته هم ډير لوي مقام ورکړی .

قرآن کريم دا واضحه کړې چې مجاهدين او غير مجاهدين برابر ندي ، بلکه د مجاهدينو مرتبه ډيره أوچته ده ، د دوی د پاره په جنت کې اُوچتې درجې دي .

د دوی د پاره په قرآن کريم کې د مغفرت او رحمت زيرې ذکر شوی ، مجاهدينو ته ريښتيني مؤمنان ويل شوي ، د دوی د پاره د بهترين رِزق وعده شوی ، او دوی ته په هر حالت کې اَجر ورکولې شي .

---

(١) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : اِتَّقوْا أَذَى الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، فَإِنَّ اللهَ يَغْضِبُ لَهُمْ كَمَا يَغْضِبُ لِلرُّسُلِ ، وَيَسْتَجِيْبُ لَهُمْ كَمَا يَسْتَجِيْبُ دُعَآءَ الرُّسُلِ . جامع المسانيد والسنن الهادي لاقوم سنن لابن كثير رقم الحديث ١٨٥٢ ، كنزالعمال رقم الحديث ١٠٦٦٥ و رقم ١٠٦٦۴ كتاب الجهاد من قسم الأقوال الباب الأول: في الترغيب فيه ، تفسير روح البيان ٣/٢٦٦ سورة التوبة آية ٧٣ ، جامع الاحاديث لجلال الدين سيوطي رقم الحديث ۴٧٩ ، اسد الغابة ١/٥٥١ باب الجيم والميم .

کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي تاسو هغوی ته دتکليف ورکولو نه ځان بچ کړئ ، ځکه الله ﷻ دې مجاهدينو ته په تکليف ورکولو سره داسې غصه کيږي لکه څنګه چې رسولانو ته په تکليف ورکولو غصه کيږي ، او د مجاهدينو دُعاګانې داسې قبلوي لکه څرنګې چې د رسولانو دُعاګانې قبلوي .

په احاديثو مبارکه وُ کې هم د مجاهدينو د پاره ډير فضائل بيان شوي :

مجاهد په ټولو خلقو کې بهترين کس دی ، دده د پاره الله تعالی په جنت کې سل (۱۰۰) درجې تیارې کړي ، دده ته الله ﷻ په خپله د جنت ضمانت کړی ، دوی به د عامو خلقو نه څلويښت (۴۰) کاله مخکې په اوله ډله کې جنت ته داخليږي .

مجاهدين د الله ﷻ مېلمانه دي ، د دوی دُعاګانې قبليږي ، الله ﷻ د دوی مدد کوي ، کور ته واپس راتلو پورې دوی ته مسلسل د مونځ روژو ، تلاوت او جهاد کولو ثواب ملاويږي . د مجاهدينو خوب او په جهاد کې يوه ورځ تېرول د نورو خلقو د نفلي روژو او ټوله شپه نفلي عبادت نه ډيره بهتره ده .

همدارنګې په احاديثو مبارکه وُ کې د مجاهدينو سره د مدد کولو هم ډير فضائل بيان شوي : مجاهد سره مدد کوونکي ته د جهاد ثواب ملاويږي ، دده ته ددې مدد کولو دوچند اَجر ورکولې شي ، مجاهد سره مدد کوونکې به د قيامت په هغه سخته ورځ باندې د عرش د سيورې لاندې وي ، مجاهدينو سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دی .

همدارنګې د مجاهدينو د بيبيانو اِحترام په نورو خلقو باندې د خپلې مور په شان لازم دی.

## دُعا

الله ربّ العزت دې مونږ ټولو ته هم په صحيح طريقې سره د جهاد کولو ، او مجاهدينو سره د مدد کولو توفيق راکړي ، او کوم اجرونه چې په قرآن کريم او احاديثو کې د مجاهدينو د پاره ذکر شوی الله ﷻ دې هغه ټول مجاهدينو ته او ورسره مونږ ته هم رانصيبه کړي ، ربِّ کائنات دې مجاهدينو ته په هر ځای فتح او کاميابي ورکړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُونَ ﴾.

البقرة آیة ۱۵۴.

# د شهادت فضائِل او د شهید مقام

تالیف

ابو الشمس مولانا نور الهدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدرِّس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

## نوټ

دا موضوع مې په څلورو (۴) غټو عُنواناتو باندې تقسيم کړی :


۱. د شهادت فضائل او د شهيد مقام صفحه ۲۴۸

۲. شهيد د مرګ دَرد نه محسوسوي صفحه ۲۶۸

۳. د شهادت په وخت شهيد ته حُورې راتلل صفحه ۲۷۸

٤. د شهادت په وجه د جنت مستحق کيدل صفحه ۲۹۴


که په هره جُمعه دا څانله څانله عُنوان بيان شي نو هم صحيح ده ، او که مقرِّر سره وخت زيات وي نو ټوله موضوع په يوه جُمعه هم بيانولې شي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د شهادت فضائل او د شهيد مقام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتٌ ، بَلْ أَحْيَاءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا ، بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴾ . (۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّيْ أُقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ . (۳)

---

(۱) البقرة آية ۱۵۴ .

(۲) آل عمران آية ۱۶۹ .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَمَنِّي الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۲۷۹۷ ، و رقم الحديث ۷۲۲۶ كِتَابُ التَّمَنِّي بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّمَنِّي ، وَمَنْ تَمَنَّى الشَّهَادَةَ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۸۷۶ ، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ الرُّخْصَةُ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ السَّرِيَّةِ رقم الحديث ۳۰۹۸ ، و رقم ۳۱۵۲ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ: تَمَنِّي الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى .

وفي رواية : وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَوَدِدْتُ أَنِّيْ أَغْزُوْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَأُقْتَلُ ، ثُمَّ أَغْزُوْ فَأُقْتَلُ ، ثُمَّ أَغْزُوْ فَأُقْتَلُ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۰۳ ( ۱۸۷۶ ) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۷۳۷ ، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۹۱۲ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۳۱ .

وفي رواية : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ ، لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۷۹۰ (۴) ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم ۹۵۳۲ ، المعجم الاوسط رقم ۸۷۸۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۵۵۴ .

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : يُشَفَّعُ الشَّهِيْدُ فِي سَبْعِيْنَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ . (۱)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د دين د سَربُلندۍ د پاره د کافرانو خلاف په جهاد کې شهيد کېدل ډېره اُوچته مرتبه ده ، شهادت الله ﷻ خوش قِسمته خلقو ته نصيب کوي ، د نبوّت نه پس دريمه درجه د شهادت ده . (۲)

ځکه په صحيح احاديثو کې دا خبره ذکر ده چې انبياء کرام د شهيدانو نه صرف د نبوّت په درجه کې اُوچت دي . (۳)

شهيد چونکه ډېره لويه قرباني ورکوي چې په خپل سَر قربانولو سره د الله ﷻ د دين حفاظت کوي ، مقصد يې د الله ﷻ رَضا او د دين سَربُلندي وي نو ځکه په قرآن کريم او احاديثو کې د شهادت ډېر فضائل بيان شوي ، خو زه به درته صرف يو څو فضائل ذکر کړم .

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ رقم الحديث ۲۵۲۲ قال الالباني: هذا حديث صحيح . السنن الكبرى للبيهقي جُمَّاعُ أَبْوَابِ السِّيَرِ بَابُ الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ رقم الحديث ۱۸۵۲۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۱۱۱۹ ، كتاب الجهاد الباب الخامس: الفصل الأول: في الشهادة الحقيقية ورقم ۱۱۱۵۱ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الشَّهَادَةِ وَفَضْلِهَا رقم الحديث ۹۵۲۰ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلشَّهِيْدُ يَشْفَعُ فِي سَبْعِيْنَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ . صحيح ابن حبان مخرجا كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الشَّهِيدَ فِي الْقِيَامَةِ يَشْفَعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ رقم الحديث ۴۶۶۰ ، كنزالعمال ۱۱۱۳۰ كتاب الجهاد الباب الخامس الفصل الأول في الشهادة الحقيقية .

(۲) الله تعالى په دې آيت کې شهيد په دريمه درجه کې ذکر دى : ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾ .النساء آية ۶۹ .

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْقَتْلٰى ثَلَاثَةٌ : رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَهُمْ حَتّٰى يُقْتَلَ . فَذَاكَ الشَّهِيْدُ الْمُمْتَحَنُ فِي جَنَّةِ اللهِ تَحْتَ عَرْشِهِ لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّوْنَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ ..... شعب الايمان الجهاد رقم الحديث ۳۹۵۶ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۳۱۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۹(۷۲) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۶۵۷ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۱۳۶۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۵۲۳ ، مجمع الزوائد رقم ۹۵۱۱ .

ليکن ددې فضائلو ذکر کولو نه مخکې درته د شهيد اَقسام او د شهيد وجهٔ تسميه ذکر کوم ، ددې د پاره چې ددې موضوع په هر اَړخ باندې پوره پوهه شي :

## د شهيد اَقسام : دُنيوي شهيد . او اُخروي شهيد

شهيد په دوه (۲) قِسمه دی : يو دُنيوي شهيد (يعنی کامِل شهيد) او دويم اُخروي شهيد.

**د دُنيوي شهيد تعريف** : دُنيوي شهيد هغه مسلمان ته وايي چې کافرانو وژلې وي ، يا په ميدانِ جنګ کې مړ اُوموندې شي او په ده باندې د زخم آثرات وي ، يا په ظلم سره وژلې شوې وي او دده په قتل باندې مالي دِيت (يعنی مالي عِوض) نه وي واجب شوی ، يا باغيانو يا قطّاعُ الطّريقو (لاره شکوونکو داکوانو) وژلې وي ، او دې مذکوره کسانو د زخمي کيدو او جنګ ختميدو نه پس خوراک څکاک دوائي وغيره نه وي استعمال کړي، او د دُنياوي څيزونو نه يې فائده نه حاصله کړي نو دا کامِل شهيد دی.

ددې حُکم دادی چې ده ته به غُسل نشي ورکولی ، بلکه د خپلو جامو سره به کفن ورکړې شي او د جنازې مونځ به ورباندې اوکړې شي.

البته که دا شهيد د مخکې نه جُنب وُ نو بيا به غُسل ورکولې شي .فقهاوُ د شهيد همداسې تعريف کړی. (۱)

---

(۱) قال العلامة برهان الدين المرغيناني" : (اَلشَّهِيْدُ مَنْ قَتَلَهُ الْمُشْرِكُوْنَ، أَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهِ أَثَرٌ، أَوْ قَتَلَهُ الْمُسْلِمُوْنَ ظُلْمًا وَلَمْ يَجِبْ بِقَتْلِهِ دِيَةٌ فَيُكَفَّنُ وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ وَلَا يُغَسَّلُ) لِأَنَّهُ فِيْ مَعْنٰى شُهَدَاءِ أُحُدٍ. وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيْهِمْ « زَمِّلُوْهُمْ بِكُلُوْمِهِمْ وَدِمَائِهِمْ وَلَا تُغَسِّلُوْهُمْ » فَكُلُّ مَنْ قُتِلَ بِالْحَدِيْدَةِ ظُلْمًا وَهُوَ طَاهِرٌ بَالِغٌ وَلَمْ يَجِبْ بِهِ عِوَضٌ مَالِيٌّ فَهُوَ فِيْ مَعْنَاهُمْ فَيَلْحَقُ بِهِمْ. وَالْمُرَادُ بِالْأَثَرِ الْجِرَاحَةُ لِأَنَّهَا دَلَالَةُ الْقَتْلِ. وَكَذَا خُرُوْجُ الدَّمِ مِنْ مَوْضِعٍ غَيْرِ مُعْتَادٍ كَالْعَيْنِ وَنَحْوِهَا .... (وَمَنْ قَتَلَهُ أَهْلُ الْحَرْبِ أَوْ أَهْلُ الْبَغْيِ أَوْ قُطَّاعُ الطَّرِيْقِ فَبِأَيِّ شَيْءٍ قَتَلُوْهُ لَمْ يُغَسَّلْ) لِأَنَّ شُهَدَاءَ أُحُدٍ مَا كَانَ كُلُّهُمْ قَتِيْلَ السَّيْفِ وَالسِّلَاحِ (وَإِذَا اُسْتُشْهِدَ الْجُنُبُ غُسِّلَ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ). الهداية ۹۲/۱ بَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ الشَّهِيْدِ.

قال الحصكفيّ : اَلشَّهِيْدُ (هُوَ كُلُّ مُكَلَّفٍ مُسْلِمٍ طَاهِرٍ (قُتِلَ ظُلْمًا) بِغَيْرِ حَقٍّ (بِجَارِحَةٍ) أَيْ بِمَا يُوْجِبُ الْقِصَاصَ (وَلَمْ يَجِبْ بِنَفْسِ الْقَتْلِ مَالٌ) بَلْ قِصَاصٌ، حَتّٰى لَوْ وَجَبَ الْمَالُ بِعَارِضٍ ←←←←←←←←←←←←←

خلاصه دا چې د دُنيوي شهيد د پاره شپږ (٦) شرائط دي : عاقل كيدل ، بالغ كيدل ، په ظلم شهيد كيدل ، دده په قتل سره به مالي عِوض نه وي واجب شوى ، د جنابت نه پاكيدل، او د دُنيوي شيانو نه فائده نه حاصلول . (۱)

البته كه كوم زخمي مجاهد د جنګ ختميدلو نه پس خوراک يا څکاک اوكړي ، يا دوائي استعمال كړي ، يا خوب اوكړي ، يا يو څو ورځې ژوندې وي يا د زخم په وجه وفات شي نو بيا داسې كس أخروي شهيد دى ، دده ته به غُسل وركولې شي .

خو كه دا خوراک ، څکاک ، دوائي استعمالول او خوب كول د جنګ په دَوران كې اوكړي او بيا همدلته شهيد شي نو دا اوس هم دُنيوي شهيد دى ، دده ته به غُسل نشي وركولى . (۲)

---

← ← ← ← كَالصُّلحِ . أَوْ قَتَلَ الأَبُ اِبْنَهُ لَا تَسْقُطُ الشَّهَادَةُ ( وَلَمْ يَرْتَثَّ ) فَلَوْ اِرْتَثَّ غُسِلَ كَمَا سَيَجِيْءُ ( وَكَذَا ) يَكُوْنُ شَهِيْدًا ( لَوْ قَتَلَهُ بَاغٍ أَوْ حَرْبِيٌّ أَوْ قَاطِعُ طَرِيْقٍ وَلَوْ ) تَسَبُّبًا أَوْ ( بِغَيْرِ آلَةٍ جَارِحَةٍ ) فَإِنَّ مَقْتُوْلَهُمْ شَهِيْدٌ بِأَيِّ آلَةٍ قَتَلُوْهُ . لِأَنَّ الأَصْلَ فِيْهِ شُهَدَاءُ أُحُدٍ وَلَمْ يَكُنْ كُلُّهُمْ قَتِيْلَ سِلَاحٍ ( أَوْ وُجِدَ جَرِيْحًا مَيِّتًا فِيْ مَعْرَكَتِهِمْ ) ... ( فَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَا يَصْلُحُ لِلْكَفَنِ ، وَيُزَادُ ) إِنْ نَقَصَ مَا عَلَيْهِ عَنْ كَفَنِ السُّنَّةِ ( وَيُنْقَصُ ) إِنْ زَادَ ( لِ ) أَجْلِ أَنْ ( يَتِمَّ كَفَنُهُ ) الْمَسْنُوْنُ ( وَيُصَلَّى عَلَيْهِ بِلَا غُسْلٍ ، وَيُدْفَنُ بِدَمِهِ وَثِيَابِهِ ) لِحَدِيْثِ « زَمِّلُوْهُمْ بِكُلُوْمِهِمْ ».
الدرالمختار ج۲ ص ۲۴۷ تا ۲۵۰ بَابُ الشَّهِيْدِ . وهكذا في الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۶۷ اَلْبَابُ الْحَادِيْ وَالْعِشْرُوْنَ فِي الْجَنَائِزِ اَلْفَصْلُ السَّابِعُ فِي الشَّهِيْدِ . والبحر الرائق ج۲ ص ۱۹۶ باب الشهيد

(۱) وَكُلُّ ذٰلِكَ فِي الشَّهِيْدِ الْكَامِلِ . الدرالمختار قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ : وَكُلُّ ذٰلِكَ ) أَيْ مَا تَقَدَّمَ مِنَ الشُّرُوْطِ وَهِيَ سِتٌّ كَمَا فِي الْبَدَائِعِ : اَلْعَقْلُ ، وَالْبُلُوْغُ ، وَالْقَتْلُ ظُلْمًا ، وَأَنْ لَا يَجِبَ بِهِ عِوَضٌ مَالِيٌّ ، وَالطَّهَارَةُ عَنِ الْحَدَثِ الأَكْبَرِ ، وَعَدَمُ الإِرْتِثَاثِ . رد المحتار ۲/۲۵۲ بَابُ الشَّهِيْدِ . هكذا في بدائع الصنائع ۱/۳۲۰ فَصْلُ أَحْكَامِ الشَّهِيْدِ

(۲) قال الحصكفيؒ : ( وَيُغَسَّلُ ..... أَوْ جُرِحَ وَارْتُثَّ ) وَذٰلِكَ ( بِأَنْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ نَامَ أَوْ تَدَاوَى ) وَلَوْ قَلِيْلًا ( أَوْ آوَى خَيْمَةً أَوْ مَضَى عَلَيْهِ وَقْتُ صَلَاةٍ وَهُوَ يَعْقِلُ ) وَيَقْدِرُ عَلَى أَدَائِهَا ( أَوْ نُقِلَ مِنْ مَعْرَكَةٍ ) وَهُوَ يَعْقِلُ . سَوَاءٌ وَصَلَ حَيًّا أَوْ مَاتَ عَلَى الأَيْدِيْ وَكَذَا لَوْ قَامَ مِنْ مَكَانِهِ إِلَى مَكَانٍ آخَرَ ( لَا لِخَوْفِ وَطْءِ الْخَيْلِ أَوْ أَوْصَى بِأُمُوْرِ الدُّنْيَا ، وَإِنْ بِأُمُوْرِ الآخِرَةِ لَا ) يَصِيْرُ مُرْتَثًّا ( عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَهُوَ الأَصَحُّ ) لِأَنَّهُ مِنْ أَحْكَامِ الأَمْوَاتِ ( أَوْ بَاعَ أَوِ اشْتَرَى أَوْ تَكَلَّمَ بِكَلَامٍ كَثِيْرٍ ) وَإِلَّا فَلَا ، وَهٰذَا كُلُّهُ إِذَا كَانَ ( بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ وَلَوْ فِيْهَا ) أَيْ فِي الْحَرْبِ ( لَا ) يَصِيْرُ مُرْتَثًّا بِشَيْءٍ مِمَّا ذُكِرَ وَكُلُّ ذٰلِكَ فِي الشَّهِيْدِ الْكَامِلِ ، وَإِلَّا فَالْمُرْتَثُّ شَهِيْدُ الآخِرَةِ وَكَذَا الْجُنُبُ وَنَحْوُهُ .
الدرالمختار ج۲ ص ۲۵۱ بَابُ الشَّهِيْدِ .

**د اُخروي شهيد تعريف:** اُخروي شهيد هغه دی چې په هغه کې د دُنيوي شهيد شرائط نه وي، نو ده ته به په آخرت کې د شهيدانو ثواب ورکولې شي، خو په دُنيا کې به غُسل هم ورکولې شي. (۱)

په احاديثو مبارکهؤ کې د اُخروي شهيد ډير اقسام ذکر شوي:

مثلاً څوک په طاعون بيمارۍ کې وفات شي، يا د خېټې خرابيدو بيمارۍ (دَستونه وغيره) کې وفات شي، يا په اُوبو کې ډوب شي يا وربانديې ديوال را اُوغورځيږي، يا په اُور کې اُوسوزي، يا زَنانه د اولاد په ناجوړتيا کې وفات شي، يا څوک د خپلې بي بي په حفاظت کې مړ شي، يا څوک د خپل ځان په دِفاع کې مړ شي، يا د ظالم نه د خپل ظلم بدله اخيستلو کې مړ شي، نو دا ټول اُخروي شهيدان دي، دوی ته به هم د شهادت اَجر ورکولې شي. (۲)

---

(۱) وَشَهَادَةُ الْآخِرَةِ بِنَيْلِ الثَّوَابِ الْمَوْعُوْدِ لِلشَّهِيْدِ. رد المحتار على الدر المختار ۲۵۲/۲ بَابُ الشَّهِيدِ

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا تَعُدُّوْنَ الشَّهِيْدَ فِيْكُمْ؟» قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ. قَالَ: «إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِيْ إِذًا لَقَلِيْلٌ». قَالُوْا: فَمَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: «مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيْدٌ»، قَالَ ابْنُ مِقْسَمٍ: أَشْهَدُ عَلَى أَبِيْكَ فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ أَنَّهُ قَالَ: «وَالْغَرِيْقُ شَهِيْدٌ». صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَاءِ رقم الحديث ۱۶۵ (۱۹۱۵)، سنن ابن ماجة باب ما يُرجى فيه الشهادة رقم الحديث ۲۸۰۴، صحيح ابن حبان فَصْلٌ فِي الشَّهِيدِ ذِكْرُ الْخِصَالِ الَّتِيْ يُدْرِكُ بِهَا الْمَرْءُ فَضْلَ الشَّهَادَةِ وَإِنْ لَمْ يُقْتَلْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۳۱۸۶.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: اَلْمَطْعُوْنُ، وَالْمَبْطُوْنُ، وَالْغَرِقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيْدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ الشُّهَدَاءِ رقم الحديث ۱۶۴ (۱۹۱۴). صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۳۱۸۸ فَصْلٌ فِي الشَّهِيدِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُصْطَفَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُرِدْ بِهٰذَا الْعَدَدِ نَفْيًا عَمَّا وَرَاءَهُ.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلشَّهَادَةُ سَبْعٌ سِوَى الْقَتْلِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ: اَلْمَطْعُوْنُ شَهِيْدٌ وَالْغَرِقُ شَهِيْدٌ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيْدٌ، وَالْمَبْطُوْنُ شَهِيْدٌ، وَصَاحِبُ الْحَرِيْقِ شَهِيْدٌ، ←←←←←←

همدارنګې فقهاء کرامو هم د اُخروي شهيد ډير اقسام ذکر کړي .

علامه سيوطي رحمه الله خو د اُخروي شهيد ديرش (۳۰) قسمونه ذکر کړي . (۱)

## شهيد ته د " شهيد " ويلو وجهٔ تسميه

علماؤ د شهيد وجهٔ تسميه په باره کې مختلف قولونه ذکر کړي ، يو څو درته ذکر کوم :

لِأَنَّهُ مَشْهُوْدٌ لَهُ بِالْجَنَّةِ .

ځکه د ده د پاره د جنت ګواهي ورکړل شوې ده ( چې دا جنتي دی ) .

بعضې علماء وايي چې د شهيد رُوح جنت ته حاضريږي ، ځکه دا د خپل رَب په نزد باندې ژوندې وي .

---

←←← وَالَّذِيْ يَمُوْتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيْدٌ ، وَالْمَرْأَةُ تَمُوْتُ بِجُمْعٍ شَهِيْدٌ . قال الالباني : صحيح . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابٌ فِيْ فَضْلِ مَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُوْنِ رقم ۳۱۱۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الْجَنَائِز الفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۱۵۶۱ (۳۹) ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۳۱۸۹ فَصْلٌ فِي الشَّهِيْدِ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قُتِلَ دُوْنَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ ، وَمَنْ قُتِلَ دُوْنَ أَهْلِهِ ، أَوْ دُوْنَ دَمِهِ ، أَوْ دُوْنَ دِيْنِهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ . سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِيْ قِتَالِ اللُّصُوْصِ رقم الحديث ۴۷۷۲ قال الالباني: صحيح . سنن الترمذي رقم ۱۴۲۱ ، سنن النسائي رقم ۴۰۹۵ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قُتِلَ دُوْنَ مَظْلَمَتِهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ . سنن النسائي كِتَابُ تَحْرِيْمِ الدَّمِ مَنْ قُتِلَ دُوْنَ مَالِهِ رقم الحديث ۴۰۹۳ ، و رقم ۴۰۹۶ قال الالباني: صحيح . مسند احمد رقم ۲۷۷۹ ، مجمع الزوائد رقم ۱۰۴۶۰ .

(۱) قال الحصكفيؒ : وَكُلُّ ذٰلِكَ فِي الشَّهِيْدِ الْكَامِلِ ، وَإِلَّا فَالْمُرْتَثُّ شَهِيْدُ الْآخِرَةِ . وَكَذَا الْجُنُبُ وَنَحْوُهُ . وَمَنْ قَصَدَ الْعَدُوَّ فَأَصَابَ نَفْسَهُ . وَالْغَرِيْقُ وَالْحَرِيْقُ وَالْغَرِيْبُ وَالْمَهْدُوْمُ عَلَيْهِ وَالْمَبْطُوْنُ وَالْمَطْعُوْنُ وَالنُّفَسَاءُ وَالْمَيِّتُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ . وَقَدْ عَدَّهُمُ السُّيُوْطِيُّ نَحْوَ الثَّلَاثِيْنَ . الدر المختار

قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ : وَنَحْوُهُ ) أَيْ كَالْمَجْنُوْنِ وَالصَّبِيِّ وَالْمَقْتُوْلِ ظُلْمًا إِذَا وَجَبَ بِقَتْلِهِ مَالٌ .... ( قَوْلُهُ : وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ ) بِأَنْ كَانَ لَهُ اِشْتِغَالٌ بِهِ تَأْلِيْفًا أَوْ تَدْرِيْسًا أَوْ حُضُوْرًا فِيْمَا يَظْهَرُ ، وَلَوْ كُلَّ يَوْمٍ دَرْسٌ ، وَلَيْسَ الْمُرَادُ الْإِنْهِمَاكَ . رد المحتار على الدر المختار ۲۵۲/۲ بَابُ الشَّهِيْدِ .

نو شهيد په معنى د شَاهِد (حاضر) سره دى، او دا هم په جنت کې حاضر وي. امام قرطبي رحمه الله ليکلي چې همدا قول صحيح دى.

بعضې علماء وايي چې شهيد ورته ځکه وايي چې فرښتې ده ته حاضرېږي.

بعضې علماء وايي چې شهيد په خپل ځان باندې دا ګواهي ورکړه چې ما د الله ﷻ هغه وعده پوره کړه کومه چې په دې آيت کې ذکر ده.

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾. (۱)

ترجمه: بيشکه الله تعالى دِ مؤمنانو نه د دوى ځانونه او د دوى مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوى د پاره جنت وي.

يا ورته شهيد ددې د وجې وايي چې فرښتې ده ته د پاره د جنت ګواهي ورکوي.

يا ورته شهيد ددې د وجې وايي چې الله ﷻ ده د پاره کوم ثوابونه وغيره تيار کړي دي نو د مرګ په وخت شهيد هغه په خپلو سترګو باندې ګوري.

بعضې علماء وايي چې شهيد ورته ددې د وجې وايي چې ده سره داسې ګواه موجود دى چې هغه په ده باندې دا ګواهي ورکوي چې دا شهيد دى، او هغه ګواه ده وِينه ده، ځکه د قيامت په ورځ چې شهيد راپاڅي نو ده د زخمونو نه به تازه وِينه بهيږي چې د مشکو په شان خوشبوئي به کوي. (۲)

---

(۱) التوبة آية ۱۱۱.

(۲) والشهيدُ: اَلْقَتِيْلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. كذا قال أهل اللغة: الجوهري وغيره، وسمّي بذلك لأنّه مَشْهُوْدٌ لَهُ بِالْجَنَّةِ. فالشهيدُ بمعنى مشهود له فعيل بمعنى مفعول. وقال ابن فارس اللغوي فى المجمل: والشهيدُ القتيلُ في سبيل الله. قالوا: لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الله تشهده. وقيل: سمّي شهيدًا لأنّ أرواحهم أحضرت دار السّلام. لأنهم {أحياءٌ عند ربّهم يرزقون} وأرواح غيرهم لا تصل إلى الجنة. فالشهيدُ بمعنى الشاهد أي الحاضر للجنة. وقيل سمّي بذلك لسقوطه بالأرض والأرض الشاهدة. وقيل سمّي بذلك لشهادته على نفسه لله عز وجل حين لزمه الوفاء بالبيعة التي بايعه في قوله الحق {إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ}. فاتصلت شهادة الشهيد الحق بشهادة العبد فسماه شهيدًا. التذكرة باحوال الموتى وامور الآخرة للقرطبي ج۱ ص۳۴۳ باب كم الشهداء ؟ ولم سمي شهيداً ؟ ومعنى الشهادة ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ← ←

په شامي او مرقاة کې هم په بهترين انداز باندې د شهيد د پاره وجه تسميه ذکر شوی.(۱)

## شهيدانو ته مړه مه وايئ ، بلکه دوی ژوندي دي

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴾ .(۲)

ترجمه : او کوم خلق چې د الله په لار کې شهيدان شي تاسو هغوی ته مړه مه وايئ ، بلکه هغوی ( په حقيقت کې په يو مُمتاز ژوند سره ) ژوندي دي ، ليکن تاسو پرې نه پوهيږئ .

**د آيت تشريح** : په تفسير معارف القرآن کې ذکر دي : په دې آيت کې شهيدان د عامو مړو په شان گڼڵ منع کړې شوي ، يعنی دوی ته مړه مه وايئ ، ځکه اگر چې د مرگ نه

---

←←← وقال ابن الانباري : لأن الله وملائكته يشهدونه لهم بالجنة ، وقيل : لأنه يشهد عند خروج رُوحه ما أعد له من الثواب والكرامة ، وقيل : لإنّ ملائكة الرحمة يشهدونه فيأخذون روحه . و قيل : لأنّ عليه شاهدًا يشهد كونه شهيدًا وهو الدم ، فإنه يبعث يوم القيامة و أوداجه تشخب دمًا . وقيل غير ذلک . مشارع الاشواق ج ۲ ص ۶۹۴ . الباب التاسع والعشرون .

(۱) قال الحصكفيّ : ( اَلشَّهِيْدُ ) فَعِيْلٌ بِمَعْنٰى مَفْعُوْلٍ لِأَنَّهُ مَشْهُوْدٌ لَهُ بِالْجَنَّةِ ، أَوْ فَاعِلٌ لِأَنَّهُ حَيٌّ عِنْدَ رَبِّهٖ فَهُوَ شَاهِدٌ. الدر المختار قال ابن عابدينؒ : ( قَوْلُهُ : فَعِيْلٌ ) وَهُوَ إِمَّا مِنَ الشُّهُوْدِ : أَيِ الْحُضُوْرِ ، أَوْ مِنَ الشَّهَادَةِ أَيِ الْحُضُوْرِ مَعَ الْمُشَاهَدَةِ بِالْبَصَرِ أَوْ بِالْبَصِيْرَةِ ( قَوْلُهُ : لِأَنَّهُ مَشْهُوْدٌ لَهُ بِالْجَنَّةِ ) وَهٰذَا عَلٰى أَنَّهُ مِنَ الشَّهَادَةِ ، وَأَمَّا عَلٰى أَنَّهُ مِنَ الشُّهُوْدِ فَلِأَنَّ الْمَلَائِكَةَ تَشْهَدُهُ إِكْرَامًا لَهُ ( قَوْلُهُ : لِأَنَّهُ حَيٌّ ... ) هٰذَا عَلٰى أَنَّهُ مِنَ الشُّهُوْدِ ، وَأَمَّا عَلٰى أَنَّهُ مِنَ الشَّهَادَةِ فَلِأَنَّ عَلَيْهِ شَاهِدًا يَشْهَدُ لَهُ وَهُوَ دَمُهُ وَجُرْحُهُ ، أَوْ لِأَنَّهُ شَاهِدٌ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُ بِالْكُفْرِ . رد المحتار على الدر المختار ۲۲۷/۲ بَابُ الشَّهِيدِ.

قال العلامة ملا علي قاريؒ : ( شَهِيْدٌ ) : فَعِيْلٌ بِمَعْنَى الْفَاعِلِ ، أَوِ الْمَفْعُوْلِ. قَالَ السُّيُوْطِيُّ : إِنَّمَا سُمِّيَ الشَّهِيْدُ شَهِيْدًا ، لِأَنَّهُ حَيٌّ ، فَكَأَنَّ رُوْحَهُ شَاهِدَةٌ ، أَيْ حَاضِرَةٌ . وَقِيْلَ : لِأَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى وَمَلَائِكَتَهُ يَشْهَدُوْنَ لَهُ بِالْجَنَّةِ . وَقِيْلَ : لِأَنَّهُ يَشْهَدُ عِنْدَ خُرُوْجِ رُوْحِهٖ مَا أَعَدَّهُ اللّٰهُ لَهُ مِنَ الْكَرَامَةِ . وَقِيْلَ : لِأَنَّهُ يُشْهَدُ لَهُ بِالْإِيْمَانِ مِنَ النَّارِ . وَقِيْلَ : لِأَنَّهُ الَّذِيْ يَشْهَدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِإِبْلَاغِ الرُّسُلِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۸۱/۶ في شرح حديث ۳۸۳۲ كِتَابُ الْجِهَادِ الْفَصْلُ الثَّانِي.

(۲) البقرة آية ۱۵۴ .

پس د هر مړي رُوح ته دومره بَرزخي ژوند حاصل وي چې دا وربانديې سزا او جزا محسوسوي ، خو د شهيد ژوند د نورو مړو نه يو جدا حيثيت لري ، دده بَرزخي ژوند د عامو مړو نه قوي وي ، ځکه اَثريې په ظاهري بدن باندې هم ښکاري ، هغه دا چې خاوره دده بدن نه خرابوي ، لکه دا مضمون په صحيح احاديثو کې هم ذکر دی ، نو ځکه په مذکوره آيت کې شهيدانو ته ژوندي وويلې شو ، او دوی د عامو مړو په شان ګڼرلو نه منع راغله .

البته په ظاهري احکاماتو کې شهيدان د عامو مړو په شان دي هغه دا چې د دوی ميراث تقسيمولې شي ، او د دوی بيبيانې د بل چا سره نکاح کولې شي . (۱)

په دې برزخي ژوند کې انبياء کرام د شهيدانو نه قوي دي ، ځکه د انبياء کرامو بدن هم خاوره نه خرابوي ، او په ظاهري احکاماتو کې هم دوی د نورو ټولو مړو نه جدا دي ، ځکه د دوی ميراث نه تقسيميږي او د دوی بيبيانې بل څوک په نکاح نشي اخيستی .

خلاصه دا چې په دې برزخي ژوند کې د ټولو نه قوي ژوند د انبياء کرامو دی ، بيا ورپسې د شهيدانو دی ، او بيا د نورو عامو مړو دی . (۲)

## شهيدان ژوندي دي ، دوی ته رِزق ورکولې شي

الله تعالی فرمايي : ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ۭ بَلْ اَحْيَاۗءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ۝ فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىھُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِھِمْ مِّنْ خَلْفِھِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْھِمْ وَلَا ھُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ . (۳)

---

(۱) تفسير معارف القرآن سورة البقرة في تشريح آية ۱۵۴ .

په بدائع الصنائع کې ذکر دي ؛ وَإِنَّمَا وَصَفَهُمْ بِالْحَيَاةِ فِي حَقِّ أَحْكَامِ الْآخِرَةِ أَلَا تَرَى إِلَى قَوْلِهِ تَعَالَى { بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ } [آل عمران: ۱۶۹] ، فَأَمَّا فِي حَقِّ أَحْكَامِ الدُّنْيَا فَالشَّهِيدُ مَيِّتٌ يُقْسَمُ مَالُهُ . وَتُنْكَحُ امْرَأَتُهُ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْعِدَّةِ . بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ۳۲۵/۱ فَصْلٌ حُكْمُ الشَّهَادَةِ فِي الدُّنْيَا .

(۲) تفسير معارف القرآن سورة البقرة في تشريح آية ۱۵۴ .

(۳) آل عمران آية ۱۶۹ تا ۱۷۱ .

ترجمه : او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې شهیدان شوي په هغوی باندې د مړو ګمان مه کوه ، بلکه هغوی د خپل رَب سره ژوندي دي ، هغوی ته رزق ورکولې شي ، الله تعالی چې په خپل فضل سره هغوی ته څه ورکړي دي په هغې باندې خوشحاله دي ، او دوی په هغه خلقو باندې خوشحالیږي کوم چې تر اوسه د دوی سره ( په عالَمِ بَرزخ کې ) ندي یو ځای شوي ، شاته ( په دُنیا کې ) پاتې دي ، چې په دوی ( شاته پاتې شوو خلقو ) باندې به ( په دُنیا کې ) نه څه ویره وي ، او نه به ( په آخرت کې ) دوی غمژن شي (۱) او دا شهیدان د الله ﷻ په اِنعام او فضل باندې خوشحالیږي ، او په دې خبره ( هم خوشحالیږي ) چې الله تعالی د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي .

## نبي علیه السلام هم د شهادت آرزو کړی

۱. د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمایي :

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوَدِدْتُ أَنِّيْ أُقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ . (۲)

---

(۱) یعنی دا شهیدان د دوی په اَمن او خوشحالۍ باندې خوشحالیږي ، او دوی ته پته وي چې که دوی هم په جهاد کې شهیدان شي نو دوی ته به هم همدا عزتونه ملاویږي نو ځکه خوشحالیږي .

په تفسیر جلالین کې ددې آیت تشریح داسې ذکر ده : { فَرِحِيْنَ } حَالٌ مِنْ ضَمِيْرِ يُرْزَقُوْنَ { بِمَآ اٰتٰهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَ } هُمْ { يَسْتَبْشِرُوْنَ } يَفْرَحُوْنَ { بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ } مِنْ إخوانهم المؤمنين ويبدل من الذين { أَ } نْ أَيْ بِأَنْ { لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ } أَيِ الَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ { وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ } فِي الْآخِرَةِ . اَلْمَعْنٰى يَفْرَحُوْنَ بِأَمْنِهِمْ وَفَرَحِهِمْ . تفسير الجلالين آل عمران آية ۱۷۰ .

په تفسیر بغوي کې ددې آیت تشریح داسې ذکر ده : فَرِحِيْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهٖ ، رِزْقِهٖ وَثَوَابِهٖ . وَيَسْتَبْشِرُوْنَ وَيَفْرَحُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ مِنْ إِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ تَرَكُوْهُمْ أَحْيَاءً فِي الدُّنْيَا عَلٰى مَنَاهِجِ الْإِيْمَانِ وَالْجِهَادِ لِعِلْمِهِمْ أَنَّهُمْ إِذَا اسْتُشْهِدُوْا وَلَحِقُوْا بِهِمْ وَنَالُوْا مِنَ الْكَرَامَةِ مَا نَالُوا ، فهم لذلك يستبشرون . أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ . تفسير البغوي ۵۳۸/۱ سورة آل عمران آية ۱۷۰ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَمَنِّي الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۲۷۹۷ ، ←←←←←←←←←←←

قسَم په هغه ذات باندې چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده زه دا خوښوم ( يعنی زما دا آرزو ده) چې زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم ، بيا ژوندې کړې شم بيا شهيد شم ، بيا ژوندې کړې شم بيا شهيد شم ، بيا ژوندې کړې شم بيا شهيد شم .

( يعنی بار بار ژوندې کړې شم او شهيد شم ددې د پاره چې په هر ځل نوې نوې د شهادت ثواب حاصل کړم ) .

۲ . د نسائي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ( په يوه موقع ) اوفرمايل :

وَلَأَنْ أُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لِيْ أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ . (۱)

که زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم نو دا ماته ددينه ډير محبوب دی چې د خېمو او بانډو ټول خلق ( يعنی دُنيا او مَافِيهَا (۲) ) زما په مِلکيت کې راشي .

---

←←← و رقم الحديث ۷۲۲۶ كِتَابُ التَّمَنِّي بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّمَنِّي، وَمَنْ تَمَنَّى الشَّهَادَةَ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۸۷۶ ، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ الرُّخْصَةُ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ السَّرِيَّةِ رقم الحديث ۳۰۹۸ ، و رقم ۳۱۵۲ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ: تَمَنِّي الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى .

وفي رواية : وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ، لَوَدِدْتُ أَنِّي أَغْزُوْ فِي سَبِيْلِ اللهِ فَأُقْتَلُ، ثُمَّ أَغْزُوْ فَأُقْتَلُ . ثُمَّ أَغْزُوْ فَأُقْتَلُ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۰۳ ( ۱۸۷۶ ) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۷۳۷ ، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۹۱۲ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۳۱ .

وفي رواية : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ ، لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ . ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلَ . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۷۹۰ (۴) ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم ۹۵۳۲ ، المعجم الاوسط رقم ۸۷۸۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۵۵۴ .

(۱) سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ: تَمَنِّي الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم ۳۱۵۳ . قال الالباني: هذا حديث حسن . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم ۳۸۵۵ ( ۶۸ ) ، كنزالعمال رقم ۱۱۱۳۷ ، و رقم ۱۱۱۵۸

(۲) (أَنْ يَكُوْنَ لِيْ) : أَيْ مِلْكًا (أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ) بِفَتْحَتَيْنِ فِيهِمَا. قَالَ الطِّيبِيُّ : اَلْمُرَادُ بِأَهْلِ الْوَبَرِ سُكَّانُ الْبَوَادِيْ ، لِأَنَّ خِبَاءَهُمْ مِنَ الْوَبَرِ غَالِبًا ، وَبِأَهْلِ الْمَدَرِ سُكَّانُ الْقُرَى وَالْأَمْصَارِ ، وَأَرَادَ بِهِ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . مرقاة المفاتيح ۶/ ۲۴۹۲ كتاب الجهاد الفصل الثالث في تشريح حديث ۳۸۵۵ (۶۸)

# شهيد به د خپل خاندان د اويا (۷۰) کسانو شفاعت کوي

د ابوداؤ شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

يُشَفَّعُ الشَّهِيْدُ فِيْ سَبْعِيْنَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ . (۱)

د شهيد به د خپل خاندان اويا (۷۰) کسانو په باره کې شفاعت قبلولې شي.

دا حديث په دې الفاظو هم ذکر شوی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اَلشَّهِيْدُ يَشْفَعُ فِيْ سَبْعِيْنَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ. (۲)

شهيد به د خپل خاندان د اويا (۷۰) کسانو شفاعت کوي.

## د شهادت په وجه ګناهونه معاف کيږي

۱. د شهيد د پاره په قرآن کريم کې هم د ګناهونو د مغفرت او رحمت وعده شوی، الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴾. (۳)

ترجمه: او که چيرته تاسو د الله په لار کې اووژلې شئ يا مړه شئ نو د الله د طرفه مغفرت او رحمت د هغه څه (يعنی مال و دولت) نه ډير بهه دی کوم چې دوی جمع کوي.

۲. په بل آيت کې ذکر دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَأُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ رقم الحديث ۲۵۲۲ قال الالباني: هذا حديث صحيح. السنن الكبرى للبيهقي جُمَّاعُ أَبْوَابِ السِّيَرِ بَابُ الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ رقم الحديث ۱۸۵۲۷، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۱۹، كتاب الجهاد الباب الخامس: الفصل الأول: في الشهادة الحقيقية ورقم ۱۱۱۵۱، مجمع الزوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الشَّهَادَةِ وَفَضْلِهَا رقم الحديث ۹۵۲۰.

(۲) صحيح ابن حبان مخرجا كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الشَّهِيدَ فِي الْقِيَامَةِ يُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ رقم الحديث ۴۶۶۰، كنز العمال ۱۱۱۳۰ كتاب الجهاد الباب الخامس الفصل الأول في الشهادة الحقيقية.

(۳) آل عمران آية ۱۵۷.

سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾. (۱)

ترجمه : پس کومو خلقو چې هجرت اوکړو ، د خپلو کورونو نه اُوویستلې شو ، دوی ته زما په لار کې تکليف ورکړې شو ، جهاد يې اوکړو او دوی اُووژلې شو ( يعنی شهيدان شو) نو زه به خامخا د هغوی ګناهونه ختم کړم ، او داسې جنتونو کې به يې داخل کړم چې د هغې (د اُونو ) نه لاندې به نهرونه بهيږي.

۳ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُهَرَاقُ مِنْ دَمِ الشَّهِيْدِ تُغْفَرُ لَهُ ذُنُوْبُهُ . (۲)

بيشکه د شهيد د وينې اول څاڅکې چې زمکې ته غورځيږي نو دده ټول ګناهونه بخلې شي.

٤. د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ . (۳)

شهيد ته ټول ګناهونه بخلې شي بغير د قرض نه . (يعنی د کوم قرض اداء کولو اِراده چې نه لري نو هغه ورته نه معاف کيږي ) .

۵. په يو روايت کې داسې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

---

(۱) آل عمران آية ۱۹۵ .

(۲) السنن الكبرى للبيهقي جِمَاعُ أَبْوَابِ السِّيَرِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحديث ۱۸۵۲۲ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۵۵۵ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَوَّلُ مَا يُهَرَاقُ دَمُ الشَّهِيْدِ يُغْفَرُ لَهُ ذَنْبُهُ كُلُّهُ إِلَّا الدَّيْنَ .

مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الدَّيْنِ رقم الحديث ٦٦٣٢. وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ.

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ كُفِّرَتْ خَطَايَاهُ إِلَّا الدَّيْنَ رقم الحديث ۱۱۹ (۱۸۸٦) ، مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ الْإِفْلَاسِ وَالْإِنْظَارِ الفصل الأول رقم الحديث ۲۹۱۲ (۱۴) ، مسند احمد رقم الحديث ۷۰۵۱ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۳۴ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ۲۵۵۴ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲۱۳۴ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۱۰ .

اَلْقَتْلُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ . (۱)

د الله ﷻ په لار کې شهيد کيدل ټول ګناهونه بخي بغير د قرض نه.

**تشريح** په مذکوره آخري دوه احاديثو کې ذکر شو چې شهيد ته د شهادت په وجه ټول واړه او غټ ګناهونه بخلې شي مګر قرض ( يعنې حقوقُ العباد ) ورته نشي معاف کولی.

ابن الملک رَحِمَهُ اللهُ ويلي چې بحري جهاد واله شهيدانو ته ( يعنې کوم چې په سمندر کې د دُشمن سره جنګيږي او شهيدان شي نو دوی ته ) قرض هم معاف کولې شي. (۲)

همدا خبره علامه سيوطي رحمه الله هم ليکلې ده. (۳)

ددې دواړو احاديثو نه دا خبره هم معلومه شوه چې حقوقُ العباد اداء کول ډير ضروري دي، ځکه د کوم قرض اداء کولو اراده چې د انسان نه وي نو دا په جهاد او شهادت سره هم نه معاف کيږي، بلکه صرف حقوقُ العباد ورسره معاف کيږي، البته په سمندري جهاد کې شهيد کيدونکي ته قرض هم معاف کيږي. (۴)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قُتِلَ فِيْ سَبِيلِ اللهِ كُفِّرَتْ خَطَايَاهُ إِلَّا الدَّيْنَ رقم ۱۲۰ (۱۸۸٦)، سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ ثَوَابِ الشُّهَدَاءِ رقم ۱٦۴۰، المعجم الصغير للبيهقي رقم ۲۷۵۷، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۲٦، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰٦ (۲۰).

(۲) ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث تشريح داسې کړې: ( يُغْفَرُ لِلشَّهِيْدِ كُلُّ ذَنْبٍ ) : أَيْ صَغِيْرٍ وَكَبِيْرٍ ( إِلَّا الدَّيْنَ ) : أَرَادَ حُقُوْقَ الْآدَمِيِّيْنَ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالدِّمَاءِ وَالْأَعْرَاضِ فَإِنَّهَا لَا تُعْفٰى بِالشَّهَادَةِ . كَذَا ذَكَرَهُ بَعْضُ الشُّرَّاحِ . وَقَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : قِيْلَ هٰذَا فِيْ شُهَدَاءِ الْبَرِّ لِمَا رَوَى ابْنُ مَاجَة عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ مَرْفُوْعًا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « يُغْفَرُ لِشَهِيْدِ الْبَحْرِ الذُّنُوْبُ كُلُّهَا وَالدَّيْنُ » . مرقاة المفاتيح ۵/۱۹۵۸ كِتَابُ الْبُيُوْعِ بَابُ الْإِفْلَاسِ وَالْإِنْظَارِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۲۹۱۲ (۱۴)

(۳) مظاهر حق ج ٦ كتاب الجهاد.

(۴) (... إِلَّا الدَّيْنَ ) أَيِ الدَّيْنُ الَّذِيْ لَا يَنْوِيْ أَدَاءَهُ . قَالَ التُّوْرِبِشْتِيُّ : أَرَادَ بِالدَّيْنِ هُنَا مَا يَتَعَلَّقُ بِذِمَّتِهِ مِنْ حُقُوْقِ الْمُسْلِمِيْنَ ، إِذْ لَيْسَ الدَّائِنُ أَحَقَّ بِالْوَعِيْدِ وَالْمُطَالَبَةِ مِنْهُ مِنَ الْجَانِيْ وَالْغَاصِبِ وَالْخَائِنِ وَالسَّارِقِ . وَقَالَ النَّوَوِيُّ : فِيْهِ تَنْبِيْهٌ عَلَى جَمِيْعِ حُقُوْقِ الْآدَمِيِّيْنَ ، وَأَنَّ الْجِهَادَ وَالشَّهَادَةَ وَغَيْرَهُمَا مِنْ أَعْمَالِ الْبِرِّ لَا يُكَفِّرُ حُقُوْقَ الْآدَمِيِّيْنَ ، وَإِنَّمَا يُكَفِّرُ حُقُوْقَ اللهِ . قُلْتُ : إِلَّا شَهِيْدَ الْبَحْرِ ، فَإِنَّهُ يَغْفِرُ لَهُ الذُّنُوْبَ كُلَّهَا وَالدَّيْنَ ، كَمَا وَرَدَ فِيْ حَدِيْثٍ . مرقاة المفاتيح ٦/۲۴٦٦ كِتَابُ الْجِهَادِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۳۸۰۵ .

# د کوم قرض په وجه شهيد د جنت نه منع وي ؟

## د امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ تحقيق :

امام قرطبي رحمه الله په "تفسير قرطبي" کې ليکلي چې د کوم قرض په وجه شهيد د جنت نه بَند (منع) وي نو دا هغه قرض دی چې د مرګ په وخت دده نه دومره مال په ميراث کې پاتې وي چې په هغې باندې قرض اَداء کيدې شي خو ده د قرض ورکولو وصيت نه وي کړی، يا دا په خپل ژوند کې د قرض په ورکولو باندې قادر وي خو قصداً يې نه وي ورکړی ، يا ده دا قرض د فضول اِسراف د پاره راخيستې وي او بيا د اَداء کولو نه مخکې مړ شي نو په دې صورتونو کې ددې قرض په وجه شهيد د جنت نه منع وي.

خو که ده دا قرض د واجبي حق اَداء کولو د پاره راخيستې وي : مثلاً د اُولږې دفع کولو د پاره، يا د ډيرې تَنګ دَستئ په وجه يې راخيستې وي بيا په خپل ژوند کې ددې قرض د اَداء کولو طاقت نه لري او په ميراث کې هم ورنه دومره روپۍ نه وي پاتې چې دا قرض پرې اَداء کړې شي نو بيا که داسې کس شهيد شي نو اِن شَاءَ الله چې الله ﷻ به يې د جنت نه نه منع کوي ( بلکه د شهادت په وجه به يې جنت ته داخلوي ) ، ځکه په دې وخت کې د مسلمانانو په بادشاه باندې دا لازم دي چې د صدقاتو يا د قرض دارانو د مال يا د مالِ فَيء نه دده قرضه اَداء کړي . (۱)

(۱) قال القرطبي رَحِمَهُ اللهُ : اَلدَّيْنُ الَّذِيْ يُحْبَسُ بِهٖ صَاحِبُهٗ عَنِ الْجَنَّةِ ـ وَاللهُ أَعْلَمُ ـ هُوَ الَّذِيْ قَدْ تَرَكَ لَهٗ وَفَاءً وَلَمْ يُوْصِ بِهٖ ، أَوْ قَدَرَ عَلَى الْأَدَاءِ فَلَمْ يُؤَدِّهٖ ، أَوِ ادَّانَهٗ فِيْ سَرَفٍ أَوْ فِيْ سَفَهٍ وَمَاتَ وَلَمْ يُوَفِّهٖ. وَأَمَّا مَنِ ادَّانَ فِيْ حَقٍّ وَاجِبٍ لِفَاقَةٍ وَعُسْرٍ وَمَاتَ وَلَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً فَإِنَّ اللهَ لَا يَحْبِسُهٗ عَنِ الْجَنَّةِ إِنْ شَاءَ اللهُ ، لِأَنَّ عَلَى السُّلْطَانِ فَرْضًا أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْهُ دَيْنَهٗ ، إِمَّا مِنْ جُمْلَةِ الصَّدَقَاتِ ، أَوْ مِنْ سَهْمِ الْغَارِمِيْنَ ، أَوْ مِنَ الْفَيْءِ الرَّاجِعِ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ . قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( مَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَعَلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهٖ ). وَقَدْ زِدْنَا هٰذَا الْبَابَ بَيَانًا فِيْ كتاب (التذكرة) والحمد لله

الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۳ / ۲۷۴ سورة آل عمران في تشريح آية ۱۶۹ .

هـ بلکې علامه قرطبي رحمه الله په " التذکرة " کې دا خبره ليکلې ، که چيرته د مسلمانانو بادشاه د داسې قرض داري شهيد قرض أداء نکړي نو الله ﷻ به دده د طرفه قرض اداء کړي چې قرض خواه به په دې راضي کړي چې دې شهيد ته قرض معاف کړي.
(يعنى الله تعالى به قرض خواه ته ډير نعمتونه او اَجرونه ورکړي ، هغه به راَضي شي او دې شهيد ته به خپل قرض معاف کړي).

ا امام قرطبي رحمه الله په دې خبره باندې د بخاري شريف حديث په دليل کې پيش کړی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيْدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللهُ عَنْهُ ، وَمَنْ أَخَذَ يُرِيْدُ إِتْلَافَهَا أَتْلَفَهُ اللهُ . (۱)

چا چې د خلقو نه مال واخيست او دده اِراده د ورکولو وه نو الله ﷻ به دده د طرفه دا أداء کړي ( يعنى په دُنيا کې به ورله د قرض أداء کولو توفيق ورکړي ، او که بغير د أداء کولو نه وفات شي نو په قيامت کې به دده د طرفه قرض خواه راضي کړي چې هغه دده ته خپل قرض معاف کړي) ، او څوک چې د خلقو نه مال واخلي او اِراده يې د ورکولو نه وي نو الله ﷻ به دده مال ضائع کړي ( يعنى په دُنيا کې به دده مال ختم کړي ، او په آخرت کې به ورته ددې قرض په نه ورکولو سره سزا ورکړي) . (۲)

مخکې چې د تفسير قرطبي کومه خبره ذکر شوه ( چې که يو کس د تَنگ دَستي په وجه قرض راخيستې وي او په ژوند کې د ورکولو قدرت نه لري ، بيا شهيد شي نو دا به د جنت نه نشي منع کولی ) ددې د پاره دليل دادی چې د حضرت جابر ﷺ پلار " عبدالله بن حرام ﷺ " په جنگِ اُحد کې شهيد شوې وُ ، په هغه باندې د خلقو قرضه وه خو بيا هم نبي عليه السلام د هغه په باره کې اوفرمايل چې " الله ﷻ د هغه سره مخامخ خبرې اوکړی " .

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ فِي الاِسْتِقْرَاضِ وَأَدَاءِ الدُّيُونِ وَالحَجْرِ وَالتَّفْلِيسِ بَابُ مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَوْ إِتْلَافَهَا رقم الحديث ۲۳۸۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۹۳۰۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۰۹۵۵ .

(۲) .... فَإِنْ لَمْ يُؤَدِّ عَنْهُ السُّلْطَانُ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقْضِي عَنْهُ وَيُرْضِي خَصْمَهُ . التذكرة باحوال الموتى وامور الآخرة ۱/ ۴۳۳ باب ما جاء ان ارواح الشهداء في الجنة دون ارواح غيرهم .

دا واقعه په احاديثو کې په تفصيل سره ذکر ده . (۱)

همدارنګې حضرت زبير رضي الله عنه چې کله شهيد شو نو په هغه باندې هم ډير قرض ؤ .

نو که چيرته هر شهيد د قرض په وجه د جنت نه منع کيدی نو بيا به صحابه کرامو ته دا دومره لويه مرتبه نه وه ملاؤ شوی .

بهرحال ، خبره مې دا شروع کړې وه چې شهيد ته د شهادت په وجه ټول صغيره او کبيره ګناهونه معاف کيږي .

## د شهيد د وينې څاڅکې الله ﷻ ته ډير محبوب دی

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَ أَثَرَيْنِ : قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوْعٍ فِيْ خَشْيَةِ اللهِ ، وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَأَمَّا الْأَثَرَانِ : فَأَثَرٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، وَأَثَرٌ فِيْ فَرِيْضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ . (۲)

الله ﷻ ته د دوه (۲) څاڅکو او د دوه (۲) نخو (علامو) نه زيات محبوب بل هيڅ څيز نشته : يو د اُوښکو هغه څاڅکې چې د الله ﷻ د ويرې توی شي ، او دويم د وينې

---

(۱) عَنْ طَلْحَةَ بْنِ خِرَاشٍ ، قَالَ : سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه يَقُوْلُ : لَقِيَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ لِيْ : يَا جَابِرُ ! مَا لِيْ أَرَاكَ مُنْكَسِرًا ؟ قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ اُسْتُشْهِدَ أَبِيْ ، وَتَرَكَ عِيَالًا وَدَيْنًا . قَالَ : أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللهُ بِهِ أَبَاكَ ؟ قَالَ : بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : مَا كَلَّمَ اللهُ أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ، وَأَحْيَا أَبَاكَ فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا . فَقَالَ : يَا عَبْدِيْ تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِكَ . قَالَ : يَا رَبِّ تُحْيِيْنِيْ فَأُقْتَلَ فِيْكَ ثَانِيَةً . قَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ : إِنَّهُ قَدْ سَبَقَ مِنِّيْ أَنَّهُمْ إِلَيْهَا لَا يُرْجَعُوْنَ . قَالَ : وَأُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ : { وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا } [آل عمران آية ۱۶۹] . سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَابٌ : وَمِنْ سُوْرَةِ آلِ عِمْرَانَ رقم الحديث ۳۰۱۰ قال الالباني : حسنٌ . مشكوة المصابيح كتاب المناقب بَاب جَامع المناقب الْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ۶۲۴۶ (۵۱) ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۹۰ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۰۲۲ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْمُرَابِطِ رقم الحديث ۱۶۶۹ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ . وقال الالباني : هذا حديث حسنٌ . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۷ (۵۰) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۹۱۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۳۴۸ ، الجهاد لابن ابي عاصم رقم الحديث ۱۰۸ .

هغه ځاځکې چې د الله ﷻ په لار کې توی شي . او د دوه نخو نه يوه نخه داده چې د الله ﷻ په لار کې ( د زخمي کيدو وغيره په وجه ) راپيدا شي ، او دويمه نخه داده چې د الله ﷻ د فرائضو نه يو فرض أداء کولو په وخت په بدن باندې جوړه شي .

**تشريح** : ملاعلي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې ددې حديث په تشريح کې ليکلي : د الله ﷻ په لار کې پيدا کيدونکې نخه داده چې مثلا مجاهد زخمي شي او په بدن باندې يې د زخم نخه پيدا شي ، يا يې په بدن باندې د لارې گرد أوغورځيږي ، يا جهاد ته د تللو د پاره قدمونه أخلي ، يا د طالب العلم په بدن يا کپړو باندې د قلم د سياهي نخه أولږي .

د فرض عبادت أداء کولو په وجه په بدن باندې پيدا کيدونکې نخه داده چې په يَخنۍ کې أودس کولو په وجه لاسونه يا خپې أوچوي ، په سخته گرمۍ کې سجده کولو په وجه تَندې يا بل آندام أوسوزي ، يا په روژه کې د روژه دار د خُلې نه د أولږې په وجه بَدبُوئي راأووځي ، يا حج ته د تللو په وجه په قدمونو باندې دُوړه أوغورځي .(١)

## په تندي باندې قصدًا تور داغ جوړول سخت منع دي

په دې ځای کې ضِمنًا درته دا خبره هم واضح کوم چې بعضې خلق د ناپوهۍ په وجه قصدًا په تَندي باندې تور داغ جوړوي ( يعنی په سجده کې په زُوره زُوره خپل تَندې په زمکه سُولوي چې تور داغ ورباندې پيدا شي ) او مقصد يې دا وي چې په دې سره به زه خلقو ته دير مونځ گزار ښکاره شم .

نو ددې حُکم داده چې قصدًا په تَندي يا مخ باندې تور داغ پيدا کول سخت منع دي ، په احاديثو کې په مخ باندې څوک وهل د همدې د وجې منع شوي چې په دې سره په مخ باندې تور داغ پيدا کيږي .

---

(١) (وَأَمَّا الأَثَرَانِ : فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللهِ) : كَقَطْرَةٍ ، أَوْ غُبَارٍ ، أَوْ جِرَاحَةٍ فِي الجِهَادِ ، أَوْ سَوَادِ حِبْرٍ فِي طَلَبِ العِلْمِ (وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ تَعَالَى) : كَإِشْقَاقِ اليَدِ وَالرِّجْلِ مِنْ أَثَرِ الوُضُوءِ فِي البَرْدِ ، وَبَقَاءِ بَلَلِ الوُضُوءِ فِي الحَرِّ ، وَاحْتِرَاقِ الجَبْهَةِ مِنَ الرَّمْضَاءِ ، وَخُلُوفِ فَمِهِ فِي الصَّوْمِ ، وَاغْبِرَارِ قَدَمِهِ فِي الحَجِّ . مرقاة المفاتيح ٢٤٨٤/٦ كتاب الجهاد الفصل الثاني في تشريح حديث ٣٨٣٧ (٥٠) .

او په قرآن مجيد کې چې کوم آيت ذکر دی، الله ﷻ د صحابه کرامو په باره کې فرمايي:

﴿ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ﴾. (۱)

ترجمه: د دوی نخه داده چې د دوی په مخونو باندې د سجدو آثر وي.

نو په "تفسير معارف القرآن" کې د همدې آيت په تشريح کې ليکلي چې ددې نخې نه مراد هغه نُور دی، کوم چې د بَندګۍ، خُضوع او خُشوع په وجه د هر مُتقي عبادت ګُزار په مخ باندې ښکاري.

ددينه هغه ستَغ يا زَخه مراد نده چې د سجدو کولو په وجه د مونځ ګُزارو په تَندو کې وي، بلکه ددينه مراد د مخ نُور دی، خاصکر چې کوم کس د تهجدو مونځ کوي نو د هغه په مخ باندې ددې نُور آثرات ښکاره وي، او په احاديثو کې هم دا مضمون ذکر دی چې څوک د شپې مونځ ډير کوي نو د ورځې به د هغه مخ ښائسته ښکاري.

حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ به فرمايل چې ددينه مراد د مونځ ګُزار د مخونو هغه نُور دی کوم چې به په قيامت کې ښکاري. (۲)

قصدًا په تندي باندې تور داغ جوړولو باندې علامه آلوسي رحمه الله په "تفسير روح المعاني" کې سخت رَد کړی، او د طبراني او بيهقي په حواله يې د حضرت سائب بن يزيد رضي الله عنه قول رانقل کړی چې هغه ته يو کس راغی او په مخ باندې يې د سجدو آثر جوړ کړې ؤ، نو ده ووېل:

لَقَدْ أَفْسَدَ هٰذَا وَجْهَهُ، أَمَا وَاللهِ، مَا هِيَ السِّيمَاءُ الَّتِي سَمَّى اللهُ تَعَالَى، وَلَقَدْ صَلَّيْتُ عَلَى وَجْهِي مُنْذُ ثَمَانِينَ سَنَةً مَا أَثَّرَ السُّجُودُ بَيْنَ عَيْنَيَّ.

دې سړي خپل مخ خراب کړې دی، قسَم په الله دا هغه نخه نده د کومې ذکر چې قرآن کريم کړې دی، ما خو آتيا (۸۰) کاله مونځونه اوکړل ليکن زما په تندي باندې خو سجدو هيڅ نخه جوړه نکړه.

---

(۱) الفتح آية ۲۹.

(۲) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة الفتح في تشريح آية ۲۹.

دوی قصداً خلقو ته د ځان خودنې د پاره دا نخه جوړوي . (۱)

علامه آلوسي رحمه الله او علامه زمحشري رحمه الله د بعضې متقدّمينو قول رانقل کړی چې : مونږ خو د ډير وخت نه مونځونه کوو ليکن زمونږ په تندو باندې خو هيڅ نخه نښته او نن صبا څه خلق ګورو چې د هغوی په تندو باندې د اوښ د زنګون په شان نخه جوړه شوې وي ، مونږ نه پوهيږو چې اوس د خلقو سرونه درانه شوي او که زمکه سخته شوی ؟ (۲)

په احاديثو کې هم په مخ باندې د داغ او نخې جوړولو نه منع راغلی . (۳)

---

(۱) علامه آلوسي رحمه الله ذکر کړي : أخرج الطبراني والبيهقي في سننه عن حميد بن عبد الرحمن ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ ﷺ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ ، وَفِيْ وَجْهِهِ أَثَرُ السُّجُوْدِ ، فَقَالَ : لَقَدْ أَفْسَدَ هٰذَا وَجْهَهُ . أَمَا وَاللهِ . مَا هِيَ السِّيْمَاءُ الَّتِيْ سَمَّى اللهُ تَعَالَى ، وَلَقَدْ صَلَّيْتُ عَلَى وَجْهِيْ مُنْذُ ثَمَانِيْنَ سَنَةً مَا أَثَّرَ السُّجُوْدُ بَيْنَ عَيْنَيَّ . و ربما يحمل على أنه استشعر من الرجل تعمدا لذلك فنفى أن يكون ما حصل به هو السيما التي سمى الله تعالى . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج۱۳ ص ۲۷۷ سورة الفتح في تشريح آية ۲۹ .

دا خبره په " المعجم الكبير ، مجمع الزوائد" او نورو ډيرو کتابونو کې هم ذکر ده : عَنِ الْجُعَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ ﷺ إِذْ جَاءَهُ الزُّبَيْرُ بْنُ سُهَيْلِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ ، وَفِيْ وَجْهِهِ أَثَرُ السُّجُوْدِ ، فَلَمَّا رَآهُ قَالَ : « مَنْ هٰذَا؟ » قِيْلَ : اَلزُّبَيْرُ . قَالَ : « لَقَدْ أَفْسَدَ هٰذَا وَجْهَهُ ، أَمَا وَاللهِ ، مَا هِيَ السِّيْمَاءُ الَّتِيْ سَمَّاهَا اللهُ ، وَلَقَدْ صَلَّيْتُ عَلَى وَجْهِيْ ثَمَانِيْنَ سَنَةً مَا أَثَّرَ السُّجُوْدُ بَيْنَ عَيْنَيَّ » . المعجم الكبير للطبراني ج ۷ ص ۱۵۸ رقم الحديث ۶۶۸۵ اَلْجُعَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنِ السَّائِبِ ، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد للهيثمي ج۷ ص ۱۰۷ رقم الحديث ۱۱۳۴۸ سُوْرَةُ الْفَتْحِ قَوْلُهُ تَعَالَى : {سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ} [الفتح آية ۲۹]. وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ . الآحاد والمثاني لابن ابي عاصم ج۴ ص ۳۷۸ رقم الحديث ۲۴۱۸ السَّائِبُ بْنُ يَزِيْدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

(۲) ونظيره ما حكي عن بعض المتقدّمين قال: كنّا نصلّي فلا يرى بين أعيننا شيءٌ ، ونرى أحدنا الآن يصلّي فترى بين عينيه ركبة البعير ، فَمَا نَدْرِيْ أَثَقُلَتِ الْأَرْؤس أم خشنت الأرضُ ؟ . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج۱۳ ص ۲۷۷ سورة الفتح في تشريح آية ۲۹ طبع دار الكتب العلمية بيروت . تفسير الزمخشري ( الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل ) ج۴ ص ۳۴۷ سورة الفتح في تشريح آية ۲۹

(۳) رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أنه قَالَ : لَا تُعَلِّبُوْا صُوَرَكُمْ . تفسير روح المعاني ج۱۳ ص ۲۷۷ ←←←

لهذا قصدًا په تندي باندې نخه جوړول د رِيا او منافقت نخه ده . (۱)

البته که غير اِختياري طريقې سره په تندي باندې څه نخه پيدا شي نو دا بيا خېر دی ، داسې کس بيا په دې وعيدونو کې داخل ندی ، ځکه د حضرت عليّ بن حسين زين العابدينؒ او عليّ بن عبد الله بن عباسؒ د ډيرو سجدو په وجه په تندو کې دا نخې جوړې شوې وی . (۲)

## شهيد د مرګ سخت دَرد نه محسوسوي

اګر چې د مرګ تکليف ډير زيات وي خو شهيد د مرګ او زخمونو د دَرد نه محفوظ وي، بلکه صرف د ميږي چيچلو هومره دَرد محسوسوي .

د ترمذي شريف او نسائي شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَا يَجِدُ الشَّهِيْدُ مِنْ مَسِّ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ مِنْ مَسِّ الْقَرْصَةِ . (۳)

---

←←←← تفسير الزمخشري ( الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل ) ج۴ ص۳۴۷ سورة الفتح في تشريح آية ۲۹ .

( في الصحاح: علبته أعلبه بالضم : إذا وسمته أو خدشته، أو أثرت فيه ) .

عَن ابْن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أنه رَأَى رجلًا قد أثر في وَجهه السُّجُوْدُ ، فَقَالَ : إِنّ صُوْرَةَ وَجْهكَ أَنْفك فَلَا تَعْلُبْ وَجْهَكَ وَلَا تَشِنْ صُوْرَتَكَ . تفسير روح المعاني ج۱۳ ص ۲۷۷ ، تفسير كشاف ج۴ ص۳۴۷ ، تخريج الأحاديث والآثار الواقعة في تفسير الكشاف للزمخشري رقم الحديث ۱۲۱۷ .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَتَنَحَّى إِذَا سَجَدَ ، قَالَ : " لَا ، لَا تَقْلِبْ صُوْرَتَكَ يَقُوْلُ : لَا تُؤَثِّرْهَا " . قُلْتُ : مَا تَقْلِبُ صُوْرَتَكَ ؟ قَالَ : « لَا تُغَيِّرْ ، لَا تُخَلِّسْ » . مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ السُّجُودِ رقم الحديث ۲۹۴۱ .

(۱) ....فلذلك إنما هو إذا اعتمد بجبهته وأنفه على الأرض لتحدث تلك السمة وذاك محض رياء ونفاق يستعاذ بالله تعالى منه . تفسير روح المعاني ج۱۳ ص ۲۷۷ ، تفسير كشاف ج۴ ص۳۴۷ .

(۲) په تفسير روح المعاني او تفسير كشاف کې تفصيل موجود دی .

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ المُرَابِطِ رقم الحديث ۱۶۶۸ قال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ . وقال الالباني : هذا حديث حسن صحيح . سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ مَا يَجِدُ الشَّهِيدُ مِنَ الأَلَمِ رقم الحديث ۳۱۶۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۲۵ .

شهيد د مرګ هيڅ دَرد نه محسوسوي ، مګر صرف دومره دَرد محسوسوي لکه په تاسو کې چې يو کس مېږې اُوچيچي ( يعنی صرف د مېږې چيچلو هومره دَرد محسوسوي ).
همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر شوی . (۱)

**تشريح** : دا يقيني خبره ده چې شهيد د مرګ په دَرد نه پوهيږي ، او د دينه اِنکار هم ندی په کار ، ځکه ډير کرَت مونږ په خپله معاشره کې ګورو چې دوه کسان د خپلو ذاتي دُشمنۍ په وجه د يو بل سره اُونخلي ، يو بل ښه پُوخ زخمي کړي خو ليکن د خپلې غصې او غيرت په وجه دوی د زخمونو په دَرد بَاندې نه پوهيږي ، د جګړې نه پس پرې پوهه شي ، حالانکه په دې دواړو کې هريو د مرګ نه ځان بچ کولو کوشش هم کوي ، نو اوس شهيد خو د الله ﷻ د رَضا د پاره غصه شوې وي ، د دِين د سَرْبُلندۍ د پاره د سَر قربانولو جذبه لري ، د شهادت تمنّی لري ، يا د شهيد کيدو په وجه خُوري او د الله ﷻ نور اِنعامات هم په خپلو سترګو باندې ګوري ، او د جنت خوشبو محسوسوي نو دا به ځنګه د مرګ په دَرد باندې پوهه شي ؟

## د شهادت په وخت د جنت خُوشبو محسوسول

شهيد چونکه د شهادت په وخت د جنت خُوشبو محسوسوي ، نو دا به د مرګ تکليف څه محسوس کړي ؟

حاکم په خپل کتاب " المستدرک علی الصحيحين " کې دا واقعه رانقل کړی :

حضرت زيد بن ثابت ﷺ فرمايي چې په غزوه اُحد کې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم زه دَ سعد بن ربيع ﷺ تلاش کولو پسې اُوليږلم او راته وې ويل :

إِنْ رَأَيْتَهُ فَأَقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ ، وَقُلْ لَهُ : يَقُوْلُ لَكَ رَسُوْلُ اللهِ : كَيْفَ تَجِدُكَ ؟

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلشَّهِيْدُ لَا يَجِدُ أَلَمَ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ أَلَمَ الْقَرْصَةِ .
مشکوة المصابيح کتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۶ ( ۲۹ ) ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۲۸۰ ، السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۲۵ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۳۰ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۹۵۲۲ ، کنزالعمال رقم الحديث ۱۱۱۰۳ .

.............

که چيرته تا هغه ژوندي اوليد نو زما سلام ورته اُووايه او دا ورته اووايه چې رسولُ الله ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) تاته فرمايي چې " ته څنګه يې ؟ " ( يعنی څه محسوسوی ؟ )

حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمايي چې زه لاړم ، د شهيدانو په مينځ کې ګرځيدم ( او د هغه تلاش مې کولو ) ، پس ما هغه په يو ځای کې اوليد چې د ژوند آخري سَلګی يې وهلی او دده په بدن باندې د نېزو ، تورو او غشو اويا (۷۰) زخمونه وو ، ما ورته وويل :

يَا سَعْدُ ! إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ ، وَيَقُوْلُ لَكَ : خَبِّرْنِي كَيْفَ تَجِدُكَ ؟

اې سعد ! رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په تا باندې سلام وايي او تاته وايي " ماته خبر راکړه چې ته څه محسوسوی ؟ "

هغه راته وويل :

عَلَى رَسُوْلِ اللهِ السَّلَامُ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ قُلْ لَهُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَجِدُنِي أَجِدُ رِيْحَ الْجَنَّةِ .

په رسولُ الله صلی الله عليه وسلم او تا باندې دې سلام وي ، هغوی ته اُووايه : اې د الله رسوله ! زه د جنت خوشبوئي محسوسوم .

بيا حضرت سعد رضي الله عنه راته وويل : ته زما قوم " انصارو " ته زما د طرفه دا ووايه : که چيرته رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته څه تکليف اُورسيد او ستاسو په وجود کې رُوح وُ نو د الله ﷻ په نزد به ستاسو هيڅ عُذر قبول نشي . دا خبره يې اوکړه او رُوح يې اُووت . (۱)

(۱) عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ، عَنْ أَبِيْهِ ، قَالَ : بَعَثَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ لِطَلَبِ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ رضي الله عنه ، وَقَالَ لِي : " إِنْ رَأَيْتَهُ فَأَقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ ، وَقُلْ لَهُ : يَقُوْلُ لَكَ رَسُوْلُ اللهِ : كَيْفَ تَجِدُكَ ؟ " قَالَ : فَجَعَلْتُ أَطُوْفُ بَيْنَ الْقَتْلَى ، فَأَصَبْتُهُ وَهُوَ فِي آخِرِ رَمَقٍ وَبِهِ سَبْعُوْنَ ضَرْبَةً مَا بَيْنَ طَعْنَةٍ بِرُمْحٍ وَضَرْبَةٍ بِسَيْفٍ وَرَمْيَةٍ بِسَهْمٍ ، فَقُلْتُ لَهُ : يَا سَعْدُ ! إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ ، وَيَقُوْلُ لَكَ : « خَبِّرْنِي كَيْفَ تَجِدُكَ ؟ » قَالَ : عَلَى رَسُوْلِ اللهِ السَّلَامُ ، وَعَلَيْكَ السَّلَامُ قُلْ لَهُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَجِدُنِي أَجِدُ رِيْحَ الْجَنَّةِ ، وَقُلْ لِقَوْمِي الْأَنْصَارِ : لَا عُذْرَ لَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَنْ يُخْلَصَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْكُمْ شُفْرٌ يَطْرِفُ ، قَالَ : وَفَاضَتْ نَفْسُهُ رَحِمَهُ اللهُ . المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۴۹۰۶ كِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ذِكْرُ مَنَاقِبِ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ بْنِ عَمْرٍو الْخَزْرَجِيِّ النَّقِيْبِ . وقال الحاکم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، وقال الذهبي : هذا حديث صحيح .

# د جهاد په دَوران کې د يو اَندام په غوڅيدو نه پوهيدل

چې کله شهيد د مرګ دَرد نه محسوسوي نو بيا د جهاد په دوران کې د زَخمي کيدو دَرد به څه محسوس کړي؟

ډير داسې واقعات شته چې مجاهد نه د جهاد په دَوران کې لاس يا خپه کټ شوې وي يا سخت زخمي شوې وي، خو دا د هغې په دَرد باندې نه وي پوهه شوی، په آس باندې ناست وي او مسلسل په جهاد کې مصروفه وي.

ددې په باره کې درته يو څو واقعات ذکر کوم:

## ۱. د خپې په کټ کيدو باندې نه پوهيدل

حياش بن قيس القشيري رحمه الله په غزوه يرموک کې (په آس باندې سور ؤ) د کافرانو سره جنګيدو، کافرانو دده نه يوه خپه کټ کړې وه، دا مسلسل د کافرانو سره جنګيدو، ډير کافران يې اُووژل خو دا د خپې په کټ کيدو نه ؤ پوهه شوی، د جنګ ختميدو نه پس پوهه شو چې زما يوه خپه کټ شوې ده. (۱)

## ۲. د لاس غوڅيدو نه پس تر آخره پورې جنګيدل

حضرت مُعاذ بن عَمرو بن جَموح رضي الله عنه فرمايي چې په جنګِ بدر کې زه د ابوجهل قتلولو پسې ورغلم، کله مې چې موقع پيدا کړه نو حمله مې ورباندې اوکړه، خپه مې ورله د پنډۍ په مينځ کې کټ کړه، په دې وخت کې د هغه ځوي" عِکرمه بن ابي جهل (چې تر اوسه مسلمان شوې نه ؤ، ده) په ما باندې د توري ګوزار اوکړو، زما اُوږه يې اُووهله، زما لاس مکمل غوڅ شو خو صرف پُوستکې يې پاتې شو، زه د هغه ځای نه راديخوا شوم، لاس زما د بدن پورې زوړَند ؤ خو بيا هم زه ټوله ورځ د کافرانو سره اُوجنګيدم. کله چې د لاس زوړَنديدلو او راښکلو زه په تکليف کړم (چې ددې سره په

(۱) وأعجب من هذا ما حكاه ابن شبيب الحراني في كتابه جامع الفنون عن هشام ابن الكلبي: أنّ حياشا بن قيس القشيري لما شهد اليرموك قتل من العلوج خلقا كثيرًا، وقطعت رجله يومئذ وهو لايشعر بقطعها، فلما انفصل الحرب جعل ينشدها .... مشارع الاشواق ج۱ ص ۵۱۵ الباب الثاني والعشرون في فضل الجرح.

جنګ کولو کې کمزورتيا راتله) نو ما په دې زورَند لاس باندې پښه کيښوده او په زُور سره مې راښکلو، دا مې د بدن نه جدا کړو (او ټوله ورځ په دې حالت کې اُوجنګيدم). (۱)

( **نوټ** : په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا واقعه ذکر ده چې ابوجهل لره حضرت مُعاذ بن عَمرو بن جَموح رضي الله عنه او حضرت مُعاذ بن عفراء رضي الله عنه دواړو په شريکه قتل کړې وُ. (۲) )

## ۳. د ښپې ماتيدو باوجود تر آخري سَلګۍ پورې جنګيدل

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چې حضرت ابودُجانه رضي الله عنه د جنګ يَمامې په ورځ (د مسيلمه کذّاب) باغ ته دننه ورټوپ کړل (کوم چې په قلعه کې دننه وُ)، په دې ټوپ کولو سره دده ښپه ماته شوه، مګر ددې باوجود د کافرانو سره تر آخرِي سَلګۍ پورې

---

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنه، قَالَ: جَعَلْتُ أَبَا جَهْلٍ يَوْمَ بَدْرٍ مِنْ شَأْنِي، فَلَمَّا أَمْكَنَنِي، حَمَلْتُ عَلَيْهِ، فَضَرَبْتُهُ، فَقَطَعْتُ قَدَمَهُ بِنِصْفِ سَاقِهِ، وَضَرَبَنِي ابْنُهُ عِكْرِمَةُ بْنُ أَبِي جَهْلٍ عَلَى عَاتِقِي، فَطَرَحَ يَدِي، وَبَقِيَتْ مُعَلَّقَةً بِجِلْدَةٍ بِجَنْبِي، وَأَجْهَضَنِي عَنْهَا الْقِتَالُ، فَقَاتَلْتُ عَامَّةَ يَوْمِي، وَإِنِّي لَأَسْحَبُهَا خَلْفِي، فَلَمَّا آذَتْنِي وَضَعْتُ قَدَمِي عَلَيْهَا، ثُمَّ تَمَطَّأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى طَرَحْتُهَا. سير اعلام النبلاء ج۱ ص ۲۵۰، و ذكره ايضا ابن هشام ۱ / ۶۳۴

(۲) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ رضي الله عنه قَالَ: بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ، فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، فَإِذَا أَنَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا، تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا، فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ: يَا عَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، مَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي؟ قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا، فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ، فَغَمَزَنِي الْآخَرُ، فَقَالَ لِي مِثْلَهَا، فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي النَّاسِ، قُلْتُ: أَلَا إِنَّ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي، فَابْتَدَرَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا، فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ، ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَاهُ، فَقَالَ: «أَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟»، قَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: أَنَا قَتَلْتُهُ. فَقَالَ: «هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا؟»، قَالَا: لَا، فَنَظَرَ فِي السَّيْفَيْنِ، فَقَالَ: «كِلَاكُمَا قَتَلَهُ، سَلَبُهُ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ»، وَكَانَا مُعَاذَ ابْنَ عَفْرَاءَ، وَمُعَاذَ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ. صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ مَنْ لَمْ يُخَمِّسِ الأَسْلاَبَ، وَمَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُخَمِّسَ... رقم الحديث ۳۱۴۱، صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ اسْتِحْقَاقِ الْقَاتِلِ سَلَبَ الْقَتِيلِ رقم الحديث ۴۲ (۱۷۵۲).

اُوجنګيدو ، تردې چې شهيد شو . (۱)

## ۴. د دواړو لاسونو کټ کيدو نه پس جَنډه په سينه پورې نيول

عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ دا واقعه ليکلې چې د جنګِ يَمامې په ورځ جَنډه د حضرت حُذيفه رضي الله عنه غلام " حضرت سالم رضي الله عنه " سره وه ، چا ورته وويل :

آيا ته به ددې جَنډې حفاظت اوکړې شې ؟ که ته په ځان باندې ويرېږې نو بيا دا جَنډه بل چاته ورکړه .

ده ورته وويل : که داسې وي نو بيا خو زه د قرآن کريم په لوستونکو کې بَدترين کس يم . ( جنګ شروع شو ، جَنډه دده سره په ښي لاس کې وه )

فَقُطِعَتْ يَمِيْنُهُ . فَأَخَذَ اللِّوَى بِيَسَارِهِ . فَقُطِعَتْ يَسَارُهُ . فَاعْتَنَقَ اللِّوَى .

پس دده ښي لاس کټ شو نو جَنډه يې فورًا په چَپ ( ګس ) لاس کې اُونيوه ، کله يې چې چَپ لاس هم کټ شو نو جَنډه يې سِينې او مَرى سره کلکه اُونيوه .

او دا آيتونه يې تلاوت کول :

{ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُوْلٌ } . ترجمه : او ندى محمد ( صلى الله عليه وسلم ) مګريو رسول دى .

{ وَكَأَيِّنْ مِنْ نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ } .

ترجمه : او ډير پيغمبران داسې تېر شوي چې د هغوى په ملګرتيا کې ډيرو خُدائي خلقو جهاد اوکړو .

کله چې حضرت سالم رضي الله عنه په زمکه رااُوغورځيد نو د خپلو ملګرو نه يې پوښتنه اوکړه چې په ابوحُذيفه رضي الله عنه باندې څه حَال اوشو ؟ ملګرو ورته وويل چې هغه شهيد شو . ده بيا د يو بل کس متعلق پوښتنه اوکړه چې په هغه فلانکي باندې څه اوشو ؟ ملګرو ورته وويل : هغه هم شهيد شو . نو ده وويل :

---

(۱) وَعَنْ أَنَسِ بنِ مَالِكٍ رضي الله عنه . قَالَ : رَمَى أَبُوْ دُجَانَةَ رضي الله عنه بِنَفْسِهِ يَوْمَ اليَمَامَةِ إِلَى دَاخِلِ الحَدِيْقَةِ . فَانْكَسَرَتْ رِجْلُهُ . فَقَاتَلَ وَهُوَ مَكْسُوْرُ الرِّجْلِ حَتَّى قُتِلَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . سير اعلام النبلاء ج۱ ص ۲۴۴ أَبُوْ دُجَانَةَ الأَنْصَارِيُّ ، أسد الغابة ۲ / ۲۵۲.

فَأَسْمِعُونِي بَيْنَهُمَا.

ما د هغوی دواړو په مینځ کې ښخ کړئ. (۱)

## ۵. د دواړو لاسونو او دواړو خپو کټ کیدو باوجود کافرانو ته په لغړیدو د وړمخکې کیدو کوشش کول

په "مصنّف ابن ابي شيبه" او نورو ډیرو کتابونو کې دا واقعه ذکر ده:

حضرت سعد بن ابي ابراهيم فرمايي چې مونږ د قادسيې په جنګ کې په يو مسلمان باندې تېر شو چې دواړه لاسونه او دواړه خپې يې کټ شوې وې، خو بيا يې هم کافرانو ته په لغړيدو لغړيدو سره د وړمخکې کیدو کوشش کولو، او د قرآن کريم دا آيتِ مبارکه يې تلاوت کولو:

﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا﴾.

ترجمه: (او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو) دوی به (په جنت کې) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړی دی چې هغه پيغمبران، صديقين، شهداء او صالحين دي، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې (يعنی دا خلق ډير ښه ملګري دي).

يو کس ورنه پوښتنه اوکړه:

مَنْ أَنْتَ يَا عَبْدَ اللهِ؟ اې د الله ﷻ بنده! ته څوک يې؟

(۱) عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حَنْظَلَةَ، عَنْ أَبِيهِ أَنَّ سَالِمًا مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قِيلَ لَهُ يَوْمَئِذٍ فِي اللِّوَاءِ: أَيْ تَحْفَظُهُ؟ فَقَالَ غَيْرُهُ: نَخْشَى مِنْ نَفْسِكَ شَيْئًا فَنُوَلِّي اللِّوَاءَ غَيْرَكَ؟ فَقَالَ: بِئْسَ حَامِلُ الْقُرْآنِ أَنَا إِذًا. فَقُطِعَتْ يَمِينُهُ، فَأَخَذَ اللِّوَاءَ بِيَسَارِهِ، فَقُطِعَتْ يَسَارُهُ، فَاعْتَنَقَ اللِّوَاءَ وَهُوَ يَقُولُ: {وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ} [آل عمران آية ۱۴۴]، {وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ} [آل عمران آية ۱۴۶] فَلَمَّا صُرِعَ، قِيلَ لِأَصْحَابِهِ: مَا فَعَلَ أَبُو حُذَيْفَةَ؟ قِيلَ: قُتِلَ. قَالَ: فَمَا فَعَلَ فُلَانٌ لِرَجُلٍ قَدْ سَمَّاهُ؟ قِيلَ: قُتِلَ. قَالَ: فَأَسْمِعُونِي بَيْنَهُمَا. الجهاد لابن المبارك ج۱ ص۹۸ رقم ۱۱۸.

هغه ورته وويل : زه د انصارو يو کس يم . (۱)

## ٦ . د سخت زخمي کيدو باوجود دُشمن طرف ته د ورمخکې کيدو کوشش کول

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه ذکر کړې چې په جنګ قادسيه کې يو کس په يو زخمي باندې تېر شو چې ددې زخمي ګولمې د ګېډې ( خېټې ) نه بهر راوتلې وې ، هغه زخمي دې تېريدونکي کس ته وويل :

زما دا کولمې زما د بدن سره راټولې کړه : لَعَلِّيْ أَدْنُوْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قِيْدَ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ .

کيدې شي زه د الله ﷻ په لار کې دشمن طرف ته يو نېزه يا دوه نېزې ورنژدې شم .

راوي وايي چې کله دوباره ورباندې دا کس راتېريدو نو دا زخمي دشمن طرف ته يوه نېزه يا دوه نېزې ورنژدې شوې وُ . (۲)

## ۷ . د سخت زخمي کيدو باوجود ميدان ته تلل او تر آخري سلګۍ پورې جنګيدل

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب " اَلمنتظم في تاريخ الملوک والأمم " کې دا واقعه ذکر کړې :

په جنګ يَمامه کې چې کله خلقو د جنګ د پاره صفونه جوړ کړل ، نو د ټولو نه اول حضرت ابو عُقَيل رضي الله عنه مقابلې ته وَراووت ، د دُشمن د طرفه غشې راغی او دا د اُولې او زړه په مينځ کې په غشي باندې اُولږيد ، ده غشې اُوويست ، په دې سره دده چَپ (ګس) طرف سخت زخمي شو ، دا خيمې ته راوړې شو .

---

(۱) عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيْمَ . قَالَ : مَرُّوْا عَلَى رَجُلٍ يَوْمَ الْقَادِسِيَّةِ وَقَدْ قُطِعَتْ يَدَاهُ وَرِجْلَاهُ وَهُوَ يَفْحَصُ وَهُوَ يَقُوْلُ : { مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰئِكَ رَفِيْقًا } [ النساء آية ٦٩] . فَقَالَ الرَّجُلُ : مَنْ أَنْتَ يَا عَبْدَ اللهِ ؟ قَالَ : أَنَا امْرُؤٌ مِنَ الْأَنْصَارِ . مصنف ابن ابي شيبة ( الكتاب المصنف في الاحاديث والآثار ) كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ ج ۴ ص ۲۰۶ رقم ۱۹۳۲۷ ، ورقم ۳۳۷۵۰ كِتَابُ التَّارِيْخِ فِيْ أَمْرِ الْقَادِسِيَّةِ وَجَلُولَاءَ . الجهاد لابن ابي مبارک ج۱ ص ۱۰۹ رقم ۱۳۳ .

(۲) عَنْ مِسْعَرٍ قَالَ : سَمِعْتُ عَوْنَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ رَجُلًا مَرَّ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقَادِسِيَّةِ ، وَقَدِ انْتَثَرَ قُصْبُهُ فَقَالَ لِبَعْضِ مَنْ مَرَّ عَلَيْهِ : ضُمَّ إِلَيَّ مِنْهُ ، لَعَلِّيْ أَدْنُوْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قِيْدَ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ . قَالَ : فَمَرَّ عَلَيْهِ وَقَدْ دَنَا قِيْدَ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ . الجهاد لابن ابي مبارک ج۱ ص ۱۰۸ رقم ۱۳۱ .

کله چې جنګ ښه ګرم شو نو مسلمانانو شکست اُوخوړ ، او خپلو خېمو ته لاړل ، په دې وخت کې حضرت ابو عُقَيل رضي الله عنه د خپل زخم په وجه سخت کمزوري شوي وُ ، نو ده د حضرت معن بن معدي رضي الله عنه آواز واوريد چې هغه انصارو ته آواز اوکړو :

يَالَلْأَنْصَارِ ! اَللهَ اللهَ وَالْكَرَّةُ عَلَى عَدُوِّكُمْ.

اې اَنصارو ! د الله جل جلاله نه اُووېرېږئ ، او په دُشمن باندې سخته حمله اوکړئ.

حضرت عبدالله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې په دې وخت کې حضرت ابو عُقَيل رضي الله عنه اُودريد او د خپل قوم خلقو طرف ته يې د ورتللو اِراده اوکړه . ما ورته ووېل : ته خو جنګ نشې کولی ( نو چيرته ځې ؟ ) .

هغه راته ووېل : آواز کوونکي زما نوم واخيست . ما ورته ووېل : هغه خو انصارو ته آواز اوکړو ، زخميانو ته آواز کول خو يې مقصد نه وُ . ابو عُقَيل رضي الله عنه ووېل :

أَنَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَنَا أُجِيْبُهُ وَلَوْ حَبْوًا .

زه هم د انصارو يو کس يم ، زه به خامخا ورځم اګر چې په خوېدلو سره وي .

ابن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې ، ابو عُقَيل رضي الله عنه خپله ملا اُوتړله ، توره يې په ښي لاس کې راواخيسته ، روان شو ، او انصارو ته يې په زُوره زُوره دا آوازونه کول :

يَالَلْأَنْصَارِ كَرَّةً كَيَوْمِ حُنَيْنٍ.

اې انصارو ! نن د غزوهٔ حُنين په شان واپس را اُوګرځئ او په دُشمن باندې سخته حمله اوکړئ.

ټول مسلمانان واپس راجمع شو او دُشمن طرف ته وَرورَاندې شو ، تر دې چې په دُشمن يې سخته حمله اوکړه ، توري يې د يو بل سره اُوجنګيدی .

ابن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې ما ابوعقيل رضي الله عنه ته اوکتل نو زخمي شوې لاس يې ( په مقابله کې ) د اُوګې نه غوڅ شو او په زمکه اُوغورځيد .

په دې جنګ کې آخر د الله جل جلاله دُشمن "مسيلمه کذّاب" کافر مردار شو.

ابن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې زه ابو عُقَيل رضي الله عنه ته راغلم ، په زمکه پَرمخ پروت وُ ، او د ژوند آخري سَلګۍ يې وی ، ما ورته آواز اوکړو : اې ابوعقيل ! هغه راته په کمزوري آواز

سره جواب راکړو او وې ويل: آخري انجام د چا شو ؟ ( يعنی چا فتح اُومونده او چا شکست اُوخوړ ؟ ) . ما ورته وويل:

أَبْشِرْ قَدْ قُتِلَ عَدُوُّ اللهِ.

زېرې قبول کړه د الله ﷻ دُشمن " مسيلمه کذّاب " مردار شو .

نو حضرت ابوعقيل رضي الله عنه ګوته آسمان طرف ته اُوچته کړه ، د الله ﷻ حمد يې اداء کړو ، او شهيد شو . (۱)

## ۸. د شهادت نه پس د حضرت جعفر رضي الله عنه په بدن باندې څه د پاسه نوي (۹۰) زخمونه وو

په جنګِ موته کې د حضرت جعفر رضي الله عنه د شهادت نه پس چې اُوکتلې شو نو دده په بدن باندې څه د پاسه نوي (۹۰) زخمونه وو ، او ټول مخامخ وو ، په شا طرف باندې يو زخم

(۱) لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْيَمَامَةِ وَاصْطَفَّ النَّاسُ لِلْقِتَالِ كَانَ أَوَّلَ مَنْ خَرَجَ أَبُو عُقَيْلٍ رضي الله عنه ، رُمِيَ بِسَهْمٍ فَوَقَعَ بَيْنَ مَنْكِبَيْهِ وَفُؤَادِهِ فِي غَيْرِ مَقْتَلٍ . فَأُخْرِجَ السَّهْمُ ، وَوَهِنَ لَهُ شِقُّهُ الْأَيْسَرُ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ وَجُرَّ إِلَى الرَّحْلِ . فَلَمَّا حَمِيَ الْقِتَالُ وَانْهَزَمَ الْمُسْلِمُونَ وَجَاوَزُوا رِحَالَهُمْ وَأَبُو عُقَيْلٍ رضي الله عنه وَاهِنٌ مِنْ جُرْحِهِ سَمِعَ مَعْنَ بْنَ عَدِيٍّ رضي الله عنه يَصِيحُ : يَا لَلْأَنْصَارِ ، اللهَ اللهَ وَالْكَرَّةَ عَلَى عَدُوِّكُمْ . قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : فَنَهَضَ أَبُو عُقَيْلٍ رضي الله عنه يُرِيدُ قَوْمَهُ . فَقُلْتُ : مَا فِيكَ قِتَالٌ . قَالَ : قَدْ نَوَّهَ الْمُنَادِي بِاسْمِي . قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَقُلْتُ : إِنَّمَا يَقُولُ يَا لَلأنصار ، ولا يعني الجرحى . قال أَبُو عُقَيْلٍ رضي الله عنه : أَنَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَنَا أُجِيبُهُ وَلَوْ حَبْوًا . قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : فَتَحَزَّمَ أَبُو عقيل رضي الله عنه وأخذ السَّيْفَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى مُجَرَّدًا ، ثُمَّ جَعَلَ يُنَادِي : يَا لَلْأَنْصَارِ كَرَّةً كَيَوْمِ حُنَيْنٍ . فَاجْتَمَعُوا رَحِمَهُمُ اللهُ جَمِيعًا ، يَقْدُمُونَ الْمُسْلِمِينَ دُرْبَةً دُونَ عَدُوِّهِمْ حتى أقحموا عدوهم الحديقة فَاخْتَلَطُوا وَاخْتَلَفَتِ السُّيُوفُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ . قَالَ ابْنُ عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : فنظرتُ إلى أبي عقيل رضي الله عنه وقد قطعت يَدُهُ الْمَجْرُوحَةُ مِنَ الْمَنْكِبِ فَوَقَعَتْ بِالْأَرْضِ ، وَقُتِلَ عَدُوُّ اللهِ مُسَيْلَمَةُ . قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : فَوَقَفْتُ عَلَى أَبِي عُقَيْلٍ رضي الله عنه وَهُوَ صَرِيعٌ بِآخِرِ رَمَقٍ ، فقلت : أَبَا عُقَيْلٍ ! . فَقَالَ : لَبَّيْكَ بِلِسَانٍ مُلْتَاثٍ ، لِمَنِ الدَّبْرَةُ ؟ قَالَ : قُلْتُ : أَبْشِرْ قَدْ قُتِلَ عَدُوُّ اللهِ . فَرَفَعَ إِصْبَعَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَحَمِدَ اللهَ ، وَمَاتَ رَحِمَهُ اللهُ . المنتظم في تاريخ الأمم والملوك ج ۴ ص ۹۲ عبد الرحمن بن عبد الله بن ثعلبة أبو عقيل

هم نه وُ ( يعنى دومره په بهادرى باندې جنګيدلې وُ چې په مخامخ بدن باندې يې ټول زخمونه راغلي وو ) . (۱)

همدا واقعه په بخاري شريف کې هم ذکر ده. (۲)

# د شهادت په وخت شهيد ته دوه حُورې راتلل

۱ . حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې د نبي عليه السلام د وړاندې د شهيد ذِکر اوشو نو دوى اوفرمايل : زمکه د شهيد د وِينې نه نه وي اُوچه شوي چې د ده ته په ډيرې جَلتى سره دده دوه بيبيانې حُورې راشي ، دا دواړه ( په شفقت او مهربانى کې ) د هغه دوه شُوده ورکونکو اُوښو په شان وي چې د هغوى نه په خلاص ميدان ( دَشته ) کې خپل بچې ورک شوي وي ( او د خپلو بچو په شَوق کې بې قرارې وي ) .

وَفِيْ يَدِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا حُلَّةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا .

ددې هرې حُورې په لاس کې داسې جوړه وي چې هغه د دُنيا او مَافِيها نه ډيره بهتره وي . (۳)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : فَقَدْنَا جَعْفَرًا يَوْمَ مُؤْتَةَ ، فَوَجَدْنَا بَيْنَ طَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ بِضْعًا وَتِسْعِيْنَ ، وَجَدْنَا ذٰلِكَ فِيْمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ . سير اعلام النبلاء ج۱ ص ۲۱۰

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : أَمَّرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ مُؤْتَةَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ رضي الله عنه ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنْ قُتِلَ زَيْدٌ فَجَعْفَرٌ ، وَإِنْ قُتِلَ جَعْفَرٌ فَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ » قَالَ عَبْدُ اللهِ : كُنْتُ فِيْهِمْ فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ ، فَالْتَمَسْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِيْ طَالِبٍ ، فَوَجَدْنَاهُ فِي الْقَتْلٰى ، وَوَجَدْنَا مَا فِيْ جَسَدِهِ بِضْعًا وَتِسْعِيْنَ مِنْ طَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِيْ بَابُ غَزْوَةِ مُؤْتَةَ مِنْ أَرْضِ الشَّامِ رقم الحديث ۴۲۶۱ .

(۳) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ : ذُكِرَ الشُّهَدَاءُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : لَا تَجِفُّ الْأَرْضُ مِنْ دَمِ الشَّهِيْدِ حَتّٰى تَبْتَدِرَهُ زَوْجَتَاهُ كَأَنَّهُمَا ظِئْرَانِ أَضَلَّتَا فَصِيْلَيْهِمَا فِيْ بَرَاحٍ مِنَ الْأَرْضِ ، وَفِيْ يَدِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا حُلَّةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۲۲ . الجهاد لابن المبارک ج۱ ص ۳۷ رقم ۲۰ ، مسند احمد رقم الحديث ۹۵۲۰ ، سنن ابن ماجة باب فضل الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ۲۷۹۸ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۳۷ ، مصنف عبدالرزاق رقم الحديث ۹۵۶۱ .

۲. امام بيهقي رحمه الله په خپل كتاب " البعث والنشور " كې دا روايت ذكر كړى چې ( يزيد بن شَجَره يو ځل خلقو ته اُوږد تقرير اوكړو ، او په تقرير كې يې دا هم اوفرمايل چې ) كله په تاسو كې د چا د وِينې اول څاڅكې اوغورځيږي نو الله تعالى په دې سره دده گناهونه داسې خمتوي لكه څنگه چې د څانگې نه پاڼې ذُوريږي.

وَتَبْتَدِرُهُ اثْنَتَانِ مِنْ حُورِ الْعِيْنِ ، وَيَمْسَحَانِ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُوْلَانِ : فِدَا نَا لَكَ . وَيَقُوْلُ : أَنَا لَكُمَا.

او ده ته په جَلتي سره دوه حُورِ عِين راشي ، دده د مخ نه خاورې صفا كوي ، او دا ورته وايي چې مونږ په تا قربان يو ( اوس ستا راتلل رانزدې شوي ) ، دا زخمي هم ورته وايي چې زه ستاسو د پاره يم .

بيا ده ته داسې سل (۱۰۰) جوړې وَر واغوستلې شي چې كه هغه ټولې د لاس د دوه گوتو په مينځ كې كيښودې شي نو په كې رابه شي ، دا جامې به انسانانو نه وي جوړې كړي بلكه دا به جنّتي جامې وي... (۱)

## زخمي مجاهد ته په خُله كې حُورې اُوبه واچولى

شيخ الحديث مولانا موسىٰ خان روحاني بازي رحمه الله په خپل كتاب " تَرغِيبُ المسلمين " كې يوه واقعه رانقل كړى :

(۱) .... فَإِنَّ أَوَّلَ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِ أَحَدِكُمْ يَحُطُّ اللهُ بِهَا عَنْهُ خَطَايَاهُ كَمَا تَحُطُّ الْغُصْنُ مِنْ وَرَقِ الشَّجَرَةِ ، وَتَبْتَدِرُهُ اثْنَتَانِ مِنْ حُورِ الْعِيْنِ ، وَيَمْسَحَانِ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ وَيَقُوْلَانِ : فِدَا نَا لَكَ ، وَيَقُوْلُ : أَنَا لَكُمَا . فَيُكْسَى مِائَةُ حُلَّةٍ لَوْ وُضِعَتْ بَيْنَ أُصْبُعَيَّ هَاتَيْنِ لَوَسِعَتَاهُمَا ، لَيْسَتْ مِنْ نَسْجِ بَنِيْ آدَمَ ، وَلٰكِنَّهُمَا مِنْ ثِيَابِ الْجَنَّةِ ....
البعث والنشور للبيهقي ج۱ ص ۳۱۱ رقم الحديث ۵۶۲ بَابُ مَا جَاءَ فِي حَيَّاتِ جَهَنَّمَ وَعَقَارِبِهَا

وفي رواية : عَنْ يَزِيْدَ بْنِ شَجَرَةَ ﷺ ، قَالَ : اَلسُّيُوْفُ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ ، فَإِذَا تَقَدَّمَ الرَّجُلُ إِلَى الْعَدُوِّ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ : اَللّٰهُمَّ انْصُرْهُ ، وَإِنْ تَأَخَّرَ قَالَتِ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ ، فَأَوَّلُ قَطْرَةٍ تَقْطُرُ مِنْ دَمِ السَّيْفِ يُغْفَرُ لَهُ بِهَا كُلُّ ذَنْبٍ ، وَيَنْزِلُ عَلَيْهِ حَوْرَاوَانِ تَمْسَحَانِ الْغُبَارَ عَنْ وَجْهِهِ وَتَقُوْلَانِ : قَدْ آنَ لَكَ . وَيَقُوْلُ لَهُمَا : وَإِنْكُمَا قَدْ آنَ لَكُمَا .
مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۵۱

یو بزرگ فرمایي : چې یو ځل د مونږ سره په رُو کې یو نېک سړي په سفر کې ملګري وُ، مونږ یوولس (۱۱) ورځې سفر اوکړو ، په دې یوولس ورځو کې ده نه څه خوراک کړی، او نه یې اُوبه څکلي.

آخر ما ورنه پوښتنه اوکړه : دا څه وجه ده چې تا په دې یوولس ورځو کې نه څه اُوخوړل او نه دې څه اُوڅکل ؟ راته وې ویل چې کله سفر ختم شي او جدا کیږو نو بیا به درته ددې وجه بیان کړم.

کله چې د جدایۍ وخت رانژدې شو نو دې نېک کس ماته خپله واقعه بیان کړه چې : یو ځل مونږ څلورسوه (۴۰۰) مجاهدین د جهاد د پاره اُووتو ، د کفارو سره مو سخته مقابله اوکړه ، (ډیر کافران مردار شو ، چونکه کافران ډیر زیات وو) زما ملګري شهیدان شو ، خو زه زَخمي ووم او د شهیدانو سره یو ځای پروت ووم ، زما سترګې پټې وی ، د نمر ډوبیدو په وخت ما د پورته آسمان د طرفه ډیره ښائسته او مزیداره خوشبوئي محسوس کړه ، ما چې سترګې را اُوغړولی نو داسې ښائسته جینکۍ یعنی حُورې مې اُولیدی چې ددې نه مخکې ما داسې ښائسته جینکۍ چیرته نه وې لیدلی ، د دوی سره په لاسونو کې د اُوبو ډک ګلاسونه وو ، او د شهیدانو په خُله کې یې اُوبه اَچولی ، ما هم خپلې سترګې پټې کړی ، کله چې دا حورې ماته رااُورسیدی نو په دې کې دې یوې حُورې وویل :

أُصْبُبْنَ فِيْ حَلْقِ هٰذَا وَ عَجِّلْنَ قَبْلَ اَنْ تُغْلَقَ اَبْوَابُ السَّمَآءِ . فَنَبْقِىَ فِي الْأَرْضِ .

ددې کس په خُله کې اُوبه واچوئ ، او جَلتي (تَادي) اوکړئ هسې نه چې د آسمان دَروازې بندې شي او مونږ په زمکه کې پاتې شو .

دې بلې حُورې ورته وویل : أَأُسْقِيْهِ وَفِيْهِ رَمَقٌ ؟

آیا زه په ده باندې اُوبه اُوڅکم حالانکه په ده کې خو رُوح شته ؟

هغې بلې حُورې ورته وویل : اِسْقِيْهِ . لَابَأْسَ عَلَيْكِ يَا أُخْتِيْ .

زما خورې ! په ده باندې اُوبه اُوڅکه ، په تا باندې هیڅ حرَج (ملامتیا) نشته .

نو دې حُورې زما په خُله کې هم دا اُوبه واچولی .

دې نیک کس د خپل سفر دې ملګري ته وویل :

فَأَنَا مُنْذُ شَرِبْتُ ذٰلِكَ الشَّرَابَ لَا أَحْتَاجُ إِلَى طَعَامٍ وَشَرَابٍ .

د كله نه چې ما هغه اُوبه څښلې دي د هاغه وخت نه را په دېخوا ماته نه د خوراک ضرورت شته ، او نه د څښاک . (۱)

دا واقعه علامه عبدالله يافعي رحمه الله په خپل كتاب " روضُ الرّياحين " كې ، او نورو علماؤ هم نقل كړې . (۲)

## زخمي مجاهد په لاس باندې د حُورې د لاس نخه

علامه ابن نحاس رحمه الله په " مشارعُ الأشواق " كې ذكر كړي چې ماته يو مُعتمد ملګري دا واقعه بيان كړې چې مونږ په اسكندريه كې په جهاد كې مصروف وو ، نو مونږ ته د مغرب د طرفه يو مجاهد راغې او په جهاد كې راسره شريک شو چې هغه به هميشه خپل يو لاس پټولو ، هيڅاته به يې نه ښكاره كولو ، بعضې وخت به ددغه لاس د ګوتو سرونه ښكاره شو خو نور لاس به يې پټ كړې وُ .

مونږ به د هغه سره خوراک ، څښاک كولو ، آخِر زمونږ په زړه كې څه شک پيدا شو " چې كيدې شي دده په لاس كې څه مُتعدّي بيماري وي ځكه يې مونږ ته نه ښكاره كوي " مونږ به هميشه ددې د ليدلو كوشش كولو .

---

(۱) ترغيب المسلمين في الرزق الحلال و طعمة الصالحين ص ۱۴۵ .

(۲) عن بعضهم . قال كنتُ في بلادِ الرّوم فَصَحِبَنَا رجلٌ فرأيناه لا يأكلُ و لا يشربُ . فقلتُ له : ما رأيتك تأكلُ شيئًا مّن القوتِ منذ أحدَ عشرَ يومًا . فقال : إذا دَنَا فراقي منكم حدّثتُكم . فلمّا دَنَا الفِراقُ قلتُ له : حَدِّثْنَا ما وَعَدْتَنَا . قال : غزونَا في أربع مائة . فخرج علينا العدوّ . فقتل أصحابي وجرحتُ أنَا . فكنتُ بين القتلى . فلمّا كان وقتُ الغروبِ أحسستُ برائحةٍ فائحةٍ من قِبَلِ الجوّ فَفَتَحْتُ عَيني فإذا بِجَوَارٍ عليهن ثيابٌ ما رأيتُ مثلها . وفي أيديهن كأساتٌ يصببن في أفواهِ القتلى . فغمضتُ عَيني حتّى وَصَلْنَ إليّ . فقالتْ واحدةٌ منهن : أصببْنَ في حلقِ هذا . وعجّلْنَ قبلَ أن تغلقَ أبوابُ السماء فَتَبْقَيْنَ في الأرض . فقالت أخرى : أأَسْقِيْهِ وفيه رمقٌ ؟ فقالت لها الأخرى : لا بأس عليكِ يا أختي . فصبتْ في حلقي . فأنا منذ شربتُ ذلك الشراب لاأحتاجُ إلى طعامٍ و لا شرابٍ . روض الرياحين في حكايات الصالحين ص ۳۶۱ ، مشارع الاشواق ج۱ ص ۵۱۵ الباب الثاني والعشرون في فضل الجرح في سبيل الله تعالى و ذكر بعض الجرحى .

يوه ورځ ناڅاپه دده لاس ښکاره شو ، مونږ اُوليد چې دده په لاس باندې د ګوتو سپينې نَخې وې ( د شُودو په شان ښائسته سپين والې وُ ) ، مونږ دا ګمان اوکړو چې دا به په دده باندې د برګي مرَض وي.

کله چې د خوراک وخت راغې نو مونږ دده سره د خوراک کولو نه اِنکار اوکړو ، دده سره چې کوم ملګري وُ هغه مونږ ته وويل : تاسو ولې دده سره خوراک نه کوئ ؟ مونږ ورته وويل چې دده په لاس کې مُتعدّي بيماري ده. هغه راته وويل :

دده سره يو ځاى خوراک کوئ ، مه ويريږئ ، دا د برګي بيماري نده ، کله چې د تاسو سره دا کس ځانله شي نو ددې په باره کې ورنه پوښتنه اوکړئ دا به درته پوره واقعه او ددې سپين والي سبب بيان کړي.

مونږ دده سره خوراک شروع کړو ... يو وخت مونږ ځانله ددې کس نه پوښتنه اوکړه چې ستا ددې لاس د سپين والي سبب څه شى دى ؟ هغه اول اِنکار اوکړو خو چې کله مونږ ډير اِصرار اوکړو او قسَم مو ورکړو نو هغه خپله واقعه داسې بيان کړه چې :

زه د مغرب اُوسيدونکې يم ، د مونږ سره نزدې فرَنګيان اُوسيږي ، مونږ هميشه د هغوى سره جهاد کوو ، کله مونږ وربانديې حمله اوکړو او کله هغوى رابانديې حمله اوکړي، يو ځل مونږ شل (۲۰) کسان په دُښمن بانديې حملې کولو د پاره اُووتو ، د هغوى ښار ته وَرروان شو ، زمونږ عادت دا وُ چې د شپې به مو سفر کولو او ورځې به په يو غار کې پټيدو ، کله چې مونږ نمياشې لارې ته اُورسيدو نو په مونږ بانديې ورځ راغله ، مونږ په غره کې يو غار ته وَرروان شو ، کله چې هغې ته داخل شو نو په هغې کې مو کشار محسوس کړو ، ناڅاپه يو عجمي کافر بهر رااُووت ، هغه مونږ اُوليدو نو واپس لاړ ، لږ وخت پس سل (۱۰۰) عجمي کافران رااُووتل.

دا کافران د خپلو ښارونو نه ددې د پاره راروان شوي وو چې زمونږ په ښار حمله اوکړي ، دوى به هم د شپې مزل کولو او د ورځې به په يو غار کې پټيدل ، په دوى بانديې هم ورځ راغلې وه او په دې غار کې پټ شوي وو ، کله چې زمونږ سترګې د يو بل سره مخامخ شوې نو سمدستي مو په يو بل حمله اوکړه ، ځکه زمونږ او د دوى په مينځ کې دا طريقه مخکې نه راروانه وه چې موقع پيدا کړو نو په يو بل سختې حملې کوو ، پس مونږ د دوى

سره سخت جنګ اوکړو ، تر دې چې زمونږ يوولس (۱۱) ملګري شهيدان شو او د دوی پنځه څلويښت (۴۵) کافران مردار شو ، بيا هغوی په مونږ باندې په يو ځل سخته حمله اوکړه نو زما نه علاوه دا نور باقي ملګري هم شهيدان شو ، زه سخت زخمي شوم ، د شهيدانو په مينځ کې پروت ووم (هغوی دا ګمان اوکړو چې ګني تول مړه شو) ، په دې وخت کې ناڅاپه د آسمان نه داسې ښائسته ښځې (حُورې) راښکته شوی چې د دې په شان ښائسته ښځې ما په خپل ژوند کې نه وې ليدلی ، په دې کې به هره يوه ښځه يو شهيد ته ورتلله او ويل به يې : هٰذَا نَصِيْبِيْ. دا زما په حصه (قِسمَت) کې دی.

دې ښځې به د شهيد لاس اُونيو ، شهيد به راپاڅيد او ورسره به لاړو .

تر دې چې يوه ښځه (حُوره) ماته راغله او وې ويل :

هٰذَا نَصِيْبِيْ. دا زما په حصه کې دی.

دې زما لاس اُونيو ، کله يې چې محسوسه کړه چې په ما کې رُوح دی نو د غصې په انداز کې يې زما لاس پريخود ، او وې ويل : وَ اَنْتَ اِلَى السَّاعَةِ. ته لا تر اُوسه ژوندې يې.

نو هغه حُوره لاړه ، او زه يې پريخودم .

فَکَشَفَ لَنَا عَنْ سَاعِدِهٖ فَاِذَا اَثَر قبضتها و اصابعها الخمس اَبْيَض شديد البياض مثل لبن الحَلِيْبِ.

پس دې مجاهد مونږ ته خپل مَروَند راښکاره کړو نو دده په مروَند باندې د لاس د پنځو ګتو داسې ښائسته نخې وې چې د شودو په شان ځليدی . (۱)

## د شهادت نه مخکې په خوب کې د حُورو ''مرحبا'' ويل

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې :

ابو اِدريس رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د مدينې منوّرې نه يو کس مونږ ته راغی د هغه نوم زياد وُ ، مونږ په رُوم کې په صِقِلّيه مقام کې په جهاد کې مصروف وو ، هلته مونږ يو ښار محاصره کړو ، مونږ درې (۳) ملګري وو : يو زه ووم ، دويم زياد وُ ، او او دريم راسره

(۱) مشارع الاشواق الی مصارع العشاق ج۲ ص ۶۸۸ .

د مديني منوّري يو بل كس وُ .

مونږ دا ښار يوه ورځ محاصره كړې وُ ، پس مونږ يو ملګري اُوليږل چې خوراک راله راوړي ، ناڅاپه د مَنجنِيق نه راويشتل شوې يو كاڼړې راغی او د زياد سره نږدې اُوغورځيد ، د هغه كاڼړې يوه ټوټه راغله او د زياد زَنګون ورباندې اُولږيد ( سخت زخمي شو ) چې په دې سره ورباندې بې هوشي راغله ، ما هغه رااُوچت كړو ، زما هغه بل ملګرې هم راغی ، هغه ته مې آواز اوكړو ، مونږ دواړو زياد يو محفوظ ځای ته منتقل كړو چې د منجنيق په بل ګوزار او نه لږې ، د ورځې اكثره حصه مونږ اِنتظار اوكړو خو زياد هيڅ حركت نه كولو ( هماغه شان بې هُوشه وُ ) .

ناڅاپه يې داسې اُوخندل چې نواجد غاښونه يې هم ښكاره شو ، بيا چپ شو ، بيا يې داسې اُوژړل چې اُوښكې يې را اُوبهيدی ، بيا چپ شو ، بيا يې په دويم ځل اُوخندل ، بيا څه وخت همداسې وُ چې فورًا په هوش كې راغی ، راكيناست ، او وې ويل :

مَالِيْ هَاهُنَا؟ زه دلته ولې موجود يم ؟

مونږ ورته وويل : أَمَا عَلِمْتَ مَا أَمْرُكَ؟ آيا ته په خپله واقعه پوهه نه شوی ؟

هغه وويل : نه . مونږ ورته وويل : آيا تا ته د منجنيق كاڼړې ياد دی چې د تاسره په څنګ كې لږيدلې وُ ؟ هغه وويل : آو . مونږ ورته وويل : ته په هغه كاڼړې باندې لږيدلې وی او بې هُوشي درباندې راغلې وه ، خو مونږ ( اوس ) اُوليدل چې تا عجيبه عجيبه حركتونه اوكړل ( دا ولې ؟ ) . هغه وويل : زه به تاسو ته ددې په باره كې خبر دركړم :

هغه دا چې په دې بې هُوشي كې زه په خُوب كې داسې يوې كمرې ته بوتلې شوم چې د ياقوتو او زَبرجدو نه جوړه شوې وه ، بيا زه داسې بهترين قالين له بوتلې شوم چې د وريښمو او قيمتي تارونو نه جوړه شوې وه ، په دې باندې په ترتيب سره تَكيه ګانې ايخودلې شوې وی ، كله چې زه په دې قالين باندې كيناستم نو ما د خې طرف نه د زيوراتو شرَنګار واوريد .

د ډير ښائسته شكل ، ښائسته جامو او ښائسته زيوراتو واله يوه ښځه را اُووته ( چې د حُسن يې هيڅ اِنتهاء نه وه ) ، دې قالين ته راغله ، كله چې ماته رامخامخ شوه نو ماته يې

" مرحبا اهلًا و سهلًا " وويل ، او دايې راته وويل :

ستا د پاره مرحبا ده اې مُشقت برداشت کوونکيه ، ( بې وَفاء ) ته خو د الله ﷻ نه زمونږ د غوښتلو هيڅ سوال نه کوی ، مونږ خو ستا د فلانۍ بي بي په شان نه يو .

کله چې دې ښځې دا خبره اوکړه نو زه په خَندا شوم ، دا راغله زما خي طرف کيناسته ، ما ورنه پوښتنه اوکړه : مَنْ أَنْتِ ؟ ته څوک يې ؟

هغې وويل : أَنَا خَوْدُ زَوْجَتُكَ .

زه ستا بي بي " خَود " يم . (۱)

کله چې ما هغې ته لاس وَر وړاندې کړو نو راته وې ويل :

عَلٰى رِسْلِكَ . إِنَّكَ سَتَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ .

لږ صبر اوکړه ، بيشکه ته به ډير زر مونږ ته د ماسپخين په وخت راشی .

دې خبرې آوريدو سره زه په ژړا شوم . ( چې ماسپخين ته خو ډير وخت دی ) .

کله چې دا ښځه د خپلو خبرو نه فارغه شوه نو ما د چَپ ( ګس ) طرف نه د زيوراتو شرَنګار واوريد ، ما چې اوکتل نو دا هم د هماغه مخکينۍ ښځې په شان بهترينه ښائسته ښځه وه ، دې هم ماته د همغې په شان مرحبا اهلاً و سهلاً وويل ، او هماغه شان خبره دې هم راته اوکړه ، نو زه په خندا شوم ، دا زما ګس طرف کيناسته ، کله چې ما ديته لاس وَر وړاندې کول اُوغوښتل نو دې هم راته وويل :

عَلٰى رِسْلِكَ . إِنَّكَ تَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ .

لږ صبر اوکړه ، ته به يقيني مونږ ته د ماسپخين په وخت راځی .

نو زه په ژړا شوم .

ابو اِدريسؒ وايي : دا زياد د مونږ سره ناست وُ ، همدا خبرې يې کولی ( سخت زخمي وُ )

فَلَمَّا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ مَالَ . فَمَاتَ .

---

(۱) " خَود " ښائسته او ځوانې ښځې ته وايي . اَلْخَوْد : بفتح الخاء المعجمة وإسكان الواو وبالدال المهملة وهي المرأة الحسناء الناعمة . ترتيب القاموس ۲ / ۱۲۳ . مشارع الاشواق ج۲ ص ۷۷۰ .

کله چې مؤذِن آذان اوکړو نو په دې وخت کې زياد رااوغورځيد او وفات شو. (۱)

## د شهادت نه مخکې روژه دار مُجاهد ته په خوب کې د حُورې وينا چې: " نن د مونږ سره روژه ماتې اوکړه "

( **نوټ** : دا واقعه د همدې کتاب په دويمه موضوع " د جهاد فضائل، فوائد او حِکمتونه " کې په صفحه ۱۴۳ کې تېره شوې، هلته يې اوګوره. ابوالشمس علي عنه ) .

## په شهيد باندې فرښتې سيورې کوي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی: حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي: کله چې زما پلار ( په غزوه أحد کې شهيد شو او ) نبي عليه السلام ته راوړې شو، دده

(۱) قَالَ أَبُوْ إِدْرِيسَ رَحِمَهُ اللهُ : قَدِمَ عَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ يُقَالُ لَهُ زِيَادٌ قَالَ: فَغَزَوْنَا صِقِلِّيَةَ مِنْ أَرْضِ الرُّوْمِ، فَحَاصَرْنَا مَدِينَةً قَالَ: وَكُنَّا ثَلَاثَةً مُتَرَافِقِيْنَ : أَنَا، وَزِيَادٌ، وَرَجُلٌ آخَرُ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ . قَالَ: فَإِنَّا لَمُحَاصِرُوْنَ يَوْمًا، وَقَدْ وَجَّهْنَا أَحَدَنَا الثَّالِثَ؛ لِيَأْتِيَنَا بِطَعَامٍ، إِذْ أَقْبَلَتْ مَنْجَنِيقَةٌ، فَوَقَعَتْ قَرِيبًا مِنْ زِيَادٍ. فَشَظِيَتْ مِنْهَا شَظِيَّةٌ، فَأَصَابَتْ رُكْبَةَ زِيَادٍ . فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، فَاجْتَرَرْتُهُ، وَأَقْبَلَ صَاحِبِيْ، فَنَادَيْتُهُ، فَجَاءَنِيْ فَبَرَزْنَا بِهِ حَيْثُ لَا يَنَالُهُ الْقَتْلُ وَالْمَنْجَنِيقُ . فَمَكَثْنَا طَوِيلًا مِنْ صَدْرِ نَهَارِنَا لَا يَتَحَرَّكُ مِنْهُ شَيْءٌ، ثُمَّ أَفْتَرَ ضَاحِكًا حَتَّى تَبَيَّنَتْ نَوَاجِذُهُ، ثُمَّ خَمَدَ . ثُمَّ بَكَى حَتَّى سَالَتْ دُمُوْعُهُ، ثُمَّ خَمَدَ، ثُمَّ ضَحِكَ مَرَّةً أُخْرٰى، ثُمَّ مَكَثَ سَاعَةً. فَأَفَاقَ. فَاسْتَوٰى جَالِسًا. فَقَالَ: مَا لِيْ هَاهُنَا؟ فَقُلْنَا: أَمَا عَلِمْتَ مَا أَمْرُكَ؟ قَالَ: لَا. قَالَ: أَمَا تَذْكُرُ الْمَنْجَنِيقَ حِيْنَ وَقَعَ إِلَى جَنْبِكَ؟ قَالَ: بَلٰى. فَقُلْنَا: فَإِنَّهُ أَصَابَكَ مِنْهَا شَيْءٌ، فَأُغْمِيَ عَلَيْكَ، وَرَأَيْنَاكَ صَنَعْتَ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: نَعَمْ، أُخْبِرُكُمْ أَنَّهُ أُفْضِيَ بِيْ إِلَى غُرْفَةٍ مِنْ يَاقُوْتَةٍ أَوْ زَبَرْجَدَةٍ، وَأُفْضِيَ بِيْ إِلَى فُرُشٍ مَوْضُوْنَةٍ بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، فَبَيْنَ يَدَيْ ذٰلِكَ سِمَاطَانِ مِنْ نَمَارِقَ . فَلَمَّا اسْتَوَيْتُ قَاعِدًا عَلَى الْفِرَاشِ، سَمِعْتُ صَلْصَلَةَ حُلِيٍّ عَنْ يَمِيْنِيْ، فَخَرَجَتِ امْرَأَةٌ، فَلَا أَدْرِيْ أَهِيَ أَحْسَنُ، أَوْ ثِيَابُهَا، أَوْ حُلِيُّهَا؟ فَأَخَذَتْ إِلَى طَرَفِ السِّمَاطِ . فَلَمَّا اسْتَقْبَلَتْنِيْ، رَحَّبَتْ، وَسَهَّلَتْ، وَقَالَتْ: مَرْحَبًا بِالْجَافِي الَّذِيْ لَمْ يَكُنْ يَسْأَلُنَا اللهَ عَزَّ وَجَلَّ، وَلَسْنَا كَفُلَانَةَ امْرَأَتِهِ . فَلَمَّا ذَكَرَتْهَا بِمَا ذَكَرَتْهَا بِهِ ضَحِكْتُ، وَأَقْبَلَتْ حَتّٰى جَلَسَتْ عَنْ يَمِيْنِيْ، فَقُلْتُ: مَنْ أَنْتِ؟ قَالَتْ: أَنَا خَوْدٌ زَوْجَتُكَ. فَلَمَّا مَدَدْتُ يَدَيَّ، قَالَتْ: عَلَى رِسْلِكَ، إِنَّكَ سَتَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ . فَبَكَيْتُ، فَحِيْنَ فَرَغْتُ مِنْ كَلَامِهَا، سَمِعْتُ صَلْصَلَةً عَنْ يَسَارِيْ، فَإِذَا أَنَا بِامْرَأَةٍ مِثْلِهَا فَوَصَفَ نَحْوَ ذٰلِكَ فَصَنَعَتْ كَمَا صَنَعَتْ صَاحِبَتُهَا، فَضَحِكْتُ حِيْنَ ذَكَرَتِ الْمَرْأَةَ، وَقَعَدَتْ عَنْ يَسَارِيْ، فَمَدَدْتُ يَدَيَّ، فَقَالَتْ: عَلَى رِسْلِكَ، إِنَّكَ تَأْتِيْنَا عِنْدَ الظُّهْرِ . فَبَكَيْتُ. قَالَ: فَكَانَ قَاعِدًا مَعَنَا يُحَدِّثُنَا، فَلَمَّا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ مَالَ، فَمَاتَ . الجهاد لابن المبارك ج ۱ ص ۱۱۸ رقم ۱۴۵ .

مُثله کړې شوې وه ( يعنى کافرانو ورنه د وجود اندامونه غوڅ کړي وو ) ، دا د نبي عليه السلام مخې ته کېښودې شو ، ( په مخ باندې يې څادر پروت ؤ ) زه ورغلم چې د مخ نه يې څادر پورته کړم ، زما قوم (صحابه کرامو) زه منع کړم ، په دې وخت کې نبي عليه السلام د وير کوونکې ښځې ژړا واوريده ، ( نبي عليه السلام پوښتنه اوکړه چې دا څوک ده ؟ ) ورته وويلې شو چې دا د عَمرو لور يا د عَمرو خورده . پيغمبر عليه السلام اوفرمايل :

لِمَ تَبْكِيْ أَوْلَا تَبْكِيْ مَازَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا .

ته ولې ژاړې ؟ ( يا : مه ژاړه ) ، فرښتو په خپلو وزرو سره په دې شهيد باندې سيورې کړې دی . (۱)

## شهيد به د عذابِ قبر نه محفوظ وي

۱ . د ترمذي شريف او مشکوة شريف په حديث کې د شهيد د پاره شپږ خصلتونه ذکر شوي ، په هغې کې يو دا هم دی .... وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ....

دا ته به د عذابِ قبر نه پناه ( امان ) ورکړې شي . (۲)

---

(۱) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، يَقُوْلُ : جِيءَ بِأَبِيْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ مُثِّلَ بِهِ ، وَوُضِعَ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَذَهَبْتُ أَكْشِفُ عَنْ وَجْهِهِ ، فَنَهَانِيْ قَوْمِيْ فَسَمِعَ صَوْتَ صَائِحَةٍ ، فَقِيْلَ : اِبْنَةُ عَمْرٍو ـ أَوْ أُخْتُ عَمْرٍو ـ فَقَالَ : « لِمَ تَبْكِيْ أَوْ لَا تَبْكِيْ مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ ظِلِّ الْمَلَائِكَةِ عَلَى الشَّهِيدِ رقم الحديث ۲۸۱۶ .

وفي رواية : عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا قُتِلَ أَبِيْ جَعَلْتُ أَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَجْهِهِ أَبْكِيْ ، وَيَنْهَوْنِيْ عَنْهُ ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْهَانِيْ ، فَجَعَلَتْ عَمَّتِيْ فَاطِمَةُ تَبْكِيْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « تَبْكِيْنَ أَوْ لَا تَبْكِيْنَ مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوْهُ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ الدُّخُولِ عَلَى الْمَيِّتِ بَعْدَ الْمَوْتِ إِذَا أُدْرِجَ فِي أَكْفَانِهِ رقم الحديث ۱۲۴۴ ، و رقم الحديث ۴۰۸۰ كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ مَنْ قُتِلَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَ أُحُدٍ . صحيح مسلم رقم الحديث ۱۳۰ ( ۲۴۷۱ ) كتاب فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ بَابُ مِنْ فَضَائِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَرَامٍ وَالِدِ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابٌ فِي ثَوَابِ الشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۶۶۳ ، وقال الترمذي: هذا حديث صحيح غريب ، وقال الالباني : هذا حديث صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۴(۲۷) .

۲. همدارنګې د جهاد په پهره کې وفات کيدونکي کس په باره کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا مَاتَ شَهِيْدًا، وَوُقِيَ فَتَّانَ الْقَبْرِ....(۱)

څوک چې د اسلامي سرحداتو په حفاظت (پهره کولو) کې وفات شي نو دا شهيد وفات شو (يعنی ده د شهادت مرتبه حاصله کړه، دا به د قبر د فِتنې (امتحان او عذاب) نه محفوظ وي.

نو چې کله په پهره کې وفات کيدونکې کس د عذابِ قبر نه محفوظ وي نو د شهيد مرتبه خو ډيره اُوچته ده، دا خو به په طريقِ اولی سره د عذابِ قبر نه محفوظ وي.

## ځمکه د شهيد جسَد نه خرابوي

د شهيد په باره کې خو په قرآن کريم کې صراحةً ذکر دي چې دا په حقيقت کې ژوندي دي (۲)، دغه وجه ده چې ځمکه د شهيد جِسم (جسَد) نه خُوري.(۳)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په "تفسير بيان القرآن" کې ليکلي چې د شهيد برزخي ژوند د نورو په نسبت دومره قوي وي چې اثر يې په ظاهري بدن باندې هم ښکاره وي: لکه په بدن باندې يې خاوره اثر نه کوي او د ژوندي په شان روغ رَمټ وي، لکه دا مضمون په احاديثو کې راغلې دی. او په عامه توګه ليدلي شوي هم دي (چې ډيره موده پس هم د شهيدانو وجود سالِم وي)، هم په دې وجه شهيدان ژوندي اوبللې شو، او دوی لره د نورو عامو مړو په شان ګڼلو نه منع راغله.(۴)

(۱) مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الرِّبَاطِ رقم الحديث ۹٦۲۲؛ مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳٦۰، كنز العمال كتاب الجهاد الباب الخامس: الفصل الثاني: في الشهادة الحكمية رقم الحديث ۱۱۱۹۳، ورقم الحديث ۱۱۲۲۳.

(۲) ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ﴾. البقرة آية ۱۵۴.

(۳) ... وَقِيلَ: لِأَنَّ الشَّهِيدَ لَا يَبْلَى فِي الْقَبْرِ وَلَا تَأْكُلُهُ الْأَرْضُ. الجامع لاحكام القرآن (تفسير القرطبي) ج۴ ص ۲۷۰ سورة آل عمران في تفسير آية ۱٦۹.

(۴) تفسير بيان القرآن البقرة في تفسير آية ۱۵۴، معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله البقرة في تفسير آية ۱۵۴.

تهانوي صاحبؒ دا هم ليکلي چې که چيرته د کوم شهيد جسَد زمکه اُوخوري نو کيدې شي چې دده نيت خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره نه وُ ، يا کيدې شي په دې زمکه کې د خاورې نه علاوه نور اَجزاء ګډ شوي وي نو هغې به دده جسَد خراب کړې وي ، يا دا مطلب چې نور مړي زمکه ډير زَر خرابوي او شهيدان ډير وخت محفوظ وي . (۱)

بهر حال ، په خپله زمکه د شهيد جسم نه خرابوي بلکه دا هماغه شان سالِم پروت وي ، او ددې په باره کې په احاديثو کې صحيح واقعات هم ذکر دي چې کوم صحابه کرام يا تابعين يا نور مسلمانان په جهاد کې شهيدان شوي ، نو سوُونو کلونه پس دوی هماغه شان په قبرونو کې تازه پراته وو .

د عبرت د پاره درته يو څو واقعات ذکر کوم :

## شپږ څلويښت (۴۶) کاله پس حضرت عَمرو بن جَموح ﷛ او عبدالله انصاري ﷛ په قبرونو کې هماغه شان صحيح سالِم پراته وو

په موطاء امام مالک او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده ( خلاصه يې درته بيانوم ) : حضرت عَمرو بن جَموح ﷛ او حضرت عبدالله انصاري ﷛ دواړه په جنګِ اُحد کې شهيدان شوي وو ، نبي عليه السلام دواړه په يو قبر کې دفن کړل .

د حضرت معاوية رضي الله عنه په زمانه کې يو لوي سېلاب راغی ، د دوی د قبر څه حصه يې ورانه کړه ، خلقو د دوی قبر را اُوسپړل ددې د پاره چې بل ځای کې يې دفن کړي :

فَوُجِدَا لَمْ يَتَغَيَّرَا كَأَنَّهُمَا مَاتَا بِالْأَمْسِ .

نو دوی اُوکتل چې د دواړو جسدونه هماغه شان روغ وو ، هيڅ تغير په کې نه وُ راغلی ، داسې معلوميدل ګويا چې پرون وفات شوي دي .

په دوی کې يو کس زخمي وُ ، لاس يې په خپل زخم باندې ايخې وُ او په همدې حالت کې دفن شوې وُ ، کله چې دده لاس د زخم نه راديخوا کړې شو او بيا يې پريخود نو واپس هماغه خپل ځای ته لاړ ( يعنی په زخم باندې يې واپس کيښود ) .

(۱) تفسير بيان القرآن سورة البقره في تفسير آية ۱۵۴ .

وَكَانَ بَيْنَ أُحُدٍ وَبَيْنَ يَوْمَ حُفِرَ عَنْهُمَا سِتٌّ وَأَرْبَعُوْنَ سَنَةً .

د غزوه أحد او ددې قبر راسپړلو په مينځ کې شپږ څلويښت (۴۶) کاله تېر شوي وو. (۱)

## ډېره زمانه پس د شهيد قبر کنستلو په وخت چې د شهيد خپه په ګوداله زخمي شوه نو تازه وينه ورنه روانه شوه

عبدالله بن مبارک رحمه الله په "كتابُ الجهاد" کې ، او عبدالرّزاق رحمه الله په خپل کتاب "مُصَنَّف" کې دا واقعه ذکر کړی :

کله چې حضرت معاويه ﷺ په أحد کې د کظامه نهر کِنستلو اِراده اوکړه نو خلقو ته يې دا اِعلان اوکړو چې د چا مړي دلته خَخ وي نو هغوی دې خپلو مړو له راشي کوم چې په أحد کې شهيدان شوي.

حضرت جابر ﷺ فرمايي : مونږ دا شهيدان راأوويستل، هماغه شان ترو تازه وو :

فَأَصَابَتِ الْمِسْحَاةُ أُصْبُعَ رَجُلٍ مِنْهُمْ فَانْفَطَرَتْ دَمًا .

د يو شهيد خپه په غلطۍ کې په ګوداله باندې أولږيده نو د هغې نه تازه وِينه روانه شوه (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ . أَنَّهُ بَلَغَهُ « أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْجَمُوْحِ وَعَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيَّيْنِ ثُمَّ السَّلَمِيَّيْنِ كَانَا قَدْ حَفَرَ السَّيْلُ قَبْرَهُمَا. وَكَانَ قَبْرُهُمَا مِمَّا يَلِي السَّيْلَ ، وَكَانَا فِيْ قَبْرٍ وَاحِدٍ ، وَهُمَا مِمَّنِ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ . فَحُفِرَ عَنْهُمَا لِيُغَيَّرَا مِنْ مَكَانِهِمَا ، فَوُجِدَا لَمْ يَتَغَيَّرَا كَأَنَّهُمَا مَاتَا بِالْأَمْسِ. وَكَانَ أَحَدُهُمَا قَدْ جُرِحَ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جُرْحِهِ . فَدُفِنَ وَهُوَ كَذٰلِكَ . فَأُمِيْطَتْ يَدُهُ عَنْ جُرْحِهِ ، ثُمَّ أُرْسِلَتْ فَرَجَعَتْ كَمَا كَانَتْ. وَكَانَ بَيْنَ أُحُدٍ وَبَيْنَ يَوْمَ حُفِرَ عَنْهُمَا سِتٌّ وَأَرْبَعُوْنَ سَنَةً » . موطا الإمام مالک ج۲ ص ۴۷۰ رقم ۴۹ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الدَّفْنِ فِيْ قَبْرٍ وَاحِدٍ مِنْ ضَرُوْرَةٍ ... طبع : دار إحياء التراث العربي، بيروت لبنان ، و رواه ابن سعد ۳ / ۵۶۲ ، و اورده ابن كثير في سيرته ۳/۷۶ ، و صاحب سير اعلام النبلاء ۱ / ۲۵۵ . تاريخ المدينة لابن شبة ج۱ ص ۱۲۷ ، جامع الاصول ۱۱ /۱۳۸ رقم ۸۶۳۶ ، خلاصة الوفاء باخبار المصطفى ۲ / ۴۱۰ الفصل السادس في فضل احد والشهداء به .

(۲) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : « لَمَّا أَرَادَ مُعَاوِيَةُ ﷺ أَنْ يُجْرِيَ الْكِظَامَةَ قَالَ : قِيْلَ مَنْ كَانَ لَهُ قَتِيْلٌ فَلْيَأْتِ قَتِيْلَهُ ، يَعْنِيْ قَتْلَى أُحُدٍ ، قَالَ : فَأَخْرَجْنَاهُمْ رِطَابًا يَتَثَنَّوْنَ ، قَالَ : فَأَصَابَتِ الْمِسْحَاةُ أُصْبُعَ رَجُلٍ مِنْهُمْ. فَانْفَطَرَتْ دَمًا » قَالَ أَبُوْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيُّ ﷺ : وَلَا يُنْكِرُ بَعْدَ هٰذَا مُنْكِرٌ أَبَدًا . الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۸۴ رقم ۹۸ . مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج۵ ص ۲۷۷ رقم ۹۶۰۲ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى الشَّهِيْدِ وَغُسْلِهِ .

په بعضې کتابونو کې ليکلي چې دا خپه په ګودالهٔ باندې د حضرت حمزه ﷺ زخمي شوه کوم چې په غزوهٔ أحد کې شهيد شوې وُ .

## د حضرت طلحة ﷺ بدن ډيره موده پس هماغه شان صحيح سالم وُ

په "مصنّف عبدالرّزاق" کې دا واقعه ذکر ده چې د حضرت طلحة بن عبيد الله ﷺ (د دفن کيدو نه ډير وخت پس دده) د کور کس ده لره په خُوب کې أوليد . حضرت طلحة ﷺ ورته اوفرمايل :

تاسو زه په داسې ځاى کې دفن کړې يم چې په دې ځاى کې ماته أوبه ضَرَر رارسوي ، تاسو ما ددې ځاى نه بل ځاى ته نقل کړئ .

راوي د حديث وايي چې کله دوى دده قبر راأوسپړل نو د هغه ځرمن هماغه شان تازه وه ، هيڅ تغير په کې نه وُ راغلى ، صرف د ګيرې يو څو ويښتان يې مُتغيّر شوي وو . (۱)

## د عبدالله بن تامر رَحِمَهُ اللَّهُ جسَد ډيره مُوده پس هماغه شان صحيح وُ

په قرآن کريم سورة البروج کې د أصحابُ الأخدود واقعه ذکر ده :

دا واقعه د نبي عليه السلام د زمانې نه آويا (۷۰) کاله مخکې واقع شوې وه ، د هغه زمانې کافر بادشاه هغه مؤمن هلک (عبدالله بن تامر رَحِمَهُ اللَّهُ) په غشي ويشتلو سره شهيد کړې وُ ، ددغې واقعې په آخر کې دا هم ذکر دي چې کله دا هلک د څه ضرورت په بِناء باندې د قبر نه را أويستلې شو نو بدن يې هماغه شان صحيح سالِم وُ ، د غشي لږيدو په ځاى باندې هغه خپل لاس ايخې وُ ، چا دده لاس د زَخم نه رالرې کړو نو د زخم نه تازه وِينه روانه شوه ، بيا واپس يې ورله په زخم خپل لاس کيښود نو وِينه يې بنده شوه . (۲)

---

(۱) عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ : رَأَى بَعْضُ أَهْلِ طَلحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ أَنَّهُ رَآهُ فِي المَنَامِ ، فَقَالَ : إِنَّكُمْ دَفَنْتُمُونِي فِي مَكَانٍ قَدْ آذَانِي فِيهِ المَاءُ ، فَحَوِّلُونِي مِنْهُ . قَالَ : فَحَوَّلُوهُ ، فَأَخْرَجُوهُ كَأَنَّهُ سَلقَةٌ لَمْ يَتَغَيَّرْ مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَعَرَاتٌ مِنْ لِحْيَتِهِ . مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج۵ ص ۲۷۷ رقم ۹۶۰۳ كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى الشَّهِيدِ وَغُسْلِهِ .

(۲) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة البروج .

دا واقعه پوره تفصيل سره په مسلم شريف او ترمذي شريف کې ذکر ده. (١)

(١) عَنْ صُهَيْبٍ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كَانَ مَلِكٌ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، وَكَانَ لَهُ سَاحِرٌ. فَلَمَّا كَبِرَ، قَالَ لِلْمَلِكِ: إِنِّيْ قَدْ كَبِرْتُ، فَابْعَثْ إِلَيَّ غُلَامًا أُعَلِّمْهُ السِّحْرَ. فَبَعَثَ إِلَيْهِ غُلَامًا يُعَلِّمُهُ. فَكَانَ فِيْ طَرِيْقِهِ، إِذَا سَلَكَ رَاهِبٌ فَقَعَدَ إِلَيْهِ وَسَمِعَ كَلَامَهُ. فَأَعْجَبَهُ فَكَانَ إِذَا أَتَى السَّاحِرَ مَرَّ بِالرَّاهِبِ وَقَعَدَ إِلَيْهِ. فَإِذَا أَتَى السَّاحِرَ ضَرَبَهُ. فَشَكَا ذٰلِكَ إِلَى الرَّاهِبِ. فَقَالَ: إِذَا خَشِيْتَ السَّاحِرَ، فَقُلْ: حَبَسَنِيْ أَهْلِيْ. وَإِذَا خَشِيْتَ أَهْلَكَ فَقُلْ: حَبَسَنِي السَّاحِرُ. فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ أَتَى عَلَى دَابَّةٍ عَظِيْمَةٍ قَدْ حَبَسَتِ النَّاسَ. فَقَالَ: اَلْيَوْمَ أَعْلَمُ آلسَّاحِرُ أَفْضَلُ أَمِ الرَّاهِبُ أَفْضَلُ؟ فَأَخَذَ حَجَرًا. فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَمْرُ الرَّاهِبِ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ أَمْرِ السَّاحِرِ فَاقْتُلْ هٰذِهِ الدَّابَّةَ، حَتّٰى يَمْضِيَ النَّاسُ. فَرَمَاهَا فَقَتَلَهَا، وَمَضَى النَّاسُ. فَأَتَى الرَّاهِبَ فَأَخْبَرَهُ. فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ: أَيْ بُنَيَّ أَنْتَ الْيَوْمَ أَفْضَلُ مِنِّيْ. قَدْ بَلَغَ مِنْ أَمْرِكَ مَا أَرٰى. وَإِنَّكَ سَتُبْتَلٰى. فَإِنِ ابْتُلِيْتَ فَلَا تَدُلَّ عَلَيَّ. وَكَانَ الْغُلَامُ يُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ، وَيُدَاوِي النَّاسَ مِنْ سَائِرِ الْأَدْوَاءِ. فَسَمِعَ جَلِيْسٌ لِلْمَلِكِ كَانَ قَدْ عَمِيَ. فَأَتَاهُ بِهَدَايَا كَثِيْرَةٍ. فَقَالَ: مَا هَاهُنَا لَكَ أَجْمَعُ، إِنْ أَنْتَ شَفَيْتَنِيْ. فَقَالَ: إِنِّيْ لَا أَشْفِيْ أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللهُ. فَإِنْ أَنْتَ آمَنْتَ بِاللهِ دَعَوْتُ اللهَ فَشَفَاكَ. فَآمَنَ بِاللهِ فَشَفَاهُ اللهُ. فَأَتَى الْمَلِكَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ كَمَا كَانَ يَجْلِسُ. فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَنْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ؟ قَالَ: رَبِّيْ. قَالَ: وَلَكَ رَبٌّ غَيْرِيْ؟ قَالَ: رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللهُ. فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتّٰى دَلَّ عَلَى الْغُلَامِ. فَجِيْءَ بِالْغُلَامِ. فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: أَيْ بُنَيَّ! قَدْ بَلَغَ مِنْ سِحْرِكَ مَا تُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ، وَتَفْعَلُ وَتَفْعَلُ. فَقَالَ: إِنِّيْ لَا أَشْفِيْ أَحَدًا، إِنَّمَا يَشْفِي اللهُ. فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتّٰى دَلَّ عَلَى الرَّاهِبِ. فَجِيْءَ بِالرَّاهِبِ. فَقِيْلَ لَهُ: اِرْجِعْ عَنْ دِيْنِكَ. فَأَبٰى. فَدَعَا بِالْمِئْشَارِ. فَوَضَعَ الْمِئْشَارَ فِيْ مَفْرِقِ رَأْسِهِ. فَشَقَّهُ حَتّٰى وَقَعَ شِقَّاهُ. ثُمَّ جِيْءَ بِجَلِيْسِ الْمَلِكِ فَقِيْلَ لَهُ: اِرْجِعْ عَنْ دِيْنِكَ. فَأَبٰى فَوَضَعَ الْمِئْشَارَ فِيْ مَفْرِقِ رَأْسِهِ. فَشَقَّهُ بِهِ حَتّٰى وَقَعَ شِقَّاهُ. ثُمَّ جِيْءَ بِالْغُلَامِ فَقِيْلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِيْنِكَ. فَأَبٰى فَدَفَعَهُ إِلٰى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ. فَقَالَ: اِذْهَبُوْا بِهِ إِلٰى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا. فَاصْعَدُوْا بِهِ الْجَبَلَ فَإِذَا بَلَغْتُمْ ذُرْوَتَهُ، فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِيْنِهِ وَإِلَّا فَاطْرَحُوْهُ. فَذَهَبُوْا بِهِ فَصَعِدُوْا بِهِ الْجَبَلَ. فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِمَا شِئْتَ. فَرَجَفَ بِهِمُ الْجَبَلُ فَسَقَطُوْا. وَجَاءَ يَمْشِيْ إِلَى الْمَلِكِ. فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ؟ قَالَ: كَفَانِيْهِمُ اللهُ. فَدَفَعَهُ إِلٰى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ. فَقَالَ: اِذْهَبُوْا بِهِ فَاحْمِلُوْهُ فِيْ قُرْقُوْرٍ. فَتَوَسَّطُوْا بِهِ الْبَحْرَ. فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِيْنِهِ وَإِلَّا فَاقْذِفُوْهُ. فَذَهَبُوْا بِهِ. فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِمَا شِئْتَ. فَانْكَفَأَتْ بِهِمُ السَّفِيْنَةُ فَغَرِقُوْا، وَجَاءَ يَمْشِيْ إِلَى الْمَلِكِ. فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ؟ قَالَ: كَفَانِيْهِمُ اللهُ. فَقَالَ لِلْمَلِكِ: إِنَّكَ لَسْتَ بِقَاتِلِيْ حَتّٰى تَفْعَلَ مَا آمُرُكَ بِهِ. قَالَ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: تَجْمَعُ النَّاسَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ، وَتَصْلُبُنِيْ عَلٰى جِذْعٍ، ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِيْ، ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِيْ كَبِدِ الْقَوْسِ، ثُمَّ قُلْ: بِاسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ، ثُمَّ ارْمِنِيْ. فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ قَتَلْتَنِيْ. فَجَمَعَ النَّاسَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ، وَصَلَبَهُ عَلٰى جِذْعٍ، ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ، ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِيْ كَبِدِ الْقَوْسِ، ثُمَّ قَالَ: بِاسْمِ اللهِ، رَبِّ الْغُلَامِ، ثُمَّ رَمَاهُ فَوَقَعَ السَّهْمُ فِيْ صُدْغِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ فِيْ صُدْغِهِ فِيْ مَوْضِعِ السَّهْمِ فَمَاتَ. فَقَالَ النَّاسُ: آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ، آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ، آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ. فَأُتِيَ الْمَلِكُ فَقِيْلَ لَهُ: أَرَأَيْتَ مَا كُنْتَ تَحْذَرُ؟ قَدْ وَاللهِ نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ. قَدْ آمَنَ النَّاسُ. فَأَمَرَ بِالْأُخْدُوْدِ فِيْ أَفْوَاهِ السِّكَكِ، فَخُدَّتْ وَأَضْرَمَ النِّيْرَانَ، وَقَالَ: مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِيْنِهِ فَأَحْمُوْهُ فِيْهَا، أَوْ قِيْلَ لَهُ: اِقْتَحِمْ. فَفَعَلُوْا حَتّٰى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِيٌّ لَهَا فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيْهَا. فَقَالَ لَهَا الْغُلَامُ: يَا أُمَّهْ اِصْبِرِيْ فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ. صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ قِصَّةِ أَصْحَابِ الْأُخْدُوْدِ وَالسَّاحِرِ وَالرَّاهِبِ وَالْغُلَامِ رقم الحديث ٧٣ (٣٠٠٥)، سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَابٌ وَمِنْ سُوْرَةِ الْبُرُوْجِ رقم الحديث ٣٣٤٠.

په ترمذي شريف کې ددې واقعې په آخر کې دا هم ذکر دي :

فَيُذْكَرُ أَنَّهُ أُخْرِجَ فِيْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه وَ إِصْبَعُهُ عَلَى صُدْغِهِ كَمَا وَضَعَهَا حِيْنَ قُتِلَ.

دا هم ذکر کولې شي چې کله دا هلک د حضرت عُمر رضي الله عنه په زمانه کې ( د څه ضرورت په بِناء باندې ) د قبر نه را اُويستلې شو نو د لاس ګوته يې هماغه شان په زخم باندې ايخې وه لکه څنګه چې د شهيد کيدو په وخت يې ايخې وه. (١)

## اُووه (٧) شهيدان ډيره زمانه پس هماغه شان په قبر کې تازه پراته وو

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په " شرح الصدور " کې ، او علامه ابن جوزي رحمه الله په " المنتظم في تاريخ الملوك والأمم " کې دا واقعه ذکر کړې :

په بصره کې يو غټ قبر کلاؤ شو ( يعنی خاوره ورنه ختمه شوې وه او لاندې قبر رابنکاره شو ) ، خلقو اوليد چې لاندې فراخه قبر ؤ ، او په هغې کې اووه ( ٧ ) کسان دفن شوي وو ( خو دا معلومه نه وه چې دا کله او په کومه زمانه کې خخ شوي ؟ ) د هر يو کس بدن صحيح سالِم ؤ ، د کفنونو نه يې د مشکو په شان خوشبويي تلله ، په دوی کې يو کس ځوان و ، د سَر ويښتان يې تک تور وو ، شونډې يې لمدې وی داسې معلوميدو لکه اوس يې چې تازه اُوبه څکلي وي ، سترګې يې داسې تورې وی ګويا چې اوس يې تازه رانجه کړي دي ، خو دده په وجود باندې د تورې غټ زخم و ، په حاضرينو کې يو کس دا اِراده اوکړه چې دده د سَر څه ويښتان راواخلي ( چې ورنه را يې خکل ) نو دا د ژوندي کس د ويښتانو په شان قوي وو . (دوی په جهاد کې شهيدان شوي وو ) . (٢)

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابٌ وَمِنْ سُوْرَةِ الْبُرُوْجِ رقم الحديث ٣٣٤٠ .

(٢) دا واقعه په " شرح الصدور " کې په دې الفاظو ذکر ده : وَذكر فِي تَارِيخه أَن فِي سنة سِت وَسبعين وَمِائَة انفرج تل بِالْبَصْرَةِ عَن سَبْعَة أقبر فِي مثل الْحَوْض وفيهَا سَبْعَة أنفس أبدانهم صَحِيحَة ، وأكفانهم يفوح مِنْهَا رَائِحَة الْمسك . أحدهم شَاب لَهُ جمة وعَلى شَفَتَيْهِ بَلل كَأَنَّهُ شرب مَاء وَكَانَ عَيْنَيْهِ مكتحلتان ، وَبِه ضَرْبَة فِي خاصرته . فَأَرَادَ بعض من حضر أَن يَأْخُذ من شعره شَيْئا فَإِذا هُوَ قوي كشعر الْحَيّ . شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور ج١ ص ١٩٨ رقم ٦٧ .

دا واقعه په " المنتظم في تاريخ الأمم والملوك " کې په دې الفاظو ذکر ده ، ورد الخبر بانفراج ←←←

# د شهادت په وجه د جنت مستحق کيدل

ځوک چې د الله ﷻ د رَضا او د دِين د سَربُلندی د پاره شهيد شي نو دداسې شهادت په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي. الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾. (۱)

ترجمه: بيشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي.

په سورة محمد کې ذکر دي:

﴿ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ۞ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۞ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾. (۲)

ترجمه: او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې اُووژلې شي (يعنی شهيدان شي) نو الله ﷻ هيڅ کله د هغوی اعمال نه ضائع کوي، ډير زر به الله تعالی دوی ته لاره (د جنت (۳)) اُوښايي، د دوی حالت به ښه کړي، او دوی به جنت ته داخل کړي کوم چې الله دوی ته د

←←← تل بنهر الصراة، ويعرف بتل بني شقيق عن شبه حوض من حجر في لوح المسن، عليه كتابة لايدرى ما هي، وفيه سبعة أقبر، فيها سبعة أبدان صحيحة، عليها أكفان جدد لينة، لها أهداب تفوح منها رائحة، وفيها رائحة المسك، أحدهم شاب له جمة وجبهته وأذناه وأنفه وشفتاه، و رقبته وأشفار عينيه صحاح، وعلى شفته بلل كأنه شرب ماء، وكأنه قد كحل، وبه ضربة في خاصرته، فردت عليه أكفانه، وجذب بعض الحاضرين من شعر بعضهم فوجده قوي الأصل كنحو شعر الحي. المنتظم في تاريخ الأمم والملوک ج۱۲ ص ۲۷۳ طبع دار الكتب العلمية، بيروت.

(۱) سورة التوبة آية ۱۱۱.

(۲) سورة محمد آية ۴ تا ۶.

(۳) د شهادت نه روستو د هدايت مقصد دادی چې دوی ته به د خپل منزلِ مقصود يعنی د جنت لاره اُوښائي. د جنتيانو په باره کې په قرآن کريم کې ذکر دي چې کله دوی جنت ته داخل شي نو دوی به اُووايي: ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا ﴾. الاعراف آية ۴۳. تفسير معارف القرآن سورة محمد في شرح آية ۵.

مخکې نه خودلي .

**تشريح** : ﴿ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾ . يعنى الله تعالى دوى ته د مخکې نه جنت په ګوته کړی ، او هر کس ته يې خپل جنت ، خپلې بيبيا ، او خپل خادمين وَرپيژندلي ، جنتيان به دوی داسې پيژني لکه دا چې دُ مُخکې نه دير وخت په دې جنت کې اُوسيدلي وي .

دا ځکه چې جنت خو دير لوي دی ، په هغې کې خپل ځای ځان له پيدا کول او بيا د جنت په شيانو باندې ځان پوهه کول دير ګران وو نو ځکه الله ﷻ په دې آيت کې اُوفرمايل چې دا جنت يې ورته د مخکې نه وَرخودلی . ددې د پاره چې دوی ته بيا څه پريشاني نه وي . (۱)

همدا خبره په احاديثو او تفاسيرو کې په تفصيل سره ذکر ده . (۲)

**فائده** : په دې آيت کې د شهيد د پاره يو څو خوشخبرياني ذکر شوی :

۱ . الله ﷻ به د دوی عملونه د بَربادېدو نه بچ کړي .

۲ . راهنمائي به ورته اوکړي ، ۳ . د دوی حالت به ښائسته کړي .

۴ . او دوی به جنت ته داخل کړي .

---

(۱) تفسير معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة محمد في تشريح آية ٦ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ .... فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : وَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ . مَا أَنْتُمْ فِي الدُّنْيَا بِأَعْرَفَ بِأَزْوَاجِكُمْ وَمَسَاكِنِكُمْ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ بِأَزْوَاجِهِمْ وَبِمَسَاكِنِهِمْ . رواه في حديث طويل ابن جرير في تفسيره والطبراني وابو يعلى ، والبيهقي في البعث (رقم الحديث ٦٠٩ ) وغيرهم . تفسير المظهري ٨/٤٢٥ سورة محمد آية ٦ .

﴿ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا ﴾ بَيَّنَهَا ﴿ لَهُمْ ﴾ فَيَهْتَدُونَ إِلَى مَسَاكِنِهِمْ مِنْهَا وَأَزْوَاجِهِمْ وَخَدَمِهِمْ مِنْ غَيْرِ اِسْتِدْلَالٍ . تفسير الجلالين سورة محمد آية ٦ .

﴿ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾ أَيْ بَيَّنَ لَهُمْ مَنَازِلَهُمْ فِي الْجَنَّةِ حَتَّى يَهْتَدُوا إِلَى مَسَاكِنِهِمْ لَا يُخْطِئُونَهَا وَلَا يَسْتَدِلُّونَ عَلَيْهَا أَحَدًا كَأَنَّهُمْ سُكَّانُهَا مُنْذُ خُلِقُوا فَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ أَهْدَى إِلَى دَرَجَتِهِ ، وَزَوْجَتِهِ وَخَدَمِهِ إِلَى مَنْزِلِهِ وَأَهْلِهِ فِي الدُّنْيَا . هٰذَا قَوْلُ أَكْثَرِ الْمُفَسِّرِيْنَ . معالم التنزيل في تفسير القرآن ( تفسير البغوي ) ۴/۲۱۱ سورة محمد آية ٦ . تفسير المظهري ۸/۲۲٤ .

# شهيد به يقيني جنت ته داخليږي

شهيد به يقيني جنت ته داخليږي ، دا خبره په صحيح احاديثو کې ذکر ده ، يو څو احاديث درته ذکر کوم :

۱. د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَضْحَكُ اللهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ : يُقَاتِلُ هٰذَا فِي سَبِيلِ اللهِ ، فَيُقْتَلُ ، ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ . (۱)

الله ﷻ هغه دوه کسانو ته خاندي ( كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ. يعنی د دوی نه راضي او خوشحاله وي (۲) ) کوم دوه کسان چې يو بل وژني ، او دواړه به جنت ته داخليږي ( هغه داسې چې : ) دا يو کس د الله ﷻ په لار کې جنګيږي پس دا شهيد شي ، بيا الله ﷻ دې قاتِل ته د توبې توفيق ورکړي ( اِسلام راوړي ، بيا دا هم د الله ﷻ په لار کې جنګيږي ) او دا هم شهيد شي .

۲. د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر ﷺ فرمايي :

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الكَافِرِ يَقْتُلُ المُسْلِمَ ثُمَّ يُسْلِمُ فَيُسَدِّدُ بَعْدُ وَيُقْتَلُ رقم الحديث ۲۸۲۶ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰۷ ( ۲۱ ) ، موطاء مالک رقم الحديث ۲۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۲۲۴ ، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۶۶ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۱۵ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۳۳ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۱۱۲۷ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « يَضْحَكُ اللهُ إِلَى رَجُلَيْنِ ، يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ كِلَاهُمَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ » ، فَقَالُوا : كَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « يُقَاتِلُ هٰذَا فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُسْتَشْهَدُ ، ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ ، فَيُسْلِمُ ، فَيُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُسْتَشْهَدُ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ الرَّجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ رقم الحديث ۱۲۸ ( ۱۸۹۰ ) .

(۲) (يَضْحَكُ اللهُ تَعَالَى) : أَيْ يَرْضَى مُقْبِلًا . مرقاة المفاتيح ۲۴۶۶/۶ في تشريح حديث ۳۸۰۷.

ملا علي قاري رحمه الله په يوه بله موقع د (يَضْحَكُ اللهُ) تشريح داسې کړی ، أَيْ: يَرْضَى عَنْهُمْ وَيَنْظُرُ إِلَيْهِمْ نَظَرَ عِنَايَةٍ بَالِغَةٍ وَيَرْحَمُ عَلَيْهِمْ رَحْمَةً سَابِغَةً . مرقاة المفاتيح ۹۲۷/۳ في تشريح حديث ۱۲۲۸ .

په غزوه اُحد کې يو کس د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه:

أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ؟

اې د الله رسوله! که چيرته زه شهيد شم نو زه به چيرته يم؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: فِي الْجَنَّةِ. په جنت کې.

د هغه کس سره په لاس کې قجورې وې هغه يې اوغورځولې، بيا ( ميدانِ جنگ ته ورغی او ) د کافرانو په مقابله کې تر هاغې وخته پورې اوجنگيدو چې آخر شهيد شو. (۱)

۳. د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی: حضرت خَنساء بنت مُعاوية رضي الله عنها فرمايي چې زما تره د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه دا پوښتنه اوکړه:

مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ په جنت کې به څوک وي؟

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل:

اَلنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ، وَالشَّهِيْدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْمَوْلُوْدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْوَئِيْدُ فِي الْجَنَّةِ. (۲)

هر پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په جنت کې وي، شهيد به په جنت کې وي، ماشوم به په جنت کې وي، او کومه جينۍ چې ژوندۍ خخه شوې وي هغه به په جنت کې وي.

٤. په مُصَنَّف ابن ابي شيبة کې دا حديث ذکر دی:

---

(۱) عَنْ عَمْرٍو، سَمِعَ جَابِرًا رضي الله عنه، يَقُوْلُ: قَالَ رَجُلٌ: أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ؟ قَالَ: فِي الْجَنَّةِ. فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ. صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ۱۴۳ (۱۸۹۹).

(۲) عَنْ حَسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ الصَّرِيمِيَّةِ، قَالَتْ: حَدَّثَنَا عَمِّي، قَالَ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ: اَلنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ، وَالشَّهِيْدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْمَوْلُوْدُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْوَئِيْدُ فِي الْجَنَّةِ. سنن ابي داود كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي فَضْلِ الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۲۵۲۱ قال الالباني: هذا حديث صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵٦ (٦۹)، مسند احمد رقم الحديث ۲۰۵۸۳، و رقم ۲۰۵۸۵، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۵۰۳، كنز العمال رقم الحديث ۳۹۷۸۰.

حضرت عبد الله بن عَمرو ﷜ فرمايي :

فِي الْجَنَّةِ قَصْرٌ يُدْعٰى عَدْنًا ، حَوْلَهُ الْبُرُوْجُ وَالْمُرُوْجُ ، لَهُ خَمْسَةُ آلَافِ بَابٍ لَا يَسْكُنُهُ أَوْ لَايَدْخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيْقٌ ، أَوْ شَهِيْدٌ ، أَوْ إِمَامٌ عَادِلٌ . (۱)

په جنت کې يو مَحل دی هغې ته " عدن " وايي ، ددې ګېر چاپېره برجونه او تکه شنه فراخه د باغونو واله زمکه ده ، ددې مَحل پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) دروازې دي ، په دې کې به صرف پيغمبر ، صديق ، شهيد او عادِل بادشاه اُوسيږي (يا داخليږي) .

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې په دې پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) دروازو کې به په هره دروازه باندې پنځه زره ( ۵۰۰۰ ) حُورې هم موجودې وي . (۲)

## شهيد به بې حِسابه جنت ته ځي ، او فرښتې به ورته د هرې دروازې نه سلام کوي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي .... الله ﷻ به د قيامت په ورځ جنت رااُوغواړي . نو جنت به د ټول تازګۍ او ښائست سره راشي ، الله تعالی به اوفرمايي :

أَيْنَ عِبَادِيَ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، وَقُتِلُوْا ، وَأُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ

چيرته دي زما هغه بندګان چې د الله ﷻ په لار کې جنګيدلي ، شهيدان شوي ، دوی ته زما په لار کې تکليف رسيدلی ، او زما په لاره کې يې جهاد ( او کوشش ) کړی ؟ تاسو ټول جنت ته داخل شئ .

فَيَدْخُلُوْنَهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ . پس دا ټول به بغير حِسابه او بغير عذابه جنت ته داخل شي .

ملائکې به راشي او عرض به اوکړي : اې زمونږه ربه ! مونږ خو شپه او ورځ ستا تسبيح

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْبُيُوْعِ وَالْأَقْضِيَةِ فِي الْإِمَامِ الْعَادِلِ رقم الحديث ۲۱۹۱۹ ، و رقم الحديث ۱۹۳۹۳ كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ .

(۲) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ، قَالَ : فِي الْجَنَّةِ قَصْرٌ يُقَالُ لَهُ عَدْنٌ ، فِيْهِ خَمْسَةُ آلَافِ بَابٍ عَلٰى كُلِّ بَابٍ خَمْسَةُ آلَافِ حَبَرَةٍ قَالَ : يَعْلَى أَحْسَبُهُ قَالَ : لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيْقٌ أَوْ شَهِيْدٌ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۸۰

او ستا پاکي بيانوو ، پس دا خلق څوک دي چې تا دوی ته په مونږ باندې ترجيح ورکړه ؟

الله تعالی به ورته اوفرمايي : دا هغه خلق دي چې دوی زما په لاره کې جهاد کړی ، او زما په لاره کې ورته تکليف رسيدلی .

پس فرښتې به دوی ته د هرې دروازې نه راځي او دا به ورته وايي :

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ .

ترجمه : په تاسو باندې دې سلام وي ، ځکه تاسو ( په دُنيا کې ) صبر اوکړو ، نو د آخرت کور مو ډير ښه دی . (۱)

## شهيد به په اوّلني درې ( ۳ ) کسانو کې جنت ته داخليږي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ ، وَأَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ النَّارَ . فَأَمَّا أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ : فَالشَّهِيدُ ، وَعَبْدٌ مَمْلُوكٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَنَصَحَ لِسَيِّدِهِ ، وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ . وَأَمَّا أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ النَّارَ : فَأَمِيرٌ مُسَلَّطٌ ، وَذُو ثَرْوَةٍ مِنْ مَالٍ لَا يُعْطِي حَقَّ مَالِهِ ، وَفَقِيرٌ فَخُورٌ . (۲)

(۱) ...... وَإِنَّ اللهَ يَدْعُو يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْجَنَّةَ ، فَتَأْتِي بِزُخْرُفِهَا وَزِينَتِهَا ، فَيَقُولُ : أَيْنَ عِبَادِيَ الَّذِينَ قَاتَلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ، وَقُتِلُوا ، وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِي ادْخُلُوا الْجَنَّةَ . فَيَدْخُلُونَهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ . فَتَأْتِي الْمَلَائِكَةُ فَيَقُولُونَ : رَبَّنَا نَحْنُ نُسَبِّحُ لَكَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ، مَنْ هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ آثَرْتَهُمْ عَلَيْنَا . فَيَقُولُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى : هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ قَاتَلُوا فِي سَبِيلِي وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي . فَتَدْخُلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ { مِنْ كُلِّ بَابٍ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ } . شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۵۴ الجهاد . المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۳۹۳ وقال الحاکم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ، و وافقه الذهبي . المعجم الکبير للطبراني رقم الحديث ۱۵۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۶۵۷۱ ، کنزالعمال رقم الحديث ۱۶۶۳۵ ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد باب فضل الفقراء رقم الحديث ۱۷۸۸۷ .

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۹۴۹۲ ، و رقم ۱۰۲۰۵ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ۲۶۹۰ ، مشکاة المصابيح کتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۳۲ (۴۵) ، سنن الترمذي باب ماجاء في ثواب الشهيد رقم الحديث ۱۶۴۲ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۱۴۲۹ ، السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۷۲۲۷ ، شعب الايمان رقم ۳۰۶۳ ، و رقم ۸۲۴۶ ، معجم ابن عساکر رقم ۵۲۱ ، کنزالعمال رقم ۴۳۲۶۰ ، و رقم ۴۳۲۶۲ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۳۵ ، صحيح ابن حبان رقم ۴۳۱۲ ، الجهاد لابن المبارک رقم الحديث ۴۶ .

ماته هغه درې ( ۳ ) کسان پيش کړې شو کوم چې به ( زما په اُمت کې ) اول جنت ته داخليږي ، او هغه درې ( ۳ ) کسان هم راته پيش کړې شو کوم چې به اول جهنم ته داخليږي، پس اوّلني درې کسان کوم چې به اول جنت ته داخليږي په هغې کې يو شهيد دی ، دويم هغه غلام دی چې د خپل رَب بنه عبادت کوي او د خپل سردار ( آقا ) د پاره خېر خواه وي ، او دريم هغه پاک دَامن بال بَچه داره کس دی چې د سوال نه ځان ساتي .

او کوم درې کسان چې اول جهنم ته داخليږي په هغې کې اول هغه امير دی چې په زُوره مُسلّط شوې وي ، دويم هغه مالدار دی چې مالي حقوق ( زکوة وغيره ) نه اَداء کوي ، او دريم مُتکبّر فقير دی .

## شهيد به په جنّتُ الفِردَوس ( اعلی جنت ) کې وي

د بخاري شريف او مشکوة شريف حديث دی : رُبَيّع بنت البراء ( کومه چې د حضرت حارثه بن سراقه ﷺ مور ده ، دا ) نبي عليه السلام ته راغله ، او وې ويل :

يَا نَبِيَّ اللهِ ! أَلَا تُحَدِّثُنِيْ عَنْ حَارِثَةَ .

اې د الله پيغمبره ! آيا تاسو به ماته ( زما د ځوي ) د حارثه ﷺ حال بيان نکړئ ؟

حضرت حارثه ﷺ په جنګِ بدر کې شهيد شوې وُ ، هغه په داسې غشي باندې لږېدلې وُ چې ويشتونکې يې معلوم نه وُ .

( رُبَيّع بنت البراء وويل : ) که هغه په جنت کې وي نو زه به صبر اوکړم ، او که په بل ځای کې وي نو زه به په هغه باندې په ژړا کولو کې بنه کوشش اوکړم (يعنی ډيره به پرې اُوژاړم )

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

يَا أُمَّ حَارِثَةَ ! إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلٰى .

اې د حارثه مور ! خبره داده چې په جنت کې ډير باغونه ( درجې (۱) ) دي ، او بيشکه

(۱) ( جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ ) : اَلتَّنْوِيْنُ لِلتَّعْظِيْمِ ، وَالْمُرَادُ بِهَا دَرَجَاتٌ فِيْهَا ، لِمَا وَرَدَ : « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا » . مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح ۲۳۶۷/۶ کتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۰۹ ( ۲۳ ) .

ستا ځوي جنّتُ الفِردوس ( د جنت اعلى درجې ) ته رسيدلې دی. (۱)

# د شهيد د پاره بهترين محل

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه كرامو ته اوفرمايل:

رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي، فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ فَأَدْخَلَانِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ. لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا، قَالَا: أَمَّا هٰذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ.

ما بېګاه شپه په خُوب كې دوه كسان ( حضرت جبريل عليه السلام او حضرت ميكائيل عليه السلام ) اُوليدل چې دواړه ماته راغلل، زه يې يوې اُونې ته اُوخيجولم، بيا يې زه داسې يو كور ته داخل كړم چې هغه ډير ښائسته او بهترين وُ، ما ددينه ښائسته كور هيڅ كله نه وُ ليدلی، دوی دواړو ماته وويل:

أَمَّا هٰذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ. دا كور د شهيدانو دی. (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ أُمَّ الرُّبَيِّعِ بِنْتَ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ! أَلَا تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ، وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ، فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذٰلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ، قَالَ: «يَا أُمَّ حَارِثَةَ! إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى». صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ رقم الحديث ۲۸۰۹، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰۹ (۲۳)، مسند احمد رقم الحديث ۱۳۷۴۱، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۸۳ (۳۲).

وفي رواية: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ أُمَّ حَارِثَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ هَلَكَ حَارِثَةُ يَوْمَ بَدْرٍ، أَصَابَهُ غَرْبُ سَهْمٍ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! قَدْ عَلِمْتَ مَوْقِعَ حَارِثَةَ مِنْ قَلْبِي، فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ لَمْ أَبْكِ عَلَيْهِ، وَإِلَّا سَوْفَ تَرَى مَا أَصْنَعُ؟ فَقَالَ لَهَا: «هَبِلْتِ، أَجَنَّةٌ وَاحِدَةٌ هِيَ؟ إِنَّهَا جِنَانٌ كَثِيرَةٌ، وَإِنَّهُ فِي الْفِرْدَوْسِ الْأَعْلَى». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ۶۵۶۷.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۹۱. و رقم الحديث ۱۳۸۶ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا قِيلَ فِي أَوْلَادِ الْمُشْرِكِينَ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۵۹ ذكر منازل الشهداء في الجنان بمآلهم له في الدنيا. مشكوة المصابيح كتاب الرؤيا الفصل الاول رقم الحديث ۴۶۲۱ (۱۶).

## د شهيد د پاره لوي أجر

څوک چې د الله ﷻ په لاره کې شهيد شي يا غالِب شي نو د دوی د پاره الله ﷻ د دير لوي آجر وعده کړی، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾.(۱)

ترجمه: او څوک چې د الله په لار کې جنګ (يعنی جهاد) کوي بيا دې شهيد شي يا غالب شي پس مونږ به دير زر ده ته دير لوي آجر ورکړو.

## د شهادت په وجه تور رَنګې کس هم جنت ته داخل شو

په "اَلْمُسْتَدْرَک عَلَى الصَّحِيْحَيْن" او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده:

حضرت انس ﷺ فرمايي چې يو تور رَنګې کس نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغی، او وې ويل:

يَا رَسُولَ اللهِ! إِنِّي رَجُلٌ أَسْوَدُ مُنْتِنُ الرِّيحِ، قَبِيحُ الْوَجْهِ، لَا مَالَ لِي، فَإِنْ أَنَا قَاتَلْتُ هٰؤُلَاءِ حَتّٰى أُقْتَلَ، فَأَيْنَ أَنَا؟

اې د الله رسوله! زه يو تور رَنګې، بَدبُويه، او بَد رَنګ مخ واله سړی يم، مال هم راسره نشته، پس که چيرته زه ددې کافرانو سره أوجنګيږم تر دې چې شهيد شم نو زه به چيرته يم؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: فِي الْجَنَّةِ. ته به په جنت کې يې.

دا سړی کافرانو سره أوجنګيد، تر دې چې شهيد شو، پيغمبر عليه السلام ده ته راغی او ورته وې فرمايل:

قَدْ بَيَّضَ اللهُ وَجْهَكَ، وَطَيَّبَ رِيحَكَ، وَأَكْثَرَ مَالَكَ.

بيشکه الله تعالی ستا مخ سپين (ښائسته) کړو، ستا بُوئي يې ښائسته کړو، او ستا مال يې دير کړو.

---

(۱) النساء آية ۷۴.

بيا نبي عليه السلام اوفرمايل :

لَقَدْ رَأَيْتُ زَوْجَتَهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، نَازَعَتْهُ جُبَّةً لَهُ مِنْ صُوْفٍ ، تَدْخُلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ جُبَّتِهِ .

په تحقيق سره ما اوليدل چې د حُور عِين نه دده بي بي دده د وَرى چُوغه اُونيوه ، دده د بدن او دده د چُوغې په مينځ کې داخله شوه . (١)

دا واقعه علامه ابن اثير رحمه الله په " أسد الغابة " کې هم ذکر کړی .

ابن اثير رَحِمَهُ اللهُ دا هم ذکر کړي چې ددې تور کس ( کوم چې نبي عليه السلام ته راغلی وُ ، دده ) نوم " جُعال " وُ . (٢)

## د شهادت په وجه د ګډوالي باوجود جنت ته داخليدل

حضرت عَمرو بن جَموح رضي الله عنه د أنصارو بوډا شيخ وُ ، په خپه باندي ګډ وُ ، کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم جنګِ بدر ته روان شو نو ده خپلو زامنو ته ووېل :

أَخْرِجُوْنِيْ . ما هم اُوباسئ ( يعنی د ځان سره مې جهاد ته بوځئ ) .

ځامن يې پيغمبر عليه السلام ته راغلل او د پلار د ګډ والي تذکره يې ورته اوکړه ، نبي

(١) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . أَنَّ رَجُلًا أَسْوَدَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ رَجُلٌ أَسْوَدُ مُنْتِنُ الرِّيْحِ ، قَبِيْحُ الْوَجْهِ . لَا مَالَ لِيْ ، فَإِنْ أَنَا قَاتَلْتُ هٰؤُلَاءِ حَتَّى أُقْتَلَ . فَأَيْنَ أَنَا ؟ قَالَ : « فِي الْجَنَّةِ » . فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ . فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « قَدْ بَيَّضَ اللهُ وَجْهَكَ ، وَطَيَّبَ رِيْحَكَ ، وَأَكْثَرَ مَالَكَ » . وَقَالَ لِهٰذَا أَوْ لِغَيْرِهِ : « لَقَدْ رَأَيْتُ زَوْجَتَهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، نَازَعَتْهُ جُبَّةً لَهُ مِنْ صُوْفٍ ، تَدْخُلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ جُبَّتِهِ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي . ورواه البيهقي في الشعب .

(٢) عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قال : جاء رجلٌ إلى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال : يا رَسُوْلَ اللهِ ! أرأيتَ إنْ قاتلتُ بين يديك حتى أُقتلَ ، يدخلني ربي عَزَّ وَجَلَّ الجنة ولا يحقرني ؟ قال : نعم . قال : فكيف وأنا منتن الريح ، أسود اللون ، خسيس في العشيرة ، ومضى . فقاتل ، فاستشهد ، فمرّ به رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال : آلآن طيب الله ريحك ، يا جعال ، وبيض وجهك . أسد الغابة في معرفة الصحابة ج ١ ص ٣٣٩ رقم ٧٤٩ باب الجيم جعال آخر .

عليه السلام هغه ته په کور کې د پاتې کيدو او په جهاد کې د نه شريکيدو اجازت ورکړو.

کله چې د غزوه اُحد ورځ راغله او خلق جهاد ته اُووتل نو ده خپلو ځامنو ته وويل:

أَخْرِجُوْنِيْ. ما هم اُوباسئ (يعنى د ځان سره مې جهاد ته بوځئ).

ځامنو ورته وويل: رسولُ الله صلى الله عليه وسلم تاته رُخصت درکړى او په کور کې يې د پاتې کيدو اجازت درکړى.

ده ځامنو ته وويل: هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُوْنِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُوْنِيْهَا بِأُحُدٍ.

افسوس، تاسو زه په غزوه بدر کې د جنت نه منع کړم او اوس مې په غزوه اُحد کې هم د جنت حاصلولو نه منع کوئ.

پس دا هم غزوه اُحد ته لاړ، کله چې په ميدانِ جنګ کې دواړه ډلې سره يو ځاى شوى، او جنګ ګرم شو نو ده رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته اوفرمايل:

أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرَجَتِيْ هٰذِهِ الْجَنَّةَ؟

(اې د الله رسوله!) دا راته اووايه که چيرته زه نن شهيد شم نو آيا په دې ګډه خپه به جنت ته لاړ شم؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: آو. نو ده وويل:

فَوَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللهُ.

زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې چې ته يې بَرحق رسول راليږلې يې زه به نن اِن شَاءَ الله خامخا په دې ګډه خپه باندې په جنت کې ګرځم.

عَمرو بن جَموح ﷺ سره چې کوم خپل غلام راغلې وُ د هغه نوم "سُليم" وُ، ده هغه ته وويل: ته واپس خپل کور ته لاړ شه. هغه ورته وويل:

که زه د تاسره يو ځاى خير (شهادت) حاصل کړم نو ستا به څه تاوان اوشي؟

ده ورته وويل: نو بيا خو ميدان ته رامخکې شه.

غلام ميدانِ جنګ ته وَر وراندې شو، د کافرانو سره تر هاغې وخته پورې جنګيدو چې آخر شهيد شو.

بيا حضرت عَمرو بن جَموح ﷺ هم ميدان ته ورغى او تر هاغه وخته پورې او جَنګيد

چې آخر شهيد شو. (۱)

په رواياتو کې راځي، دده د شهادت نه روستو کله چې نبي عليه السلام په ده باندې تېر شو نو ورته وې ويل:

كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَيْكَ تَمْشِيْ بِرِجْلِكَ هٰذِهٖ صَحِيْحَةً فِي الْجَنَّةِ. (۲)

زه تا گورم چې ته په دې خپله خپه باندې په جنت کې گرځې او دا خپه صحيح شوې ده.

## د شهادت نه مخکې د جنت خوشبوئي محسوسول

۱. د بخاري شريف حديث دی، حضرت انس ﷺ فرمايي چې په جنگِ بدر کې زما تره حضرت أنس بن نَضر ﷺ نه وُ شريک شوی، هغه يو ځل نبي عليه السلام ته اوفرمايل:

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِيْنَ. لَئِنِ اللّٰهُ أَشْهَدَنِيْ قِتَالَ الْمُشْرِكِيْنَ لَيَرَيَنَّ اللّٰهُ مَا أَصْنَعُ.

اې د الله رسوله! زه په هغه اَولني جنگ کې نهووم شريک شوی کوم چې تاسو د مشرکينو سره کړې وُ اوس که چېرته الله تعالى ماته مشرکينو سره د جنگ کولو موقع راکړه نو الله ﷻ به اوگوري چې زه څه کارنامه کوم؟

---

(۱) عَنْ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ عَمْرُو بْنُ الْجَمُوْحِ شَيْخٌ مِنَ الْأَنْصَارِ أَعْرَجَ. فَلَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَدْرٍ قَالَ لِبَنِيْهِ: أَخْرِجُوْنِيْ. فَذُكِرَ لِلنَّبِيِّ عَرَجُهُ، وَحَالُهُ. فَأَذِنَ لَهُ فِي الْمُقَامِ. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ خَرَجَ النَّاسُ. فَقَالَ لِبَنِيْهِ: أَخْرِجُوْنِيْ. فَقَالُوْا: قَدْ رَخَّصَ لَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم، وَأَذِنَ. قَالَ: هَيْهَاتَ مَنَعْتُمُوْنِي الْجَنَّةَ بِبَدْرٍ وَتَمْنَعُوْنِيْهَا بِأُحُدٍ. فَخَرَجَ. فَلَمَّا الْتَقَى النَّاسُ. قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ الْيَوْمَ أَطَأُ بِعَرْجَتِيْ هٰذِهِ الْجَنَّةَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَوَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَأَطَأَنَّ بِهَا الْجَنَّةَ الْيَوْمَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ، فَقَالَ لِغُلَامٍ لَهُ كَانَ مَعَهُ يُقَالُ لَهُ سُلَيْمٌ: اِرْجِعْ إِلَى أَهْلِكَ. قَالَ: وَمَا عَلَيْكَ أَنْ أُصِيْبَ الْيَوْمَ خَيْرًا مَعَكَ؟ قَالَ: فَتَقَدَّمْ إِذًا. قَالَ: فَتَقَدَّمَ الْعَبْدُ فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ، ثُمَّ تَقَدَّمَ وَقَاتَلَ هُوَ حَتّٰى قُتِلَ. الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۶۹ رقم ۷۸. السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۸۲۱ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ مَنِ اعْتَذَرَ بِالضَّعْفِ وَالْمَرَضِ وَالزَّمَانَةِ وَالْعُذْرِ فِيْ تَرْكِ الْجِهَادِ.

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۲۲۵۵۳ حَدِيْثُ أَبِيْ قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ.

بيا کله چې د جنګِ اُحد موقع راغله او مسلمانانو ته په اول کې عارضي شکست ملاؤ شو ( بعضې مسلمانان په شا شول ) نو ( زما تره ) اَنس بن نَضر رضي الله عنه اوفرمايل :

اې الله ! دې زما ملګرو مسلمانانو چې ( د روسته کيدو ) کوم کار اوکړو نو زه تاته د هغې معذرت پيش کوم ( بَخنه درنه غواړم ) ، او دې مشرکينو چې ( د مسلمانانو خلاف ) کوم کار اوکړو د دينه د بېزارۍ اعلان کوم ، بيا ( دې وينا نه پس ) کافرانو ته وَر روان شو، په لاره کې ورسره حضرت سعد بن مُعاذ رضي الله عنه مخامخ شو ، هغه ته يې وويل :

يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ ! اَلْجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ إِنِّيْ أَجِدُ رِيْحَهَا مِنْ دُوْنِ أُحُدٍ .

اې سعد بن مُعاذ ! جنت زما مطلوب دی ، او د نَضر ( يعنی د خپل پلار ) په رَب مې دې قسَم وي چې زه د اُحد غَر د طرفه د جنت خوشبوئي محسوسوم .

حضرت سعد رضي الله عنه ( نبي عليه السلام ته ) اوفرمايل : اې د الله رسوله ! هغه چې د کافرانو په مقابله کې کومه بهادري ښکاره کړه زه د هغې بيان نه شم کولی .

حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د هغه په بدن باندې تقريبًا اتيا ( ۸۰ ) د تورو ، نېزو او غشو زخمونه اوليدل ، او دې شهيد شوې وُ ، مشرکينو دده مُثله کړې وه ( يعنی د وجود اَندامونه يې ورنه غوڅ کړي وو ) ، په مونږ کې هيچا هغه او نه پيژندو ، صرف خپلې خورد ګوتو د بَندونو نه اوپيژندو ......(۱)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : غَابَ عَمِّيْ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ، فَقَالَ : « يَا رَسُوْلَ اللهِ ! غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِيْنَ ، لَئِنِ اللهُ أَشْهَدَنِيْ قِتَالَ الْمُشْرِكِيْنَ لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ » ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ، وَانْكَشَفَ الْمُسْلِمُوْنَ ، قَالَ : « اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ ــ يَعْنِيْ أَصْحَابَهُ ــ وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ ــ يَعْنِي الْمُشْرِكِيْنَ ــ ثُمَّ تَقَدَّمَ »، فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رضي الله عنه ، فَقَالَ : « يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ، اَلْجَنَّةَ وَ رَبِّ النَّضْرِ إِنِّيْ أَجِدُ رِيْحَهَا مِنْ دُوْنِ أُحُدٍ » ، قَالَ سَعْدٌ رضي الله عنه : فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا صَنَعَ ، قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعًا وَثَمَانِيْنَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ ، أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ وَ وَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَقَدْ مَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُوْنَ ، فَمَا عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلَّا أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ ، قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : كُنَّا نُرٰى أَوْ نَظُنُّ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِيْهِ وَفِيْ أَشْبَاهِهِ ﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ ﴾ . [ الاحزاب آية ۲۳ ] إِلٰى آخِرِ الْآيَةِ . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى : ( مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ ) رقم الحديث ۲۸۰۵ .

۲ . همدارنګې حضرت سعد بن ربيع ﷺ هم د شهادت په وخت د جنت خوشبوئي محسوسوله . ( واقعه مخکې په صفحه ۲٦۹ تيره شوه . ابوالشمس علي عنه )

# د شهيدانو د رُوحُونو ځاى

**د شهيدانو رُوحونه به د جنّتي شنو مرغانو په قالب ( يا جَجُورو ) کې وي ، او جنت کې به مزې ( او سېل ) کوي .**

۱ . په مسلم شريف ، مشکوة شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی : ( مشهور تابعي ) مسروق رحمه الله فرمايي چې مونږ د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه د دې آيت په باره کې پوښتنه اوکړه :

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَمْوَاتًا ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې شهيدان شوي په هغوی باندې د مړو ګمان مه کوه ، بلکه هغوی د خپل رَب سره ژوندي دي ، هغوی ته رزق ورکولې شي .

نو ابن مسعود ﷺ اوفرمايل : مونږ په خپله د دې آيت په باره کې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه کړې وه ، هغوی اوفرمايل :

أَرْوَاحُهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ ، لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ، ثُمَّ تَأْوِيْ إِلٰى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ .

د شهيدانو رُوحونه د ( جنّتي ) شنو مرغانو په قالب ( يا ججورو ) کې وي ، د عرش نه لاندې د دوی د پاره قِنديلونه زوړند شوي وي ، دا رُوحونه چې په جنت کې کوم ځای اوغواړي هلته ځکرې وهي ( د جنت ميوې خوري او مزې کوي ) ، بيا واپس دې قِنديلونو ته راځي ( او دلته اُوسيږي ) .

الله ﷻ به دوی ته اوګوري ( يعنی تجَلّي به ورته اوکړي ) او پوښتنه به ورنه اوکړي ؛

(۱) آل عمران آية ۱٦۹ .

هَلْ تَشْتَهُوْنَ شَيْئًا؟ آيا ستاسو څه شي ته اِشتهاء کيږي؟

دوی به ورته ووايي:

أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِيْ وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا.

زمونږ به نوره څه شي ته اِشتهاء اوشي مونږ خو په جنت کې چيرته مو چې زړه اوغواړي ګرځو (ددې ميوې خورو او مزې کوو).

الله تعالى به د دوی نه درې (٣) پيرې همدا پوښتنه اوکړي.

هر کله چې دوی اوګوري چې مونږ بغير د څه څيز غوښتلو نه نه شو پريخودی (يعنى الله ﷻ د مونږ نه بار بار پوښتنه کوي چې مونږ د څه شي خواهش ظاهر کړو) نو دوی به الله تعالى ته اوفرمايي:

يَا رَبِّ! نُرِيْدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِيْ أَجْسَادِنَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِكَ مَرَّةً أُخْرٰى.

اې ربه! مونږ دا اِراده (او خواهش) لرو چې ته زمونږ رُوحونه زمونږ جسَدونو ته واپس کړه (يعنى دُنيا ته مو واپس اُوليږه) ددې د پاره چې مونږ په ستا په لار کې شهيدان شو.

هر کله چې الله ﷻ اوګوري چې د دوی څه خاص حاجت نشته نو دوی به په خپل حال پريخودې شي.(١)

---

(١) عَنْ مَسْرُوْقٍ رَحِمَهُ اللهُ. قَالَ: سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ رضي الله عنه عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ: { وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ } [آل عمران آية ١٦٩] قَالَ: أَمَا إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ. فَقَالَ: « أَرْوَاحُهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ. لَهَا قَنَادِيْلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ. تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ. ثُمَّ تَأْوِيْ إِلٰى تِلْكَ الْقَنَادِيْلِ. فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلَاعَةً ». فَقَالَ: هَلْ تَشْتَهُوْنَ شَيْئًا؟ قَالُوْا: أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِيْ وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا. فَفَعَلَ ذٰلِكَ بِهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوْا مِنْ أَنْ يُسْأَلُوْا. قَالُوْا: يَا رَبِّ! نُرِيْدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِيْ أَجْسَادِنَا حَتّٰى نُقْتَلَ فِيْ سَبِيْلِكَ مَرَّةً أُخْرٰى. فَلَمَّا رَأٰى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوْا. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ أَنَّ أَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِي الْجَنَّةِ، وَأَنَّهُمْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ رقم الحديث ١٢١ (١٨٨٧)، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨٠٣ (١٨)، سنن الترمذي رقم الحديث ٣٠١١ باب ومن سورة آل عمران، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٣٨٥، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٥١٨.

همدا مضمون په نورو احاديثو کې هم ذکر دی . (۱)

**نوټ** : د شهيدانو دُنيا ته د واپس راتلو خواهش به ځکه پوره نکړې شي چې دا د الله ﷻ د ارادې خلاف دی ( ځکه دُنيا ته واپس تلل د الله ﷻ په قانون کې نشته ) . (۲)

**۲ .** په ابوداؤد شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی :

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمايل :

لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ بِأُحُدٍ جَعَلَ اللهُ أَرْوَاحَهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ، تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا، وَتَأْوِيْ إِلَىٰ قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِيْ ظِلِّ الْعَرْشِ.

کله چې ستاسو ورونړه په غزوه اُحد کې شهيدان شو نو الله تعالی د دوی رُوحونه د شنو مرغانو په قالب کې مُنتقِل کړل ، هغه د جنت نهرونو ته راځي ، د جنت ميوې خُوري ، بيا د سرو زرو هغه قنديلونو ته د اُوسيدلو د پاره راځي کوم چې د عرش د سيوري لاندې ( د دوی د پاره ) زوړند شوي وي .

پس هر کله چې دې رُوحونو د ښه خوراک ، څکاک او آرام خوَند اُوموندو نو وې ويل :

مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا، أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ نُرْزَقُ، لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجِهَادِ، وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ.

څوک به زمونږ ورونړو ته زمونږ د طرفه دا پيغام اُورسوي چې بيشکه مونږ ژوندي يو ، او په جنت کې مونږ ته رِزق راکولې شي ، دا ( زمونږ پيغام دوی ته رسول په کار دي ) ددې د پاره چې دوی د جهاد نه اِعراض اونکړي ، او په جنګ کې بُزدِله نشي .

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ فِيْ طَيْرٍ خُضْرٍ تَعْلُقُ مِنْ ثَمَرِ الْجَنَّةِ أَوْ شَجَرِ الْجَنَّةِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ ثَوَابِ الشُّهَدَاءِ رقم الحديث ۱۶۴۱ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . وقال الالباني : صحيحٌ . مسند احمد رقم الحديث ۲۷۱۶۶ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۱۱۰۷ .

بيشکه د شهيدانو رُو ونه به د شنو مرغانو په قالب ( يا ځجُوره ) کې وي د جنت په مېوو يا جنتي ميوه دارو اُونو کې به څرېږي ( يعنی د جنت ميوې به خُوري او مزې به کوي ) .

(۲) ( فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ ) : أَيْ حَاجَةٌ مُعْتَبَرَةٌ ، لِأَنَّهُمْ سَأَلُوا مَا هُوَ خِلَافُ إِرَادَةِ اللهِ تَعَالَى ( تُرِكُوا ) : أَيْ مِنْ سُؤَالِ هَلْ تَشْتَهُوْنَ ؟ . مرقاة المفاتيح ۲۴۶۳/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۰۲

الله تعالی اوفرمایل :

أَنَا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ . زه به ستاسو د طرفه هغوی ته دا پیغام اورسوم .

نو الله ﷻ دا آیت نازل کړو :

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾ .

ترجمه : او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې شهیدان شوي په هغوی باندې د مړو ګمان مه کوه ، بلکه هغوی د خپل رَب سره ژوندي دي ، هغوی ته رزق ورکولې شي .(۱)

## علمي تحقيق :

په دې مذکوره دواړه احادیثو کې ذکر شو چې د شهیدانو رُوحونه به د جنّتي شنو مرغانو په قالب کې وي ، یعنی الله تعالی به ددې رُوحونو د عزت د پاره د شنو مرغانو په شان قالب جوړ کړي ، دا به د دوی د پاره د جهاز په شکل سوَرلي وي ، په جنت کې به ګرځي ، د جنت میوې به خُوري ، او چکرې به وهي .(۲)

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ بِأُحُدٍ جَعَلَ اللهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ ، تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ ، تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا ، وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ . فَلَمَّا وَجَدُوا طِيبَ مَأْكَلِهِمْ ، وَمَشْرَبِهِمْ ، وَمَقِيلِهِمْ ، قَالُوا : مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ نُرْزَقُ لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجِهَادِ ، وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ . فَقَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ : أَنَا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ . قَالَ : فَأَنْزَلَ اللهُ : { وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ... } إِلَى آخِرِ الْآيَةِ [ آل عمران آیة ۱۶۹ ] . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي فَضْلِ الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۲۵۲۰ قال الالباني : هذا حديث حسن . مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۳ (۶۶) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۳۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۳۸۸ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۴۴ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه ، و رقم ۳۱۶۵ ، السنن الكبرى للبيهقي باب فضل الشهادة في سبيل الله عزّ وجل رقم الحديث ۱۸۵۲۰ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۳۵ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۶۳۹ .

(۲) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د مذکوره اولني حديث په تشريح کې ليکلي ، وَقَوْلُهُ : ( أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْوَافِ طَيْرٍ خُضْرٍ ) : أَيْ يُخْلَقُ لِأَرْوَاحِهِمْ بَعْدَ مَا فَارَقَتْ أَبْدَانَهُمْ هَيَاكِلُ عَلَى تِلْكَ الْهَيْئَةِ تَتَعَلَّقُ بِهَا ، وَتَكُونُ خَلَفًا عَنْ أَبْدَانِهِمْ ، وَإِلَيْهِ الْإِشَارَةُ بِقَوْلِهِ تَعَالَى : { أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ } [ آل عمران آیة ۱۶۹ ] لِيَتَوَصَّلُوا ← ← ← ←

په ځني نورو صحيح احاديثو کې ذکر دي چې د شهيدانو رُوحونه به د شنو مرغانو په شکل کې وي او په جنت کې به سيل کوي. (۱)

په ځني نورو احاديثو کې ذکر دي چې د شنو مرغانو په جَجُورو کې به وي. (۲)

دا ټول احاديث په خپل ځای صحيح دي، د هيڅ تاويل ضرورت په کې نشته، الله تعالى

---

←←← بِهَا إِلَى نَيْلِ مَا يَشْتَهُونَ مِنَ اللَّذَائِذِ الْحِسِّيَّةِ . وَإِلَيْهِ يُرْشِدُ قَوْلُهُ تَعَالَى : { يُرْزَقُونَ فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ } [آل عمران آية ۱۶۹ - ۱۷۰] . وَالطَّيْرُ جَمْعُ طَائِرٍ . وَيُطْلَقُ عَلَى الْوَاحِدِ وَخُضْرٌ بِضَمٍّ فَسُكُونٍ جَمْعُ أَخْضَرَ ( لَهَا ) : أَيْ لِلطَّيْرِ . أَوْ لِلْأَرْوَاحِ ( قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ ) : بِمَنْزِلَةِ أَوْكَارِ الطَّيْرِ ( تَسْرَحُ ) : أَيْ تَسِيرُ وَتَرْعَى وَتَتَنَاوَلُ ( مِنَ الْجَنَّةِ ) : أَيْ مِنْ ثَمَرَاتِهَا وَلَذَّاتِهَا ( حَيْثُ شَاءَتْ . ثُمَّ تَأْوِي ) : أَيْ تَرْجِعُ ( إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ ) : أَيْ فَتَسْتَقِرُّ فِيهَا . ثُمَّ تَسْرَحُ . وَهَكَذَا . مرقاة المفاتيح ۲۴۶۴/۶ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۸۰۴

د مذکوره دويم حديث په تشريح کې ملا علي قاري رحمه الله ليکلي : ( جَعَلَ اللَّهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ ) : أَيْ : فِي أَجْوَافِ طُيُورٍ خُضْرٍ خَالِيَةٍ مِنَ الْأَرْوَاحِ عَلَى أَشْبَاهٍ مُصَوَّرَةٍ بِصُوَرِ الطُّيُورِ حَتَّى تَتَلَذَّذَ الْأَرْوَاحُ بِنِسَبِ الْأَشْبَاحِ . مرقاة المفاتيح ۲۴۹۳/۶ كتاب الجهاد الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ۳۸۵۳ ( ۶۶ ) .

(۱) قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَرْوَاحُ الشُّهَدَاءِ فِي صُوَرِ طَيْرٍ خُضْرٍ مُعَلَّقَةٍ فِي قَنَادِيلِ الْجَنَّةِ يُرْجِعُهَا اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » . قَالَ مَعْمَرٌ ، وَالْكَلْبِيُّ : « أَرْوَاحُ الشُّهَدَاءِ فِي صُوَرِ طُيُورٍ خُضْرٍ تَسْرَحُ فِي الْجَنَّةِ تَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مُعَلَّقَةٍ تَحْتَ الْعَرْشِ . ذَكَرَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » . مصنف عبدالرزاق الصنعاني كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ أَجْرِ الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۹۵۵۶ .

وفي رواية : قال عليه السلام : أَرْوَاحُهُمْ كَطَيْرٍ خُضْرٍ تَسْرَحُ فِي الْجَنَّةِ فِي أَيِّهَا شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مُعَلَّقَةٍ بِالْعَرْشِ ... مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۳۸۵ ، سنن ابن ماجة باب فضل الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ۲۸۰۱ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۰۲۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۱۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۳۷ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۰۹۰۹ .

(۲) عَنْ مَسْرُوقٍ ، قَالَ : سَأَلْنَا عَبْدَ اللَّهِ عَنْ أَرْوَاحِ الشُّهَدَاءِ وَلَوْلَا عَبْدُ اللَّهِ مَا وَجَدْنَا أَحَدًا يُحَدِّثُنَا فَقَالَ : إِنَّ أَرْوَاحَ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللَّهِ فِي حَوَاصِلِ طَيْرٍ خُضْرٍ تَسْرَحُ فِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ تَحْتَ الْعَرْشِ .... مسند ابي داود الطيالسي رقم الحديث ۲۸۹ مَا أَسْنَدَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، شرح السنة للبغوي ج۱ ص ۳۶۵ رقم الحديث ۲۶۲۹ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۷۰ ، ورقم ۱۱۱۷۱ .

په دې تولو خبرو باندې قادر دی.

ملا علي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې ددې ډېر بهترين تحقيق نقل کړی، او په دې باندې د وارېدونکو اعتراضاتو جوابات يې هم په تفصيل سره ذکر کړي. (۱)

---

(۱) قال السيوطي والنسائي بسند صحيح. ورواه الترمذي بلفظ « إن أرواح الشهداء في طير خضر تعلق من ثمر الجنة » ، أو شجر الجنة. وقال القرطبي في حديث كعب نسمة المؤمن طائر يدل على أن نفسها يكون طائرا أي: على صورته لا أنها تكون فيه، ويكون الطائر ظرفا لها. وكذا في رواية عن ابن مسعود ﷺ عند ابن ماجة: «أرواح الشهداء عند الله كطير خضر » ، وفي لفظ عن ابن عباس رضي الله عنهما تجول في طير خضر. ولفظ ابن عمرو: في صور طير بيض. وفي لفظ عن كعب: « أرواح الشهداء طير خضر » . قال القرطبي: وهذا كله أصح من رواية: جوف طير. وقال القابسي: أنكر العلماء رواية " في حواصل طير خضر " لأنها حينئذ تكون محصورة مضيقا عليها. ورد بأن الرواية ثابتة، والتأويل محتمل لأنه لا مانع من أن تكون في الأجواف حقيقة ويوسعها الله لها حتى تكون أوسع من الفضاء كذا نقله السيوطي في شرح الصدور، وعندي أن هذا الإيراد من أصله ساقط لأنه التضييق والإلحصار لا يتصور في الروح وإنما يكون في الجسد والروح إذا كانت لطيفة يتبعها الجسد في اللطافة فتسير بجسدها حيث شاءت وتتمتع بما شاءت وتأوي إلى ما شاء الله لها كما وقع لنبينا عليه الصلاة والسلام في المعراج ولا تباعد من الأولياء حيث طويت لهم الأرض وحصل لهم أبدان مكتسبة متعددة، وجدوها في أماكن مختلفة في آن واحد، والله على كل شيء قدير. وهذا في هذا العالم المبني على الأمر العادي غالبا. فكيف وأمر الروح وأحوال الآخرة كلها مبنية على خوارق العادات، وإنما ركب للأرواح أبدان لطيفة عارية بدلا عن أجسادهم الكثيفة مدة البرزخ وسيلة لتمتع الأرواح باللذات الحسية من الأكل والشرب وغيرها، ليقع النعيم على الوجه الأكمل، وعلى طبق الحال الأول، وليس المراد أن أرواح المؤمنين في أجواف طير أحياء بأرواح أخر حتى يلزم منه محذور عقلي وهو كون الروحين في جسد واحد، وقال ابن دحية في التنوير: قال قوم من المتكلمين: هذه رواية منكرة. وقالوا: لا يكون روحان في جسد، وأن ذلك محال. وقولهم جهل بالحقائق، واعتراض على السنة الثابتة، فإن معنى الكلام بين، فإن روح الشهيد الذي كان في جوف جسده في الدنيا يجعل في جوف جسد آخر كأنه صورة طائر فيكون في هذا الجسد الآخر كما كان في الأول وذلك مدة البرزخ إلى أن يبعثه الله يوم القيامة كما خلقه. وإنما الذي يستحيل في العقل قيام حياتين بجوهر واحد، فيحيا الجوهر بهما جميعا. وأما روحان في جسد فليس بمحال، إذ لم تتداخل الأجسام فهذا الجنين في بطن أمه وروحه غير روحها وقد اشتمل عليهما جسد واحد. وهذا أن لو قيل لهم إن الطائر له روح غير روح الشهيد، وهما في جسد واحد فكيف وإنما قيل في أجواف طير خضر أي: في صورة طير كما تقول: رأيت ملكا في صورة إنسان، وهذا في غاية البيان، والله المستعان. مرقاة المفاتيح ج ۳ ص ۱۱۸۳ كتاب الجنائز باب ما يقال عند من حضرة الموت الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ۱۶۳۲.

# شهيد به د قيامت په ورځ د بيهوشۍ نه په اَمن وي

۱. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت جبريل عليه السلام نه د دې آيت متعلق پوښتنه اوکړه:

﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ﴾. (۱)

ترجمه: او پُوکې به اُووهلې شي په شپېلۍ کې پس زمکې او آسمان کې چې هر څوک وي هغه به بې هُوشه شي، مګر څوک چې الله جل جلاله (بچ ساتل) اُوغواړي (نو هغه به نه بې هُوشه کېږي).

(نو نبي عليه السلام پوښتنه اوکړه:) مَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يَشَأِ اللّٰهُ أَنْ يَصْعَقَهُمْ؟

هغه خلق څوک دي چې الله تعالى هغوى بې هُوشه کول نه غواړي؟

حضرت جبريل عليه السلام اوفرمايل: هُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ

هغه د الله جل جلاله د لارې شهيدان دي.

۲. همدا رنګې د ترمذي شريف او مشکوة شريف په حديث کې چې د شهيد د پاره کوم شپږ (٦) خصلتونه (او عِزتونه) ذکر شوي په هغې کې دا هم دي:

... وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْاَكْبَرِ ...

شهيد به د قيامت په ورځ د لوي يَرې نه په اَمن وي. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَأَلَ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَنْ هٰذِهِ الْآيَةِ: { وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ } مَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يَشَأِ اللّٰهُ أَنْ يَصْعَقَهُمْ؟ قَالَ: هُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ التَّفْسِيْرِ مِنْ كِتَابِ قِرَاءَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُخَرِّجَاهُ وَقَدْ صَحَّ سَنَدُهُ رقم الحديث ۳۰۰۰ و قال الحاکم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وقال الذهبي: صحيح على شرط البخاري ومسلم. كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۱۱ الباب الخامس الفصل الاول في الشهادة الحقيقية.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابٌ فِي ثَوَابِ الشَّهِيْدِ رقم الحديث ۱٦٦۳، وقال الترمذي: هذا حديث صحيح غريب. وقال الالباني: هذا حديث صحيح. مشکوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۳۴(۲۷).

## په جنت کې د شهيد تمنا

### " چې دُنيا ته دوباره لاړ شم او هلته بار بار شهيد شم "

په جنت کې به هيڅوک دا تمنّا نه کوي چې زه دوباره دُنيا ته لاړ شم ځکه د جنت بهترين نِعمتونه به ده ته ملاو شوي وي ، ليکن صرف شهيد چې د شهادت لوي لوي اجرونه او عِزتونه اوګوري نو دا به تمنّا اوکړي چې : " کاش ، زه دُنيا ته دوباره لاړ شم ، او هلته د الله ﷻ په لار کې بار بار شهيد شم " .

**۱ .** د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَا أَحَدٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا ، وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا ، فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ . (۱)

جنت ته چې څوک لاړ شي نو په دې کې هيڅوک داسې نشته چې هغه واپس دُنيا ته راتلل خوښ کړي اګر چې ده ته په مخ د زمکه دا ټول شيان ورکړې شي ، مګر صرف شهيد داسې دی چې هغه به ( په جنت کې ) دا آرزو کوي چې دُنيا ته واپس لاړ شي او هلته لس(۱۰) پيرې ( يعنی بار بار (۲) ) شهيد شي ، شهيد به دا آرزو ځکه کوي چې دا به په جنت کې د شهادت کرامت (عظمت او ثواب) اوګوري .

**۲ .** په نسائي شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل : يو جنّتي به راوستلې شي ، الله تعالى به ورته اوفرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ ! كَيْفَ وَجَدْتَ مَنْزِلَكَ ؟

اې د آدم ځويه ! تا ( په جنت کې ) خپل کور څنګه اُوموندو ؟

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَمَنِّي المُجَاهِدِ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا رقم الحديث ۲۸۱۷ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۰۹ ( ۱۸۷۷ ) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۳٦٦۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۲۰۰۳ ، و رقم ۱۲۷۷۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۵۷ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۰۳ ۱۷۰ ) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۱۷ .

(۲) ( فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ) : اَلظَّاهِرُ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِ الْكَثْرَةُ . مرقاة المفاتيح ۲۴٦۳/٦ في تشريح حديث ۳۸۰۳ .

داجنتي به ورته اووايي: أَيْ رَبِّ خَيْرَ مَنْزِلٍ . اې ربه ! ډير بهترين کور دی.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي: سَلْ وَتَمَنَّ . اوس (نور) اوغواړه او تمنّی اوکړه.

دا به جواب ورکړي: أَسْأَلُكَ أَنْ تَرُدَّنِي إِلَى الدُّنْيَا فَأُقْتَلَ فِي سَبِيْلِكَ عَشْرَ مَرَّاتٍ.

اې الله ! زه د تانه دا سوال کوم چې ته ما دُنيا ته واپس کړه، پس زه به ستا په لاره کې لس (۱۰) ځلې شهيد شم.

جنّتي به دا سوال ځکه کوي چې ده به د شهادت فضيلت او اجرونه ليدلي وي.(۱)

## د شهيد د پاره شپږ (٦) خصلتونه او انعامونه

د شهيد د پاره الله ﷻ داسې خصلتونه او اِمتيازي اِنعامات مقرر کړي چې دا يې د بل چا د پاره ندي مقرر کړي:

۱. د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دفْعَةٍ، وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، وَيُوْضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، اَلْيَاقُوْتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِيْنَ مِنْ أَقَارِبِهِ.(۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُؤْتَى بِالرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا ابْنَ آدَمَ ! كَيْفَ وَجَدْتَ مَنْزِلَكَ ؟ فَيَقُوْلُ: أَيْ رَبِّ خَيْرَ مَنْزِلٍ. فَيَقُوْلُ: سَلْ وَتَمَنَّ. فَيَقُوْلُ: أَسْأَلُكَ أَنْ تَرُدَّنِي إِلَى الدُّنْيَا فَأُقْتَلَ فِي سَبِيْلِكَ عَشْرَ مَرَّاتٍ. لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ. سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ مَا يَتَمَنَّى أَهْلُ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۳۱٦۰. قال الالباني: صحيح. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۲۰۵ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ. ووافقه الذهبي. مسند احمد رقم الحديث ۱۲۳۴۲، ورقم ۱۳۱٦۲، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۳۵.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابٌ فِي ثَوَابِ الشَّهِيْدِ رقم الحديث ۱٦٦۳، وقال الترمذي: هذا حديث صحيح غريب. وقال الالباني: هذا حديث صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۳۴(۴۷)، سنن ابن ماجة بابُ فضل الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ۲۷۹۹، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۹۴٦۷، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۲۳، مسند احمد رقم ۱۷۱۸۲، ورقم ۱۷۷۸۳، مجمع الزوائد رقم ۹۵۱٦، الجهاد لابن ابي عاصم رقم ۲۰۴.

د شهيد د پاره الله ﷻ سره شپږ (٦) خصلتونه (امتيازي انعامات) دي:

۱. د وينې اول څاڅكي تويېدلو سره ده ته بخنه كولې شي. ۲. په جنت كې به خپل ځاى اوګوري. ۳. د عذابِ قبر نه به ورته پناه وركړې شي او د قيامت په ورځ د لوي يَرې نه به په اَمن وي. ۴. ده ته به داسې د وَقار (او عزت) تاج وَر په سَر كړې شي چې د هغې يو ياقوت به د دُنيا او مَافِيها نه ډير بهتر وي. ۵. دوه اَويا (۷۲) حُورِعِين به ده ته په نكاح وركړې شي. ٦. دده د رِشته دارو اَويا (۷۰) كسانو په باره كې به دده شفاعت قبلولې شي.

۲. په يو حديث كې د شهيد د پاره اَووه (۷) خصلتونه ذكر شوي: شپږ همدا مذكوره دي، او اَووم په كې دادى:

وَيُحَلّٰى حُلَّةَ الإِيْمَانِ.

او دا به د اِيمان په جَامې سره ښائسته كړې شي.(۱)

۳. په بل روايت كې د شهيدانو د پاره د نهه (۹) خصلتونو ذكر شوى.(۲)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللهِ سَبْعَ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ عِنْدَ أَوَّلِ دَفْعَةٍ مِنْ دَمِهٖ، وَيَرٰى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُحَلّٰى حُلَّةَ الإِيْمَانِ، وَيُزَوَّجُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُجَارُ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ يَوْمَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ، وَيُوْضَعُ عَلٰى رَأْسِهٖ تَاجُ الْوَقَارِ، اَلْيَاقُوْتَةُ مِنْهُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا، وَيُزَوَّجُ ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُشَفَّعُ فِيْ سَبْعِيْنَ إِنْسَانًا مِنْ أَقَارِبِهٖ. الجهاد لابن ابي عاصم ج ۲ ص ۵۳۲ رقم الحديث ۲۰۴ ذِكْرُ مَا أَعَدَّ اللهُ لِلشُّهَدَاءِ مِنْ كَرَامَتِهٖ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۱۳۲، مجمع الزوائد و منبع الفوائد رقم الحديث ۹۵۱٦ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الشَّهَادَةِ وَفَضْلِهَا.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللهِ تِسْعَ خِصَالٍ أَوْ قَالَ: عَشَرَ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِيْ أَوَّلِ دُفْعَةٍ مِنْ دَمِهٖ، وَيَرٰى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُحَلّٰى حِلْيَةَ الإِيْمَانِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيُزَوَّجُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيَأْمَنُ يَوْمَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ، وَيُوْضَعُ عَلٰى رَأْسِهٖ تَاجُ الْوَقَارِ: اَلْيَاقُوْتَةُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَتِسْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُشَفَّعُ فِيْ سَبْعِيْنَ إِنْسَانًا مِنْ أَقَارِبِهٖ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۰/۲٦٦ رقم الحديث ٦۲۹، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۵۵۹، فضل الجهاد لاحمد بن عبدالواحد ج ۱ ص ۸۳ رقم الحديث ۱۰ الخصال التي يعطاها الشهيد حال الشهادة.

# د شهيد د پاره پنځه (۵) ځانګړي كرامتونه

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير كې د شهيدانو د كرامت او اعزاز په باره كې دير بهترين حديث رانقل كړى، ستاسو د وړاندې يې ذكر كوم: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

أَكْرَمَ اللهُ تَعَالَى الشُّهَدَاءَ بِخَمْسِ كَرَامَاتٍ لَمْ يُكْرِمْ بِهَا أَحَدًا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَلَا أَنَا. أَحَدُهَا: أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَبَضَ أَرْوَاحَهُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ وَهُوَ الَّذِي سَيَقْبِضُ رُوحِي وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَاللهُ هُوَ الَّذِي يَقْبِضُ أَرْوَاحَهُمْ بِقُدْرَتِهِ كَيْفَ يَشَاءُ وَلَا يُسَلِّطُ عَلَى أَرْوَاحِهِمْ مَلَكَ الْمَوْتِ. وَالثَّانِي: أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ غُسِّلُوا بَعْدَ الْمَوْتِ وَأَنَا أُغَسَّلُ بَعْدَ الْمَوْتِ. وَالشُّهَدَاءُ لَا يُغَسَّلُونَ وَلَا حَاجَةَ لَهُمْ إِلَى مَاءِ الدُّنْيَا. وَالثَّالِثُ: أَنَّ جَمِيعَ الْأَنْبِيَاءِ قَدْ كُفِّنُوا وَأَنَا أُكَفَّنُ وَالشُّهَدَاءُ لَا يُكَفَّنُونَ بَلْ يُدْفَنُونَ فِي ثِيَابِهِمْ. وَالرَّابِعُ: أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمَّا مَاتُوا سُمُّوا أَمْوَاتًا وَإِذَا مُتُّ يُقَالُ قَدْ مَاتَ. وَالشُّهَدَاءُ لَا يُسَمَّوْنَ مَوْتَى. وَالْخَامِسُ: أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ تُعْطَى لَهُمُ الشَّفَاعَةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَشَفَاعَتِي أَيْضًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَمَّا الشُّهَدَاءُ فَإِنَّهُمْ يَشْفَعُونَ فِي كُلِّ يَوْمٍ فِيمَنْ يَشْفَعُونَ. (۱)

الله تعالى شهيدانو ته پنځه (۵) داسې كرامتونه (او عزتونه) وركړي چې دا يې بل هيڅ پيغمبر بلكه ماته هم ندي راكړي:

**اول**: د ټولو انبياء كرامو رُوحونه مَلَكُ الموت قبض كړي او هغه به زما رُوح هم قبض كوي خو د شهيدانو رُوحونه الله تعالى په خپل قدرت سره څنګه يې چې اُوغواړي قبض كوي، د دوى په رُوحونو باندې مَلَكُ الموت نه مسلّط كوي.

**دويم**: انبياء كرامو ته د وفات نه پس غُسل وركړې شوى او زما د وفات نه پس به ماته هم غُسل راكولې شي، ليكن شهيدانو ته غُسل نشي وركولى، دوى ته د دُنيا په اُوبو باندې د غُسل وركولو ضرورت نشته.

(۱) الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ج ۴ ص ۲۷۶ سورة آل عمران في تشريح آية ۱۷۱، مشارع الاشواق ج۲ ص ۷۳۹ الباب التاسع والعشرون في فضل الشهيد المقتول في سبيل الله.

**دريم:** ټولو اَنبياء كرامو ته د وفات نه پس كفن وركړل شوى او ماته به هم د ( د وفات نه پس) كفن راكولې شي خو شهيدانو ته به كفن نشي وركولى بلكه په خپلو جامو كې به دَفن كولې شي.

**څلورم:** ټول انبياء كرام چې كله وفات شو نو دوى د مړي په نوم باندې ياد كړې شو او كله چې زه وفات شم نو ويلې به شي چې " مړ شو " ، ليكن شهيدانو ته مړي نشي ويلى.(١)

**پنځم:** ټولو انبياء كرامو ته به د قيامت په ورځ د شفاعت كولو حق وركولې شي ، او زما شفاعت به هم د قيامت په ورځ وي ، ليكن شهيدان په هره ورځ د چا په باره كې چې اوغواړي شفاعت كوي.

## د شهادت سوال كولو فضيلت

په احاديثو مباركهؤ كې د شهادت سوال كولو ډير فضيلت راغلى :

**١ .** د مسلم شريف او مشكوة شريف حديث دى ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ سَأَلَ اللهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ.(٢)

څوک چې د الله ﷻ نه په ريښتيا سره د شهادت سوال اوکړي نو الله ﷻ به يې د شهيدانو درجې ته اُورسوي اګرچې دا په خپل كټ كې مړ شي.

---

(١) الله تعالى د شهيد په باره كې فرمايي : ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ﴾. البقرة آية ١٥٤.

ترجمه : او كوم خلق چې د الله په لاركې شهيدان شي هغوى ته مړه مه وايئ ، بلكه هغوى ( په حقيقت كې په يو مُمتاز ژوند سره) ژوندي دي ، ليكن تاسو پرې نه پوهيږئ.

(٢) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ طَلَبِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ١٥٧ (١٩٠٩) ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨٠٨ (٢٣) ، سنن النسائي مَسألةُ الشهادة رقم الحديث ٣١٦٢، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٣١٩٢، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٤١٢ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٥٥٥ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٢٦٣٣ ، كنزالعمال رقم الحديث ١١١٧ ، ورقم ١١٢١١.

۲. په يو بل حديث کې دي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ طَلَبَ الشَّهَادَةَ صَادِقًا أُعْطِيَهَا وَلَوْ لَمْ تُصِبْهُ .(۱)

څوک چې په رښتيا سره شهادت طلب کړي نو ده ته به د شهادت أجر ورکولې شي اګر چې ده ته (په دُنيا کې) شهادت او نه رسيږي (يعنې اګر چې شهيد نشي).

۳. د ابوداؤد شريف په حديث کې دا خبره نوره هم ډيره په واضحې طريقې سره بيان شوی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

... وَمَنْ سَأَلَ اللهَ الْقَتْلَ مِنْ نَفْسِهِ صَادِقًا ثُمَّ مَاتَ أَوْ قُتِلَ فَإِنَّ لَهُ أَجْرَ شَهِيدٍ .(۲).

څوک چې د الله ﷻ نه په صدقِ دِل سره د شهادت سوال اوکړي بيا په خپل مرګ مړ شي يا أووژلې شي نو دده د پاره به د شهيد اجر وي.

٤. د شهادت آرزو خو نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپله کړی، د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله ﷺ فرمايي:

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ .(۳)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ اسْتِحْبَابِ طَلَبِ الشَّهَادَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى رقم الحديث ۱۵٦ (۸۹)، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۲٦۳۳ باب من طلب الشهادة والغازي يموت، معجم ابن عساكر رقم الحديث ۱۰۸۰، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۲۲۰، ورقم الحديث ۱۱۲۴۰.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ لِمَنْ سَأَلَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ رقم ۲۵۴۱ قال الالباني: صحيح. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۰٦.

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَمَنِّي الشَّهَادَةِ رقم الحديث ۲۷۹۷، ورقم الحديث ۷۲۲٦ كِتَابُ التَّمَنِّي بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّمَنِّي، وَمَنْ تَمَنَّى الشَّهَادَةَ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۸۷٦، سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ الرُّخْصَةُ فِي التَّخَلُّفِ عَنِ السَّرِيَّةِ رقم الحديث ۳۰۹۸، ورقم ۳۱۵۲ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ: تَمَنِّي الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى.

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده زه دا خوښوم ( يعنى زما دا آرزو ده) چې زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم ، بيا ژوندي کړې شم بيا شهيد شم ، بيا ژوندي کړې شم بيا شهيد شم ، بيا ژوندي کړې شم بيا شهيد شم .

( يعنى بار بار ژوندي کړې شم او شهيد شم ددې د پاره چې په هر ځل نوې نوې د شهادت ثواب حاصل کړم) .

**۵. د مانځه په هر رکعت کې مونږ د الله ﷻ نه دا دُعا غواړو :**

﴿ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ، صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾

اې الله ! مونږ ته نېغه لاره اُوښايه ، د هغه خلقو لار چې تا په هغوى باندې انعام کړى.

په کومو خلقو باندې چې الله ﷻ اِنعام کړى د هغې بيان په سورة النساء کې شته :

﴿ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : چې هغه پيغمبران ، صديقين ، شهداء او صالحين دي .

معلومه شوه چې شهادت دومره اُوچته مرتبه ده چې مونږ د الله ﷻ نه دځان د پاره د شهيدانو د لارې سوال کوو .

## صحابه کرامو رضي الله عنهم به هم د شهادت سوال کولو

صحابه کرامو رضي الله عنهم به هم د شهادت سوال کولو ، د بخاري شريف حديث دى چې حضرت عُمر رضي الله عنه به دا دُعا کوله :

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ شَهَادَةً فِيْ سَبِيْلِكَ ، وَاجْعَلْ مَوْتِيْ فِيْ بَلَدِ رَسُوْلِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

---

(۱) پوره آيت داسې دى: ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾ . النساء آية ۶۹ .

ترجمه : (او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو) دوى به ( په جنت کې ) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړې دى چې هغه پيغمبران ، صديقين ، شهداء او صالحين دي ، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې . (يعنى دا خلق ډير ښه ملګري دي) .

اې الله ! ماته ستا په لار کې شهادت رانصيبه کړه ، او زما مړکیدل ستا د رسول صلی الله علیه وسلم په ښار کې اوګرځوه .(۱)

نو الله ﷻ د هغه دُعا قبوله کړه او په مدينه منوّره کې ورته د شهادت مرګ نصيبه شو .

## ټوله شپه د شهادت د پاره دُعا غوښتل

حضرت عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي چې ما او زما ورور " هشام " دواړو په جنګ يرموک کې ټوله شپه د الله ﷻ نه د شهادت سوال اوکړو ، کله چې سهر شو نو په جهاد کې هغه ته شهادت نصيبه شو خو ماته نصيبه نه شو ، او زه اوس هم د شهادت سوال کوم .(۲)

هشام په کافرانو باندې داسې سختې حملې اوکړې چې د هغوی ډير کافران يې مردار کړل ، بيا آخر دا هم شهيد شو ، دا په داسې ځای کې پروت ؤ چې آسونه ورباندې تيريدل ( يعنی د آسونو تللو په لاره کې پروت ؤ ) نو د آسونو په ګرځيدو سره يې بدن ټوټې ټوټې شوې ؤ ، دده ورور دده د بدن غوښې په دَسترخوان کې راجمع کړې او دَفن يې کړو .(۳)

## صحابه کرام رضي الله عنهم به د شهادت په نيت جنګ ته وَر وړاندې کيدل

د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زړونو کې د شهادت دومره جذبه وه چې هريو به په پوره بهادرۍ سره جهاد کولو ، او هريو به ميدانِ جنګ ته د شهادت په نيت وَر وړاندې کيدلو .

(۱) صحيح البخاري كتاب فَضَائِلِ المَدِينَةِ بَابُ كَرَاهِيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُعْرَى المَدِينَةُ رقم الحديث ۱۸۹۰ ، موطاء امام مالک رقم الحديث ۳۴ ، مصنّف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۵۵۰ .

(۲) همداسې خبره عبدالله بن مبارک رحمه الله په " كتاب الجهاد " کې هم رانقل کړې : مَرَّ عَمْرُو بْنُ العَاصِ رضي الله عنه . فَطَافَ بِالبَيْتِ، فَرَأَى حَلْقَةً مِنْ قُرَيْشٍ جُلُوسًا . فَلَمَّا رَأَوْهُ قَالُوا : أَهِشَامٌ كَانَ أَفْضَلَ فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ عَمْرُو بْنُ العَاصِ رضي الله عنه ؟ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ طَوَافِهِ، جَاءَ، فَقَامَ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ: إِنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّكُمْ قَدْ قُلْتُمْ شَيْئًا حِينَ رَأَيْتُمُونِي، فَمَا قُلْتُمْ؟ قَالُوا : ذَكَرْنَاكَ وَهِشَامًا ، فَقُلْنَا : أَيُّهُمَا أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ : سَأُخْبِرُكُمْ عَنْ ذَلِكَ . إِنَّا شَهِدْنَا اليَرْمُوكَ . فَبَاتَ وَبِتُّ نَدْعُو اللهَ أَنْ يَرْزُقَنَا الشَّهَادَةَ فِي سَبِيلِ اللهِ ، وَأَسْأَلُهُ إِيَّاهَا . فَلَمَّا أَصْبَحْنَا رُزِقَهَا وَحُرِمْتُهَا، فَفِي ذَلِكَ تَبَيَّنَ لَكُمْ فَضْلُهُ عَلَيَّ . الجهاد لابن المبارک ج۱ ص۹۵ رقم ۱۱۴ .

(۳) مشارع الاشواق ج۲ ص ۶۷۲ .

علامه هيثمي رحمه الله په " مجمع الزوائد " کې دا حديث رانقل کړی چې په غزوه اُحد کې حضرت عُمر رضي الله عنه خپل ورور ( زيد بن الخطاب رضي الله عنه (۱) ) ته وويل :

خُذْ دِرْعِي يَا أَخِي .

اې زما ورور ه ! دا زما زغره واخله ( وايې چَوه چې د توري د ګوذار نه پرې بچ شی )

ورور ورته وويل :

إِنِّي أُرِيْدُ مِنَ الشَّهَادَةِ مِثْلَ الَّذِيْ تُرِيْدُ .

بيشکه زما هم د شهادت اِراده ده لکه څنګه چې ستا اِراده ده .

پس دواړو زغره وا نه غوسته .(۲)

خو دواړه په دې جنګ کې شهيدان نه شو .

د حضرت عُمر رضي الله عنه ورور ( زيد بن الخطاب رضي الله عنه ) روستو په جنګ ِيمامه کې شهيد شو ، کله چې حضرت عُمر رضي الله عنه ته د ورور د شهادت خبر رااُورسيد نو سخت خفه شو او وې ويل :

أَخِي أَسْلَمَ قَبْلِيْ ، وَاسْتُشْهِدَ قَبْلِيْ .

زما ورور د مانه مخکې اسلام راوړې وُ ، او د مانه مخکې شهيد شو .(۳)

حضرت عُمر رضي الله عنه خفګان څکه ښکاره کړو چې هغه د مانه اسلام هم مخکې راوړې وُ او شهيد هم مخکې شو ، او زه تر اوسه نه يم شهيد شوی .

بيا حضرت عُمر رضي الله عنه روستو په مدينه منوّره کې شهيد شو . الله تعالیٰ د دواړو ورونړو آرزو پوره کړه .

---

(۱) زيد بن الخطاب رضي الله عنه د حضرت عُمر رضي الله عنه ورور وُ ، د حضرت عُمر رضي الله عنه نه مشر وُ ، او دده نه مخکې يې اسلام راوړې وُ ، په جنګ ِبدر کې هم شريک شوې وُ ، دا بيا روستو په جنګ ِيمامه کې شهيد شو . التقريب ۱/ ۲۷۲ رقم ۱۷۸.

(۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ يَوْمَ أُحُدٍ لِأَخِيْهِ : خُذْ دِرْعِيْ يَا أَخِيْ . قَالَ : إِنِّيْ أُرِيْدُ مِنَ الشَّهَادَةِ مِثْلَ الَّذِيْ تُرِيْدُ . فَتَرَكَاهَا جَمِيْعًا . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ التَّعَرُّضِ لِلشَّهَادَةِ رقم الحديث ۹۵۳۹ ، وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيْحِ. وهكذا رواه ابونعيم في الحلية ۱/ ۳۶۷ .

(۳) مدارج الاشراق ج۲ ص۶۷۸ .

# د شهادت نه ملاويدلو په وجه افسوس كول

علامه بيهقي رحمه الله په " شعب الايمان " كې ، علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په " شرح الصدور " كې ، او علامه ابن جوزي رحمه الله په "مثير الغرام" كې دا واقعه رانقل كړې :

قاسم بن عثمانؒ وايي چې ما يو كس اُوليد چې د بيتُ الله طواف يې كولو ، زه ورته ورنزدې شوم نو هغه صرف همدا يوه جُمله ويله :

اَللّٰهُمَّ قَضَيْتَ حَاجَةَ الْمُحْتَاجِيْنَ وَحَاجَتِيْ لَمْ تُقْضَ .

اې الله ! تا د ټولو ضرورت مندو حاجتونه پوره كړل او زما حاجت پوره نه شو .

ما دې كس ته وويل : مَا لَكَ لَا تَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا الْكَلَامِ؟

دا په تا څه شوي دي چې ته ددې يوې خبرې نه علاوه بله دُعا نه غواړې ؟

هغه راته وويل : زه تا ته خپله واقعه بيانوم :

مونږ اُووه ( ۷ ) ملګري وو ، د مختلفو ښارونو سره مو تعلق لرلو ، مونږ د دُشمن په زمكه كې جهاد كول ، پس مونږ ټول قيديان شو ( كافرانو اُونيولو ) ، هغوی مونږ ټول يو جدا ځای ته بوتلو چې هلته زمونږ څټونه په تُورو اُووهي (يعنى مونږ شهيدان كړي) .

فَنَظَرْتُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ مُفَتَّحَةٌ ، عَلَيْهَا سَبْعُ جَوَارٍ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، عَلٰى كُلِّ بَابٍ جَارِيَةٌ .

په دې وخت كې ما آسمان طرف ته اُوكتل نو ناڅاپه مې په آسمان كې اُووه ( ۷ ) دروازې اُوليدې چې كُلاوُ وې ، په دې باندې د جنت اُووه ( ۷ ) حُورِ عِين وې ، په هره دروازه باندې يوه حُوره وه .

كله چې زمونږ د يو ملګري څټ په توره اُووهلې شو نو ما يوه حُوره اُوليده چې په لاس كې ورسره دَسمالؤ ، زمكې ته رابښكته شوه ( او په دې يې ددې شهيد وينه صفا كړه ) .

تر دې چې زمونږ شپږ ( ٦ ) ملګري شهيدان شو ( او شپږ حُورې رابښكته شوې ) ، صرف زه باقي پاتې ووم او پاس په آسمان كې يوه دَروازه كُلاوُ پاتې وه ، او يوه حُوره پاتې وه .

كله چې زه شهادت ته ورَ وړاندې شوم نو په دې كافرانو كې يو كافر زما سفارش اوكړو (چې دا مه قتلوئ) ، پس زه د هغه په سفارش باندې ژوندې پاتې شوم ، په دې وخت كې ما د هغه حُورې خبره واوريده چې ماته يې وويل :

أَيُّ شَيْءٍ فَاتَكَ يَا مَحْرُوْمُ. اې محرومه ! ته د شهادت نه څه شي پاتې كړى ؟

بيا هغې دروازه بنده كړه .

قاسم بن عثمان وايي چې بيا دې كس وويل :

وَأَنَا يَا أَخِيْ مُتَحَسِّرٌ عَلَىٰ مَا فَاتَنِيْ .

اې زما وروره ! زه اوس هم په دې باندې افسوس كوم چې د مانه دا دومره لوي سعادت پاتې شو . (۱)

## الله ﷻ شهادت نېكانو بندګانو ته وركوي

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمايي چې يو كس (مسجدِ نبوي ته) مانځه ته راغى ، نبي كريم صلى الله عليه وسلم مونځ ته جُمعه راكوله ، كله چې دا سرې صَف ته راأورسيد نو دا دُعا يې اُوغوښته :

اَللّٰهُمَّ آتِنِيْ أَفْضَلَ مَا تُؤْتِيْ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ .

---

(۱) عَنْ قَاسِمِ بْنِ عُثْمَانَ الْجَوْعِيِّ ، يَقُوْلُ : رَأَيْتُ فِي الطَّوَافِ حَوْلَ الْبَيْتِ رَجُلًا فَتَقَرَّبْتُ مِنْهُ فَإِذَا هُوَ لَا يَزِيْدُ عَلَىٰ قَوْلِهِ : اَللّٰهُمَّ قَضَيْتَ حَاجَةَ الْمُحْتَاجِيْنَ وَحَاجَتِيْ لَمْ تُقْضَ . فَقُلْتُ لَهُ : مَا لَكَ لَا تَزِيْدُ عَلَىٰ هٰذَا الْكَلَامِ؟ فَقَالَ : أُحَدِّثُكَ : كُنَّا سَبْعَةُ رُفَقَاءَ مِنْ بُلْدَانٍ شَتَّىٰ ، غَزَوْنَا أَرْضَ الْعَدُوِّ فَاسْتُؤْسِرْنَا كُلُّنَا ، فَاعْتُزِلَ بِنَا لِتُضْرَبَ أَعْنَاقُنَا . فَنَظَرْتُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ مُفَتَّحَةٌ ، عَلَيْهَا سَبْعُ جَوَارٍ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ ، عَلَىٰ كُلِّ بَابٍ جَارِيَةٌ . فَقُدِّمَ رَجُلٌ مِنَّا فَضُرِبَتْ عُنُقُهُ ، فَرَأَيْتُ جَارِيَةً فِيْ يَدِهَا مِنْدِيْلٌ ، قَدْ هَبَطَتْ إِلَى الْأَرْضِ ، حَتّٰى ضُرِبَتْ أَعْنَاقُ سِتَّةٍ . وَبَقِيْتُ أَنَا ، وَبَقِيَ بَابٌ وَجَارِيَةٌ . فَلَمَّا قُدِّمْتُ لِتُضْرَبَ عُنُقِيْ ، اِسْتَوْهَبَنِيْ بَعْضُ رِجَالِهِ فَوَهَبَنِيْ لَهُ . فَسَمِعْتُهَا تَقُوْلُ : أَيُّ شَيْءٍ فَاتَكَ يَا مَحْرُوْمُ . وَأَغْلَقَتِ الْبَابَ ، وَأَنَا يَا أَخِيْ مُتَحَسِّرٌ عَلَىٰ مَا فَاتَنِيْ . قَالَ قَاسِمُ بْنُ عُثْمَانَ : " أُرَاهُ أَفْضَلَهُمْ ، لِأَنَّهُ رَأَىٰ مَا لَمْ يَرَوْا وَتُرِكَ يَعْمَلُ عَلَى الشَّوْقِ " . شعب الايمان ۱۶۸/۶ رقم ۴۰۱۷ الثبات للعدو وترك الفرار من الزحف ، شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور ج ۱ ص ۲۰۰ طبع : دار المعرفة لبنان ، مثير الغرام لابن الجوزي .

اې الله ! ته چې نېكانو بندګانو ته كوم اَجرورکوی ماته د هغې نه بهتر راكړه.

كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مونځ پوره كړو نو وې فرمايل :

مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا ؟ اوس دا خبرې كوونكې ( يعنی دُعا غوښتونكې ) څوک وُ ؟

دې سړي ووېل : أَنَا يَارَسُوْلَ اللهِ . اې د الله رسوله ! زه وُوم .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

إِذًا يُعْقَرُ جَوَادُكَ ، وَتُسْتَشْهَدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

( چې كله ستا مقصد همدا دُعا ده ) نو بيا خو به ستا آس ( په ميدانِ جنګ كې ) زخمي كېږي ، او ته به د الله ﷻ په لار كې شهيد كېږې .(١)

**فائده** : دې صحابي چونكه داسې دُعا غوښتې وه چې " اې الله ! نېكانو بندګانو ته چې ته كوم اَجرورکوی ماته د هغې نه بهتر راكړه " نو نبي عليه السلام ورته ددې مِصداق شهادت اُوخود چې ته به شهيد كېږې ، ځكه په شهادت سره انسان ته بهترين اَجرونه او ثوابونه ملاوېږي .

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُوته چې د دِين د سَربُلندی د پاره د كافرانو خلاف په جهاد كې شهيد كيدل ډيره اُوچته مرتبه ده ، شهادت الله ﷻ خوش قِسمته خلقو ته نصيب كوي، په قرآن كريم او احاديثو كې د شهادت او شهيدانو ډير فضايل بيان شوي :

---

(١) عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ ، عَنْ أَبِيْهِ سَعْدٍ ﷺ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى الصَّلٰوةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ بِنَا . فَقَالَ : حِيْنَ انْتَهٰى إِلَى الصَّفِّ : اَللّٰهُمَّ آتِنِيْ أَفْضَلَ مَا تُؤْتِيْ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ . فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةَ . قَالَ : « مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا ؟ » فَقَالَ الرَّجُلُ : أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذًا يُعْقَرُ جَوَادُكَ ، وَتُسْتَشْهَدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٢٨ كِتَابُ الطَّهَارَةِ وَمِنْ كِتَابِ الإِمَامَةِ ، وَصَلَاةِ الْجَمَاعَةِ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ ، وَلَمْ يُخْرِجَاهُ . ووافقه الذهبي . و رقم الحديث ٢٣٠٢ كِتَابُ الْجِهَادِ . صحيح ابن خزيمة كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الْقَوْلِ عِنْدَ الِانْتِهَاءِ إِلَى الصَّفِّ قَبْلَ تَكْبِيْرَةِ الِافْتِتَاحِ رقم الحديث ٤٥٣ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٤٦٢٠ بَابُ : فَضْلِ الْجِهَادِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ اللهَ جَلَّ وَعَلَا يُعْطِيْ مَنْ عُقِرَ جَوَادُهُ وَأُهْرِيْقَ دَمُهُ مَا يُؤْتِيْ عِبَادَهُ الصَّالِحِيْنَ

په قرآن کريم کې شهيدانو ته ژوندي ويل شوي ، دوی ته د الله ﷻ د طرفه رزق ورکولې شي ، او شهيدانو ته د عامو مړو په شان مړي ويلو نه منع راغلی .

نبي عليه السلام بار بار د شهادت تمنّی کړی ، هر شهيد به د خپل خاندان د اويا (۷۰) کسانو شفاعت کوي ، د شهادت په وجه د انسان ټول ګناهونه معاف کيږي ، د شهيد د وينې څاڅکې الله ﷻ ته ډير محبوب دی ، شهيد د مرګ سختې او دَرد نه محسوسوي ، بلکه د شهادت په وخت د جنت خوشبوئي محسوسوي ، همدارنګې شهيد د زخم په سختو دَردونو باندې هم نه پوهيږي .

شهيد ته د شهادت په وخت ده ته بيبيانې دوه حُورې راځي ، د دوی سره قيمتي جوړې وي ، دوی ده د مخ نه خاورې صفا کوي ، او په خُله کې ورته اُوبه اچوي .

په شهيد باندې فرښتې سيورې کوي ، شهيد د عذابِ قبر او د قيامت د ورځې بيهوشۍ نه په آمن وي . زمکه د شهيد جِسم نه خرابوي ، په کلونو کلونو ده جسم هماغه شان روغ وي .

د شهادت په وجه انسان يقيني طريقې سره د جنت مستحق ګرځي ، شهيد به بې حِسابه جنت ته داخليږي ، او فرښتې به ورته د هرې دَروازې نه سلام کوي .

بلکه شهيد به په اولنې درې کسانو کې جنت ته داخليږي او ده ځای به جنتُ الفِردوس وي ، د شهيد د پاره په جنت کې بهترين محلونه تيار شوي .

د شهادت نه روستو د شهيدانو رُوحونه د شنو مرغانو په قالب يا جَجُوره کې وي او د جنت په باغونو کې سېل کوي .

د شهدانو د پاره الله ﷻ داسې خصلتونه ، کرامتونه او اِمتيازي انعامات مقرر کړي چې دا يې د بل چا د پاره ندي مقرر کړي .

دغه وجه ده چې په احاديثو کې مبارکه کې د شهادت سوال کولو فضيلت هم راغلی ، نبي عليه السلام په خپله هم بار بار د شهادت آرزو کړی ، صحابه کرامو به هم د شهادت سوال کولو ، حتّی چې جهاد ته به د شهادت په نيت وَر وړاندې کيدل ، شهادت الله ﷻ نېکانو بندګانو ته نصيبه کوي .

## دُعا

اې الله! څوک چې په جهاد کې شهيدان شوي د هغوی شهادت قبول کړه ، په قرآن کريم او احاديثو کې چې د شهادت څومره فضائل ذکرشوي دا ټول شهيدانو ته په کاملې طريقې سره ورکړه .

اې پروردګاره! ددې شهيدانو د وينو په برکت سره په ټوله دُنيا کې اسلامي نِظام قائم کړه ، او کُفر مغلوب کړه .

اې ربه ! زمونږ په زړونو کې هم د جهاد او شهادت جذبه پيدا کړه ، او مونږ ټول د بُزدلۍ او بې غيرتۍ نه اوساته .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِين .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

# د دې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په تېرو جلدونو کې د کتابَتي غلطيانو اصلاح

انسان عاجز دی ، د ډیر کوشش باوجود بیا هم کله کتابَتي غلطي راشي ، اګر چې په تېرو جلدونو کې کوم ځای د کمپیوټر کتابَتي غلطي راغلی هغه مونږ په دویم چاپ کې اصلاح کړی خو چې د چا سره اول چاپ وي نو په هغې کې به نه وي اصلاح شوي.

لهذا دلته د هر جلد نوم ، صفحه او کرخې نمبر لیکم ، ورسره د غلطی نِشاندهي هم درته کوم ، او مخامخ ورته صحیح عبارت هم لیکم ، تاسو په خپلو ټولو کتابونو کې د دې کتابَتي غلطیانو اِصلاح اوکړئ ، د دې د پاره چې بیا په لوستلو کې خطاء نه شی.

| جلد ، صفحه او کرخه نمبر | خطائي | صحيح عبارت |
|---|---|---|
| اول جلد ، صحفه ۲۱ دولسمه کرخه | ما مه يوسه | ما مه مايوسه |
| اول جلد ، صفحه ۱۶۳ اُومه کرخه | نسبت | نسب |
| اول جلد ، صفحه ۱۶۳ يوولسمه کرخه | شپږمه شُبهه | اُومه شبهه |
| اول جلد ، صفحه ۱۹۵ څوارلسمه کرخه | يَفْنِيْ | يَفْنٰى |
| اول جلد ، صفحه ۲۲۹ پنځلسمه کرخه | سَهَرَ | سَهِرَ |
| اول جلد ، صفحه ۲۳۱ نورلسمه کرخه | ابوحام رازي | ابوحاتم رازي |
| اول جلد ، صفحه ۲۴۳ اُومه کرخه | اُووه سوه کاله | اَويا کاله |
| دريم جلد ، صفحه ۵۲ دولسمه کرخه | قرض نه اداء کيږيَ | زکوة نه اداء کيږي |
| دريم جلد صفحه ۱۶۹ شپږمه او اتمه کرخه | جذامي (برګي مرض واله) | جذامي (غوښه رژيدونکې بيماری واله ) |
| پنځم جلد صفحه ۲۹۸ دريمه کرخه | سجده سهوه | سجده تلاوت |
| | | |

| جلد، صحفه او کرخه نمبر | خطائي | صحیح عبارت |
|---|---|---|
| شپږم جلد صفحه ۳۳۵ اوله کرخه | څرګان | چرګان |
| اووم جلد صفحه ۱۰ یوولسمه کرخه | بیتُ المقدس | بیت الله |
| اووم جلد، صفحه ۲۷ شلمه کرخه | پنځوس مونځونه کم کړل | پنځه مونځونه کم کړل |
| آتم جلد، صفحه ۱۲۱ څلورمه کرخه | امام او مقتدي | امام او مُنفرِد |
| لسم جلد صفحه ۶۴ څلورمه کرخه | اعتکاف نه ماتیږي | اعتکاف ماتیږي |
| یوولسم جلد صفحه ۳۲۹ پنځمه کرخه | حضرت هاجرة رضي الله عنها | حضرت سارة رضي الله عنها |
| | | |

**نوټ**: ددینه علاوه که تاسو ته په بل ځای کې داسې صریحه خطائي معلومه وي نو ماته اطلاع راکړئ چې په آئنده جلد کې د هغې نِشاندهي هم اوکړم.

**ابوالشمس نورالهدا عفی عنه**

موبائل نمبر : ۵۴۴۷۱۷۴ ۰۳۰۶

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# خوشخبري

د يوولسم جلد په آخر کې مې چې په کومو موضوع گانو باندې د ليکلو فهرست ورکړی دی په هغې کې اهمې موضوع گانې به اِن شَاءَ الله په ديارلسم (۱۳) جلد کې ليکم، او دا سلسله به همداسې جاري وي د الله ﷻ په توفيق سره به ديارلسم جلد هم په نزدې وخت کې راچاپ شي.

په خپلو خصوصي دُعاگانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور:

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر: ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اردو ، عربي ، فارسي او انګریزی )
کې د تقریر اِستعداد پیدا کولو د پاره آولنې ، بې مِثله ، نایاب ، جامِع ،
عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

## کُلُّ خُطبَةٍ بِلُغَاتٍ مُختَلِفَةٍ

## ہر تقریر مختلف زبانوں میں

## هر تقریر دَر زُبان هاى مختلف

## Every speech in different Languages

تالیف

آبُو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ
مُدَرِّس دَارُ العلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

علماء، طلباء، مقررین، اور عام مسلمانوں کے لئے مختلف موضوعات پر تقاریر کا ایک
مُفصّل، مُستند، علمی اور تحقیقی ذخیرہ:

# اِصلاحی مُدَلّل تقاریر

تالیف

ابوالشمس مولانا نورالہدیٰ عفی عنہ
مدرّس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

مترجم

مولانا مفتی شکیل احمد صاحب
مدرّس دارالعلوم عثمانیہ ادینہ صوابی
متخصص جامعہ فاروقیہ کراچی، ایم اے عربی عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

آهلِ عِلمو له دا رِساله مطالعه کول مُهمه ده ، ځکه ددے رِسالے هره کلمه " مُعَرّا " ده ، د کلامُ الله او کلامُ الرّسول د آهمو مسائِلو او آهمو آحکامو ډَکه ده ، دا مُسمّیٰ ده ددے اسم سره : ↓

# د عِلم او کماله ډَکه رِساله

مُحَرِّر

نُورُالهُدیٰ

د مدرسے مُعلِّم

نوټ : دا رساله په پښتو ژبه کې د وعظ و نصیحت متعلق اولنۍ داسې نایابه رِساله ده چې د داسې حرفونو او کلمو نه جوړه ده چې په غونډه رِساله کې په یو حرف باندې هم ټکې نشته ، او نه په کې نُقطه داره کلِمه شته ،بلکه ټوله د بې ټکو حروفو او کلمو نه جوړه شوی، اهلِ عِلمو له ډیره ضروري ده . ابوالشمس عفي عنه

په ټوکو ټکالو باندې د مُسکا پیدا کولو ، د ذِهني ټينشن ختمولو
او د مجلس ګرمولو دپاره نایابه او بهترینه رِساله :

# خَندوُونکي ټوقې
# او د خُوش طبعۍ واقعات

## ورسره په آخر کې د عقل او زیرکتیا واقعات

راجمع کوونکې

شمس الهُدا بن مولوي نور الهدا

په پښتو ژبه کې آسانه، عام فهمه، او تحقیقي اندازکې، په عِلمي او اِلهامي نُکاتو، باندې مشتمله لاجوابه عِلمي تحفه؛

# د استاذ او شاګرد په مینځ کې د نحوې عمَلي اِجراء

## اول جلد

تاليف

حضرت مولانا قاري فیض الباري "حقاني"

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

**نوټ**: دا کتاب زمانه کشر وررو مولانا قاري فيض الباري حقاني صاحب ليکلې دی، ډير بهترين کتاب دی، ځکه په دې کې د نَحوې د ټولو قواعدو عمَلي اِجراء په ډيرې آسانه طريقې سره شوې ده، د علماؤ او طلباؤ د پاره ډير ضروري او فائدنه مَند دی. ابوالحسن علي عنه

## اول جلد

۱. د توبې أهميت ، فضيلت او احكام
۲. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
۳. د ګناهونو نقصانات
۴. د علم فضيلت او أهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
٦. د درودِ شريف فضيلت او أهميت

## دويم جلد

۱. حقوق الوالدين ( يعنی د مور او پلار حقوق )
۲. عُقوقُ الوالدين ( يعنی د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
۳. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او أهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه

## دريم جلد

۱. د زكوة أهميت، فضيلت او احكام
۲. د زكوة نه وركوونكي عذابونه
۳. د صدقې وركولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ كولو أهميت ، او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو كې د الله ﷻ د قدرت نخې

## څلورم جلد

۱. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
۲. نبي ﷺ سره د محبت كولو وجوب او لزوم
۳. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل كولو سائنسي او طبي فوائد
۴. د ګيرې پريخودلو أهميت ، او د خرئيلو يا تيغلو نه د كمولو سزاګانې

## پنځم جلد

۱. د قرآن كريم د تلاوت كولو فضائل او فوائد
۲. د حافظانو او د قرآن كريم سره د تعلق لرونكو خلقو مقام
۳. د قرآن كريم اعجاز
۴. قرآن كريم يو انقلابي او مؤثر كتاب دی
۵. د قرآن كريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي

## شپږم جلد

۱. د حلال كسب أهميت او فوائد
۲. د حلال خوراک أهميت او فوائد
۳. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل
۵. د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات
٦. د نبي ﷺ معجزات
۷. نبي ﷺ ته د مخكينو پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې وركړې شوې وی
۸. د علم او كماله ډكه رساله

## اووم جلد

۱. په اسلام كې د مانځه أهميت او مقام
۲. د مانځه فضائل او فوائد
۳. بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جُمعې سره د مونځ كولو أهميت او فضائل
۵. بغير عذره د جُمعې پريخودو سزاګانې
٦. په مانځه كې د خُشوع أهميت
۷. د تول مونځ معنی

## اتم جلد

۱. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
۲. د مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل
۳. د سجده سهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق متعلق ضروري مسائل
۵. د قضا مونځونو باره كې فقهي مسائل
٦. د مانځه متعلق متفرق فقهي مسائل
۷. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل
۸. د امامت متعلق ضروري مسائل

## نهم جلد

۱. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
۲. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې
۳. د رمضان المبارک د روژو فضائل فوائد او حكمتونه
۴. د شل ركعته تراويحو ثبوت او فضائل
۵. د روژې متعلق فقهي مسائل
٦. د تراويحو متعلق فقهي مسائل

## لسم جلد

١. د رمضانُ المبارک د میاشتې فضیلت
٢. د رمضانُ المبارک د روژو اهمیت او بغیر عُذره د پریښودو سزاګانې
٣. د رمضانُ المبارک د روژو فضائل، فوائد او حِکمتونه
۴. د شل (٢٠) رکعته تراویحو ثبوت او فضائل
۵. د روژې متعلق ضروري فِقهي مسائل
٦. د تراویحو متعلق ضروري فِقهي مسائل

## یوولسم جلد

١. د حَج اهمیت او بغیر عُذره د حج نه کولو سزاګانې
٢. د حَج فضائل، فوائد او حِکمتونه
٣. د ذوالحجې اولې عشرې عَظمت او فضائل
۴. د قربانۍ اهمیت او فضائل
۵. د قربانۍ متعلق فِقهي مسائل
٦. د ختم اختر تقریر ( په ابراهیم ﷺ باندې د راغلې اِمتحاناتو تفصیلي بیان )

## دولسم جلد

١. په اسلام کې د جهاد اهمیت او مقام
٢. د جهاد فضائل، فوائد او حِکمتونه
٣. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات
۴. د مجاهدینو مقام او فضائل
۵. د شهادت فضائل او د شهید مقام





مکتبه عزازیه

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797